# حدیقهٔ ختک

(دیوان د عبد القادر خان ختک)

مدوّنه و مرتّبه

دِ

سیّد انوار الحق

یونیورسٹی بک ایجنسی - خیبر بازار - پشاور

Marfat.com

Collection of Prof. Muhammad Iqbal Mujaddidi
Preserved in Punjab University Library.

پروفیسر محمد اقبال مجددی کا مجموعہ
پنجاب یونیورسٹی لائبریری میں محفوظ شدہ

Marfat.com

Marfat.com

137002


مُدَوِّن و مُرَتِّب :- سیّد انوارالحق - پشاور

ناشِر :- یونیورسٹی بک ایجنسی - خیبر بازار - پشاور -

مقامِ اشاعت :- پشاور

مطبوعہ :- منظور عام پریس پشاور

اشاعت :- جنوری ۱۹۶۹ء

کتابت :- سراج الاسلام سراج

تعداد :-

قیمت :-

# فہرست


| نمبر شمار | عنوانات | صفحہ |
| --- | --- | --- |
| ۱ :- | دیباچه | ۵ |
| ۲ :- | معروضات | ۲۵ |
| ۳ :- | مقدمه (عبدالقادر خان خٹک) | ۳۴ |
| ۴ :- | غزلیات | ۴۰ |
| ۵ :- | رُباعیات | ۲۰۲ |
| ۶ :- | قصائد | ۲۳۸ |
| ۷ :- | متفرقات | ۲۶۴ |
| ۸ :- | فرہنگ | ۲۸۲ |


Marfat.com

Marfat.com

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ط

# دیباچه

## عبدالقادر خان اؤ د هغه کلام

خاص الخاص، عبدالقادر پرې پوهېږي
عام به څه سنا له اشعار مومي حظ

عبدالقادر خان د نوموړي خوشحال خان خټک ځوئے وو. هسے خو د خوشحال خان شپېتو پورې ځامن يادېږي، خو په دوکښې ډېر په وړوکوالي کښې مړه شوي وُو، اؤ ډېر پکښې داسے هُم وُو چه د هغۍ څه قلمي يادګار نه شي موندے، نو په تاريخ کښې ئے بے د نوموُنو نور څه اهميت نه ښکاري - خو پينځو شپږو ځامنو ئے، البته، د علم و فضل په لحاظ په ادبي دُنيا کښې ځان ته ښه اُوچت مقام پېدا کړے دے. اؤ اُس چه ورځ تېرېږي، نو د هغوئ نوم لا سه ځرګندېږي اؤ ځلېږي. عبدالقادر خان هُم د دغه نامتو اؤ ځلنده کسانو سر د فتر دے، چه پکښې ئے د خپلو رُونړو عزيزانو نه علاوه د خپل وخت نور باهرني مشاهير هُم شامل دي.

د ده د پېدايش تاريخ ۲۵ ر ذی الحجه سنه ۱۰۶۳ھ = (دسمبر سنه ۱۶۵۲ء) دے. اؤ په "پټه خزانه" کښې ۲۳ ر جمادی الثانی سنه ۱۰۶۱ھ ليکلے شوے دے. خو د وروستني تحقيقاتو نه پس دا معلومه شوه چه "عبدالقادر خان" د ده تاريخي نوم دے. اؤ د ابجدو په حساب د دے نوم نه ۱۰۶۳ راوځي، نو په دے بنا دا تاريخ زيات موثق اؤ مستند شو. د پېدايش ځائے ئے د سرائے اکوړه خټک خپل جدي کور دے. د ده تعليم اؤ تربيت د خپل پلار په لاس شوے دے، څنګه چه هغه د خپلو

Marfat.com

نورو ځامنو کړے وو۔ لکه چه په یوځائے کښې عبدالقادرخان خپله هم وائي :۔

"په خدمت لرې د مطالعه کوونو الناس، عاجزالحق احقرالناس، عبدالقادر، ځوئے د خوشحال خټک، چه اګرچه په ضمن کښې د پلار صفتونه محامد بیانول، خپل صفت معلومېږي، لکه بزرګانو ویلي دي ؎

ګرد نام پدر چه مي ګردي — پدر خویش شو اګر مردي

امّا دے (خوشحال خان) هم ځما اُستاد وو، هم پلار۔ د اُستادانو اوصافونه، مدح اکثرو مؤلفانو، په خپلو تألیفونو کښې راوړي دي، ما هم اقتدا په هغو بزرګانو پسے وکړه"[1]

ویلے دا هم د قدرت کار دے، چه د یو لاس ګوتې وی، خو په یو انداز او یوه نمونه نه وی۔ هم دغه د یو پلار اولاد، ټول په یو رنګ او یو شان نه وی۔ څوک ښه او څوک بد۔ یو کم او بل زیات۔ خپل خپل مزاج او طبیعت، خپله خپله خاوره او فطرت۔ په دغه مناسبت، د تعلیم او تربیت اثر هم په تفاوت وی۔ لکه :۔ ؎

باران که په بارش کښې تفاوت کا — ښه خوره زمکه ګُل کاندې، شوره خس

هرڅوک په قدر د خپل فطري استعداد، د تعلیم او تربیت اثر قبلوی۔ موږ ګورو چه د نورو رونړو په مقابله کښې عبدالقادرخان د کلام نه، د هغه علمیت، لیاقت، ذکاوت، فراست، سعادت او شرافت زیات څرګند یږي۔

که ښیله وو، که د نورو اُستاذانو او اتالیقو په ذریعه وو، خو خوشحال خان خپلو ځامنو ته په فارسی، عربئ کښې د دیني علوم د درس نه علاوه، علی الخصوص په ادب کښې د شعروسخن او د انشا او املا پُوره پُوره تعلیم ورکړے وو۔ او ورسره ئے، هغئ په فنِ حرب و ضرب کښې هم په ښه شان تربیه کړي وُو۔ عبدالقادرخان، چه څنګه د تاریخِ مرصّع نه ثابتیږي، په خپل ځلمیتوب کښې، خپل پلار سره، په مختلفو معرکو او مهماتو کښې شریک شوے وو۔ او د جنګ په میدان کښې ئے د یو توروزن او زړور

[1] "ګلدسته" پښتو ترجمه د ګلستان سعدیؒ۔ له عبدالقادر خټک۔ مطبوعه پښتو اکیډمي، پیښاور یونیورسټي۔ ص ۶۵، ۶۶

Marfat.com

سپاهی په شان، د خپلې تورې، مټ اؤ مړانې زور ښکلې وو، خو دا مې ښکاري، چه لکه میدانِ کارزار ته وتل اؤ د رتلل یا ئې د خپل پلار په حُکم شوی وُو، یا ئې خپله اَنده. د خپل پلار سره مُلا تړ اؤ د کُمک په طور وُو. خپله دے، فطرتاً نبرد پیشه نه وو. بلکه طبعاً، د تورې په ځائې ئې قلم زیات خوښ وو. دغه سبب دے، چه د خپل عُمر زیاته برخه ئې په حصولِ علم، ترجمه، تألیف اؤ تصنیف، په درس اؤ تدریس کښې تېره کړې وه. اؤ په آخر کښې ئې بیا په شریعت اؤ طریقت دواړو کښې ښه محنت کړے دے، اؤ د عبادت اؤ ریاضت د پاره گوشه نشین اؤ خلوت گزین شوے دے. لکه چه وائي:-

"پس م له ډېرو فکرونو، مصلحت دا وُلیدو، چه باقي عُمر ځان ته د ناستې، اؤ پښه د قناعت په لمن کښې نغښتې بهتر دی. مشغولا له کتابَ، ورتله په لوری د مسجد، چه سعادت د دُنیا و آخرت دے غنیمت گڼل بویه." دا وخت د ده عُمر د شپېتو ته اوښے وو. •

عبدالقادر خان، خپله خپل حالات اؤ سوانح چه څنگه پکار دی، نه دی لیکلی، اؤ نه په تاریخِ مرصّع کښې د ده څه تفصیلي حالات مُوندے شي. خو څومره پورې چه د مختلفو ذریعو اؤ دستاویزاتو یا روایاتو نه ټوکره ټوکره اؤ نیمگړي احوال موندلی شوي دي، د هغو نه خو دا ثابتېږي چه بے دَ یوُ څو موقعو نه، چه د پلار سره په طور د کُمک په جنگي معرکو کښې شامِل شوے وو، نورو مُلکي اؤ سیاسي معاملو کښې، یا د حکومتِ وقت سره د ملازمت، موافقت یا مخالفت په سلسله کښې ده ډېره برخه نه ده کړې. که څه دا سې واقعات وُو نو هغه به وقتي اؤ هنگامي وُو. اؤ څه مستقل شکل به ئې نه لرلو، چه ده بیان کړے وے. د هغه بس دا یوُ څو علمي اَدبي شاهکار دي، چه د حال په ژبه خپله د ځان شرح، بیان، تاریخ اؤ تفصیل برخه برخه دي.

د کلام نه ئې هم دا څرگندېږي، چه هغه د حصول مرام د کامیابۍ د پاره د مادي اؤ جسماني زور اؤ طاقت د استعمال، جنگ جگړه اؤ جدال و قتال په مقابله کښې، رُوحاني قوت پیدا کول اؤ بروئے کار راوستل زیات ښه گڼل. په دے وجه، هغه، د خپل وخت د یوُ بزرگ، عارِف، حضرت سعدیؒ (لاهوری)[1]

[1] په یوُ اسمه صدی هجري کښې د لاهور مشهور روحاني بزرگ حضرت شیخ رحماني سعدي نقشبندیؒ (مرید د حضرت آدم بنوریؒ شاگرد د حضرت شیخ مجددؒ) چه په سنه ۱۱۰۸ھ کښې ئې رحلت کړے دے. ډکوری صفحه ۲۸۰ عبدالقادر خان ئې د وفات تاریخي قطعه لیکلې ده.

Marfat.com

خوانه راجع شوے وو. او د هغه د تلقین و ارشاد او توجه په سبب ئے د قلب او ذهن ډېره اصلاح وشوه. تر دے چه خپل مرشد، دے په خرقهٔ خلافت هم نمانځلے وو. روایتاً دا هم معلومه شوی ده، چه ده نه خپل تره فقیر جمیل بېګ رح، چه هغه خپله د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب رح مرید او بیا ئے خلیفه شوے وو. خپله لور بی بی په نکاح ورکړی وه. جمیل بېګ رح د خوشحال خان سکه کشر رور وو، خو د شروع نه ئے د دنیا مال و دولت او جاه و منصب ته شا او فقر و درویشئ او عبادت و ریاضت ته مخه وه. هغه د کاکا صاحب رح په مریدانو کښې د لوئے مرتبے بزرګ، ولی او مجذوب تېر شوے دے. عبدالقادر خان به یقیناً د ده نه هم کافی روحانی فیض حاصل کړے وی. خپله اولاده کښې دے تر اوسه پورے احتراماً د "خلیفه صاحب" په نوم یادېږی. په مشهدو کلی کښې، د عبدالقادر خان دیوے لور د سلسلے د اولاد، یو ټبر اوس هم شته چه هغئ ته قادرخېلی ویلے شی.

د عبدالقادرخان په حالاتو کښې د "پټے خزانے" مؤلف، د نواب محمد انور په حواله روایت بیکی چه "د خوشحال بېګ خټک تر مرګ پس، عبدالقادر خان په سنه ۱۱۱۳ھ، کابل کښې لیدل شوے وو. چه د خټکو د قوم له خوا، کابل ته راغلے، او د کاروانونو د تېرېدلو خبرے ئے د بنګش پر خوا کولے. بیا ورانه بیکی." عبدالقادر خان په هندوستان کښې هم عمرونه تېر کړل..... نقل کا، چه عبدالقادرخان په طریقت نقشبندی کښې خلیفه هم وو. او د پیر خلافت ئے کا. او د مریدانو ارشاد ئے کا. شیخ رحمانی سعدی رح لاهوری په خلافت نازلے وو."

د پټے خزانے د دعوے تائید، چه عبدالقادرخان کابل ته لاړ وو، خپله د عبدالقادرخان د یوے رباعئ نه هم کېږی. وائی :-

له خپل بخته وچا ته زار کړو | د چرخ ناسازے وچا ته شمار کړو
ډک دے د کشلیو د کابل ښهر | هم څه نیشته چه یو تر یار کړو

خو د دے پا سنی بیان نه معلومېږی چه عبدالقادرخان د خپل وطن نه باهر د نورو ځایونو په مقابله کښې په لاهور کښې زیات وسېدلے دے. په دے کښې شک نیشته چه په کلام کښې ئے یو څو

Marfat.com

شعروته داسے ہم موندے شی چه ترنه د مسافرئ، غریب الوطنئ، د وطن د پاره مینه اَوُ وطن ته د واپس تلو اَرزو ظاہریږی، خو نه ئے د سفر سبب، نه ئے د مسافرئ وجه یا د ځائے ځائیکی د نوم یا دا چه باہر څومره موده پاتے شوے وو، ہیڅ اَندازه نه لګی. که چیرِ د خپل مُرشد په خدمت کښ وسپدے وے، نو زړه دِ اِخلاص به وو. په داسے وخت کښ پرِد وطن مینه ہیڅکله دُومره غالبُ کیدے نشی چه کښی ہغه داسے اَرمان وُکی چه سه

کُنډ وی چه سره بیا په یوه ځائے شُو

په ہغو د مُوږ سلام چه په وطن دی

دا یقیناً بله داسے واقعه ده چه په ہغه کښ دَ ے د وطن نه بہر چیرته راګیر شوے وے، یا د ناسازګارُ حالاتو نه خپله په دَ په شوے دے اَوُ دا اَرمان ئے کرے دے. لکه په یو ځائے کښ غالباً د یوے چیتئ په جواب کښ لیکی :-

اِشتیاق د لیدو ډیر دے — د بیان ترحد تیر دے
دا کمان کړه له زړه لرِ — چه مِ یار له دِلُ ہیر دے
زړه مِ غوټ کا، صورت روغ دے — د ہجران عجب شمشیر دے
که ډوندون تر ہر څه خوږ دے — په ما زہر یا ګندیر دے
ہوس نۀ پر ہیڅ دی چه ورشی — د غم کوټ تر زړه چاپیر دے
کشمیر ہم په مهجورانو — رنتھمبور اَوُ ګوالیر دے
د زړه سوے دے چه بے یار — په کرک یا په بونیر دے

په دے شعرونو کښی د کشمیر نوُم دے خو محض مثال د پاره راوړلے شوے ښکاری. اَلبته د کرک (کوہاٹ) او د بونیر (سوات) دوه نومُونه داسے دی چه دے به اُورته وو، خو دا ځایُونه نه خو د وطن نه باہر دی. اَوُ نه د اکوړی نه ډیر لرِ دی. کیدے شی چه دا دواړه ہم محض د قافیو په طور بیان کړی شوی وی. اَلبته د دے شعرونو نه د دَه، ہر چرته چه وو، خو د ډیرے اوږدے مودے

د مسافرئ اَوْ مهجورئ په ځائے د دَه نا اُميدی اَوْ مجبوری زیاته ځرګندیږی. ځکه چه خوشحال خان د رنتهمبور په قلا کښې تول تال دوه نیم کاله د قید تیر کړی وُو، اَوْ په دے دُمره وخت کښې هغه بیا د اسے مایوس شوے وو، چه د وطن د جاړو بوټو، د کاڼو کیتو، اَوْ د کور د کټو لوټو اَوْ د غرّه، د سمے اَوْ د سیند په یاد کښې ئے اوږدے اوږدے قصیدے، فراقنامه اَوْ وصیت نامه هرڅهٔ بیا لیکلی وُو. پخوانی شخصی حکومتونو کښې صرف د بادشاه مرضی اَوْ حکم به قاعده اَوْ قانون هرڅهٔ وُو. په هر کیف په دے باره کښې عبدالقادرخان خپل څهٔ نهٔ وائی، اَوْ که څهٔ ئے ویلی وی نو هغه په لاس نهٔ دی راغلی.

د غه شان د عبدالقادرخان د وفات صحیح تاریخ یا کال یا ئے د ژوند د آخری مودے حالات، د مرګ اَوْ د کفن دفن د ځائے پته هُم نهٔ لګی. مشهور انګریز مستشرق، کپتان "ربورتی" لیکی چه عبدالقادرخان د خپل وراره، د اشرف خان مشر ځوی افضل خان (یا خپله یا د بل) په لاس مړ کړے شوے وو. ځکه چه هغه د افضل خان، خانی نهٔ منله. خو دا خبره د یره قرینِ قیاس ځکه نهٔ ده چه عبدالقادرخان د دوؤ شپیتو کالو په عمر کښې خو د دُنیاوی جنجالونو نه لاس وکاږی اَوْ عبادت اَوْ تعلیم یا درس تدریس د پاره ځان وقف کئی. اَوْ په هغه وخت کښې د افضل خان عُمر هم مینه پوخ وی اَوْ خانی ئے هم بنه مضبوطه اَوْ په عروج کښې وی، نو هغه ته د یوُ داسے کمزوری اَوْ بے بدو سړی نه دُومره خطره څنګه لاحق شوه چه هغه ئے هډو سر خوړول غواړی. عبدالقادرخان د ځان د پاره په خپله لیکی سه

همیشه عبدالقادر غُنډ اَزار وړی

چه نه څوک اَزاروی نه له چا زار کا

اګرچه دا خبره داسے نا شونی هُم نه ده چه د منلو نه ئے هیڅ انکار وُکړے شی، ځکه چه په سیاست کښې هر څهٔ هر څهٔ شوی دی اَوْ کیږی. بله دا چه د "پټے خزانے" مؤلف، د عبدالقادرخان په حالاتو کښې لیکی چه ..... "اُس چه دغه کتاب تالیف کوم، ما ته نهٔ ده ښکاره چه دا خان به وفات

شوې وي که نه، خو ښه ګنړم چه وفات شوې به وي، ځکه چه اُس ئے چا د ژوندانه خبر نه دے راکړے. که به مړ وي خدائے دِ وُبخښي ئے "پټه خزانه" په سنه ۱۱۴۲ھ کښې تاليف شوې ده. يعنې د عبدالقادر خان د عزلت ګزينۍ د نيټے نه اُولس اتلس کاله پس. اُو هغه وخت، د "پټے خزانے" مؤلف په دعوه دا نه شي ويلے، چه ګني عبدالقادر خان به "مړ" وي، خو چه ډيره مُوده راپسے تر خبر شوے نه وو نو قياس ئے وُکړو چه ګنړه مړ به وي. اُس، ډيره مُوده، خو څلور پينځه کاله هم کيدے شي اُو شپږ اته يا لس کاله هُم. بلکه د پټے خزانے د مؤلف (محمّد هوتک) د عبارت نه خو دا معلوميږي چه، عبدالقادر خان چه يَوُ زوړ بوډاخ سړے وو، اُس به په خپل طبيعي مرګ مړ وي. ځکه چه که چيرِ د پټے خزانے د تاليف په وخت عبدالقادر خان په ريښتيا ژوندے وے نو خواُوشا د اَتيا کالو به وو. کيدے شي چه د ګوشه نشينۍ نه ډيره مُوده پس وفات شوے وي. اُو چه د عام اُولس په شان کاروباري، د مَنډو رامنډو اُو د جرګو مَرکو ژوند خو هغه ښے هُم پريښے اَوُ د خلقُ نه ئے ځان لغښتے وو، نو د پټے خزانے مؤلف به ځکه خبر نه وُو. (والله اعلم)

د عبدالقادر خان د علم و فضل په باره کښِ د هغه عِلمي کارُونه اَوُ د هغه کلام خپله پرِ دال دي. د فارسۍ د لوئے شاعِر علّامه جاميؒ د يُوسف زليخا اَوُ د شيخ سعديؒ شيرازي د ګلستان ترجمے (د نثر په نثر کښِ اَوُ د نظم په نظم کښِ) اَوُ بيا ئے ديوان، که په غور وُکتے شي نو د علميت اَندازه ئے په ښه شان لګيدے شي، چه دے د څُه پايے عالم و فاضل سړے وو، اَوُ په شريعت و طريقت، سلوک و تصوف اُوُ اَدب کښ ئے څُومره لاس لرلو. په دے ديوان کښ ئے چه هغه پرِ خپله "حديقهٔ ختک" نُوم ايښے وو، غزليات زيات دي. بيا رُباعيات اَوُ قصائد دي اَوُ بيا متفرقات دي، چه په هغو کښې د فرد نه واخله تر ترکيب بند اَوُ ترجيع بند، تضمينونه (د مخمسانو اَوُ مسدسانو په شکل) اَوُ تاريخي قطعاتو په شان ډير صنفونه موندے شي. د صنائع اَوُ بدائع ډيرے ښے ښے اَوُ د اُوچتے پايے نمونے اَوُ هُم د غه شان بيا د موضوع سخن په لحاظ هُم د بهارِ

حُسن و عِشق نہ واخلہ د عشقِ حقیقی، بیا پہ روحانیاتو، اَخلاقیاتو، مذہبیاتو کښې پند و نصیحت اَوُ بزمیہ، طربیہ، بہاریہ اَوُ داسې نورو گڼرو موضوعاتو باندې ئې خپلہ طبع آزمایلی دہ۔ و پلې د تصوف رَنگ پکښې ډیر غالب دے۔ اَوُ پہ ډیرو آسانو اَوُ سادہ وُ ټکو کښې د تصوّف اَوُد روحانیاتو ډیرے باریکے اَوُ اَوَچَتے مسئلے بیان کړی دی۔ بلکہ داسے ښکاری چہ څۂ لیکلی نو د ذاتی علم و عمل اَوُ د خپلو مشاہداتو اَوُ تجرباتو پہ رِبنا ئے لیکلی دی۔ لکہ چہ وایی :۔

ہر غزل رم صبرّا دے لہ تکلیفَ

پہ سادہ پښتو ویل، شیرین کلام ہُم

ہسے خو د بنیادم خاورہ، د مینے محبت اَوُ د عشق پہ اُبو اَخښلی شوی دہ، لکہ چہ خپلہ عبدالقادرخان ویلی دی

ثمرہ ئے خواہ مجاز خواہ حقیقت دے — چہ انسان کښې د کوے د عشق زړے

و پلے، د عشق حقیقی د پارہ وایی :۔

عشق، عطادہ اَزلی چہ پہ چاؤشی — پہ ارشاد اَوُ پہ تلقین را غلے نہ دے

نو پہ چا چہ د اللہ پاک دا عطا وُشی اَوُ د عشقِ حقیقی نہ څۂ برخہ وُمومی اَوُ د حق تعالیٰ قُرب ئے حاصِل شی، بیا ہغہ چہ څُہ حقیقت نہ نیزدو کیږی، دُمرہ ئے پہ خُلہ د خاموشئ مُہر لکی۔ شیخ سعدیؒ وایی ( ترجمہ د عبدالقادرخان) ؎

اے د سحرچرکَ، عشق حاصل کړہ لہ پتنگ — وُسوزی پہ اور کښې، ہیڅ اَواز نۂ کا لہ ننگ

ہرچہ لاف د عشق کا بیا لہ عشق گُفتگوے کا — تښتے د عوے کاندِ پہ ساوُس ئے جامہ رنگ

گُفت پہ شریعت کښې دے، سکُوت پہ حقیقت کښې — کلہ ویل کاندِ، مقرّب د شاہ لہ څنگ

عبدالقادرخان خپلہ ہم وایی :۔

د خپل زړۂ پہ تختہ کښہ عبدالقادرؔ — پہ کاغذ د عشق ویل نۂ دی د کښو

یا داچہ ؎ حقیقت د عشق پہ خُلہ ویلے نۂ شی — دغہ اور بے زِدل نور سپلے نۂ شی

Marfat.com

اول خو دِ حقیقت ادراک اَوُ احساس هر څوک کولے نۀ شي - دِ هغے دِ پاره باریک بینې تیز نظرې لرے رسید ونکے ژور فکر، وسیعه اَوُ فراخه مشاهده، لویه اَوُ د مودو تجربه، زبردسته مطالعه، د بیان پوره پوره قدرت اَوُ په ژبه اَوُ الفاظو ښۀ قابو بکار دے، خو سره د دے هم تولو خوبیو، د مجرد حُسن، د مینے یا د بل یو حقیقت بیان، په الفاظو کښې ناممکن دے. ځکه چه حقیقت چه د مجاز یا دِ الفاظو جامه واغندی نو بیا بیښ حقیقت کله پاتے شي. هغه په الفاظو کښې دننه پټ شي، اَوُ چه په څه شکل پیښیږی اَوُ څرګند یږی، هغے ته مجازی، مثالی، تشبیهی، اِضافی یا نسبتی ویلے شي، هغه جوهر نۀ وی عرض وی - اَصل نه وی، نقل وی چه په یو مشبهه اَوُ شکل کښې پیښ شي. لکه څوک چه د یو سړی نه پوښتنه وُکړی چه ته چیرته یے؟ هغه خپلے سینے ته ګوته ونیسی اَوُ وُوایی چه "زه دا یم!" ویلے مشارٌالیه د هغه سینه یا د وجود بل یو ځائے اَندام یا حصه وی - هم دغه شان سړے چه په ګم ځائے ګوته کیږدی یا ورته اِشاره کړی، نو کۀ دننه وی کۀ بهر خو هغه یو داسے ځائے وی چه بیل شکل، بیل نوم اَوُ بیل صفات لری - غرض دا چه سړے دا نه شي ښیلے چه د هغه "زه" یا "هم" چیرته اَوُ په کوم ځائے کښې دے - د هغه "زه" "ما" یا "هم" د هغه په ظاهری وجود کښې پټ وی - یا د خوږو مثال واخلئ - محض "خوږوالے" کۀ څوک بیانول غواړی نو ترڅو چه ورته څۀ سره مثال ور نۀ کړی، لکه ګړه، نابات، ګبین یا بل څۀ خوږ څیز، چه اوریدونکے خپله د خوږوالی نه ئے خبر وی، نو تر هغے د خوږوالی هیڅ کیفیت د بل په ذِهن کښې نۀ شي کښینولے - خلاصه دا چه حقیقت همیشه ځان پټ ساتی - کۀ څرګندیږی نو مجازی شکل کښې به وی. په دے وجه شاعر په شعر کښې هم د حُسن اَوُ د مینے عین حقیقت نه شي ښکاره کولے - سره د دے چه شعر د بیان یوه مختصره، منظمه، جامعه، لطیفه اَوُ مشکلی طریقه ده، چه شاعر پکښې هر لفظ په داسے اَنداز کښې راولی، یا وئے پیری، چه هغه د لغوی اَوُ اصطلاحی معنو په لحاظ د جزیات موزون اَوُ مناسب وی - لکه غالب چه ویلی دی ؎

گنجینۂ معنی کا طلسم اس کو سمجھئے
جو لفظ کہ غالب مرے اشعار میں آئے

Marfat.com

بیا هم د حقیقت د اظهار د پاره، شعر یو نا کافی او نا مکمل شے دے. عبدالقادر خان وایی ؎

د حرفونو لوښے تنګ، معنے دی ډیرے
په بیان نه ادا کیږی صفت ستا ځے

چه شاعرئے له څه خیز سره تشبیه کا
همره نه دے لطافت نزاکت ستا ځے

بیا وایی ؎

هیڅ تشبیه ئے نښته په جهان کښی
نو بیژنم چه یار څه رنګه وستایم

هر څو که د عشق حقیقی هغه منزل مقصود ته مزل د عشق مجازی په لار کولے شی، او په مطابق د دے حدیث چه المجاز قنطرة الحقیقه. یعنی مجاز د حقیقت پوری ده. وپلے بیا هم ځمره چه حقیقت ته نیږدو کیږی همره به مجازی خبرے پریږدی او تر نه به مستغنی کیږی. په مجازی مینه کښی مین خپل ځان بیل ګڼړی او محبوب بیل. په مین لا د نفسانیت غلبه وی او عن که هغه تش دیدن وی، خو هغه د خپلو خواهشاتو تقاضے پوره کول غواړی. د مین د مینے مرکز د محبوب ظاهر وجود وی، نو ځکه ئے په بیلتون درد ډیری، آه و فریاد کئی. د حقیقت بینو او حقیقت پسندو په نظر کښی دے عاشق خو وی، خو لچه، خام کار، ناپوهه او نا تجربه کار وی. لکه چه وایی ؎

لا د عشق اور ے لرے عبدالقادره!
چه د یار د جفا زار کوے یا نخو لے

و نو موز عاشق بلبل دے شور ئے ډیر مینئے لږه
که مثال د کامل غواړے، وپتنګ ته ننداره کړه

اوم کباب د اور په تاو ژړا فریاد کا
که د عشق له اور آه وکړم لا خام یم

چه د عشق له اور تښتی عاشق نه دے
د خپل ځان په سولوشی د پتنګ سوبه

رقص له خامئ کاندی دانه د دیګ په منځ کښی
یا تو له صوفی شی ناله رقص، چه پخیږی

په دے وجه د عشق مجازی نه عشق حقیقی ته رسیدو، یا خپل عشق کمال ته رسولو د پاره د ټولو روحے د خواهشاتو ترک کول او پریښول لازم دی. او د دنیاوی علایقو او لواحقو نه ځان خلاصول او ازادول ضروری دی. عبدالقادر خان وایی ؎

Marfat.com

عارضي کاروونه هيڅ دي، تعلق ورپورې مه کړه — چه جوهر درته حاصل شي همېشه طلب هغه کړه
جوهر څه دے د تا "فقر"، عرض څه چه بې له ده وي — دا وينا تمام سلوک دے، که دِ نه زده له مازده کړه
که دِ جاه، که دِ عزت که خوښې، که وروڼه — زړه پرې مه تړه عاقله! تش نمائے دے
محبت د مولا کړه، مولا باقي دے — په فاني به محبت کا چه کج رائے دے

يا دا چه ؎

پرېښوول د خپل خواهش کمال د عشق دے — رضامن د عاشقۍ په کام ناکام يم
د خواهش له کوڅے وځه، دا کوڅه ده هر کور تنګه — ترک دِ غوښت وسيع صحرا دے، په دغه صحرا مېشته کړه
په "پرېښول" به د جهان له غم خلاص شے — خلاصه دل د غاش اندېښه په وکښه وي

په يوه زړه کښې دوه درے قسمه مينے په يوه انداز نه راتلے شي او نه پاتے کېدے شي - په يوه زړه کښې خو بس يوه مينه ځائېږي او چه يوه وي نو بله به اورته نه راځي. او په زړه کښې چه د کوم څيز مينه وي، هم هغه د سړي محبوب او صنم وي - نو وايي ؎

محبت چه دِ د څه، په زړه محکم شه — هم هغه په حقيقت کښې ستا صنم شه
بيت الله په حقيقت د مؤمن زړه دے — چه بې خدايه مينے کا، پکښې "صنم" ږدي
لاف د خدائے د بندګۍ محکوم د نورو — د هر چا چه حکم وړے هغه دِ خدائے دے
د پيوند په پرېکولو فقيري شي — ته په دا چه څېله کشېږدے پيوندونه
چه دِ طمع له چا شي عبدالقادره! — ته بنده شوے همه ستا خداوندان دي

په عشق حقيقي کښې چه مينه کمال ته ورسي او بنده ته معرفت، قرب او وصل يا وحدت حاصل شي، په جذب کښې هغه کامل مجذوب يا فنا في الله او په سلوک کښې سالک، درويش او ولي الله شي، نو بيا د منځ نه د "زه" او "ته" فرق وځي. وايي ؎

زه او ته په محبت کښې نه ځائېږي — زه او ته له منځه ووتے يکتا شوے

بيا د عاشق "ځان" د ځان تصور او د خودۍ خيال هيڅ معنی نه لري. د عاشق او د معشوق تر منځ

څهٔ فرق اَوُ بېلتون پاتے نهٔ شي- لکه چه وایي - رُباعی :-

د عشق په کار کښې چه څوک صادق شي — د یار د مهر هاله لایق شي

دوئ دِ د واړو تر مینځه وُوځي — عاشق معشوق شي، معشوق عاشق شي

یار له مانه لا و ما وته نېږدے دے — کهٔ تر مینځ حجاب پاره پاره د "ما" شوے

خودي پرېږده نور راځه عبدالقادره — کهٔ دِ زړهٔ دے چه زهٔ ستا شوے نو ته زما شوے

کهٔ وصال عبدالقادره د یار غواړے — یَوَ قدم په "دُنیا" کښېږده بل په "نفس"

"یم" ویل په طریقت کښې کافري ده — د یم یم په قافیه راوړل پښېمان یم

هرچه معنوي فقر ئې بیا موندهٔ له حقه — لا بهٔ محبت د زړهٔ په نېست لري تر هست

چه مِ شاکره و شادیو وته شاد شوم — چه دِ زړهٔ مُراد مِ پرے ایش په مُراد شوم

د وحدت دریاب به وینې کښته پورته — خپل وجود به ور ښکاره لکه حباب شي

د خودئ باد چه وُباسي له سره — د حباب نامه ئې لاړه شي دریاب شي

د دوئي خبرے مهٔ کوه مطربه! — په نغمه کښې یَوُیَوُ وایه نه دو دو

خو دُنیا اَوُ ژوند دواړه دُمره جذب وکشش لري چه د دو نه نظر قطع کول اَوُ تېرېدل کهٔ ناممکن نهٔ دي نو بے حده گران خو ښکاري- د هرڅهٔ نه اول اَوُ د هرڅهٔ نه زیات، بنده د خپل "ځان" خیال کوي- خپل ځان یادوي- د هرڅهٔ نه ځان مقدم گنړي اَوُ په هرڅهٔ ځان ته فوقیت ورکوي- خلق وایي ځان ته هرڅوک دے- ځانَ خپله ځانَ. اَول ځانَ، پسے جهان- ځان ساتل فرض دي اَوُ داسے نورے ډېرے صفوے، محاورے اَوُ متلونه مشهور دي چه هر یَوُ ئے اوري، محسوسوي اَوُ وایي- خو مزېداره خبره داده چه په اِصطلاح کښې ځان وایي جُدا اَوُ بېل ته- لکه "هغه ځان ته دے"- یعنې هغه په هر لحاظ د نورو نه بېل دے. په عشقِ حقیقي کښې هُم دغه "ځان" چه جُدایي اَوُ بېلتون ئے د مینځه ایستل غواړي- خو د دے کار د پاره په څله ویل خو ډېر آسان دي، کول ئے څهٔ لوټه نهٔ ده- لکه چه وایي :-

ماتول دَ بُت آسان دي مَردان کُم دی — چه مشغول د خپل وجود په شکستن دی

Marfat.com

بیا وایی چه ـــ

چه حجاب ترمینځ "ځما" "ځما د رب" دے ــــ اول "زه" ، دویم عالم ، دریم سبب دے

د "زه" ، د "عالم" ، او د "سبب" په دے درېواړو حجاباتو کښې "زه" "خو ځان یا خودی شوه ـ بل "عالم" دے. معنے ئے دی هر هغه شے چه د هغے په ذریعه علم حاصلېږی. او چه د دے کاینات په لیدو د الله تعالیٰ د ذات او د هغه د صفاتو او قدرتونو علم حاصلېږی نو په دے وجه اصطلاحاً ټول جهان ته عالم ویلے شی. دریم "سبب" دے. سبب پړی یا رسئ ته وایی. او هر هغه څیز ته چه نور څیزونه پرے په خپلو کښې سره رایوځائے کولے او راتړلے شی.

او د حکماؤ په اصطلاح کښې هغه شے چه د نورو اشیاؤ د وجود یا د حاصلولو دپاره وسیله او ذریعه وی، نو معلومه شوه چه د درېواړو تعلق د ظاهری، مادی او مرئی کائنات سره دے چه د عناصرو نه مرکب دے. بس، عبدالقادرخان د دغه عناصرو نه د وتلو ذکر کوی. وایی ـــ

د عنصر د چار دیواره چه راووځی ــــ ارو یده، لیدهٔ ئے واړه بے حجاب شی

ځکه چه هغه بیا د قُرب او بُعد او د زمان و مکان د قید نه آزاد شی. هغئ ته بیا مجاز او حقیقت، جوهر و عرض او جُز او کُل ټول یو شی ـــ

قُرب و بعد، وصل هجر ورته یو شی ــــ چه ئے بیا موندهٔ مکان، په لامکان زړه

خو په دے خبرو هر څوک چرته پوهېږی. لکه چه ئے ویلی دی. ـــ

خو خبر نه دے وګړے له دے راز ــــ ګنړه بیل حقیقت نه دے له مجاز

یار په هر نوری جلوه کا ــــ خو بینا نهٔ دی بصر ستا

د لیدونیو په نظر کښې تفاوت وی ــــ او که نه وی جُز جدا نه دے له کُل

مستعد د نظر، ته نه ئے غافلَ! ــــ د لبر کله دریغ کوی له چا دیدار خپل

خفی شرک، لکه جلی ورته ښکارېږی ــــ عارفان کله نظر په جُز، په کُل کا

دلبر مخ راته ښئ په هر آئین کښې ــــ کله په تورکښې جلوه ګرشی کله په سپین کښې

Marfat.com

خوځان ته، په دے لارے تګ بے حد ګران دے۔ د بل واقف کار، باخبر، اؤ کامیاب رهنما د اِمداد اؤ مرستے حاجت پکښې ضرور پیښیږی۔ په دے وجه په طریقت کښې د وسیلے دلټولو اؤ پیدا کولو د پاره هم تاکید کوی چه ــــ

د بزرګانو په مدد که چیرِ تیر شے غا شے سخت لرے د ورانه، تټو لنګ

دا بزرګان هم دغه د عشقِ حقیقی سرمستان، کامل درویشان اؤ اولیاء الله دی ــــ

چه په تنش کانته ئے رِمس د وجود زرشی درویشان دی، درویشان دی، درویشان دی

نوځکه بیا وایی ــــ

د ښغه سواره پے ورِه عبد القادرَ! چه د اَس ئے د اَفلاک دپاسه پائے دے

د تصوّف علم ډیر دقیق اؤ عمیق علم دے۔ دلته خو صرف یوځو شعرونه د مثال په طور د عبدالقادر خان د کلام ورکړے شول۔ په تصوّف باندِ مفصل بحث د دیوان کاظم خان شیدا په شرح و مقدمه کښې شوے دے۔ په دے وجه دلته د ښخه نظریانو اؤ مسایلو مباحث دوباره ورنه کړے شول۔

دا یو قدرتی اَمر دے چه ښه اؤ بد په هر قوم اؤ ملت کښې وی۔ په یو قوم کښې نه ټول په هیر شه، ښک اؤ نیکوکار خلق وی اؤ نه په لوه بد، خراب اؤ ناکاره وی۔ خو د اِسلامی معاشرے اؤ د اسلامی تعلیم تقاضا داده چه مسلمانان دِ ټول په ښو اَخلاقو مزیّن اؤ آراسته وے او هر سړے د بل په شه راتلے۔ اؤ په خپل خپل ځائے کښې ئے د یو بل د حقوقو حفاظت کولے۔ په دے وجه هر دینی پیښوا اؤ مشر، هر عالم و فاضل اؤ مبلّغ و شاعر، قوم ته که زبانی وی که د کتاب په شکل کښې، خو د نظم اؤ نثر دواړو په ذریعه د اَخلاقِ حسنه تعلیم و تلقین ضرور کړے دے۔ او د هر قسم پند و نصیحت خبو ے ئے پربښی دی۔ د زړو شاعرانو په کلام کښې د مواعظِ حسنه برخه غالبه وی۔ عبدالقادر خان هم په دے ضمن کښې ډیره برخه ویلی دی۔ اؤ په وجه د ګلستان سعدیؒ د ترجمے کولو، د ناصحانه کلام اَنداز ئے د شیخ سعدیؒ د تعلیماتو سره ډیر مشابهت لری۔ اؤ په دے

Marfat.com

یوځو شعرونو کښې خو ئې داسې اُصول بیان کړی دی چه پکښې د اَخلاقو خلاصه یا ئې مغز ړک دے وایی ؎

داخویونه کهٔ دانا سړے اِختیار کا
پهٔ دُنیا پهٔ دین بهٔ جوړ پړ کاروبار کا

عبادت د حق پهٔ صدق پهٔ اِخلاص کا
تل له خپله نفسَ جنګ کوی کارزار کا

پهٔ فقراؤ سخاوت کا بے مِنتَ
پهٔ حاجت کښې اِستغنا له دُنیادار کا

و دوستانو ته تل پند نصیحت وایی
له دُشمن سره پهٔ حِلم زیست روزګار کا

له تمامو خلقو زیست پهٔ اِنصاف کاندِ
پهٔ ریښتیا ویل حاصل خپل اِعتبار کا

شفقت مهربانی کا پهٔ زیر دستانو
د بزرګانو پهٔ خدمت حاصل وقار کا

جاهلانو سره زیست پهٔ خاموشیُ کا
کهٔ هرڅو پهٔ بد ویل ئې زړهٔ آزار کا ۔

پهٔ دے کښې هره خبره پهٔ خپل خپل ځائې کښې لوئې درس دے۔ کهٔ پهٔ یوه یوه خبره سړے عمل کښی نو واقعی چه دین دُنیا دواړه ئې پړ سمبړی۔

ځنے شعرونو کښې ئې لطافت و دلکشی زیاته ده اَو پکښې ئې ښه ښه تشبیهات و تمثیلات راوړی دی۔ لکه :-

ماتے ماتے زلفے بیا پهٔ مخ را غله
د تقویٰ مینه ئې بیا کړه سپېره لُونه

نهٔ د حُسن نمریږې، دا نور کښلی لکه ستوری
کلُ بهٔ کالعدم شی، که ښکاره خپله بقا کړے

د ږوندون چینه یا دهڼری پهٔ تیارهٔ کښې
ما ته خدائې راکړه چینه ترخنګ د نمر

بحر پهٔ کشتیٔ کښې نهٔ ځائیږی سیند د اُشو
څو بهٔ زهٔ پهٔ سترګو کښې حیصار ساتم همېښ

کهٔ د زلفو پهٔ سیاهی جهان تیارهٔ کا
پهٔ جبین لکه صبا کا بیا جهان سپین

مُرده دِل دِ له تهتهٔ زړه ببرون کا
یوَ ساعت پهٔ کورکښې نهٔ پرېږدی څوک مړے

د لبانو جرئ هُم ورځنه ښته دے
کهٔ ئې دواړه تورے زُلفے دی ماروُنه

پهٔ یو غزل کښې د محبوب پهٔ مخ د خط د راتلو کیفیّت پهٔ ځلور قسمه بیان شوے دے۔

Marfat.com

چه پکښې تشبیه، تجنیس، ایهام اَوْ حُسنِ تعلیل هر څۀ موندے شی۔ وایی سه

حُسن خط د وېزارئ و مخ نه وړکړه ... چه شکاره شه په عذارو د نګار خط
هیڅ رنګی به ئے په هیڅ رومی وُنۀ کا ... لکه کاغذِ په سپین مخ باندِ ناتار خط
ستا د شونډو و مهره څوک واخلی دلبرُ ... چه ترِ پرېوت چاپېره لکه تورمار خط
د شایست آفتاب ئے پټ شه لیدۀ نۀ شی ... چه ئے پاسېدۀ په مخ لکه غبار خط

تول کلام ئے ښۀ پوخ دے، اَوْ کمال داد ے چه په ثابت دیوان کښې ئے دا معلوموله گران دی چه کُم کلام ئے د ابتدائی زمانے دے اَوْ کُم ئے د عمر د پختګئ د مُودے دے۔ په دے مجموعه کښې نۀ تاسو یو غزل نیم خو د خالصے فارسئ وُوینئ۔ په یوُ څو ځایونو کښې به د پښتو سره د اُردو فارسئ اَوْ عربئ کړوُن هُم وُلوئ۔ اَوْ په دوه درے ځایه کښې ئے کلام د خپل اُستاد نۀ هُم تېرے کړئ۔ د مثال په طور دا یوُ غزل چه پکښې یوُ قِسم مضموُن بیان شوے دے۔ د خوشحال خان اَوْ د عبد القادر خان دواړو، دلته ورکولے شی۔ موازنه اَوْ مقابله ئے تا خوُخپله وُکړئ۔ د غزل په رنګ کښې د خوشحال خان یو نظم دے:-

تلم په خپله لاره راسره مله شوه نګارا ... شوخه، غمزه کړه، خنده روُیه، خود آرا
رنګ ئے دِ سرې وو اَمّا خوئ دِ ښاپېرئ وو ... تن ئے لکه سیم وو، په زړه سخته سنګ خارا
راغللم په ښهر، لاس په لاس شوه له ما ورکه ... کوئ په کوئ جار وُوځم، پسے غوارم بخارا
ډېرے لرى نخښے د صوُرت د ښایئ ... څۀ خو درته وایم یوُ څو نخښے آشکارا
دنګه تازه کنګه، قد عرعره، مُوکمره ... شه ئے تر ګلونو د ګلابو عذارا
غاښ ئے دُرګوهرُ په لب شکر، اَبرو کمانه ... تور باڼړه ناوک په دواړو سترګو خونخوارا
پونه ئے غنچه وه د زنبق، سیب ئے سپینه زنی ... مشک د مخ خالوُنه په مخ کښلی مه پارا
هار د جواهرو دوه لړئ دِ مرغلرو ... تور وربل اود دے، زلفے ئے عنبر سارا
واړه ئے د تن جامے ګلګونے زرنګارے ... درسته سره لمبه وه، چا لیدله خدا را

بیا ہسے مدد کړه چه خوشحال سره دِ تل کړه
بخت ؛ د دے ورکے سُراغ بخښه وماراً

دغه مضمون عبدالقادرخان په دے شان تړی - وایی ـــــ

په لاره تللم، په مخه راغله، یوه دلبره پری رُخساره
د نمر په شان، لاتر روښانه، په کښلی مخ وه ہغه نګاره
په قامت سروه، په تلو تدروه، اَبروکمانه غبشی مژګانه
په سترګو بازه، خونریزنه سازه، په وہشتولیله، په مخ نهاره
غاړه بلنده، خاطرپسنده، عنبرین مُو یه، یاسمین بُو یه
په شُونډو لعله، په زړه اَلماسه، په سپینو غاښو دُرِّشهواره
چه زنی سیبه، بے له آسیبه، په مَلا ترخپلو وہشتو نری
شیرین کلامه، نازک اَندامه، وَل وَل ئے زُلفے، لاله عذاره
بے میو مسته، خُلهٔ نیست و ہسته، ډکه له نازه خالی له نیازه
سرتر قدمه، ثابته دغه، له ہره عیبه، پاکه بېزاره
مخ ئے خرکند وو، نظر پړبند وو، د مخ شُعلے ئے د مخ حجاب وے
په خیال ناله، نظرئے نه کړه، ہرګز وچاته، له کبره عاره
له ما غایبه لکه بریښنا شوه، په زملکه لاړه که په سما شوه
ما ہیڅ نه پوہېدم چه چېرته داشوه، راته وُوایه اے خبرداره
ہوس ئے یوور، غم ئے را پرے یښ، داغ ئے بیا لوئے را باندِ کښېښ
مقصود دِ دادے عبدالقادرَ اُس پسے کرځه سینه اَفګاره

عبدالقادرخان رباعئ ہم ډیرے لیکلی دی اَوُ قصائد ہم. په قصیدو کښِ ئے د شاعرئ شه زور ښیلے دے. خصوصاً دِ "ګل" چه کُمه بہاریه قصیده ئے ویلی ده، د ہغے خوجواب نشته.

Marfat.com

د دے قصیدے نه تاځو اندازه لګولے شئ چه قادرِ مطلق، عبدالقادر ته څُومره قادرالکلامي عطا کړې ده۔

عبدالقادرخان علاوه د دے مجموعے نه چه تاسو ته ګورئ، یو څو نور قلمي شاهکارونه هم پرېښي دي، په هغو کښې چه تر اُسه معلوم شوي یا په لاس راغلي دي، هغه دي:-

۱:- **یوسف زلیخا** :- دا دِ مولانا نورالدین بن احمد جاميؒ د مشهور فارسي یوسف زلیخا (منظوم) پښتو منظومه ترجمه ده۔ ډېره ښه آسانه اَوْ روانه مثنوي ده۔ خواوُشا څلور زره بیته دي۔ دا کتاب دهٔ په سنه ۱۱۱۲ھ / ۱۷۰۰ء کښې لیکلے وو۔ څو وارې چاپ کړے شوے دے، خو اُس ئے مطبوعه نسخے هم ډېرے کمیابه دي۔

۲:- **ګلدسته** :- دا د شیخ سعدي شیرازيؒ د ګلستان ترجمه ده۔ حقیقت دا دے چه دا دهٔ یوه معیاري اَدبي کارنامه ده۔ په دے کښې دهٔ نثر په نثر کښې او نظم په نظم کښې ترجمه کړې ده۔ اَوْ کمال ئے دا کړے دے چه د فصیحو بلیغو جملو اَوْ د مسجّع و مقفّیٰ عبارت ترجمے ئے هم په هغه اَنداز کښې کړې ده۔ ګلدسته په سنه ۱۱۲۲ھ / ۱۷۱۲ء کښې لیکلې شوې ده۔ اُس په سنه ۱۹۶۱ء کښې دا کتاب د پېښور پښتو اکېډیمۍ چاپ کړے دے۔

۳:- **نصیحت نامه** :- دا کتاب لټول په تجنیس کښې خو د مثنويّ په طرز کښې لیکلے شوے دے۔ غیرمطبوعه دے اَوْ اُس په لاس نهٔ راځي۔

۴:- **څلوېښت حدیث** :- دا تقریباً د پنځوسو بیتونو یوُ وړوکے کتاب دے چه د مثنوي په شکل کښې د څلوېښتو صحیحو احادیثو ترجمه ده۔ د چهل حدیث په نوم په فارسئ اَوْ اُردو کښې دا کتاب نورو کسانو هم لیکلے دے خو په پښتو کښې د نن نه دوه نیم سوه کاله مخکښے دا کار اَول ځل عبدالقادرخان کړے دے۔ دا کتاب هم کمیابُ دے۔

۴:- **آدم اَوْ دُرخانئ** :- د دے کتاب ذِکر مشهور انګرېز مستشرق کپتان ریورټي کړے دے، چه د آدم خان اَوْ دُرخانئ قصه عبدالقادرخان نظم کړې ده۔ بل چا د خپلو تحقیقاتو

137002

Marfat.com

په بنا د دے کتاب په باره کښې لا څه شهادت نه دے ورکړے۔ شاید چه په برټش میوزیم لائبریرۍ کښې ئے نسخه وی۔ البته د آدم درخانۍ په نوم د وړوکی بحر په مثنوۍ کښې یو کتاب اُس یو څو کاله شوی دی چه د پېښور پښتو اکیډیمۍ چاپ کړے دے، خو هغه د عبدالقادرخان نه روز صدرخان لیکلے دے۔ صدرخان هم په دغه طرز کښې د دے اوشهیٔ قیصه هم لیکلی ده۔

د دو نه علاوه هم دغه کپتان ریورټی د عبدالقادرخان د پاره لیکلی دی چه شپېته جلده کتابونه ئے تصنیف اؤ تالیف کړی وو۔ نو که په دے بیان کښې مبالغه کمه هم وی، بیا هم نور کتابونه ئے تر اُوسه نه دی معلوم شوی۔

۵ :- حدیقهٔ ختک :- دا د عبدالقادرخان ختک د دیوان نوم دے، چه هغه د خپل منظوم کلام د مجموعے یا د دے دیوان د پاره خوښ کړے دے اؤ د دے نوم د لاندې ئے خپل دستخط هم کړے دے۔ د پټے خزانے مؤلف، د عبدالقادرخان د حالاتو په ضمن کښې لیکی چه :- "په سنه ۱۱۱۵ھ (۱۷۰۳ء) ئے یو بل کتاب نظم کا، چه نوم ئے "حدیقهٔ ختک" دے ــــ حدیقهٔ ختک، دغه کتاب ما په سنه ۱۱۴۰ھ (۱۷۲۷ء) کښې له صدرالزمان بهادرخان ولید چه د مؤلف په دستخط وو۔ بهادرخان دامت شوکته هسے روایت کا چه په ډېره (ډېره اسماعیل خان یا ډېره غازی خان) کښې ما دغه کتاب وموند، چه د یو ختک په ضبط کښې وو۔ ....... " د عبدالقادرخان شعرونه ډېر دی۔ نواب محمد اندړ د ده سل غزلونه له کابل راوړل۔ اُس زه د لته له حدیقهٔ ختک نه د ده یو څو شعرونه نقل کاندم" :-

## غزل

دریغه نور عمونه لرے شوے له دِله ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ پکښې غم د خپل آشنا وے تل تر تله

ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ

ـــ ـــ ـــ ـــ ـ ـــ ـــ ـــ ـــ ا لخ

(ذا دا تو شعرونو یو غزل دے چه د دے مجموعے د "ه" په ردیف کښې موجود دے۔)

Marfat.com

بل غزل

مهٔ سه خوش د بادشاهئ په تخت ختلو          همیشه ئے غم کوه د، پرېوتلو

ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ ـــــ الخ

(دا غزل هم د دے مجموعے په ردیف "و" کښې شته دے۔)

بیا ئے د رباعیاتو نه یوه رُباعی دا سے نقل کړې ده:۔

ومن رباعیاته

وخت د خزان وو، وُرم لیدے          یوُ څو بلبلے چه ژړېدے

خوارے خستهٔ وے، وبے رم سزا ئے؟          چه بے ګلونو وُ پاتېدے!

اُس هرکله چه د پټے خزانے مؤلف د حدیقهٔ ختک نه د عبدالقادرخان دا دوه غزلے اوُ یوه رُباعی د نمونے په طور رانقل کړے نو معلومه شوه چه دغه د هغهٔ دیوان وو چه نوم ئے ئے پرِ حدیقهٔ ختک ایښے اوُ لیکلے وو. کېدے شی چه نقل اخیستونکو دا نوم ندوی لیدلے یا سهواً تېر پاتے شوے وی. بهرحال د پټے خزانے د عبارت نه دا ثابتېږی چه دا حدیقه د عبدالقادرخان بل څهٔ کتاب نهٔ دے، څنګه چه ځنے کسانو "حدیقهٔ ختک" نوم کتاب دَ عبدالقادرخان په تالیفاتو کښې علاوه د دیوان نه نورو کتابونو سره په شمېر کښې راوستے دے په دے وجه ما هم په دے کتاب، د عبدالقادرخان خپله خوش کړے نوم کېښو لو. اوُ دا څهٔ د تعجّب خبره نهٔ ده. اُسنو شاعرانو د خپل کلام په مجموعو د ښېدیا ګلونه، باغ وراغ، یا شکوره ګلونه، جولئ ګلونه اوُ څهٔ څهٔ نُومونه ایښی دی. د دے ابتداءُ د ښخوا راسے شوی ده، چه ګلستان اوُ باغ و بُستان پرِ دالئ

د کلام نه ئے چه څهٔ اندازه لګی، نو عبدالقادرخان سهٔ عالم فاضل، د اُوچتے پایے اَدیب، مؤلف، مصنف اوُ مترجم، اوُ باخبر صوفی شاعر وو. خدائے تعالٰی دِ ئے مغفرت نصیب کړی.

Marfat.com

# معروضات

غالباً چه سنه ۱۹۴۲ء به وو، چه ما ته، یو مهربان، یو زوړ، وهلو خوړلے او لوخړو وهلے خسته حال کتاب چه د اول او اخېر ډېرے پاڼې ئے ضائع شوی وے، راوړو۔ چه ما وکتو نو ښه د عبدالقادر خټک دیوان وو۔ خو د کتاب په خسته حالئ ئے، د موندلو او لیدلو د خوشحالئ نه خفه زیات شوم۔ کتاب مې ډېر په شوق وکتو او د ځان سره مې نقل کړو۔ او څه موده پس مې سره د ډېرو شکریو ښه بوسیده کتاب ورته واپس کړو۔ او د ښه وخت نه مې دا اراده کړی وه چه که خدائے کړی وی او د دے دیوان چېرته کامله نسخه مې په لاس راغله نو دا به زه چاپ کوم۔ او که دا سے ونه شی نو دا خپله نیمګړی قلمی نسخه خو به پره مکمله کړم۔ خو په مینځ کښې زمانے تېرے شوے، برابرے ئے ونه خوړو۔ په سنه ۱۹۵۴ء کښې د پېښور پښتو اکېډیمئ ته د ملازمت په سلسله کښې راغلم۔ دلته خدائے پاک ته منظوره وه نو څلور قلمی نسخے د دیوان عبدالقادر خان په لاس راغلے۔ دوه نسخے شے ډکے او دوه نیمګړی، چه یوه پکښې د برټش میوزیم لائبریری لنډن نه د مایکرو فلم په شکل کښې راغوښتی شوی ده۔ بیا پروسه کال یوه مطبوعه نسخه (د قندهار چاپ) د دے دیوان ما په لاس راغله، چه ښاغلی عبدالحیٔ حبیبی په لیتهو چاپ کړی ده۔ نو جوته ښه زړه مې اراده مې بیا د سره نوی کړه چه که د الله تعالیٰ توفیق مې رفیق شی نو دا دیوان به زه چاپ کړم۔

ټولے نسخے مې سره مقابله کړے او دا یوه مجموعه ترے نه سازه شوه، چه د تا څو د وړاندې ده۔

په دے ټولو نسخو کښې مې د ښاغلی حبیبی ښه نسخه معیاری وګرزوله، ځکه چه ښه هم دا د دیرو مختلفو

نسخو د مقابلے نه پس چاپ کړی ده. په دے مجموعه کښې چه د تاخو دِ وړاندِ ده، یوځو غزلے رُباعی اَو قطعات زیات دی چه ځنے ما سره زیات وُو. ځنے د حبیبی صاحب هغه نسخه کښې اَو ځنے خیزونه د لندن هغه مایکروفلمی نسخه کښې زیات وُو. په دے شان، داخو په دعوه سره بیا هم نه شم ویلے چه ګنی دا نسخه بالکل مکمله ده، خو چه څومره زړے نسخے راته په لاس راغلی وے د هغو جایزه مې تر وَسه په ښه شان اَخیستی ده. خو یو ے خبرے ته مِ بیا بیا خیال ځی چه دِ دُومره لایق و فایق، اَوُ عالِم فاضل سړی د کلام مجموعه چه د عِلمی و فنی دُرو جواهرو نه ډکه ده، داسے لا وارثه اَوُ په دُومره کَس مپرسیٔ کښِ پرته ده چه په خپله علاقه کښی ے، په دے تېرو دوه نیمو سوو کالو کښِ هیچا ورته د عِلمی ذوق و شوق په بِنا نه دی کتلی. قلمی نسخے هر څومره چه دی کُه د خوشنویسو په لاس لیکلی شوی دی اَوُ کُه غیرِ خوشنویسو لیکلی دی، په اکثرو ځایونو کښِ په کښِ الفاظ بدل کړی شوی اَوُ مسخ کړی شوی دی چه په ډېرو ځایونو کښِ ترینه یڅوڅه مطلب نهٔ شی اَخذ کېدے. د هر کاتب په لاس څهٔ ناڅهٔ ناکړدے ورسره ضرور شوی دی ـــ هغه د خټکو اَوُ د یُوسفزو د لہجے اَوُ د تلفظ د اِختلاف په بِنا د رسمِ خط بدلول حو ۓ لاځه کویٔ چه نور قِسما قِسم تصرّفات په کښِ شوی دی. شاغلی حبیبی سره دِ خدایے ښه وُکړی چه د اِنتهائی اِحتیاط نه ۓ کار اَخیستے دے اَوُ ډېر په محنت اَوُ کوشش سره ۓ د کلام صحت، تدوین اَوُ ترتیب کړے دے. اَوُ د اَکثرو ګرانو ټکو معنیٰ ۓ په لاندِ حاشیه کښِ ورکړی دی. د دے نسخے په کتو اَوُ لوستو ایله د سړی زړهٔ ښه شی. عبدالقادرخان وُپېژندے شی اَوُ متعارف شی. ځکه چه آغائے حبیبی پرِ ډېره عالمانه اَوُ محققانه مقدمه لیکلی ده، چه د عبدالقادرخان د ذات، د کورنئ، د هغهٔ د شاعرئ اَوُ عِلم و فضل باندِ سیرحاصله تبصره ده. اَوُ چه څنګه ۓ خوشحال خان په ډرومبی ځل په اَصلی شکل کښِ دُنیا ته پېش کړو، هم دغه شان ۓ د عبدالقادرخان پېژندګلی اَوُ معرفی هم وکړه. وېلے یوه خبره د دِته هم محلِ نظر ده. هغه دا چه د شاغلی حبیبی هغهٔ اَصل کتاب" چه دهٔ د خپلے چاپی نسخے د اېډِټنګ د پاره په طور د اَساس غوره کړے وو، په هغے

کښې د عبدالقادرخان ژبه تقريباً ټوله بدله کړی شوی ده ـ خدائے به پر ښه خبر وی، چه اُورته په افغانستان کښې به دا مهربانی کړم يو مهربان کړی وی اَوْ په څه نيت، خو اَلفاظ په ډيرو ځايونو کښې، ښه په زړه وَرتيا اَوْ بے دريغه بدل کړی شوی دی. اَوْ کوشش دا شوے دے چه دِ پېښور د علاقے په ځائے، د افغانستان مروّجه پښتو دِ پکښې راوستے شی. لکه د صاحب په ځائے څښتن. د هو په ځائے هو کے. د نه په ځائے يه. د زبردستانو په ځائے بے وزلانو. د سنګ يا د کاڼی په ځائے ډبر اَوْ دا سے په سوونو نور چه د لاندِ جدول کښې ئے کتے شئ. اَوْ د دے لفظونو په بدلولو کښې چه د مصرعے په وزن کښې فرق راغلے دے نو د خپل يو لفظ و پاره ئے ټوله مصرعه بدله کړی ده. لکه عبدالقادرخان ويلی دی:-

"په محنت مونده شی کام له سنګدلانو". نو په بيخ کښې دی چه:-

"په خوارئ مونده شی کام له ډبرزړونو" يا دا چه:-

| | |
|---|---|
| شفقت مهربانی کا په زبردستانو | د بزرګانو په خدمت حاصل وقار کا |

نو هغه ئے دا سے بدل کړے چه:-

| | |
|---|---|
| شفقت مهربانی کا په کوچينو | د لويانو په خدمت حاصل وقار کا |
| ع. ق :- په خاکونو به ئے دا ګلِ صدبرګ شی | چاچه زړه پاره پاره وګورته يووړ |
| اَف :- په خاکونو به ئے دا سل پاڼړے ګل شی | چاچه زړه ټوکر ټوکر وګورته يووړو |

دا فهرست ما دِ دے علاقے بيلی مثنوی خطی نسخو د مقابلے نه پس تيار کړے دے اَوْ بله دا چه زه خپله هم د دغه علاقے وُسيدونکے يم. ځو مره خو به زه هم د خپلے علاقے يا د خوشحال خان د کورنئ د ژبے نه واقف يم. اَوْ بيا په دے فرق خو هر څوک پوهيدے شی:-

| اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بُدل اَلفاظ |
|---|---|---|---|---|---|
| آہو | ہوسئ | پہ سردی گرمی | پہ سڑو گرمی | چشمے | سترگئ |
| آہو چشم | ہوسئ سترگے | پہ لباس | پہ کالو | چمن | بنڑ |
| اَستول | وَرستول | پیش | وڑاندِ | چہ بیرون کا | چہ وُبا سے |
| اُمید | اَمته | پان | پانڑہ | خاروی | خناوو |
| اواز | بڑغ | ترک کول | پریښول | خوک | کُم |
| اَول | لُمڑے | ترمیان | ترمنځ | حبیبانؐ | میَنان |
| باغ | بنڑ | تلخ | ترخه | خاطر | زڑہ، زڑگے. |
| باغبان | باغوان | تلخی | ترخه۔ ترخئ | خام | اُومہ |
| بزرگ | لوئے | تونگر | بڈاۓ | خان و مان | خان اَو مال |
| بزرگان | لویان | تونگری | بڈائی | خزان | منے |
| بہہ | ښنه | تیر | غشے | خُشک و تر | وُچ لانده |
| بہار | پسرلے | جامه | کالی | خم | کوږ |
| بیمار | ناروغ۔ ناروغه | جان و دل | خان اَو زڑہ | خوارالو | کوچینو |
| بیماری | نارو غتیا | جبین | تندَ ے | خواست | غوښت۔ غوښتنه |
| پارہ پارہ | ٹوکر ٹوکر | جُدائی | بیلتون، بیلتانه | خور | خپور |
| پَر | وَزر | جگر | ٹٹر | خوف | ڈار |
| پُر | ڈک | جلوہ گر | جلوہ کوی | دام | جال |
| پست | کوز | چار پایو | خارویو | دامن | لمن |
| پَسته | وروسته | چاہِ زنخدان | خاہ د زنخدان | دانا | پوہ |
| پُور | ڈک | چشمان | سترگے | دانایان | پوہان |

Marfat.com

| اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ |
|---|---|---|---|---|---|
| دخوږ خاطر صحت | دخوږ خاطر روغتیا | روپوشی | مخ پټے | سینه | ټټر |
| دَر | وَر | روشنائی | رنړا | سیه چشمے | تورے سترگے |
| دَرد | غَم | رېړون | زوړتون | // | تورے چشمے |
| دشمن | غلیم | زخم | پرہر | سیه دِل | سیه زړه |
| دِل | زړه | زر | ژر | شانه | زمنځ۔ زمنز |
| دُشمنیٔ | د ښمنه | زہیر بدل | پسخبدل | شکر لبو | شکر شونډو |
| دِل آزاری | زہیرول | زبردستانو | بے وزلانو | شُه | شُو |
| دِل بستگی | زړه تړل | زیړ | ژړ۔ ژیړ | صاحب | څښتن |
| دِل سوزی | زړه سوځے | سایه | سیاره | صبح و شام | سحرماښام |
| دو ساله | دوه کلن | سرخرُو | سُور مخ | صد | سال |
| دوست | خپل | سُرخروئی | سُور مخے | صد پاره | سل پاره |
| دوستان | خپلوان | سَرد | سوړ | صد ساله | سل ساله |
| دوست دشمن | خپل غلیم | سرو | سبر | صوت | بوغ |
| دوستی | خپلوی | سروَ قد | سبر قد | طمع | پیله |
| دویم | دوہم | سفیدی | سپین واله | طمعه | تمه |
| دیدن | لیدل ۔ لیدهٔ | سنگدلانو | ډبرزړونو | عالم | خلق |
| د دیدن | د لیدلو | سوختن | سول | عجب | عجیبه |
| د دیدنه | د لیدنه | سُود | گټه ۔ گټے | عصا | ہمسا |
| د یدن | لیدن | سور | سپور | علاج | دارُو |
| رگ وپے کبنې | رگ اوُ پلو کبنې | سورو | سپرو | غم | وِیر |

Marfat.com

| اصل الفاظ | بدل الفاظ | اصل الفاظ | بدل الفاظ | اصل الفاظ | بدل الفاظ |
|---|---|---|---|---|---|
| غم خواران | غم خوارہ | گُند | گنڑہ | ملیخ | ملخ |
| غنچہ | غوٹئی | لب | شونڈہ | منگے | گڑی |
| غواص | مرجونڑا | لباس | کالی | میان | سیخ |
| غیرِ حق | غیرلہ حق | لبالو | شونڈالو | نادان | ناپوہ |
| فارسی | پارسی | لُر | لیرے | نادانان | ناپوہان |
| فلک | آسمان | لون لون | ڈول ڈول | نادانی | ناپوہی |
| کبر | بڈائی | لوئی | بیڈائی | نام | نوم |
| کج | کوږ | لہ | د | ناوک | غشہ |
| کج رائے | کوږ رائے | لہ اولہ | لا لمڑے | ناوکی | غشی |
| کج وراست | کوږ او سم | لیعے یا لیدی شی | لیدل شی | نظر | کاتہ |
| کم | لږ | چار خوڑلے | چار خوارے | نمک | مالگہ |
| کُند یا کُندہ | کیند - کیندہ | محبت | مینہ | نوشل | خٹبل |
| کوشہ | چم | محلت | مالت | نہ | یہ |
| کوئی | چم | محنت | خوارئی | نیک سلوکے | ښہ سلوکے |
| گرجی | خرخی | محل | مہال | نیکو گفتار | نیکو ویونکے |
| گرد | گرز | مردالو | میرڑیلو | وعدہ | ژمنہ |
| گردن | غاڑہ | مُردہ | مڑے | ہجران | بیلتون |
| گرمی | تاوده | مشاطہ | ڈمہ | یاران | آشنایان |
| گُلِ صد برگ | سل پانڑے گُل | معلوم | ښکارہ | | |
| گلہ | مانڑہ | ملا ستے | نماستہ | | |

Marfat.com

عبدالقادرخان غریب دے کلام سره چه دلته څه شوی دی نو د ناپوهئ اُو کم فهمئ په سبب، اُو که په افغانستان کښې څه شوی نو قصداً اُو اراداتاً شوی دی. کله د یو بے ځئ نه دے شوے. لکه نو ورسره ترڅپله وسه شپګړه کړی ده. خو سره د دے، د ښاغلی حبیبی دا لوئے احسان دے چه دا ورکه مرغلره ئے را ولټوله. صفا ئے کړه اُو شایقینو ته ئے وړاندې کړه. کنې نو ورکه وه. دا مختلف قلمی مجموعے به ټوټے وښو خټلی وے. یا به دِ کوټے د شاهتیرو پاسه یا په لمړو کښې به په لوګو اُو د بارانه په څڅوبکی، ورستے شوی وے. ښکه چه د نورو ډېرو کتابونو اُس هم دغه حال لګیا دے کېږی.

په دے دیوان کښې، ما په خپل خیال، صرف د لوستونکو د آسانتیا په خاطر د غزلیاتو رباعیاتو اُو قصایدو ترتیب، د ړومبئ مصرعے د قافیے په مناسبت د حروف تهجی په بنا راینبلې دے. په دے شان که د چا مطلع قدر نه یاده وی نو زر اُو په آسانه به ئے راوباسی. ګران الفاظ اُو اصطلاحات اُو د هغو معنے م دِ کتاب په آخر کښې دِ عامو لغت نامو په شان د حروف تهجی په ترتیب سره، د فرهنګ په نوم بیل ورکړی دی. اُو د څنو مصرعو د املا فرق، د مختلفو نسخو مطابق م د هرے متعلقه صفحے په لاندینئ حاشیه ورکړے دے. د خپلو معروضاتو د رسم خط نه م د "ټ" "ډ" "ړ" اُو "ک" دا زاړه شکلونه په قصد ایستی دی چه دا اُس د پښتو په حروف تهجی اُو ټایپ هسے فالتو پاتے دے. اُو شعرونه م د زوړ رسم خط په مطابق لیکلی دی چه څه د عبدالقادرخان دَئ لهجه وه. لکه هغه "یکښې" وے اُو "پکښې" ئے لیکل نو زه دِ اُس وخت "یکے" ولیکم اُو ووایم چه دا دِ عبدالقادرخان دِ خط ملکی دی.

په آخر کښې زه د مولانا عبدالقادر صاحب ډائریکټر د پښتو اکېډیمی په خدمت کښې د زړه د اخلاص تشکر پېش کوم چه ما ته ئے په زوړ تندی د اکېډیمئ د قلمی اُو فلمی نسخو د کتو اُو بیا د کتاب د تدوین و ترتیب اُو چاپ کولو اجازت راکړو ——— اُو بیا

Marfat.com

د یونیورسټي بُک ایجنسي مالِک و مهتمم فضل منان میاں صاحب هم ممنون یم چه د دے کتاب د چاپ کولو وعده ئے وُکړه - خدائے پاک دِ ورته نورهم توفیق و استطاعت ورکړي کنځ دلته د پښتو د کتابونو د کتو اَوُ په بیعه اَخیستو نه خو څوک شوق لری اَوُ نه رغبت - په داسے حالاتو کښې د یو ناشرَ د ډومره لوئے خرچ اَوُ تاوان د پاره آماده کېدل لوئے زړه کول دی.

د عبدالقادرخان په کلام باندِ ډېره اوږده تبصره په قصد وُنه کړه چه مشاغلی لوستونکی ئے خپله بالاستیعاب وُلولی اَوُ خپله ئے په محاسنو اَوُ لطافتونو غور وُکړی اَوُ ترِ نه محظوظ شی. داخو د هرچا خپل خپل نظر اَوُ خپله خپله خوښه ده. دِ ما به یوُ شعرخوښ وی نو ضروری نه ده چه د بل دِ هم هغه شعر په هغه شان خوښ شی. مُشک هغه چه خپله خوشبوئ خپله څرګنده کړی، نه دا چه خرخونکے ئے صِفت وُکړی. اَوُ عبدالقادرخان خپله هم ویلی دی ؎

چه ژوبّه شی ستا بیان؟ عبدالقادرَ!
په رنګ رنګ ترِ پیدا کېږی نور خوندونه

---

سید انوارالحق - پښاورښهر

شپږم - ۲۸ر دسمبر ۱۹۶۶ء / ۱۳۸۶ھ

# مقدمہ

(عبدالقادر خان خٹک)

Marfat.com

Marfat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

چه څوک په زمکه یا په اسمان دی — واړه په حمد د پاک سبحان دی
نقصان په غوږ وکښې د سامعانو کښې — اَشیاء واړه په حمد د سبحان دی

پس د خدائے تعالیٰ له حمدٗ جلّ جلالهٗ اَوْ د رسول له درودٗ صلّی اللّٰه عَلَیْهِ وَسَلَّمْ، اَے عزیزه وُپوهیږه، چه بهترین د طاعتونو اَوْ سَر د نعمتونو حق شناسی یعنی اِقرارکول په خُله، چه خدائے یَوْ دے، شریک ئے نِشته اَوْ محمدؐ رسول دَده دے، اَوْ تصدیق یعنی د لور د زړه دے.

قربان دِ تر نامه شم محمدؐ پیغمبرَ — چه ئے ستا محبت نه وی د هغو چارده اَبترَ
ځار دِ تر صدیقؓ شم صدقه دِ تر عُمرؓ شم — فدا شم تر عثمانؓ بلهاری شم تر حیدرؓ

دِ واړو اَصحابوؓ دوستی دِ رسولؐ دوستی ده، د رسولؐ دوستی دخدائے دوستی ده. هرچه دخدائے دوستان دی، په دواړه جهان په اَمان دی. پس له ایمان تر واړه طاعتونو بهتر مونځ دے. بویه چه په مشه وخت ئے وُکړے. مونځ په ترتیب اَدا کوه. سپک کُم، چه مونځ ئے سپک وی. یعنی رکوع، سجود نه بیلوی. په مسجد نه حاضریږی. اَمّا اِما متی مه کوه، اَوْ موذنی کوه. دروند بار دے. دمخلصانو کار دے. پس سعی په مشه خصلت کوه. دِ انسان اَوْ دحیوان تفاوت په خوئ دے. خویونه کم آزاری ده، څو توانیږے په لاس، په ژبه څوک آزار مه کړه.

د چا مه اخله آزار عبد القادر | تر دا رنشته د ے بدکار عبد القادر
هر چه ویره د مظلوم له آه مه کا | عاقبت شی هغه خوار عبد القادر
چه لاس نه نیسی له ظلمه وژاند ورستو | په ظالم شی گرفتار عبد القادر
څوک چه خوری په ظلم مال د یتیمانو | ډکوی گېډه په نار عبد القادر

هر چا ته په ښه نظر گوره. هر چه په ځان نه پسندے په بل مه پسنده. که ښه کړے، ښه به مومے، که بد کړے بد. د نورو بار وړه. خپل بار په چا مه وړه. له چا سوال مه کوه، د بل مه رد وه. چه مه شکنځه شے چه وړه شکنځے. سه

خپل استاد م، خدائے یے قبر منور کا | همیشه به ئے دا پند وایه و ما ته
، په مقراض که د څوک دواړه شونډے پرېکا | چغلی چگی مشکنځل مه کوه و چا ته

د هر ورکړه لژ گنړه، لژ ورکړه په عذر زیات کړه. لژ خوره، ډېر پخوه، د چا مه خوره، په نورو خوروه. په هلکانو رحمت کوه. د پیرانو حرمت کوه. د عالمانو عزت کوه. د فقیرانو خدمت کوه. په هر کار کښ، په تله، په ناست، په گفتار، په خوراک تقدیم د مشر کړه. مشر ورور لکه پلار گنړه. د پلار آشنایان لکه ترونه. د چا عیبونه مه شماره، پرده پوش وسه. رباعی

اے چه عیبونه د بل اکثر وینے | خپل ځان تر نورو خلقو بهتر وینے
سر د همه و عیبونو دا دے | چه د بل عیب د ځان هنر وینے

غیبت له چا مه کوه. غیبت کوی منع کوه. په ځان بدگمان وسه، په بل نیک گمان. دروغ مه وایه، سړے پرے سپک شی. وعده خلاف او سوگند خور مه سه، بے اعتبار به شے. چغلی د چا مه کوه. د چغل خور غلیم وسه. د بل لژ احسان ډېر گنړه، خپل ډېر لژ. ډېر آوره، لژ وایه. شوا چه څوک د ویوشتی باله وایه. د لژے نیکئ د بل پر تلافی کړه. په ډېر بد لژ مکافات بلکه عفو بهتر تر انتقام ده. خپله نیکی د بل بدی مه یادوه. ورکړه چه منت مه حبطه کوه. سخاوت په مثال د ے، میوه داره شجر، چه منت ورسره مل کړے و بخ ئے سکنړی په آره. کامل ستی هغه

Marfat.com

دے چہ تر ورکونی پہ غوشتنیو مین وی۔ چہ څوک دِ وُبولی ورشہ۔ کنہ قرار پہ وقار کښِ ناست وُسہ۔
د علماوُ مجلس لازم گنڑہ۔ ډیر علم لږ عمل کوہ خود بد علم پہ ډیر عمل گډ کا۔

ہر عمل بے علمہ خڈ دے د خدائے قہر د خدائے ہیچ
لږ عمل لہ علمہ ډیر دے ډیر عمل بے علمہ ہیچ

د مشائخ پہ دیدن ورد روموہ، نا بیتے ورسرہ کوہ پہ ادب۔ د اولیاء پہ کار انکار مہ کړہ۔
پہ نعمت شاکر وُسہ، پہ محنت صابر۔ نیک و بد واړہ لہ خدایہ گنڑہ۔ موړ پہ قناعت شہ۔
قناعت گنج دے، چہ دَ ے نہ فانی کیږی۔ راضی پہ قسمت شہ، چہ ہمیشہ خوش وے ؎

| | |
|---|---|
| پیرم چہ حَل ئے واړہ اِشکال وُسہ | پہ دواړہ کون خرم خوشحال وُسہ |
| دا نصیحت ئے راتہ ہمیش وایہ | چہ خوش لہ خدایہ پہ ہر احوال وُسہ |

حرص د دُنیا مہ کوہ۔ حرص قحطی دہ چہ نہ ہیریږی۔ حَسد لہ چا سرہ مہ کوہ۔ نقد دوزخ
دے۔ حَسد پہ زړہ کښِ د بے حسد و اور دے، تر بویہ حذر۔ بے خرد وی چہ لہ مقبول سرہ دشمنی
کا۔ بغہ سړے دِ پہ شمار د زور دے۔ کبر مہ کوہ چہ خوار نہ شے۔ تواضع کوہ چہ عزیز شے۔ متکبر مہ
شہ، متواضع وُسہ۔ آزار مہ اخلہ۔ د ہر چا نافع وُسہ۔ سر د ہمہ وُ پند ولو داد ے، لہ خپلہ خدایہ
ہمیش خاشع وُسہ۔ حلیم شہ زغونے چہ دروند شے۔ ډیرے مسخرے مہ کوہ، بے وقار بہ شے۔
د دُنیا محبت مہ کوہ۔ حُب سرد بدیو دے۔ سخاوت کړہ چہ د ہر چا محبوب شے۔ بُخل مہ کوہ، چہ
د عالم مبغوض نہ شے۔ غلیم د غلیمانو ہم ستا نفس دے لہ شر ئے ایمن مہ شہ۔ لہ ستا ځنے
احتیاط کوہ۔ لہ شیطانہ اُنس مہ کوہ یعنی اُنس لہ بدانو۔ پہ [illegible] پہ دوستانو بدلا
چہ رُوبرو دِ صفت کا ہغہ بدخواہ وُگنڑہ۔ خود نمائے د خود ستائے مہ شہ۔ آزمایلے بیا مہ آزمیہ۔
پہ نا آزمایلی کار مہ سپارہ۔ لہ حکومت لرِ وُسہ، اگرچہ کہ یو ساعت وی۔ پہ ہر کار کښِ مصلحت کړہ۔

احمق کم چہ ځان ہشیار گنڑی ؎

| | |
|---|---|
| سړے کہ ہر څو لہ عقل پوُر وی | چہ مشورت نہ کا پہ ځان مغرور وی |

ہم د غہ عقل د دہ کمر شی      ځنے بہ پرېوزی درست بہ چور چور وی

کارونہ پہ خدائے تعالیٰ وُسپارہ - ډېر مہ خاندہ، کُشادہ رُوی اَوُ متبسم وُسہ، چہ زړہ دِ سخت نہ شی۔ اَوُ ہر څوک درباندِ مَین شی - ہمیش محزون وُسہ۔ دُنیا کلبہ د اَحزان دہ - غافل بہ یکش اَندوہگین وی - خوشحالی علامت د حماقت دہ۔ لہ گُناہَ بیارتہ وُسہ چہ زړہ دِ تورنہ شی۔ تور والے دِ زړہ نښانی د کفر دہ۔ د دُنیا مینہ سَر د واړو بدیو دہ - د دُنیا دارو نا ستے زہرِ قاتل وګڼو۔ خیل لږ ډېر گنړہ۔ د بل ډېر لږ۔ پہ علم دین کښِ ترځان بہتر گورہ، پہ دُنیا پہ دولت کښِ ترځان کہتر۔ راز وچا تہ مہ وایہ۔ د چا رازدار مہ شہ، چہ راز بہ ئے فاش کړے، د راز ساتل گران دی۔ نیکخواہ د خلقو وُسہ، کہ پہ لاس وی کہ پہ ژبہ، کہ پہ زړہ۔ بہتر د سړیو نافع دے، بد مضر۔ مشغول د اللّٰہ تعالےٰ پہ ذکر وُسہ - د خدائے عافیت غواړہ۔ مرگ ډېر یاد وہ۔ د دُنیا محنت بہ درباندِ آسان شی۔ د آخرت طالب بہ شے - مړہ عزیزان دوستانٌ مہ ہیرَوہ - د ہریوُ چہرہ تصوّر کړہ۔ چہ ژوندی څہ رنگ وُوَ اُس پہ قبرونو کښِ څہ رنگ پراتہ دی۔ قُرآن دایم لولہ، چہ د زړہ سپین والے د قرآن پہ تلاوت اَوُ د مرگ پہ یادول کېږی۔ تنہائی عادت کړہ - قرآن انیس لرہ، چہ پہ قبر کښِ دِمونس وی، پہ قیامت شفیع، پہ جنت کښِ رفیق۔ ہر صبا یٰسٓ لولہ چہ ځنکدن درباندِ اَسان شی۔ ہر نماز پیشین اِنَّا فَتَحْنَا لولہ چہ کشایش د دین د دنیا د کارونو وُشی - ہر نماز دیگر سورہ عَمَّ لولہ چہ د دُنیا محنت درباندِ آسان شی - ہر نماز شام اِذَا وَقَعَتِ لولہ چہ نہ خوار یږے، پہ دواړہ جہانہ آسُودہ وبے - ہر نماز خفتن تَبَارَکَ الَّذِی لولہ چہ لہ عذابَ د قبر خلاص شے - خیرالکلام مَا قَلَّ وَدَلَّ ——

والسّلام مع الاکرام ۔

# غزلیات

Marfat.com

Marfat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# ا

(۱)

ساقي پاسه پياله راکړه پاڼې بېد کا | د بهار د راتلو باغ ورته نوېد کا
ستا په ميو کښې نشا د يکرنګۍ ده | چې تر فهمه م يکرنګ سيه سفېد کا
د رقيب خاطر به وېلې اکه يخ شي | که يار مخ راته ښکاره اکه خورشېد کا
سيه چشمو څخه بوئ د وفا نشته | له دې باب به څوک څه ورته اُمېد کا
چې په عشق سره ژوندي وي هغه نه مري | خدائ ئې توانيږي که څما عُمر جاوېد کا
زړه ئې درست له ماڼيو وړ لا ئې ګوره | چې لا څو سحر د مونه مکر و تشېد کا

دا ځل څه ېر ور څخه ښاد عبد القادر شه
چې به بيا په ښائستهُ وُ اعتمېد کا

(۲)

که ګذر د يار په کوئ وکړې صبا | ووايه زموږ پيغام په دِلرُبا
څو قطرې زموږ په ياد په زمکه توې کړه | چې په بزم د عشرت اخلې صهبا
ستا د زلفو بوئ نسيم په چمن راوړ | له مستۍ شو د غُنچې قميص قبا
په ژړا م د بڼو خاروونه توئ شول | په لېمه م قدم ږده بې محابا
لکه ګل په بوئ تر نورو ګلو ښه شي | ښه خصلت زياتوي حُسن د خُوبا
نصيحت په عاشقانو اثر نه کا | نه د پير نه د اُستاد نه د بابا
تل تر تله به ژوندي وي لکه خِضر | که په خُله ورکا دلبره الام د با

Marfat.com

چه ئې یار له غېږه ځي د مرګ ساعت دی — درېغه مه وي د وصال د شپې ص
تر ساعت ئې د جنت خوښئ صرفي — د خپل یار قامت و ماته نښه طو
له دې مُلک په عزت وانه بهتري — ساکنان ئې حُرمت نه کا د غرب

که رېښتیا حُب لرې عبد القادر
بې رقیبا به درد روغي محبوبا

(۳)

چه ئې وُلیده بشر ستا — کمترین غلام شو نمر ستا
ګل له شرمه خوله پر پرېږدي — چه په مخ شي برابر ستا
د بادشاه په بادشاهئ — خندا کاندي قلندر ستا
ګل، شبنم، صبا، بلبل — ثنا وایي هر سحر ستا
تر عنبرو په ما ښې دي — د پله خاورې سمنبر ستا
خود له خوده ښایسته ئې — حاجت نشته د زیور ستا
د هر شي تسبیح به اورې. — که غوږونه نه دي کر ستا
یار په هر لوري جلوه کا — خو بینا نه دي بصر ستا
میاشت[له] اوریځ د مخ نقاب کړه — چه په مخ شوه برابر ستا

تل دا خواست عبد القادر کا
چه که خاورې شي د در ستا

(۴)

---

له دا شعر په "ح" کښې نشته.

Marfat.com

ډوک چه مینه په دُنیا لا په عُقبا کا
نه پوهیږي سراسر داره خطا کا

...ه د وصل له لذت ئې خبر شي
د بهشت و نعمتونو ته به شا کا

...زاهد ځله[1] د حُور اَوُ د قصور ده
عاشقان ئې و دیدن ته تمنّا کا

...په اَعلیٰ وی په اَعلیٰ به ئې نظر وی
چه اَدنیٰ وی همګی چارے اَدنیٰ کا

د خزان دُوک ئې لید ئې وی په سترګو
چه بلبله[2] په ګلزار راشي غوغا کا

چه ئې شا په شا په کټ کښې ملا نه شي[3]
دا فلک ئې په هیواد ځبله[4] جُدا کا

چه صبا به له مجلسه جدا کیږي
شمع ځکه درسته شپه د سوز ژړا کا

چه د وصل په دولت دی سره جمع
زمانه به ئې جدا په واویلا کا

هرڅه[5] یاد کا هم هغه د ده غلیم شي
ځه به نور عبد القادر یاري له چا کا

## ۵

طول اَمل چه په دُنیا عیش و آنند کا
په اَبار کښې د اُبو په طمع بند کا

لږ راحت به ئې په ډیر محنت بدل شي
چه مرګ مځ ورته د نمر په دود څرګند کا

کبرجن چه قهقهه خاندي په شادرُومي
په معنیٰ کښې په خپل ځان پورې ریشخند کا

څو د عشق په تیغ واړه شم عزیزه
قیمت زیات واخلی ګنے چه ئې بند بند کا

نیک خواهان د پند و یلو صرفه نه کا
نیک بختان بویه چه غوږ د دوئ پند کا

رُخصت مه اَخله په غلا را ځئے درومه
کله څوک د ځان د وژلو چار پسند کا

---

په ځنے قلمی اَوُ چاپی نسخو کښے دا الفاظ په دے شان لیکلی دی:- [1] پله [2] بلبل ځکه په ګلزار هره غوغا کا، بلبل ځکه په ګلزار باندې غوغا کا۔ [3] نا وته، نما [4] ځله [5] هر څیز کار څوک چه یار کا
ځکه:- چه په لوړک۔ نور به ځه۔

## ۶

دا خوبونه که دانا سړي اختیار کا
په دُنیا په دین به جوړ پړ کاروبار کا

عبادت د حق په صدق په اخلاص کا
تل له خپله نفسه جنګ کوي کار زار کا

په فقراؤ سخاوت کا بې منته
په حاجت کښ استغنا له دُنیادار کا

د دوستانو ته تل پند نصیحت وایي
له دُشمن سره په حِلم زیست روزګار کا

له تمام خلقو زیست په اِنصاف کاندِ
په رښتیا ویل حاصل خپل اِعتبار کا

شفقت مهرباني کا په حوارانو
د بزرګانو په خدمت حاصل وقار کا

جاهلانو سره زیست په خاموشي کا
که هرڅو په بد ویل ئې زړهٔ آزار کا

همیشه عبدالقادر غُندِ آزار وړي
چه نه څوک آزاروي نه له چا زار کا

## ۷

چه په خپله خُلهٔ بیان د خپل هُنر کا
د چنړے په دود هرګوره پرهٔ چر کا

خپل ګوهر لکه صدف ساتلے بویه
زمانه که ئې پاره پاره ځیګر کا

امتحان د مرد نامرد په حادثه شي
اور نیکي بدي ظاهره د اکسر کا

عاقبت به رِ ویني وُږاړي چه خاندي
د شیشې قُلقُل بنادمنو ته خبر کا

دُون همت لکه خس بیا پر بوزي په زمکه
که ګرد باد ئې د دولت په فلک بر کا

چه فنا خپله هستي کا په شرهٔ اورکښې
شمع هاله نور له نورهٔ منوّر کا

چه منت ورسره مل وي تر دامن ئې
که به شوندے د حیات په اُبو تر کا

د بوریا نخښے په تن د مسکینانو
لا ښه ایست تر منقّش جامو د زر کا

Marfat.com

په دے بزم کښې چه مے د مراد وڅښې — په آخر د ناکامۍ پیاله ور کا
د دنیا خوبۍ که واړه ورته کښېږدی — دړه وتښتي دے که پر غم دا آشنا ور کا
چه په وخت د تلو راتلو کا چیغاړونه — د هواد یاران رایاد زاړی اکثر کا
د غمژنو په کوڅه مه ځه خوشحال — صاف ساعت به دِ د عیش مکدر کا

ته لا هسے باد پیمے عبدالقادره
دم په دم دِ عمر باد عنبر گرز کا

## ۸

که هرڅو ورباندې غاوُ رقیب غماز کا — عاشق کله غوږ د دیو په آواز کا
په جهان کښې که بدخوئی او گنده بوئ وی — زمانه ئے ململ پوش لکه پیاز کا
ناز ته ځ بویه نازک لطیف تر گلہ — هر ځ کله هو نبره ځ لری چه ناز کا
هرچه نه ښیسی نظر له ښکلیه مخه — بویه دا چه ځان محبُو و ته ساز کا
باد راوالوت مخالف ناخدا ئے بیهوش شو — گوره سر به په کُم لوری دا جهاز کا
چه ئے نه د میوے سُود نه ئے د سیوری — دا فلک ئے لکه سرو سرفراز کا

له بے نیازه بے نیازی عبدالقادره
همیش غواړه چه له غیرو دِ بے نیاز کا

## ۹

دِلربا که راښکاره ښکلے جمال کا — له خاطره[1] به محو د غیر خیال کا
کفایت په عاشقۍ کښې نه ځائیږی — محبت بنده زاده د بادشاه[2] سیال کا

---

په نسخه قلمی او چاپی نسخو کښې دا ټکی په دے نشان لیکلی دی۔ [1] له خاطره مینه محو غیر خیال کا۔ [2] پاچا

د وصال په وخت خبره لوئے حجاب شي ‌ ‌ عشق عاشق کښے ګویا کښے د لال کا
په بورجل ئے د کال غم را بانده تېر شو ‌ ‌ انتظار یوه ګړئ را بانده کال کا
که ظاهر له نوره خلقه مشغولا کړم ‌ ‌ زړه مې تل د یار له غمه اشتغال کا
سپین و ښنته د بدنامئ په وسمه تور کا ‌ ‌ چه آرزو د صفا ورېو د وصال کا
زه او یار په صورت دوه په معنیٰ یو یو ‌ ‌ څوک چه دے خوشحالوی ما خوشحال کا
زمکه تخت آسمانے تاج ستوری ګوهر شي ‌ ‌ چه په سرے دا د مینے هماۓ بال کا
د دوران له انقلابه لا بقا شي ‌ ‌ اعتماد به دانا څه په دا اقبال کا

د ګوهر صره به په ژړا په نار وکړ شي
که ښکاره عبدالقادر ورته احوال کا

(۱۰)

هر ګور ډېره نادانی بورا بلبل کا ‌ ‌ چه خزان ور پسے شته مینه د ګل کا
دا چراغ به بل ترکمه وی په باد کښے ‌ ‌ یوه ورځ به ئے صرصر د فنا ګل کا
په صبا ئے په زشتی بدل بنا ئست شي ‌ ‌ شب چراغ چه په شپه همنبره تجمل کا
خفی شرک لکه جلی ورته ښکارېږی[۱] ‌ ‌ عارفان کله نظر په جز په کل کا
په شبنم سره د ګل غوټئ غوړېږی ‌ ‌ د بخیل غوټه لا سخته نم د مل کا
ننداره چیانو به ئے سترحه د مخ وکړه ‌ ‌ تحیّر ورته آواز د لا تقل کا

ستا قلم عبدالقادر مشک افشان شو
چه ډېر ډېر صفت د زلفو د کاکل کا

(۱۱)

ع[۱] څرګندېږي.

که د خوبرو په دعا فرېښته آمین کا — زړه به جمع پرېشان رب العالمین کا
د وصال په دولت ناست یې غافل مه شه — جدائي د واصلانو ته کمین کا
ترق یه وچوي له غمونو که نومید شي — د ښادیو په امید ښادي غمګین کا
د خندا طالب د تل په ورت ورت ژاړي — چه وژاړي خندا ناله یاسمین کا
د قصاب له چړے خوف[۱] د لاغر نشته — په رمه کښے تل پوښتنه د سمین کا
قوت خو همنبره چه قوت ځنے حاصل شي — که په څوک ئے د اوربشو که غمین کا
جهان څه چه آسمانونه به کړه وړه شي — که د تللیو حال ښکاره ورته زمین کا

د خوبرو زړه دا ړو په دا عبدالقادر کا
چه د خوبرو په دعا فرېښته آمین کا

(۱۲)

په خزان کښې که نظر په ګلو وُ کا — ښائسته به په خپل حسن زړه بینه کا
د جهان ورکول کل په عاریت دی — عاقلان به تعلق پرې پرې نه کا
د فلک آسیا په رود څما د سترګو — چه د یار په فراق د ړووي ګرزیده کا
یو ساعت ئے خوشحالي اندوه وی عمر — آشنائي دې هیڅوک نه کاندې که ښه کا
چه په اصل بوټې تریخ وي خوږ به نشي — د ابو په ځائے که توئے شهد اوړه کا
پل ئے ځکه په جهان کښې موندہ نشي — عاشق تله د یار په لوري په لېمه کا
بوئ د مشکو د عنبر په جهان خور شي — مشاطه ئے چه خواره د سر ویښته کا

له غمونو ځکه خلاص عبدالقادر شو
چه په خپله بخره خوښ شو حرص نه کا

---

۱ دار.

(۱۳)

چه ئې ستا خوږې خبرې زړه صافه نه کا
د طهور شراب ښخو و ته لاف نه کا

خدائې په خپله ستا صفت د بیان کړې
نشته شئې چه مدح ستا داوصافه نه کا

چه ئې ستا په شریعت قدم ثابت کړه
له صراط د ښخه سرې خاف نه کا

چه خلاف دِ له سنت کا ځائې ئې اوردې
له له فرض اؤ له واجبو خلاف نه کا

خدائې به خپل گنهگار عفو ستا په روئې کا
و ئې ستا گنهګاران به معاف نه کا

په طواف ئې مفتخر عبدالقادر کړه
خوار شی څوک چه تر روضه ئې طوافه کا

(۱۴)

عشق ڈ کل بلاؤ سر دې خدائې دِ څوک پرِ اخته نه کا
همکی د غم لښکر دې خدائې دِ څوک پرِ اخته نه کا

له وطن سره ورک کا و عالم وته ئې سپک کا
دا همه د ده اثر دې خدائې دِ څوک پرِ اخته نه کا

پائمال مال و منال کا بدې رنګ بد بې احوال کا
خوار کا دې که تونګر[2] دې خدائې دِ څوک پرِ اخته نه کا

نه تر مرى نه تر دغیږی که دار و کا لا بد بږی[3]
تر نا سور ئې رنځ بتر دې خدائې دِ څوک پرِ اخته نه کا

هم تېره دې هم تاریک دې تروښنته نه لا باریک دې
ګویا جسر د سقر دې خدائې دِ څوک پرِ اخته نه کا

په څنو نسخو کښې دا الفاظ په دې شان لیکلی دی ـ سله مستا په حج کا ـ ع۲ خوار کا تاکه دِ تونګر دې.
ع۳ لا خوږ بږی.

Marfat.com

سوزنده لکه آتش دے ، تر آتش لا سرکش دے
په ظاهر که منور دے، خدائے دِ خوک پرِ اَخته نه کا

چه عاشق عبد القادر شو، حال ئے کُل ورته ظاهر شو
دا ویل کا ترِ خبر دے، خدائے دِ خوک پرِ اَخته نه کا

(۱۵)

هر عالِم چه تن پرست شی کامرانی کا — دے به څه رنګ د دین نګهبانی کا
چه له خدایه ویره کا عالِم هغه وی — که د تخت د پاس ناست وی سلطانی کا
موافق چه ئے عمل له عِلم نه وی — تر جاهل به عالِم زیاته پیشیمانی کا
د عالِم فساد، فساد د درست عالَم وی — شیطان کله دومره ډیره ویرانی کا
د هغه عالِم صحبت لکه دارو دی — چه پیدا درکښې خویونه اِنسانی کا
اول علم، بیا عمل، دریم اِخلاص دے — دا درے خویه مرد عالِم ربانی کا
چه بے علمه شیخی کا مریدان نیسی — پیر، مرید، کارونه واړه شیطانی کا
نمونځ روژه به ئے په ځان باندِ تاوان شی — چه په حکم ئے د نفس نفسانی کا
بل ته وایی دنیا پریږده بے وفا ده — دے ئے سعی شپه او ورځ په ودانی کا
نصیحت کا چه غیبت تر زنا سخت دے — په ویل د غیبتونو ځان زانی کا

په عمل د ګیلان سپے ورځنے بنه وی
په خُله ځان عبدالقادر ګیلانی کا

(۱۶)

خدائے به زر پریشان یاران سروځی کا — بد خواهان به سروځی هم به ځائے ځائے کا

Marfat.com

په جهان کښې نوې نوې بازئ کېږي — لا یوه تمامه نه بله برپا ئے کا
د بهار د ګلو ګښت کوے نه شم — څپلے اُبنیي راته زمکه ګل ولائے کا
تل به وار د رقیب جوړ رابانډِ نه وي — څونږ وار به هم پرِ سازشی کئے خدائے کا
دا دُنیا راته ښکاره قمارخانه شوه — هر څو ډېر که وګټي آخر ئے بائے کا[1]
بزرګي په وزر نه ده په ښه خوئ ده — بوم به کله په وزرو ځان همائے کا
زخمي شوی دی هر لورِ عبد القادرٌ
څوک اوه اوه، څوک آه آه، څوک وائے ولئے کا

## ۱۷

چه دُنیا ورته ښکاره شوه بې وفا — وه دُنیا ته به مخ نه کا بې قفا
په اَصحابو به پرېوانه وه بې حدهٔ — په کفا به نه وه زور[2] که ښه وے دا
چه ئے مخ وي د دُنیا و لټولو ته — خپل پردي ور څخه ډېر[3] ومي شا په شا
دُښمني ئے ده بهتره تر یاري ئے — په یارئ کښې یار خراب کاندِ یو[4] چا
دواړه لاس ئے د خپل یار په وینو سره دي — نادانانو ته ښکاريږي په حِنا
کله چا سره یاري کاندِ تر سره — لکه پس بانډِ ته هم شته شیدا
د سلیمانؑ تخت چه په باد ته اَخېر باد شه — په قارون په ژوندون وشوه تماشا
په سکندر اَو په دارا ئے وکړے چارے — په شدّاد او په نمرود ئے وکړے لا
د هغو طمعه دا نه وه چه به خوار شو — په دُنیا کښې هسے مست وو بے پروا
په ژوندونی خوارو زار حیران پرېښان شول — اَمته دار دی د ټکرے[5] صبا بیګا

په څخے قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے نشان لیکلي دی:- [1] هر څو ډېر که ګټي اخلي بیا ئے بائے کا۔
[2] زوز - زوژ - زوبر۔ [3] تل وی۔ [4] خراب کا تر یو حد خراب کا تر یو چا۔ [5] تکو

چه له کبره ئې سم نه ویل وچا ته ‌ ‌ ‌ اُس کړې خبرې اوری له هر چا

چه و ښنتو ئې تاب ورکړې وو سُنبل ته ‌ ‌ ‌ د سُنبلو په دود ځائې ئې شته صحرا

چه په خوا پخوا پراته وُو له مهرویو ‌ ‌ ‌ اُس پراته له لرو خاورو حرا په خوا

حالُ ئې درست عبدالقادر وته ښکاشو

ځکه ښه ندامت کا لـه دُنيا

## ۱۸

نښته په جهان کښې ځوک په دا قد و بالا ‌ ‌ ‌ څه عجب صُورت دے تبارک و تعالا

هیڅ سودا وُنه شوه ځنې تش لاسونه وُلاړم ‌ ‌ ‌ ډیر دے په دا ښهر کښې لایق دخرید کالا

کله به خپل یار وَته بلی و نعَم وُکړے ‌ ‌ ‌ که تل به ئې جواب کوے په سوال کښې لَم یالا

هرچه دا سوال کا چه به کرم په کشُلیو مینه ‌ ‌ ‌ بویه چه یو ځل د ناموس خونه کا تالا

ډیر په شبوه درومے خدائې دِ ژغوره له نظره ‌ ‌ ‌ زیات تر نورو کشُلیو خیال دماغ دے دِ تالا

واړه ښایسته که لکه ګُل دیوه باغ دی ‌ ‌ ‌ لا ځما دلبره په کښې مشان لری والا

دا څه ویل نه دی، چه عبدالقادرئې وایی

پیلی ئې د نظم په تار دی لوُ لوُ و لالا

## ۱۹

ښکلی مخ ئې میاشت خجله کړه نمر هم لا ‌ ‌ ‌ قد ئې سرو کړه سرکوزه عرعر هم لا

سرو لبانو ئې قیمت د لعلو کم کړه ‌ ‌ ‌ سپینو غا ښو ئې بے آب کړه ګوهر هم لا

چه تنها ئې همیشه په سر اخلم ‌ ‌ ‌ د عشق بارِم ګردن خم کړه کمر هم لا

په ځنو قلمی او چاپی نسخو کښې دا تکی داسي هوند ے شی : له حاله د درست. عبدالقادر وته معلوم دے.
حال ئې درست عبدالقادر وته ظاهر شو.

Marfat.com

نه یوائے په صُورت جُدایئ خوارکړم — په دا اور د ننه سوځئ ځیګر هم لا
چه نکهت د یار د زلفو نسیم راوړه — مشک خوشبوئ په ښغه بُوئ شول عنبر هم لا
په نمانځه کښ د یار وُروځے را په یاد شوے — د زړه آه م محراب وُسو منبر هم لا

څو د زړهٔ عبد القادر سره جفا کړه
ستا جفا به وړی په سر په بصر هم لا

## ۲۰

په تُهمت[۱] کښِ که خپل یار موندے ما — د عالم تهمت په سر منلے ما
ډیر به نه وو هجران ګران که ئے له غمه — په وصال کښِ همیشه ژړلے ما
ما به تل لکه بورا په ګل سینه مښه — لمه پکښِ د وفا بُوئ موندے ما
چه بے سوالَ ورکړه کا منت په ځان ږدی — سخاوت دے د ښغو پسند ے ما
حریص ځکه ښیے در په در جار وُځی — چه دَ بے دے له خپله دره تلے ما

اَبدی ژوندون حاصل عبدالقادر کړه
د غمزے په تیغ چه دے وژلے ما

# ب

## ۲۱

حاصل کړه مقصود ونه د دُنیا له دره بابَ — آخر به په اَرمان ور ځنے ځے سینه کبابَ
را خرابه هیڅ اَمیر وزیر ودانه نه کړه — سعیَ د ښغو ودانئ کړه خانه خرابَ

---

[۱] دا غزل په "ح" کښې نشته۔

د ډېرو سترو وُچاودے زاړے په ډېر طلب کښې[1] تنده ماته نه شوه د ېيچا له دے شراب
د سرو ښېښته د سپینو شوو، سپین دِ نه شو د زړه توري نمر په تندی راغے، ته لا وِیښ نه ئے له خواب
کانړی دی، نه زړونه چه نرمی ور ځنې نه وی کیمتی دی، نه ستر گے چه بے نمه وی بے آب
حرام وی که حلال وی، خو دِ بو یه چه اموال وی هيچ و يره دِ نه شی له عذاب له حساب
مَست د دُنیا کله بے اَجَلَ هوشیار ېږی مستی د دُنیا بدْ ده تر بنګ وتر شراب
خاورے خپل وجود کړه، خو لا نه ئے خاورے شوے زده کړه که دِ نه زده دا خصلت له بُوتراب

پروت عبدالقادر دے د غفلت په توره شپه کښې
کله به راخېژے د توفیق کښېلی آفتاب

---

(۲۲)

بیا په مخ وُنیو، دِل رُبا ئے نقاب اِفتح یا مُفَتِّح الاَبواب
گل شگفته شو، په هر لور د بهار الصُّبوح اَلصُّبوح یا اَحباب
راېز ساقی، مئے باقی در جام را، ببانګِ دَف و نے چنګ ورباب
تا چه قدم په خاورو کښېښېنو، فلک قالَ یا لیتَ رَبِّ کُنْتُ تُرا ب
چه جدا شوے مین راشی، بکن سببے، یا مُسَبِّبُ الاَسْباب
اورِم قبول دے، جدائی دِ نه وی هجرِ محبوب، رأسَ کل عذاب
ذل من طمع، عز من قنع حکه قانع شُده اولوالالباب
بے خدا یه و یره، شرک خفی است و هوالقاهرُ، هوالوهّاب
ربَ! عمل رم دے همه دَ بدیَ تُب عَلیَّ فَاِنَّک التّوّاب
ته رحیمی و کریمی و غفور زَه که هر څو نه ځم براهِ صواب

---

پہ څنو قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلی دی:- [1] وُچاده زاړه دَ ډېرو ترږو په طلب کښې.

## عبدالقادر چه دا غزل کړه بیان
## څوک به ئې کاندې په پښتو کښې ځواب

### ۲۳

که خبر شې د رِند اشو له مشربَ
نور به ستړے شې تر څلور واړه مذهبَ

څوک دِ طمع د اَدب له مانه نَه کا
څه غرض د لیونیو له اَدَبَ

دا همه سبب ځما د بد بختۍ دے
چه دا هسې آزرده شې بے سببَ

چه تر څه ویل دِ هونږه ډیر خواره دي
د خوږو به دِ څه خوند وي شکرلبَ

په هجران کښې ناقرار په وصال سوزي
د عاشق دِ څه نصیب کړه ځما ربَ

چه لقب ئې د سړي رایاندِ کښېښو
زیارت گاه شوم د فرښتو دے لقبَ

د نمر وصل موندَه ستا په دلالت شي
لا[1] به کله طلوع کړے ځما کوکبَ

ژړندہ ناله څه حاصل کاندِ چه گرزي
یو زمان قرار ے مه کړه له طلبَ

یو ساعت د آشنا غم عبدالقادر
بهتر دے د تمام عمر له طربَ

### ۲۴

که هرڅو به ورځ په شپه کاندِ طلب
ورته نَه شي تر مطلوبَ بےاَدب

تر بے سبین په قرآن که نظر وُکړے
د اَدب صفت دے کړے په کښې رَب

اَدب څَه دے نیک و بد گنړل لہ خدایه
مستقیم په شریعت په روز و شب

سَبَبُونه حجابُونه شول د وړاندِ
مسبّب نَه شي لیدَه په دا سَبَب

---

[1] په څنو قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دې شان لیکلي دي:- "لا به کله کړے طلوع د بخت کوکبَ"

Marfat.com

چه له شنه وښه نه سرې لمبې پیدا کا ‎ ‎ که له سرو دمبو بهار کا څه عجب

دواړه لب به ئې هغه عاشقان کښل کا ‎ ‎ چه له یاره سرومال نه لري لب

ساقي څه خو طربنا کې اوبه راکړه ‎ ‎ ټوټې ټوټې کړو ځما د زړه طرب

چه اثر د بې خودئ تر پیدا کیږي ‎ ‎ تل برجنه وسه وُنه د عنب

له خوږو م دواړه شونډې صبا نښتي ‎ ‎ چه م وزبښل په خوب کښې د یار لب

زړه پیاله عبدالقادر ! ډېنې ے کړه

د آشنا په یاد ئې نوشه لبا لب

## (۲۵)

د رسته شپه ژړا فریاد ستر کې بې خوب ‎ ‎ دا همه کاروُنه ستا دي مین توب[1]

چه م نو له سترګو نه ځي زړه م چوي ‎ ‎ مه کړه خدائے د زخمي زخم بې زهوب

ډک ځونه تشوم د عشق د میو ‎ ‎ لا تشنه سینه م هیڅ نه ده خروب

و منصور ته د دار سر بورجل د یار ‎ ‎ عاشقان دي نه کا ډار د عشق له چوب

چه د عشق له اوره تښتي عاشق نه دے ‎ ‎ د خپل ځان په شرلوشي د پتنګ سوب

نازپرور دي خبردار له قدره نه دي[2] ‎ ‎ خو هم ما لره راځه د عشق آشوب

چه له دره ځان ساقئ دوانه ځغلي

له هغو عبدالقادر توب توب

## (۲۶)

دا دعا م مستجابه کړے مجیب ‎ ‎ چه وصال م بیا روزي شي له حبیب

---

په څه قلمي او چاپي نسخو کښي دا الفاظ په دے شان لیکلي دي: [1] واړه دا کاروُنه ستا دي مینتوب -
[2] ناز پروره دي خبر له قدره نه دي -

ستا له فکره خالي نه يم، خالي څه شم
اے تر فکر څما ذره وته قريب

د عشق ښار د لېونتوب په زور اخستے شي
په قوت د عقل ورځ نه شي لبيب

لاس په لاس مراد د نورو وته ورکا
چه په ما باندې وار راشي وايي شيبه[1]

هم تر ما پورې سرکوزے، هم يار رد کړې
څځ دې لټو په دواړه کوڼه[2] ښه رقيب

ستا په قدر نا آشنا کله پوهېږي
د حرمت اميد له چا کوے غريب

په قسمت ئے د پتنګ د اور لمبے کړې
ته ورځه په ګلو ګښت[3] کړه عندليب

بے نصيبه به دې هيڅ په لاس کښېنوزي
بيهوده څه له حرص کړې بے نصيب

چه په سترګو ئے پردے د حسد پرېوزي
امتياز د يوسف نه کاندې له ذيب

چه ئے کاندې و هر چا ته بد ښکارېږي
د حوائي کار ونه نه سنائي له شيب

له بد ذات سره ياري عبدالقادره
په معنی کښې دشمني ده له نجيب

# ت

## ۲۷

بل کړه د اخلاص په غوړ چراغ د عبادت
موم د عصيان ويلي کړه په اور د ندامت

سترګے کړه اوښ باران د اوښکو څنګ دوره
ګنډې دې مېوه کاندې نهال د محبت

هسے رنګ د مېوه چه خپل څان له خلق خلاصے کړې
نه ئے چه سبب شي د خلاصي ستا رحلت

غم د نورو اخله، په چا مه بروه خپل غمونه
يا تے به دې نوم شي په جهان د فتوت

---

[1] شي يه يعني ډوبه شي۔ په څنے نسخو کښې دا الفاظ دا سے ليکلي دي۔ [2] دواړه لوري۔
[3] ته ورځه په ګلو ګښت کړه عند ليب۔

Marfat.com

م ئې یو ځل د کمینځ په خاورو پټ کړه — ځاله به زرغون شي د لویځ زراعت
وبن په خپله بخره شه حسد له بېچا مه کړه — هرچا ته رسېږي خپله بخره خپل قسمت
وړ به هرګز نه شي د حرص[1] قحطئ وهلے — هیڅکله به ونړے نه شي موړ د قناعت
اسټ په اورکښې بنه ئې نه د بدو په مجلس کښې — اور د صورت سوځي[2] سوځي دین د بدخصلت
سوځي د حسد په اور وجود د حاسدانو — خه بنې کړځي محسود له دغه اوره فراغت
ستا تدبیر دوزخ دے جنت کار سپارل تقدیر ته — خلاص شه له دوزخ ځان داخل کړه په جنت
اسه ساقي راکړه پیاله[3] له میو ډکه — یار د سینه کنار وخت د بهار دے غنیمت
ستا پیاله چه وڅښنم ویل کړم له خط وخاله — مبنه غزل انشا کړم د دلبرو په صفت
یار م باده خور شو خه رنګ زه ځنے انکار کړم — شرط دے د یارئ ځوبنږ په دین موافقت
ستا په تنه م باغ د سعادت پژمرده کیږي — وکړه د رحمت نسیمه! بیا مراجعت

هرچه له چا اورے غوږ کا نړه کړه تر تیرېږه
مه کوه عبدالقادره چا سره حجت

## (۲۸)

چه بدل په عبادت نه کړے[4] عادت — بیا به نه مومے لذت د عبادت
چه سبب ئې د دوزخ ځما کشتن وي — بیا دِ نه مومم دا هسے شهادت
په نکریزو د ناز پښے د لیلیٰ سرے دي — موسیٰ درومي د مجنون په عیادت
سیادت به د طاؤس نه د هماے وو — که مونده شوے په چوړئ سیادت
د استاد په سعي کله ذکا مومي — چه مفطور وي بغه خوک په بلادت

په تحفه قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ یا مصرعے په دے نشان لیکلي دي: ۱ ...... د حرص د کاختي ورته اوده ...... د حرص قحطئ وژلے ۲ سوزي. سوزي ۳ ...... بیا پیاله له میو پوره - او ...... پیاله د میو پوره
۴ خو چه دل په عبادت نه کړے. عادت ۵ خو چه زړه په عبادت نه کړے عادت

Marfat.com

چه هیڅوک ئے نه پوښتنه، نه ماتم کا
هغه مرګ د ئے هورے دے سعادت

(۲۹)

ما چه فهم وُکړه د دے دوړ په بریست
شکست ئے په درستي کښ دے، درستي ئے په شکست

هیڅوک هوشیار نشته د دُنیا په خرابات کښ
څوک مستي په دے کا، څوک د یار په شونډو مست

مثل ځله پیاله د صافو ورکړه، تریه واوړي
هرچه ئے پیاله د دُرد نصیب وي په الست

پاڅي ستا په ناسته غم اندوه ځما له ځله
ځکي ځکي تل کړه، دا برخاست او دا نشست

څه نسب د مینے چه فرشته به ئے لرسي کا
خاندي و رقیب ته یار هم ځما په قست

هرچه معنوي فقر ئے بیا مونده له حقه
لا به محبت د ذرې په نسبت لري تر هست

لوئ هلک به واړه آخر تا وته جارو وځي
ځان که لکه زمکه کړے عبد القادره پست

(۳۰)

په ازل چه ئے د بدو دي سرنشت
خواه ناخواه به هغه کا کار و نه زشت

په هرچا باندے شوه خپله لار آسانه
څوک په نور د کعبے ځي، څوک د کنشت

په خندا په هوس تله شي و دوزخ ته
په ژړا په غم په نوري د بهشت

سبه وبنا په وخت د لو پاخه دهقان وے
هرکس بد رود آخر هغه چه کشت

زاهدان چه بهشت غواړي و عارف ته
ذوي غښېدلي هلکان دي په در بشت

پریشان پریشته تاثیر کوینه
ځما ستا د زلفو یو دے سرنوشت

د مقصود په نوري څه عبد القادره
که په لار د نقشبند ځے که د چشت

Marfat.com

# ج

## (۳۱)

نن ئې بیا کښېښو په سر باندې دستار کج ... لکه مست هاتي په لار کوي رفتار کج
مخ به چېرې راته هسې کړي په یارۍ کښې ... که همېش به ئې لري راته نکار کج
فلک تا غندې د هر سړي کړه ته ور ستې ئې ... له غروره به تل څو درې په لار کج
دانا ورانې کار و نه جوړ په دانائۍ کا ... په تعجیل سره نادان کاندې هسې کار کج
په راستۍ کښې چه مونده رستګاري شي ... شکه زنهار وچا ته مه وایه ګفتار کج
هر چه هسې حق په روزګار کښې غم ئې نیشته ... همېش خشې موږي تا د له استکار کج
سروه! هېڅ په پستو ونو لوی مه کړه ... ستا به هم کاندې قامت کاندې روزګار کج

که فلک ورسره کج شي غم ئې نیشته
مه کړه خدائې عبدالقادر سره خپل یار کج

# خ

## (۳۲)

چه ئې سپک کړه د دنیا له ځانه چرخ ... هم هغه کاندې ځان خلاص د دیولاخ
چه دیل د عرفان کا اثر ئې نه وي ... ابلیس دے ځنې تښتې په فرسخ

Marfat.com

په خفیه ذکر دې زړه مړې خفه کړه — که شیطان دِ په خاطر کا مشکل بن...
د فراق لمبو د هلیه! رانژدے شه — چه سینه دِ کړم په مبتل د سینے ...
ستا دیدن رمق راپاتو دے پر پایم — څکی څکی یارهٔ ناست وُسه رانځ...

د توبے دریاب ئے تاوته پیدا کړه
سپین کړه ځان عبدالقادر لاَ دغ ۔

# د

## ٣٣

نن دِ تل وینم وزان د سحر باده! — په مقدم دِ شی سینه د غنچن بنا...
چه ئے لاس د دلاسے په تندی کښیږدے — قرارے د بیمار وُشی له فریا...
نه تنها فیض نثار کړے په کلونو — لاخاروُنه امیدوار دی ستا له دا...
په سبنه بوئ د باغ کلونه معطر کړے — په نفس کړے د غنچے غوټے کُشا...
ستا په راغله د باغ وُنے زرریزی کا — سَروه نه د یار له یارَ کړے آزا...
پرورش د بهره مندو بوټو وُکړے — بے بهره بوټی وُکاړے له بُنیا...
چه تر منځ د قاصدانو لارے بندشی — پیغام یار نه د یار راوړے له هیوا...
د یعقوبؑ ته دِ خبر د یوسفؑ راوړه — ناهراد د هم آغوش کړه له مرا...

د وصال په زیری بَسک عبدالقادر کړه
پرے پیسته دے هجران له لاده باده

—٭—

## ۳۴

که د نړۍ د تونګرۍ په سیم و زر دی — د عاشق ده په سپین زړه په چهره زرد
لکه ترږے له سرو اُبو حظ مومی — مشتاق لا مومی لذّت د یار له درد
په سپین مخ دِ وښبته نه دی تور تورکے دی — چه د تلے دے ځما له آهِ سرد
چه د تورے مخ ئې سور کړه په میدان کښې — هم ښغه سُرخروئی یوسی له نبرد
بل ګناه ئې بے مروّتی نه نه ښکاریږی — چه نامرد سړے کینه کاندِ له مرد
که په شاه باندِ په خز په سمور تېر شو — ګدا ئې هم په ګند کښې روغ ووت له برد
په نامرد مُشک و عنبر لونې فلک — اُلوده لریږے دِ مرد چهرهِ له ګرد

خپل نصیب کړه په تا خار عبدالقادر
یار که هر څو حُسن زیات لری تر ورد

## ۳۵

نا آشنا تر آشنا ښه ئې نن اوږ ګاندَ — لا په ښه زړه نه د چا سره مه خاندَ
که ئې لوئې د زړه په وینو لکه ګُل کړِ — هم ښغه به په زړه درکا لښته تاندَ
چه تر سر ئې ځان لوګے کړے قربانیږے — دَجفا په اور دِ سوځی لکه سپاندَ
خپل پردی ته ځانئې د طمع پاتے نه شو — خدائې دِ نه کا څوک په خپله چار درماندَ
د عزت تر څو ته ځان نیږے نه شے — په خوږو پیسے د ګنج غُندِ ګرزاندَ
بے اجلَ به ئې خلاص له درده نه شے — د بد خوئی سیار په چا مه شه هراندَ

د ستم په ښکر دِ غوڅ عبدالقادر کړه
په ظاهر صورت سړے په خوئ پیے داندَ

Marfat.com

(٣٦)

اے په زنې ناشپاتۍ په شونډو قند
په قامت تر سروِ وُنې لا بلند

خوش خرامه، ګل اندامه، عنبر مویې
خود نمایې، خود ستایې، خود پسند

که زاهد دے که عابد، ترِ نه خلاصېږی
خلق دِ کړے په نړو زُلفو بند

منوّر دِ کړه عالم د مخ له نوره
لکه نمر په تمامی عالم څرګند

ستا په تش نظرم رنځ د زړه ورکېږی
یو ځل وُګوره وما ته سترګے ښړند

په هجران به دِ ترګُمَ خوار و زار یم
په وصال م بهره مند کړه بهره مند

هر قدم په فهم بده عبدالقادره
د عشق لار کوهے کوهے ده کند کند

(٣٧)

صباحت د ولایت، نمک له هند
د دے دواړو ئے ساز شوے ځاځند

د کوثر د اُبو آب دِ مخ لړینه
د مشتاقو ځنے نه ما تېږی تند

په دا دوه حرف اَدا مسلمانی ده
هر چه نه پسندے په ځان په چا مه پسند

هر پیوند ئے د دولت قطعیت کاندِ
بادشاهی تر تا قُربان د عزت کند

چه ئے اُس په نوټولو نه مرېږے
هم دا خپل دولت به وُکا په تا شند

د زاهد له صومعو عبدالقادره
وُوزه مراد د خپل خاطر غواړه له رند

د

Marfat.com

## (۳۸)

چې مې ولیده د یار سره اغیار کړه — په فریاد شوم په ژړا شوم په چیغار کړه
آئینه د زړه صفا له خاکسارۍ شي — هم په دا له تورو خاورو شو خاکسار کړه
عندلیب د زړه له تاوه نارې وکړې — چې یې ولیده له ګل سره خار کړه
پریوځ ګل مې په زړه خار غنډ خرخبرې — چې بې تا شم کله کله په ګلزار کړه
ستا په زلفو کښې مې زړه هرګور پریشان شو — مسلمان دې نه کا خدای په هندوبار کړه
نادانۍ نادان همیش لري په عیش کښې — هوښیارۍ د غم په سیند کا هښیار کړه

چې آخر ور ځي تله په ډېر ارمان دی
نه به شي عبد القادر په دا بهار کړه

# ر

## (۳۹)

زړه مې هرګور وو له هجران افګار — شکر حق را که باز آمد یار
سروه سرګوز له انفعال کاندې — چون بخرامد به سوی باغ نګار
څوک به لاله د یار د مخ کا ګڼې — آن سیه دل کجا و آن رخسار
په موافق د محبت شي عتاب — مشو از جور یار خود آزار
متحیر یې په لیدو د جمال — همه خوبان چو صورت دیوار
خو اتصال دې د عاشق شي نصیب — خواه در باغ و خواه بر سر دار
باغ و شاهد ښه ښه یاران موجود — خیز ساقي شراب ناب بیار

Marfat.com

گوره بیا کله را به شي ښخه وخت — که ږنهم لب به لبِ شکّر بار

نور د زړه مراد عبدالقادر پرېږده
ګر بیا بي مرادِ دِل ایې مبار

## (۴۰)

مخ په هر لوري جلوه ګر دے د یار — ابصروا ابصروا اولوالابصار
بے محابا راکړه کښېږده قدم — لیس في الدار غیرنا دیار
په بد صُحبت د بنې زوے شو خراب — اتقوا من مجالس الاشرار
په ورکول د سرَ وصال موندہ شي — ابشروا یا معاشر التجار
طعن او پېغور و ماته مه کړه شیخَ! — انا عاصی و ربنا غفار
که رقیب ؤ وینې له یارَ سره — قل اعوذ برب لیل و نهار
د خَواب څوک دے چه آواز وُکاندِ — لِمن الملک واحد القهار

رَبَ سره یار عبدالقادر ته ورکړه
وَقِنَا رَبَّنا عَذابَ النّار

## (۴۱)

کّه هر څو لعل آبدار لري دلبر — نه شو ښکله پرېږخ د چا ځیګر
د ښخو شهلا نرګسو له فراقَ — همیشه دِم تر نرګسو ځيَ ګوهر
هر یو ګل ئے د بنایست د باغ منظور دے — وے لا ئے په سمن لګی نظر
رانشه وُګورې حُما زیبا صنم ته — کّه به ګورے په یو ځائے هلال قمر
سروِ سر د خجالت په زمکه کښېښنو — چه سرښک کړّه په بُستان د یار عرعر

Marfat.com

د ژوندون چینه یاد بږي په تیاره کښې  ما ته خدا ئے راکړه چینه ترخنګ د نمر
چه سنبل ئے باد پریشان په نسترن کا  په غروب شي د عاشق د بخت اختر
چه غنچه ئے شګفته په تبسّم شي  له ګوهرو ئے جهان شي منوّر
که له ډیره رشکه وُچوي حد ئے خه دے  چه له ملا سره ئے مُو . وهي کمر

که ئے نوش عبدالقادر د شکرے کا
پرِ به شي د مرګ تلخي شهد و شکر

## (۴۲)

مُزینؒ کاندِ یوُ څو په افسر سر  بیا ئے مات کا د دوران غضنفر فر
اورنګ زیب به څه خلاصے ورځنے موي  دا مزرے دارا شکن دے، سکندر دَر
حُکه نوم ئے د ذهب ورباندِ کښیښو  چه د باد غُندِ هر دم کا ګزر زر
نن په څو له توره خاورو سره پروت دے  چه ئے ډک وُه همېشه په دلبر بر
ما چه براۓیه آشنا وُلیدو په خوب کښې  پهٔ ژړا مِ کړه په اُبنیو بستر تر
که په اَصل واره یوُ دي، په داخه شوُ  په قیمت سره سم نه دے ګوهر هر
په معنے کښې بشر نه دے، پرانګ لیوه دے  چه د دهٔ د لاسَ موي بشر شر
هر سړے په خپل مقدار خریداری کا  ځنے اَس، ځنے تتوُ، ځنے خر خر

په شکنځل ئے سرفراز عبدالقادر کړه
د ژوندون له باغ خوږ د سنبر بر

---

په ځنے قلمی اَوچاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلي دي :- لہ "مزین ئے کا یوُ څو په افسر سر"

لہ "برایه م اشنا وُلیده په خوب کښې"

لہ "په ژړا م کړه رالاندِ بستر تر"

Marfat.com

## ۴۳

نه به ستا د ښنایست تل وی ښه دوړ
نه به زړه وی د عاشق مدام په څور

چه دا دواړه بقا نه لری تیریږی
بیهوده ډیره ستم کړې ډیره جور

زړه دِ سخت دے په سختئ تر سخت کانړی
که درست تن دِ مصفّا[1] دے تر بلور

بے جوهره ښنایست نه لری هیڅ قدر
د شاهانو په لاس باز کښېنی نه میور

چه په بد نظر وګورے اُبه شم
څه حاجت دے په ما خوار د ډیرو زور

څځ له یاره جار یستل خندل رقیب ته
واوا[1] واوا عجب یار عجب ئے طور

ښه یار عبدالقادر په بخره[2] بیا موند
چه صورت ئے د سپی خصلت د بور

## ۴۴

یار هغه چه کښے مهر کا کاه قهر
کله کله نوش دارو شی کله زهر

کاه باران شی د ژوندون اُبه کا توئے
کښے اور شی سرے لښے کا تمام ښهر

که دا ښه یار مونده شی په طلب کښې
سستی مه کړه هم ئے پټ غواړه هم جهر

شپه او ورځ آه و فریاد سوز و ګداز کړه
د هجران له لاسه وران د سترګو نهر

وعاشق[3] ته د یار غم هر کور اوزان شی
که مونده شی په تمام هوس د دهر

کوره[5] څو عالم به ورک څو به خراب کا
لور په لور د فتنو سیند دوابه لهر

په خطی قلمی او چاپی نسخو دا الفاظ او مصرعے په دے نشان نیکلی دی:- [1] "دا د ده عجیب یاری ده عجیب طور"، "واه واه واه عجب یاری ده عجب طور"، "وا ـ واه واه عجب یار دے عجب طور"۔ [2] په نصیب بیا موند۔ [3] خوئے د بود۔ [4] په عاشق د یار غم هر کوره ارزان دے۔ [5] کوره څو عالم به ورک څوک به خراب کا۔ [6] کوره کم عالم به ورک کم به خراب کا۔

Marfat.com

د زړه باز به دِ ځاله د فکر ښکار کا — که بېدار وې په ورستې په وړومبي پهر
که هرڅو عاقل هوښيار وې[1] لېونے شي — چه په خوب کېنې ورښکاره شي پرېچهر[2]
په ارمان په حسرت لاړل له جهانه — که پرويز وو، که دارا، که منوچهر
د زوال وېره کوه عبدالقادره!
په لويئ ئے غلط مه شه د سپهر

# ړ

## (٧٥)

راته څه وائے چه "وايه زړه دِ چاېوړ؟ — بے تا څوک دی ما ليدلی وايه "مايوړ"
په ژړا ژړا م زړه له کښليو خلاص وو — په خندا خندا ئے نن را څخه بېايوړ
چه د عشق جمال جلوه وکړه عالم ته — ترمُقِر ئے د مُنکر خاطر پخوا يوړ
دلبری ته په ښکاره درځم زاهده! — بيا به وايے چه ئے زړه ځما په غلا يوړ
شيرين ځان شيرينے ځار ترخيل مين کړ — په دا کار ئے ګوټے له کښليو د دفا يوړ
له اجله ئے هُوښے خلاصے وُ نشته — ځان ادريس له مزکے پاس که[3] سما يوړ
د باد وُرېو څوک پښتنه کا چه څه شُو؟ — بيا په بخت په لاس کښېوزی چه هوا يوړ
چه دُنيا ئے په خپل ځان باندِ تنور کړه — و فلک و ته ئے ځکه مسيحا يوړ
په بوسه م ئے خاطر چېر ښه نه کړه
دا ايمان عبدالقادر به ما په خوا يوړ

په ځفه قلمی اؤ چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دَ نشان ليکلی دی: ۱ ـ خو ۲ ـ در ښکاره ېږی ۔

# ز

## (۴۶)

خو خبر نه دے وګړے له دے راز ... ګُنړه بیل حقیقت نه دے له مجاز
عارفان چه له خودۍ ځان خالی کا ... تسبیح اوری د شپېلۍ له آواز
که په عشق کښې نسب شرط د محبت وے ... د محمُود مِینه به نه وه له اَیاز
اِمتیاز ئې ترمنځ حُسن را پېدا کا ... کَنه فرق د بدخوئ نه شی له ناز
چه ئې وُنغښته لمن له خار و خس ... سروِ وُنه شوه په باغ کښې سرفراز
چه آغاز د چارے ښه انجام ئې ښه شی ... دغه ځکه تل په بیم وی له آغاز
زه په دا وخپل مین ته پېشکش نیاز وړم ... چه کښے د هېڅ څیز نه لری بې نیاز
ستا به ساز بے سوزه هېڅ سرود نه شی ... اے زما دِلَ تمام له سوز و ساز
سیند خونی باد مخالف شپه توره تمه ... ګوره چېرته به شے سر زما جهاز
نوږه تنده رنځ زحمت لوږے خوارۍ ... همګی واړه آسانے دی تر آز

چه خپل یار عبدالقادر ته په نیت ښه وی
لوږ ئې کمه اندېښنه ده له غماز

# س

## (۴۷)

بنه ورد دی و مه خپل هوا کوه هوس ... ترېخه چه دِ پخوا کړه یو په لس

Marfat.com

له ازله غم ځما د زړه نصیب شه — چه خلاصیږم ځنې نه شي یو نفس
کړې تا د خدائے تازه لري په باغ کښې — اور په خړه دا غزیو د ے دخس
ما ژوندون د محبت له اوره بیاموند — څکه سوځم په اختیار لکه ققنس
چه خپل زړه را ځنې ځي ، بیوسے یم نه شم — ستا په زړه به څه رنګ مومم دسترس
ساقي ! زه د صافو میو لایق نه یم — هزار شکر که درد بیا مومي بکس
په سرو شونډو ئے تور خال د ے چه ښکاریږي — که دا نیتي دے په شهدو کښې مکس

که وصال عبدالقادر د یار غواړے
یو قدم په دنیا کښېږده بل په نس

# ش

## (۴۸)

خیال ئے چه په زړه کښې د رخسار ساتم همیش — ننه په ګوګل کښې ګو یا نار ساتم همیش
بحر په کیشتۍ کښې نه ځائیږي ، سیند د اوښیو — خو به زه په سترګو کښې حصار ساتم همیش
ستا چه خوشحالي کیږي ، ځما په خوارید لو — پس له دے به ځان تر خوارو خوار ساتم همیش
عیش منغض شي په ورتله ځما د خلقو — څکه له عالمه ځان کنار ساتم همیش
دهر را باندې خوریږي ، په بل چارم پیرزو نه شي — پټ ننه په زړه کښې ستا ازار ساتم همیش

په څنې قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ او مصرعے په دے نشان لیکلي دي :- ۱ مشه - ۲ هزار شکر که داد وکړے د بکس ۔ ۳ دلته په یوه زړه قلمي نسخه کښې دا یو شعر لیکلے دے ۔ ح ښایسته ځما مرشد ده ئے مریدیم ۔ چه بے عشقه ښکاروي راته عبس ۔ خو دا شعر یو خو د معنو په لحاظ سره درست نه دے ، بل عبس چه په اصل کښې عبث دے بنائي چه دا چا بعد دلته په دے غزل کښې شامل کړے دے ۔ په دے سبب دلته پریښودے شو ۔ (مؤلف)

Marfat.com

خوبں ئے په آوازيم چه فرياد عبدالقادر کا
ځکه ئے دا هسے شان افګار ساتم هميش

# ښ

## ٤٩

دلبر څ راته ښکاري په هر آئين کښې
ګه په نور کښې جلوه ګر شي ګه په سپين کښې
ګه په زلفو کښې ځاے ورکا زړه راکا بړی
ګه په سترګو په رخسار او په جبين کښې
کله کله په ترسا کښې څ څرګند کا
د صنعان په دودے وران کاندې په دين کښې
په چراغ کښې تجلی ورکا پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره شي په نسرين کښې
نور او نارے د جمال جلال اثر دے
قهر مهرے په تريخ او په شيرين کښې
که اثر ئے د لبانو پکښې نه وی
نه به ود هو نبره خواږه په انګبين کښې
يوه خدايه! عشق يوڅه رنګ لوئے شے دے
چه ئے ځاے نه شي په چرخ او په زمين کښې
ګنج هميش په ويرانه کښې ښخاوه شي
امانت ئے ځکه کښېښو په کمين کښې

په هر څه کښې ګوره يار عبدالقادر
که د نشته شک ګمان په خپل يقين کښې

# ط

## ٥٠

Marfat.com

چه صادر شه ستا له لوریه په ماخو خط — له خاطره[1] م اندوه کړه تار په تار خط

معطّر له خوشبویئ اهلِ مجلس شو — چه م وا کړه لفافه د عنبر بار خط

په تحقیق چه نیم دیدن ورلره یوسی — له هواده چه یار وکاندِ په یار خط

سبزه نه ده چه په زمکه زرغونه شوه — دا د خپلو راتلو راستاوه بهار خط

حُسن خط د وېزارئ وَ مخ ته ورکړ — چه ښکاره شه په عذار و د نګار خط

هیڅ زنګی به ئ په هیڅ رومی وُنه کا — لکه کاندِ په سپین مخ باندِ نا تار خط

ستا د شونډو مُهره ښکلی د اخلی دلبره — چه تر پروت[2] دے چاپېره لکه تورمار خط

د بنایست آفتاب ئ پټ[3] شه لیده نه شی — چه ئ پاسېده په مخ لکه غبار خط

د ده کبر ستا اندوه ئ له زړه کم کړه
منت کړه عبدالقادر په تا بار خط

# ظ

## ٥١

بے ما ښوک څما له یاره موری حظ — رانده کله له گلزار موری حظ

فقیرانو ته ښکاره پړی سرے سکروټے — دُنیادار که له دینار موری حظ

دیار مخ دے منور د خدائے له نوره — کافر کله له دیدار موری حظ

طالبان د دُنیا سپی، دُنیا مُرداره — سپی هر کله په[1] مردار موری حظ

نَس مکس ریاضت، اور ور څنے تبنتی — زړه پتنګ، پتنګ له نار موری حظ

قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ دا شان لیکلی دی:- [1] له خاطره ئ اندوه۔ ......[2] چه تر بې پروت چاپېره.... [3] پټ ئ.... شو له۔

په مجنون د ملکانو کانړی ګل دی  ځو ځو لی پوښېږه وار موی حظ
د آزار قدر د نورو څخه نشته  عاشقان د له آزار موی حظ

خاص الخاص عبدالقادر پرې پوهېږي
عام به څه ستا له اشعار موی حظ

## ۵۲

که هر څو نصیحت ښه وايي واعظ  بهتر دا چه ماته نه وايي واعظ
عاشقان په عشق کښې کله نور څه اوري  وکړو ته وعظ څه وايي واعظ
نصیحت د بېوني ته لېونتوب دے  که پاڅه وايي اومه وايي واعظ
په خاطر باندې مې سخت ترکانړي لګي  پند که نرم تر اوبه وايي واعظ
لا ترما په زړه کښې ته باندې مین یې  مذمت د عشق په خوله وايي واعظ
په خلوت کښې په خلاف د وایه کار کړے  هرچه ته په منبر ښه وايي واعظ
ستا ویل د باندې څکه اثر نه کا  چه ته نه کړے هرچه ته وايي واعظ

ترګنه پرې دی لا ترڅه عبدالقادر ته
که هرڅو ورته خوا زړه وايي واعظ

# ع

## ۵۳

---

ځنځ قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلي دي: [۱] بهتر دے چه ... [۲] عاشقانے عشق کله ... [۳] سخت لګانې [۴] په منبرو وائے۔

په کور کښې دولت ډېر لري طامع — تر حساب تر شماره تېر لري طامع
...ل ډېر لرو د بل لرو ډېر ورته ښکارېږي — د بل یاد لري خپل هېر لري طامع
...حرص په زنځیر سپي غوندې ځکاوه شي — زور قوّت که زیات تر شېر لري طامع
...یا کښې نه موند هېڅ لذت له خپله عمره — خوږ ژوندون په ځان کښې هر لري طامع

که ګنجونه د قارون ورته موجود شي
ګمان مه کړه چه زړه سېر لري طامع

# غ

## (۵۷)

په آخر به ځنې درومي سینه داغ — بېهوده باغوان نازېږي په دا باغ
...ه داخل دي د دُنیا په خرابات کښې — په وار وار به واړه څښي د مرګ اَیاغ
...ش سائل د ده نصیب نور به ئې یوشي — په دُنیا دُنیادار د دے کا د ماغ
...بیلو غوندې کشت په ګلو نه کا — په مُردار باندې ناست وي لکه زاغ
...ه طلب کښې بادشاه ګرځي ګدا ئې بیاموند — که آرام که آسائش دے که فراغ
...ه لحد کښې به د شمع رڼا نه وي — مګر یو سے در سره د آه چراغ
...سره سره اُښکې د مجنون دي څڅېدلې — ربړېدلے لاله ګل نه دے په داغ

دَ نښتیَ په لار ے څهٔ عبدالقادرَ
ګنډ بیا موے د یار د در سُراغ

...د غ په ردیف کښې صرف دا یو غزل چه مقطع نه لري اک او ب م ګښې شت خو په ج کښې نشته. لـه د خود دهستې خوریدل

## ۵۵

یو ځل بیا ښغه نګار وُلیدے دریغ　　آهو چشم، ګل رخسار وُلیدے دریغ
چه قرار ور څخه لاړ له ډېره غمه　　بیا ښغه خاطر قرار وُلیدے دریغ
د پسرلي ګلونه وا په باغ و راغ شو　　د بلبلو پر چېغار وُلیدے دریغ
په خندا خندا راغلے مستڼي شلېدلي[۱]　　له مستئ ئې خور دستار وُلیدے دریغ
چه له ډېر کبره سم نه ځي په لارے　　ښغه ترکه کج رفتار وُلیدے دریغ
چه په تله ئې نور ځما له سترګو یووړ　　بینائسته نور الابصار وُلیدے دریغ
د ښاپېرو ئې اند ښېښه له مخه ولاړے　　یار له یار سره کنار وُلیدے دریغ
په تماشق بانډ ئې مهر رنګار رنګ کړے　　تر نظر ئې رقیب خوار وُلیدے دریغ
چه په هجر کښې ئې حلق ځما تریخ کړه　　په دواړو شونډو شکربار وُلیدے دریغ
پاس په زړه بانډ م مېښت دغم ښکرد ے　　دا ښکر م تار په تار وُلیدے دریغ

دا آرزو عبدالقادر لري په زړه کښې
چه تر مرګ پخوا خپل یار وُلیدے دریغ

# ف

## ۵۶

دروغجن، وعده خلاف　　نه دے کا د مردئ لاف
شاهدي لي دے دروغو　　په خپل ځان بانډ خلاف

په ځینو قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلي دي: ۱ پرانېستي. ۲ .... په .....

نهٔ یؤ د رنګ د یار په کوڅهٔ کښې — نه سل کاله اِعتکاف
د کعبې تر طـــوافونو — ښهٔ دَے لا د زړهٔ طواف
زړهٔ په مثل آئینه دے — تن په مثل د غلاف
هاله مخ پکښې لیدهٔ شی — چه ئے مخ لری تل صاف
آسمان څُونه د نقیر ده — تالیٔ زمکه ئې لحاف
قُوت ئے خپل خُونِ جګروی — مِنت نه وړی د اَجلاف
رَګ ئے تار، تن ئے رباب وی — صوت ئے تل د یار اَوصاف
تلِ اِنصاف ورکوی بل ته — له چا نهٔ غواړی اِنصاف
صلحِ کُل وی له عالمَ — له خپل نفس ئے وی مصاف
چه په ښهٔ خصلت شریف وی — هُم هغه ګڼړه اَشراف
په نَسب چه خُوئ ئے بد وی — نَسب کله دَے معاف
یؤ یؤ ناف دے چه نافه شی — نافه کله شی هر ناف
هاله وُښتهٔ حرص. ځه کړه — که مومن ئے په حاقاف
ستا قسمت عبد القادرَ!
نُون، پیوند نه ورله کاف

## ۵۷

چه قانع په یَوهٔ څاڅکی شی صدف — قیمتی ګوهر ئے ځی په هر طرَف
که عزّت غواړے، قانع په خپل قسمت شه — ورکړه کړه که بزرګی غواړے شَرف
بندَول د دُنیا بند د جهنم دے — آزادوُ ځکه کښېښوله په کَف

په نُخه قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلی دی – ښه بستر پیهنګ. ئے دا شعر په صفحهٔ ۲ کښې نشته. ۳ ځه شی

Marfat.com

د دُنیا خلق ﴿م﴾ وُلیدہ پہ سترګو — یَوُ ئے جمع پہ حرص کا ، بل تلف
چہ ژوندون ہمیشہ نشتہ پہ دا خہ شُو — پہ حشمت کہ سلیمان شے یا آصف
د سړی ځربښت پہ علم پہ حکمت شی — د چار پایو ځربښل وی پہ علف
کہ ځوانمرد ئے بل آزار مہ کړہ پہ ګلو — ځان دِ ښو د بدو تیرتہ کړہ ہدف

تل لہ خدایہ ترس کوہ عبدالقادرَ
حق خایف تہ دی ویلی لا تخف!

# ق

## ۵۸

سر و مال ﴿م﴾ شو تالا پہ توره د عشق — لا ﴿م﴾ نہ دے لاړ لہ سرہ شور د عشق
بړائی د عاشقانو پہ پیغور دہ — ما منلے پہ ښدی پیغور د عشق
د ایاز تلی محمود کښیښول پہ سترګو — ننداره کړہ ګورہ زور و ښور د عشق
څو د یار د قامت خیال ئے شتنی نشی — پہ نور ځہ بہ نشی ہسک نسکور د عشق
لہ اول ئے د شمع لړمون وُسو — لہ غہ پسہ پتنګ وُسوا ور د عشق
پہ ګوګل کښِ ﴿م﴾ زړہ نہ دے کہ باور کړِ — د صورت پہ خاورو پټ ئے سکور د عشق
پیادہ پښے اَبَلے تہ د یار پہ لوری — د مجنون غښِ بہ نہ وی سور د عشق

کہ داخل لہ عشقہ خلاص عبدالقادر شی
نوم بہ وا نخلی پہ ژبہ نور د عشق

پہ ځینے قلمی او چاپی نسخو کښِ دا الفاظ پہ دې شان لیکلی دی ﴿۱﴾ بہ صبکہ ۔ ﴿۲﴾ چہ کمی ۔ ﴿۳﴾ اشارہ دیو ... ﴿۴﴾ ہمساد

Marfat.com

## (۵۹)

له[1] صادق مخالف دے منافق — منافق له منافق موافق
لیونے و بیدردانو ته ښکاریږی — د عاشق قدر په چا دے په عاشق
د عذرا عذار ئے عقل څخه یووړ — له مجنون شو عذر عشق وو د وامق
شکر من ئے مین نوم را باندے کیښښ — له هر څو د دے نامے نه یم لائق
فوقیت په پاس ناستی نه حاصلیږی — کله خس په سرغلرو وی فایق
چه به ستا له دره ځم د سر په ویره — زه به چیرے په ځان نوم پردم د آبق

که طالب یئے د وصال عبدالقادر!
مړے ترے کړه له دله علایق

# ک

## (۶۰)

خدایه دې راوله ځما یاره ملوک — بے تا خلاص نه یم یو دم له درده دوک
د زخمی زخم ئے ورځ په ورځ زیاتیږی[2] — ستا شیتی ده شیتی عین د هر انګ نوک
محبت ئے هسے رنګ په یوه رنګ کا — چه هیڅ فرق د مالک نه شی له مملوک
پریوتلے ئے ورځ تحت الثرا ته — تر آسمان ده لا بلنده د زړه څوک
خدایه دې[3] لاس د ښه لیندے دعا په پرمکه — چه شیدا بلبل ئے وویشت په مشوک

[1] دا غزل صرف په "ح" کښې شته اؤ په "ف" "ک" اؤ "ب" [2] کښې نشته. [2] خوږیږی نه ... [3] د پریکه دوا وه کښه لیندے.

Marfat.com

دَ کِشمِشو په لذّت بَه څه پوهېږي  چه ئے خُلهٔ وی عادت شوی لهٔ املوکَ

چه ئے نهٔ وی حال احوال د سالکانو  څه فائده چه قیل و قال کا له سلوکَ

لکه څوک چه په ویشتل د ګلو خوښ شی  هسے خوښ شی مشتاقان د یار له سوکَ

چه بے درد دِ خبردار له دردَ نهٔ شی
پهٔ زور مهٔ کوه عبدالقادره کوکَ

# ک

## ۶۱

تهٔ کهٔ خپله څېره نهٔ لرے بد رنګَ  آئینه په کم ګناه وہے له سنګَ

چه صبا ئے د بنایست بازار خورېږی  شمع وے رُوپوشی کا له پتنګَ

د بلبلو آوازونو د ګل حُسن  مستغنی کړم[۲] نوبهار له راګَ رنګَ

بیا طالع راسره روغه کا پوهېږم  یَوُ زمان چه راسره نهٔ وی بے جنګَ

چه ئے[۳] رشک په سیوره کړم چه ورسره وی  ترو بهٔ څو ګورم اغیار دیار له څنګَ

غنیمت کڼه دادم را څخه مهٔ ځه  ګوره اُس به چرخ څهٔ پېښ کا له درنګَ

لاس کچکول مُصله مزکه درته بس دے  له کچکول مُصله نهٔ لرے ملنګَ

لېونی لېونے وایی لېونی ته  لېونی د دُنیا خُونه نهٔ کړه رنګَ

شپه تاریکه لار باریکه په کمر کېنږ
فهم کړه عبدالقادر له کړنګَ

---

په څخے تنس او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دے نشان لیکلی دی:- [۱] مهٔ کړه زور عبدالقادره هسے کوکَ۔
[۲] کړه د بهار...... [۳] هرچه کړے کړه یو دم..... غنیمت ګڼم دا دم.....

## (٦٢)

چه په سترګو چراغ ووینې پتنګ — خو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ

د وصال په طمع زر تر سره تېر شي — بې جانانه ورته کال بنګارېږي درنګ

غواصان چه غواصي کا په دریاب کښې — یا سر بایلي یا ګوهر راوړي په چنګ

نام ونګ به آواره د یار په درد کا — هر عاشق چه څه حیا لري یا ننګ

بغه یار بې رنګه ډېر لري رنګونه — عاشقانو ته جلوه کا رنګ په رنګ

له یوه غمه لا خلاص نه وي بل راوړي — نن مې زړه کاوه له سترګو سره جنګ

په دنیا کښې اولیاو ځان مخفي کړو — په خشکه کښې کله ځای شي د نهنګ

په ارخولو یې لګ شوي عشق سبق دي — نه چه کښېني بد کاران د چا ترڅنګ

د بزرګانو په مدد که چېرې تېر شې — غاښې سخت لري د وړاندې تهتو لنګ

د یار یاد لکه صیقل زړه پر صفا که — آئینې د د خاطر ونیسوه زنګ

شاه ګدا یې په اجل واړه برابر شي — چه له تنه ځان د تلو وکا آهنګ

چه آخر احوال د دواړو سره یو دي — څه نا ښته په نور و خاورو څه اورنګ

ډېرې تا غونډې ځار کړې ترخپل سر دي — دا دنیا لکه مچوغنه ته یې سنګ

څه یې پاتو شي د ورستو، څه به غم کا — فراغت په وخت د کوچ د رومي منګ

شهسواران عبدالقادره تر تا تېر شول
ته هم اس کړه په تېنګ د یابو تنګ

---

په څځه قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلي دي: ۱ ـــ ... شي پرېږدو درنګ. ۲ ـــ ... صفه د یار ترسر کا. ۳ ـــ څه. ۴ ـــ په رنګ رنګ. ۵ ـــ ډوم. ۶ ـــ په چینه کښې.... ۷ ـــ د نویانو ......

Marfat.com

# ل

## (۶۳)

هیڅ خبر نه وی له حاله له احواله
غم ښادی مومی سړے له خپل خیاله

د محنت په تصور ملال غمجن شی
د راحت په فکرت مست ګرزی خوشحاله

بندیوان په بند بندی په خوب کښی وینی
چه بادشاه د ولایت یم بے زواله

تفرج کوم په باغ او په بستان کښی
هم بالینه م دلبر پری مثاله

بادشاه پاس په تخت اوده وینی په خوب کښی
چه بندی یم په زندان کښی په ځوکاله

وږے تږے خوار خسته په بند کښی پروتیم
کم قوت، بے حجت، بے مجاله

ښغه خوبن په ښغه خوب کښی، دادګیری
د ویښوالی حال ئے هیر بے قیل وقاله

دا غافل عالم همه په خوب اوده دی
په قیامت به شی واقف له خپله حاله

دا دنیا په مثال شپه، آخرت ورځ ده
نیک او بد به جګله بیل شی بے اشکاله

د نسب، د قبیلے پرسش به نه وی
هر سړے به پوښتیده شی له اعماله

چه عمل ئے د نیکئی وی خوښ به وسی
د بدکار[۱] خلاصے به نه وی له نکاله

عارفانو ځکه ښے ورته نشا کړه
چه هوس د دنیا نه دے بے وباله

له ښغ ښادئ چه زر در ځنے[۲] درومی
په ځل زر بخریږی غم سبنه دے ځالاله

د دنیا مینه په زړه کښی لوئے جنجال دے
خلاص کړه خان عبدالقادر له جنجاله

ځنے قلمی او چاپی نسخو کښی دا الفاظ داشان لیکلی دی:- ۱ د بدبخت..... ۲ .... له سړی درومی۔

## ۶۴

په دُنیا کښې کمال نشته بې زواله — د زوال اندوه کوه صاحب کماله

د هجران له غمه ترېخ لکه بلتون وو — ما هرګز لذت بیا نه مونده له وصاله

نمر له تا نه منوّر شه، دا له نمره — څوک به ّ میاشت کا ستا له مخ سره سیاله

ستا په تللو مې ارواه دروُمي له تنه — یوُ زمان راځې مه ځه د یار خیاله

چې په هجر کې هوند نه شوم په وصال کښې — یار ته غوټ نه شم کتې له انفعاله

هغه چا چه ایښې داغ خما په زړه وو — هم هغه ورباندې کښېښوله د سماله

که ګذر خما د یار په کوڅه وکړې — دا پیغام هېر باندې وُوایه شماله

زه که یوُ ساعت بې تا نه یم بېغمه — تا د خدائ همېشه خوښ لري خوشحاله

ډېر مېّن په ډېر ارمان په ډیا بېل شوه — خدائ دې رامه وله بیا د غواص کاله

ترهر حرف ې بوئ د مشکو د عنبر ځي

چې ثنا عبدالقادر کا ستا له خاله

## ۶۵

سحر دا آواز مې غوږ یوسته له بلبله — ستا خندا په ژړا کښې یستله ګله

ترمستۍ ې لا لذت د خمار ډېر دې — ستا د سترګو مستي بده ده تر مُله

بنا یسته د زمانې دُنیا پرست دي — په کوڅه کښې ې پل مه کښېږده بې پُله

په چغلي مې ستا په یار مینه زیاتېږي — خو دې زړه هنبره چغلي کوه چغله

په نسخه قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دې شان لیکلي دي:- ۱ ... بجلاف ... ۲ ... وُبلبله ...
۳ په ژړا کښېښته ګُلّ- ستاخندا مې ژړلي بنایسته ګُل- ۴ بېهه-

Marfat.com

ساقي! مے چه راکوے په قهقهه خانده — زده کړه دا د صراحۍ له قلقل
د ليدونيو په نظر کښې تفاوت دے — اوکه نه وی جز جدا نه دے له کل
په پريشانو اند ېښنو خاطر پريشان شي — جمعيت موجی خاطر له توکل
چه ستا مخ ورته حاضر وی کل ته ګوری — د ښځه سترګے د خدائے نه کا بے ګل
د مجلس روشنائی ته ئے ته د ناست ئے — کم نقصان دے که صبا کړه ډيوه ګل

دا دنيا په مثال پل د آخرت دے
تېرشه زر عبدالقادرؔ له دے پل

## ۶۶

په ګلونو آواز ورو کوه بلبل — پريشانېږی ستاله شور له غلغل
عقل، هوش، عزيز تر هرڅه پرشندل شي — ته يو څه رنګ ډېر ګران ئے د مل مل
خدائے دِ نه کا چېرڅرخ به دِ په پېښوشي — قدم ورو ږده د رابېلو په ګل ګل
د مطرب ته مينا وائی، وايه وايه! — دا معنی ئے پيدا کېږی له قل قل

صدقه ئے هم تر پل عبدالقادر شه
څه قدرت لری چه وايې له دلدل

## ۶۷

دريغ دريغ يو ځل و ليدے يارخپل — چه بنکاره م کړے وده وته اسرارخپل
نشته څوک چه دلاسے کا د غمجنو — څوک به څه وايی وبل يوه ته زارخپل
سرے سرے اُ ښے م له سترګو په لمن ځی — د يار غم! راشه ګوره لاله زارخپل

په نسخه قلمی اؤ چاپی نسخو کښې دا لفظ داسے ليکلے شوے دے :- سرے

چه پر غم غمطوم، درے م محرم دی — یو قلم، دویم کتاب، دریم اشعار خپل
له خزان به څه ویره، څه به ډار کا — چا چه توے کړه تر خزان مخوا بهار خپل
په هر لوری چه م بیایی، بیایی درو مم — ما په لاس د عشق ورکړے دے مهار خپل
که څوک نوم د لباسی بدی په ما بنائی — چه م پرے نبنو په یار پسے روزگار خپل
څو د زړه، همره ستم کوه دلبره! — ما بخښلے دے و تا وته ازار خپل
له غلیمه د نه ویره، نه وسواس کا — هر چه وسپاری و خدائے ته کاروبار خپل
مستعد ئے په لیدو نه ئے غافله — دلبر کله درښئوی له چا دیدار خپل

کل اندوه به پسے شا عبدالقادر کا
محاج که ورته ودری نسکار خپل

## (۶۸)

مبنه شول چه مبنه نشول هرچه بد دی له ازله — بد به ستا و بدو ته بد والی لم یزل
هرچه په نسبت ځما و تا وته ترخه دی — بل وته ښغه ترخه خواږه دی تر عسل
کفر که ایمان دے، و عارف وته یکسان دی — واروه که پو هیږے دا وینا ځما مجمل
ستا فعل هرګز نه دے خالی له حکمتونو — ته ښغه حکیم ئے چه د کار دے بے خلل
واړه موجودات ستا په هستئ باند دلیل دی — هم د په توحید باند ترماشی تر جمل
هرڅه ته چه گوری، ستا جمال به پکښ وینی — تا ئے چه په زړه د معرفت ډیوه کړه بل
هرڅه ته نیژدے ئے په قدرت تر هرڅه خیره — ذات او په صفات کښ له هم خیره نو بیل
تا ته رسیدل د تا په فضل و عنایت دی — کله رسیدل دی څوک تا وته په ځل
کله سیلاب اوړی د خځلو په بندونه — ستا تقدیر دریاب ځما تدبیر لکه ځل
هرچه په آخر له ښغه کار پښیمانیږے — مه کړه ښغه کار عبدالقادره له اوله



Marfat.com

## (۶۹)

چه دا ښسے ځي له باغ په شتاب ګل — په بستر د راحت ځکه نه کا خواب ګل
د نسيم له تېز ګامۍ معلوميږي — چه به بدي قدم د تللو په رکاب ګل
چه زلفين په عذار و خم په خم کا — تر هر خم لاندې واښتي د آفتاب ګل
پس شاته لږ و ډېر د خوبئ لاف وو — رو برو کړه ستا رخسارو لاجواب ګل
چه ښکاره ورته سپين مخ لکه خورشيد کا — ښخه دم ورنه پېشکش کا د مخ آب ګل
نور و پټ د سيني داغ لاله ښکاره کړه — که نه ګرم د دے باغ نه دے د دل کباب ګل
ګندِ[2] عطرئے کا ښکلي په ځان پورې — هم په دا اُميد ځان وسو د ګلاب ګل

د رېتون[3] و پره کوه عبد القادرا!
ورځ په ورځ پژمرده کېږي د شباب ګل

## (۷۰)

تر ښانو لا خوارږه دي ستا ترخه ويل — ډېر د پيرتروعا بهه دي ستا د خطِ ښېرې شکنځل
د واعظ په نصيحت مِ مينه لا په يار زياتيږي — سر لېبے دي نه ډيوه ده چه به مړه بوي په پوکل
ګوره اُس به ئے تر د رنګه د عاشق په وينو سره کا — په داخه شوکئے بيا د خيال سپين مړي واغستل
کله ګل دے د رابېلو چه دا ښسے رنګ ځلېږي — دا ئے وچوے ښکاريږي تر پرېشان پرېشان اوربل
په لمن کښې ئے ګلونه د بهار له سېله راوړه — په تارو نوئے ځما د زړه تارو نه و پيېل
نه يوائے ځما راز او ښو يار رنګ د مخ رسوا کړ — آه زما لا د زړه رازونه و عالم ته ښکاره ول

په زېړي کښې به ئے سر عبد القادر ور ته پېشکش کا
که څوک ښسے زېړه راوړي چه نن يار در ته نوړل

---

په ځينے قلمي اَو چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان ليکلي دي :- ۱ راشي ۲ ګنو
۳ زړتون ۴ زيل ۵ ننه د خيال مړي ..... ۔

Marfat.com

# م

## (۷۱)

هر عاشق چه طمع کاندِ له وفا رِم — تر وفا رِم لا خوښېږی په جفا رِم
په ریښتیا ځما د مخ عاشق ښخه دے — چه د مخ رِم ننداره کا تر قفا رِم
دا د خیال قاصد رِم ډېر ملال راوړومی — ګوره بیا په کُم دیار بند شه اَشنا رِم
ستا زحمت د محبت دے طبیب ووہے — بے دیدن به روغ نه شے په دوا رِم
د ښامار د خلے مهره وُکښل محال دی — ستا په تورو زُلفو بند شوه مدعا رِم
د اشنا د اَشنایئ قدر رِم نه دے — که په اور د بېلتانه سوزم سزا رِم
ستا د کوئ پُښتنه کاندِ نه یے مُومی — ځکه ہسے سرګردان ګرځی صبا رِم

ځاٗ وَصل د ښغو **عبدالقادر**
چه خپل سر شندی د وصل په بهارِ

## (۷۲)

تاچه زُلفے په سپین مخ کړے خم په خم — په خاطر باندِ رِم بیا بړد ے غَم په غَم
عاقبت عاشق معشوق، معشوق عاشق[شي] — ښه چه زه او ته په عشق شو سَم[۱] په سَم
په معنیٰ کښې سخاوت نه دے اِمساک دے — هرچه ورکړه ډېر په ډېر کا کَم په کَم
بلکه حُسن د دلبرے روز افزون دے — ہسے عشق ځما زیاتېږی دَم په دَم

---

[۱] دا مقطع رِم په "ذ" کښې وُموندہ۔ په نورو کښې نشته۔ دا غزل په "ح" کښې د "ے" په ردیف کښې ورکړے شوے دے۔ [۲] یو۔

Marfat.com

که دِ زړه وی چه د زړه غُنچه دِ واشی — وَرَوَه له دواړو سترګو نم په نم
په هرځائے بانډِ چه کښېنم لاله زارشی — چه رٔم ډېر په سترګو دروی دم په دم
ځما دم د یار له دمَ وابسته دے — چا وے داچه تاړه[1] نه شی دم په دم
هم په ویر هم په سرود عبدالقادرَ
کور په کور د عشق نارے دی چم په چم

## ٧٣

عجیب خوبښ په خواب اُوده وُم د عدم — نه رٔم غم وو د ښادیٔ[2] نه د غم
یا وُحوش وے یا طیوُر یا بل اَشیا وے — کښتکه زه نه وے پیدا بنی آدم
یا مِ مرګ په هکوالی وے چه خلاص وے — وُمِ نه لیدے دا هونبره ډېر اَلم
نه اَول شوم نه دویم شوم نه دریم شوم — خلورم بویه د حق فضل و کرم
چه پیدا[3] یے کړه آدم له ماءِ اَوَ طِینَ — روح یے کړه له خپلَ رُوحَ په کښِ دَم
له اَولَ یے مسجود د فرښتو کړه — په تکریم د "کَرّمنا" شو مُکرَّم
و جنت ته یے روان په ډېر اِعزاز کړه — پرِ پرېوان یے کړه اَنواع اَنواع نِعَم
بیا شیطان یے وَسوَسه وَروَسته زړه ته — په ویل یے د حوا[4] وُخوړ غنم
د جنت جامے یے واخوَتے له تنَ — بے لباسَ شُو بربنډ په بخه دَم
له جنتَ یے بهرون په درد اَوُ دُوک کړ — د "عصٰی آدم" ندا مشوه په عالمَ
ده د زړه له سوزَ دا ناره وَیله — هُم یے دا ناره د زخم شوه مرهم
چه نسبت یے کرمَ تا وَته ویرېږم — خو هم ما وُکړه په ځان بانډِ ستم

په څنے چاپی اَوَ قلمی نسخو کښې دا الفاظ داشان لیکلی شویدی :- ١ تازه ٢ خوښیٔ ٣ چه مخلوق یے کړو
٤ د عاصی آدم.

هغه حجت[1] له زور ورسره نه شي
کرم یې ته عبدالقادر یار ناکرم

(۷۴)

داگمان له دِل وباسه هم دم
چې بې تا به ستر کې وچې کرم له نم

په ژړا ژړا مې لوند د سر بالښت شي
چه مې اوښکې موج وهي د زړه له یم

په داحال که مې گذر په چمن وشي
مستغني به کړم گلو نه له شبنم

که په ورځې زیست روزگار کوم له خلق
د رست شپه مې سریکار وي ستاله غم

چې بنکاره په درست وکړي کښې ځان[2] سوزي
را بنکاره شوه د ستي اندیښنه کم

رگ او پلې مې خالي نه دي ستاله درده
د پرهار غنچې خندا کرم له عالم

که کانړے هر ذرې له اوره ډک دے
بې سرتر پایه ډک یم له الم

لیو داغ مې په زړه روغ نه وي بل کښې هرگز
آه فریاد له جدایۍ ځې له ستم

خلاص به نه شې په ژوندون عبدالقادر
اندیښنه ځې شوه ستا له عمر سم

(۷۵)

در پیې مې خېژي دم
له ما مه دروه یو دم

زه مړه ته مې عیسے یې
ژوندې کړه مې ستا په دم

د هجران غمونو خوبن کړم
نر وجود په عدم

چه دارو ځې هرگز نه شي
بد زحمت دے د ندم

[1] له خپله با داره .... ـ

ښه آدم ترفرښتو ښه دے ... تر ډېر بد دے بدآدم
د بېدارو په نصیب شه ... ښه دولت د صبحدم
خاورے شه عبدالقادر
که پر کښېږدی یار قدم

## (٧٦)

څه شو که ظاهر لب خندان لرم ... زړه د جدایئ په اور بریان لرم
تود لوګی د خط اُښکے د سترګو سرے ... دواړه په دا حال باندِ ګواهان لرم
سِیم و زر مِ زړه اَو مخ غنی یم پرِ ... لعل اَؤ دُرَ د یار لب و دندان لرم
زړه مِ د دلبرے د جانان دے ځان ... عزه خو له جهانَ دِل اَؤ ځان لرم
لږ قهر چه وُکړے هم اُبه شم سترِ ... کله زه ناتوان د قهر توان لرم
څو پکښِ پراته دی د یُوسف غندِ ... ډک له کښلیو چاه د زنخدان لرم
هو نبره پرتے نه دی چه ئے وُشمارم ... ستا کِیلے په زړه چندان چندان لرم
کیست کِه این حلقه بدر مے زند؟
خوار خټک یم سر په دا آستان لرم

## (٧٧)

چه منظور د یار صفاجبین لرم ... زړه په دا له ښک و بدَ سپین لرَم
کام ناکام ځما په طبعَ برابر شو ... په ترخه[٢] سره تل کام شیرین لرَم
د حسد له خُویَ هسے رنګَ خلاص یم ... عار راځی چه له شیطانَ کین لرَم

ع[١] زړه - ع[٢] ترخو -

پہ ویل لہ وچولی غم ورم لہ غمجنو ‏ ‏ ‏ کہ ہر څو ننہ خاطر حزین لرم
پہ ظاہر و ظاہربین وتہ مقیم یم ‏ ‏ ‏ پہ باطن براق د تللیو زین لرم
دُر ریزی کوم پہ صفت د یار د لعلو ‏ ‏ ‏ کلام ځکہ ہسے رنګ رنګین لرم
نسترن[1] د باغ ځما پہ سترګو خار دے ‏ ‏ ‏ چہ پہ کور د یار د مخ نسرین لرم
پہ خیال خیال پہ شپوځی پہ سترګو مشہ ‏ ‏ ‏ تل پہ دا دُعا آمین آمین لرم

کہ پہ بخت **عبدالقادر** نازیږم بنایي
کہ د تا غُنډِ نیازمن نازنین لرم

(۷۸)

لہ دے پسَ بہ وَ کُل ہوس تہ ښاکرم ‏ ‏ ‏ خو یک لخته بہ غمونہ د اَشنا کرم
پہ خپل یار پسے بہ زہ شم لیونے ‏ ‏ ‏ د دُنیا ودانہ خُونہ بہ تالا کرم
چہ پہ مرګ سرہ لہ چا نہ جُدا کیږی ‏ ‏ ‏ پہ ژوندون بہ ځ لہ ځانہ نہ جدا کرم
نہ بہ مخ پہ آئینہ بیا برابر کرم ‏ ‏ ‏ نہ بہ تور اوربل پہ بږمنځ سرہ صفا کرم
نہ بہ څنړے پہ فلپل سرہ کرم غوړے ‏ ‏ ‏ نہ بہ لورہ خوشبوئ بہ ځان لګیا کرم
نہ بہ سترګے پہ رانجہ کرم نہ بہ پا خوړم ‏ ‏ ‏ نہ بہ مُہر اَویزان پہ اوربل بیا کرم
شرمندہ بہ پہ ماتم کښنِ بنفشہ کرم ‏ ‏ ‏ پہ ماتم کښنِ بہ نہ ذہ غُنډِ خندا کرم
دواړہ[2] سترګے مِ دِ ډکے شی پہ خاورو ‏ ‏ ‏ د نرګس پہ دود کہ سترګے باغ تہ وا کرم
لاس اَوُ پښے مِ د خپل غم پہ وینو سرہ شہ ‏ ‏ ‏ کہ بہ نور پہ لاس اَوُ پښو پورحِنا کرم
اَو بوئ طوق تمبل مِ خپل کرہ خدائے پہ غارہ ‏ ‏ ‏ کہ سے بہ یارہ پہ غارہ دواړہ بیا کرم

---

[1] نسترین۔ [2] دَ بنا ملی حبیبی دَ قندہار چاپ نو کښنِ ذ دے غزل د و مبینی اوہ شعرونہ اَوُ شپارسم شعر دَ مقطع (یعنی تول تال اتہ شعرونہ) دی۔ پہ نورو قلمی نسخو کښنِ دا غزل پہ اتہ شعرونو دے چہ ځکہ دلتہ ورکړے شو۔

خالِم داغ شه که په وُچولی ئے بیا کیږدم
سَرِم پرپُوزه که به بیا په سرسرکا کړم

کلکون ټمری م لَنبے شه چه پرِ سوزم
که مے واغُندم هوس کړم یاهوا کړم

هتوړے م شه وَبنے که مے په لاس کړم
څوښے م شه کجرے که ئے په پا کړم

کهٔ مِ یار په مرګ بد رنګ کړه لوروخاورو
په ژوندون به ځان بتَر تزخاورو لا کړم

سَتی تیښت وُکه له غمه ځکه سوزی
زه به ځان په غم تر غمه مُبتلا کړم

رائتو وایه دا بیان **عبد القادرَ**
چه د خوښ خاطر دمه په ویل ستا کړم

بیا بیا وایه دا غزل **عبد القادرَ**
د غمجن خاطر دمه څه خو په دا کړم

(۷۹)

په هر څه کښے نندارہ د ښغه مخ کړم
څکه نور عالم عمونه کا زه سخ کړم

له اندوه م لرمون شو هک په وینو
د بلغم په ځائے م وینے ځی چاغ کړم

نس شیطان لیونے سپے راپسے شوے
مګر ستا توفیق رفیق شی چه ئے ځ کړم

خو تا وُده د محبت لرم په زړه کښ
نور له واړو غیرو چارو سوړ سخ کړم

په دا راز **عبد القادرَ** څوک پوهیږی
چه شکنځل درته کوم درباند مخ کړم

(۸۰)

محبّت چه د مجنون په نامه یاد کړم
له غم پسَ ئے د یار په وصل بنا د کړم

خاص بندهٔ خطاب ئے هاله وما راکړه
چه د دوَد کونو له بندهٔ ئے آزاد کړم

---

د څخه قلمی (دّپاپی) نسخو کښی دا الفاظ داسے لیکلی دی:- ۱ له قبنهٔ ئے - له بندهٔ ئے۔

---

Marfat.com

ښنه له بد ګوهر کانړی نه شی ‌ ‌ بیهوده و تیره دلو ته ارشاد کړم
ځے ورکړه په مثقال په خروار اخلی ‌ ‌ زه به څه رنګ خوشحالی په بیسے داد کړم
کنړېر له ونے کله څوک خواږه خوری ‌ ‌ د وفا امید به څه له بد نهاد کړم
ند بختم د دلبرد زلفو په منځ کا ‌ ‌ که فلک ټکړے ټکړے لکه شمشاد کړم
تا خوږه کړے یم هم ته به م دارو کړے ‌ ‌ بے له تا به و نور چا وته فریاد کړم
په سحر سحر راځی د یار له لوریه ‌ ‌ د غمجن[۱] خاطر دمه په بخه باد کړم

خپل مراد م د مراد تر منځ حجاب شو
نور به ترک عبدالقادر خپل مراد کړم

## ۸۱

کله زه له بیګانه عالم زار کړم ‌ ‌ زه هم خپل آشنا له خپل لاسه خوار کړم
د هر چا خبرے وړیم د ده له ځخ ‌ ‌ په عام کښې ئے بے قدره بے وقار کړم
چه په خپل د خپلو وینو سرخ رو کړم ‌ ‌ څه منت به د دونانو د دینار کړم
چه په وازه خوله موندے شی مدے وینم ‌ ‌ که صدف غوندے حاصل در شهوار کړم
که بنا دی د کل جهان واړه څما شی ‌ ‌ زه به واړه د خپل یار له غمه خوار کړم
خار بندی م د بنړوکړه تر چا پېره ‌ ‌ ګنړ خیال د یار په ستر ګو کښې حصار کړم
چه ئے رنګ په لږ ډېر کرم باد نو لېږی ‌ ‌ څه امید به د ژوندون په نوبهار کړم
د پیوند کله به هیڅوک له ما نه کا ‌ ‌ محبت له خپل ځانه هم وېزار کړم

چه ئے تل عبدالقادر په در کښې پروت دے
عاقبت به ئے مینو سره شمار کړم

[۱] قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په داستان لیکلی دی - ج م ذکره ...... [۲] مجروح خاطر......

## ۸۲

په خاطر کښې هونبره درد لرم که آه کړم ‏ ‏ اور به پورې په خرمن د مهروماه کړم
عشق خلعت د غلامۍ د شاهۍ راکړ ‏ ‏ له اوله ئې مریې آخر ئې شاه کړم
د مخ نور ئې لکه نمر د مخ حجاب شو ‏ ‏ کښلې مخ ته ئې نظر په کم نګاه کړم
هیڅ عجب په باد کښیښول د جهان نه دی ‏ ‏ چه نظر په خپل وجود په خپله ساه کړم
هدایت به څما څه رنګ څوک کاندې!
چه په سمه لار کښې خپل دلیل ګمراه کړم

## ۸۳

که تمونه د دے خپل خاطر ښکاره کړم ‏ ‏ لوګے هلک به همه واړه په ناره کړم
داخل هسے هجران نه دی په ما کړی ‏ ‏ چه به نورې آشنایئ دوباره کړم
د حسرت د اور بخړی را ښکاریږی ‏ ‏ چه د شاه د تاج د لعلو ننداره کړم
که پاره پاره څما د زړه په شان دی ‏ ‏ تسلی د زړه په ګل د هزاره کړم
که وصال موسم د یار په بے ننګۍ کښې ‏ ‏ نام و ننګ به همه واړه آواره کړم
لکه غم د بختورو له خاطره ‏ ‏ قسمت هسے له ښادیو کناره کړم
که صبا د یار له کوئ نکهت راوړی ‏ ‏ ګریبان به لکه ګل هسے پاره کړم
ساز ناساز د عالم اوروم غوږ کاڼه کړم
محبت عبدالقادر بے چاره کړم

Marfat.com

(۸۴)

یار مې تله د باغ په لور کاندې پوهېږم
ګل به حسن ځنې پور کاندې پوهېږم

د صبا اثر یې شته دے په قدم کښې
نغښتې ګل به د باغ خور کاندې پوهېږم

چه په دا حسن وجمال له کوره ووځي
ډېر به وران درپسې کور کاندې پوهېږم

چه تورمخي رقیبان ترې شا کرځي
د یار زړه به له ما تور کاندې پوهېږم

شمع څکه درسته شپه ژاړي له غمه
چه صبا به مجلس خور کاندې پوهېږم

چه رقیب ئې ځې ته ګوري زه ئې ګورم
دا ګاټه به ما شوګور کاندې پوهېږم

مشاطه شانه په لاس ورله راغله
د اوربل دور به خور کاندې پوهېږم

هرچه غوږ دی د دنیا په شپرازیو
زمانه به هغه سپور کاندې پوهېږم

کله زړه عبدالقادر په رضا ورکړه
ښایسته په زړونو زور کاندې پوهېږم

(۸۵)

ځې ځه لکه نمرد ے ورته څېر کتلے نه شم
څکه ئې د مدح ترعهده و تلے نه شم

زړه مې ځې غلبېل کړ د هجران په ناوکیو
راز پکښې د یار د محبت سا تلے نه شم

اُس مې په معنیٰ کښې شه مین دستر ګو کسی
کسی به د خلقو په وېل ایستلے نه شم

زه ے د زنخ په چاه کښې بند لکه یوسف کړم
بے ئے د زلفېنو په رسئ ختلے نه شم

بند ئې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم
زړه مې پرواز غواړي و ے الو تلے نه شم

ع۱ اګر مت۲ دا دواړه شعرونه دبنا غلی حبیبی د قندهار چاپ نسخه کښې نشته - ع۲ دا ګتله مې به .....

Marfat.com

## (۸۶)

مهر ځما د خپل صنم، مه شه ځما له غمه کم
مه شه ځما له غمه کم، مهر ځما د خپل صنم

غواړه کړزه عرب عجم، نشته ځما د یار په شان
نشته ځما د یار په شان، غواړه کړزه عرب عجم

واړه په ما د یار ستم، شهد و شکر نبات لګی
شهد و شکر نبات لګی، واړه په ما د یار ستم

*مه بړده بیا په سمن قدم، خرخ دِ په کبنلیو پېښو مه شه
خرخ دِ په کبنلیو پېښو مه شه، مه بړده بیا په سمن قدم

زلفې په مخ کړه خم په خم، کښېنه وماتخ په مخ
کښېنه وماتخ په مخ، زلفې په مخ کړه خم په خم

غم کړزر کا دم په دم، لویه وُلجه دے دا زمان
لویه وُلجه دے دا زمان، غم کړزر کا دم په دم

وکړه په خوار **خټک** کرم شمار ئے په کشتګانو کړه
شمار ئے په کشتګانو کړه، وکړه په خوار **خټک** کرم

## (۸۷)

نه پوهېږم چه دا و یښ یم که خواب وینم
چه دا هسے رنګ کارونه حجاب وینم

پلار و زوی و ته خبرے په نرمئ کا
زوے و پلار و ته په قهر و عتاب وینم

په اُمید د مال و ملک چه ئے میراث شی
د مور پلار له مرګه ځوئے کامیاب وینم

چه مقصود ئے ترمنځ وُځی غلیمان شی
صحبت په خپل مقصود د احباب وینم

واړګوند چارے په دهر کښ لیندے شی
محتسب کړه ښښېښه د شراب وینم

په بښی لاس پیاله د میوے نوشی کا
په کیڼه لاس کښ ئے د فقهے کتاب وینم

که قاضی دے، که مفتی دے، که خطیب دے
د همه و کړه چنګ اوُ رباب وینم

---

په ځنے چاپی اوُ قلمی نسخه کښ دا الفاظ په دا نشان لیکلی دی :- ۱ ځمانه دِ اے غم - ۲ نشان
۳ نشان - ۴ ځما مخ - ۵ مخامخ - * دا شعر په "ح" کښ نیشته -

تَوَلّاً تَبَرّاً طمعِ ځنې لیــو ړه — عالمان د کا فرانو په باب وینم

که په خوا فضل په علم او په تقویٰ وو — اُس یې فضل د دُنیا په اَسباب وینم

د دوزخ په لور که تله په معصیت شي — نن کافر د مسلم تله په شتاب وینم

ښځې خوږې صافې اُبه نه ښبنی پکور کښې — تشنګان روان په لار د شراب وینم

که په خوا حاکم شبان خلق رَمّه وُو — په دا دور کې لیوه یا قصاب وینم

لور په لور کې کړې د ظلم لمبې بلې — په کښې زړونه د مظلومو کباب وینم

هیڅ مې نه زده چه اَنجام به کې په څه شي — په بدیو کښې د خلقو جواب وینم

شُکر شکر چه لا دَر د توبې وا دے — د مشرق په لور ختل د آفتاب وینم

سامعان یې آمَنّا وَ صَدَّقنا کا کړ
ستا ګفتار عبدالقادرؔ صواب وینم

(۸۸)

چه مې شاکره وَ بناديو وته بناد شوم — چه د زړه مُرادِ مې پرېښ په مُراد شوم

اُس څه غم نه کړم له غمَ بې غمَ کړم — راضي[۱] یم چه د اَزل په وېش په داد شوم

چه مې طمع د دُنیا ور ځنې پرېکړه — هغه کس که کیکاوُس زه کیقباد شوم

خان بازید بولي کارونه د یزید کا — د شهانو څکه زه بې اِعتقاد شوم

خدای مې بیا په کښې بندي مه کړه تر مرګ — اِحتیاج عظیم زندان وو تر آزاد شوم

هم سې خان له غم خلاص کړه هم نیک نام شه — دهر میَن په وروستي ضربِ فرهاد شوم

باد یې بوی عبدالقادرؔ سحر راوړه
شګُفته لکه غُنچه په دغه باد شوم

۱ رضامند یې د اَزل ... ..

Marfat.com

## ۸۹

چې له حاله د وګړي خبردار شوم — له همه[۱] وُ په زړه مور زړه وار په وار شوم

ورځ په ورځ م له جهانه زړه سړېږي — په دریاب کښې له دریابه په کنار شوم

چې پخوا عمر به ما پر افتخار کړه — په هغو واړو کارونو شرمسار شوم

ځان م خلاص کړو د دلبرو له نازونو — بس کړه دهر ځې د نازونو خریدار شوم

په[۲] تندۍ ځې لاس څکوم له شفقته — اُس م کښېنلی لکه زوی زړه لکه پلار شوم

معنوي بنایسته غواړم که ځې مومم — صورتي د زړه زحمت وُوتر وېزار شوم

چې بې غمه نشته څوک عبدالقادره
بنه چه زړه په غم د مینې ګرفتار شوم

## ۹۰

زړه د تل ویښ د خوږ خاطر مرهم — بې تا یو زمان خلاص نه یم له الم

په راتله د لکه ګل شګفته کېږم — برابر رایشه آشنا صبا قدم

د عیسیٰ په دم به مړ سړي ژوندي شو — مړ زړه بیا مومي ژوندون د ناله دم

د مهجور نه زندګۍ مرګ بهتر دې — که ستي ستې کېږي نه ده کرم

لکه وار د بنادۍ ځي د غم هم درومي — په محنت کښې زړه هرګز مه شه درهم

د یار غم په معنیٰ غم نه دې بنادي ده — ما د نه کاند خدای خلاص د یار له غمه

د دُنیا دولت په مثل لکه باد دې — کله مخ کا کله شا کاند له همه

---

۱ په زړه بیارته په وار وار شوم - په زړه بیارته په وار شوم

۲ دا شعر صرف د ... جیبي د قندهار چاپ نسخه کښې دې. نورو کښې نشته.

Marfat.com

له خوبنی کړم د اَحمق سړی له مَدحَ　　　　نه مِ زړه مومی اَندوه د ډه له دمَ

په زُلفینو تر حلقو[۱] د عُذار وینم　　　　کله نسرین[۲] دی په زُلفو کښې صنمَ

مه کره خدای عبدالقادر چه په پښتو به

د زړه مینه کا له خپلَ یارَ کمَ

## ٩١

که هر څو د بېلتانه له غمَ دایم　　　　خپل ژوندون مِ د روغتُن کاندِ چه پایم

په قدَ خمَ په تن ضعیف کو بنه بیوے　　　　په مثال لکه اَبرو د دِلرُبا یم

لوئ هلک مِ واړه یو حُبله ښښینه　　　　ستا په مِینه لکه میاشت اَنګُشت نُما یم

د پله خاورے مِ په قدر[۳] تر عنبر دی　　　　هم په دا چه ستا د سپو[۴] خاکِ پایم

چه حریف د خوشحالئ بے وفا دے　　　　له اَندوه سره دایم رفیق په دا یم

د خوبنیَ نامحرم دِ نه رادرومی　　　　نن سپه زه د یار له غمَ خوا پښوا یم

چه بے واخِسته پَرده د ګُل له مخَ　　　　مِنت بار د اِحسانونو د صبا یم

تورِ ستر کے تورِ زُلفے دِ بلا دی　　　　اَخته کړے زه هُم تا په دا بلا یم

هیڅ تَشبِیه تمثیل ئے نشته په جهان کښِ　　　　نه پوهېږم چه یار څه رنګَ وُستا یم

د هوسیَ[۵] د بنکر برات شوے دیار وصلَ　　　　بېهوده دِ وَ دیدن ته تمنّا یم

ستا په حُسن سوګند خورم په خپله مینه

چه تر ځان عبدالقادر مین په تا یم

---

څُځ قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په داشان لیکلی دی:- [۱] تر حلقو دِ مخ بنکار یږی...[۲] کز نسرین دے ستا په زُلفو..... کز نسرین لرے په زُلفو..... [۳] عنبر یې بېعه دروی — عنبر په بېعه څنه [۴] د تلو . [۵] دا شعر د پرتش میوزیم لائبرېری د مایکرو فلمی نسخے نه (د پښتو اکېډمی) اَخِستہ شوے دے۔

Marfat.com

**۹۲**

شُکر شُکر چه نه خان یم نه اَمیر یم — نه بادشاه د ولایت نه یې وزیر یم

نه قاضي یم، نه مفتي، نه مُحتسب یم — چه د بډیو، د رشوت په زَد و گیر یم

نه مشرف[1] نه کروړي یم، نه فوجدار یم — نه عُمّال د چا د ملک، نه د جاگیر یم

نه دعویٰ د ملایۍ، نه د شیخۍ کړم — نه دعویٰ کړم چه صوفي صافي ضمیر یم

نه بنگي، نه شرابي، نه قمارباز یم — نه ټګي کړم، نه رَهزن، نه غلکاسیر یم

تونګری د زړه لرم دُنیا مې نشته — سرمایه زکوٰة مې نه وُزي فقیر یم

قلندر یم په ساده سپین جامه کښې — نه په[2] فکر د دِرَم، د دَنانیر یم

په ظاهر خندا هوس کوم له خلقَ — په باطن کښې گرفتار[3] د ځان په وِیر یم

قناعت، صبر هر ځائې راته گلزار کا — گویا ناست لا په کابل یا په کشمیر یم

یوَ دیدن د ښکلیو کړم بله اَواز اَروم — خدائې مې وُبخښه اِقرار په خپل تقصیر یم

که کړم رابانډ کا جنت مې ځائې دے — که حساب راسره کا اَهلِ سعیر یم

خوشحال مې په دیدن د ښکلیو کیږي — چه یې نه وینم یوَ دَم، پسې زَهیر یم

په اَواز مې یې د زړهٔ پرهار گانډهٔ شي — مین ځکه د رباب په بم اَوَ زیر یم

په هر ځائې چه قدم یېښې ښایسته وي — مینه دار په هغو خاورو تر عبیر یم

خدائې مې روغ عبدالقادر ځنې مه کړه

چه زخمي د خپل مین د عشق په تیر یم

---

په خطي قلمي آو چاپي نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلي دي:- [1] مشرف ..... [2] نه په فکر د درم دینار زیر یم - [3] همیشه [4] مُضطر -

Marfat.com

## (٩٣)

محبت ځما بادشاه زه ئې غلام یم     سرافراز ئې په خدمت په صبح و شام یم

په یوه نظره ئې سل شرف موم     ځکه هسې تر هر چا بلند مقام یم

چه په بوئ ئې له مستئ چرخ خرخیږی     اُمیدوار له تا ساقی د یوه جام یم

یوه ورځ م به په حال ترحم وشی     په اُمید د صافو مَیو دُرد آشام یم

ترک کول د خپل خواهش کمال د عشق دے     رضامن د عاشقئ په کام ناکام یم

اُوم کباب د اور په تاؤ ژړا فریاد کا     چه د عشق له اوره آه کوم لا خام یم

چه شفیع م د ګناه خیرالانام دے     غم م نشته که هر څو شرالانام یم

هر غزل م مبرّا دے له تکلیفه     په ساده پښتو ویل متیرین کلام یم

درو غزن وړته خپل ځان نیو ے نه شی
په رشتیا عبدالقادر تیره صمصام یم

## (٩٤)

چه نیوے ئې د مینې په تاوان یم     ځکه هسې رنګ بهتر تر درست جهان یم

عاقبت به د یوسف غندِ عزیز شم     چه بندی د یار په چاهِ زنخدان یم

د خپل یار سروسامان واړه ځما دی     په[١] داغه شو که بې سرو بې سامان یم

چه پرتو ئې د بڼه غ رابانډ وشو     لکه لعل قیمتی د بدخشان یم

د حریر په کاغذ د سرخئ میم دے     که ئې ځکه ده و تحقیق ته ئې حیران یم

ستا له لاسه ګل داغونه راته بس دی     مستغنی له تماشې د ګلستان یم

---

[١] غم یې کم دے.

Marfat.com

خدائے مِ خپل بانړو د دوو سترګو نشتر کړو — کۀ بے تابه وَبل ځۀ نۀ بسکران
کۀ د نمکے غُنډِ پست په تواضع یم — په همت تر وارو پاس لکه آسمان
د عوامو تر نظر لکه ګدائے ښوم — و خاصانو وَته ښاهِ کُن فکان
نا آشنا د نا آشنا له قدرَ څۀ زده — کۀ و نور خلقو ته سپک وَ یار ته ګران یم
ناپوهی تر هوښیاریٔ راته ښه شوه — نۀ پوهېږم چه هوښیار یم کۀ نادان یم
"یم" ویل[1] په حقیقت کښِ مُشرکی ده — د "یم یم" په قافیه راوړل پښېمان یم

د سخن خوبی همه لرم موجوده
زۀ **عبدالقادر** محتاج د سخندان یم

## ۹۵

چه څوک بد راسرهِ کا ورسرهِ ښۀ یم — هم په دا د ښو د بدو لور لیمۀ یم
له هغو م څۀ اندوه چه په خویٔ اوړی — په خپل خویٔ کښِ نرم[2] و سرد تر اُبۀ یم
چه وَ ماته څما عیب پیشکش راوړی — د دے هسے یار له خدایٔ په غوښتۀ یم
فریښتۀ دِ غم څما د عصیان نه کا — کۀ مُفسد یمَ کۀ ظالم یم بیا د دۀ یم
نور څما دے، نار څما، د نورو څۀ دی — د پتنګ غُنډِ کۀ خیر د ځان په سوۀ یم
په رایرو ئے ځ سپېره نشی چه نفاق کا — آیئنه غُنډِ ځ سپین[3] په زړۀ لور نۀ یم
چېرِ نه چه وَ بل ځ وَته وګوری — په هجران کښِ خوښ د سترګو په واتۀ یم

له نورچا کله ګله **عبدالقادر** کا
زۀ خوار کړے خپلو سترګو یم خپل زړۀ یم

څنے قلمی او چاپی نسخو کښِ دا الفاظ داسې لیکلی دی:۔ [1] "یم" ویل په طریقت کښِ کافری وو [2] سوړ اُو
[3] په زړۀ په خُلۀ یم ۔ او نور په زړۀ یم ۔

Marfat.com

## ۹۶

چه مین په پرې وَشي جانانه یم
ځکه سر لکه مجنون په ویرانه یم

نه خپلوي له چا کوم نه ړا څوک خپل دي
په عالم کښې له عالمه بېگانه یم

ظاهر بین زم په ظاهر صورت غلط شه
په باطن په خاوره پټه خزانه یم

ځائے مِ پاس د بادشاهانو د سر تاج دے[1]
پریوتلي په ډېران کښې دُردانه یم[2]

د دے بزم د مجلس گرمي په ما ده
هم ساقي یم هم شراب هم پېمانه یم

په سینه د خپل مقصود په اور سوزېږم
په مثال د وَزر سوي پروانه یم

خرابات دِ خدائے ودان لري تر ډېره
په وَیل د دّه له فیض رِندانه یم

بې دَناڅے کله آواز خبرې له نیه
واره عشق ے وَیَوي زه بهانه یم

په ژوندون عبدالقادر چه کور وران کا
ډېر په دا خصلت مین د دیوانه یم

## ۹۷

چه تن بیسي په هوس په بې غمي یم
اِقرار شوے د خپل عقل په کمي یم

سریتوب که په سیرت وه له ما لار شه
آدمیت[3] که په صورت دے آدمي یم

که په فضل مِ کار وُسپاري غم نشته
که په عدل مِ سپاري جهنمي یم

د هجران په طبو سوے یم فریاد کړم
ما معذور لرئ عالمه آلمي یم

اُبرمن چه لاس وروړي گټے ئے سوزي
بادشاه شوے زه د فقر په غمي یم

د مضمون په ملک پارسي عربي نشته
کمُ نقصان که عرب نه یم عجمي یم

---

۱ ځائے مِ پاس د بادشاه د سر په تاج دے ۔ ۲ ترانه یم ۳ آدمیت ۔

Marfat.com

کلہ زہ عبدالقادر د شعر لاف کړم
مرثیئے د تللیو وایم ماتمی یم

# ن

(۹۸)

شکر شکر بیا یو ځائے شول حبیبان — رو سیاه شول په دا منځ کښې رقیبان
ساقی دریغ د پیالے نه کا له هیچا نه — تر محروم شول خود په خود بے نصیبان
په منبر باندِ به سرے طبے شی بیلے — که پر راز د عشق بیان کا خطیبان
چه په رګ رګ م ګټے پړدی ګټے سوزی — ځما رنځ به په څه رنګ موهی طبیبان
نن باغبان د باغ ګلونه واړه پټول کړه — د زړه سود به په څه کا عندلیبان
طبیبان د دنیا واړه لیونی دی — لیونیو ته ښکاریږی لبیبان
د ډوندون جهاز به غرق دفنا سیندکا — که په ځان ئے نوح نبی شی کشتیبان
د دنیا په ودانئ عبث مشغول کړی — عمارت په سرائے کښې نه کا غریبان
د سوارئ زیرمه کوه عبدالقادر
په هر لوری د ښه وره کا نقیبان

(۹۹)

پرے رم بوده چه ژاړم مینه آو ورځ لکه باران — ګل غمزه د بڼو کا په وار وار ګښلی یاران

ـــ نه کا نه د پچانه

...ه دی پوهېدلی چه آخر به خاورے کېږی — ځان په ژوندانه کا تورے خاورے خاکساران
...چه په خپل عمر شپه د درد لیدلی نه ده — څه د خندا شی چه زکېروی[1] کا افکاران
...ک ئے رنځېدن دی د دارو زهر مئے مکړه — خوبن په بیماری[2] دی ستا دسترګو بیماران
...فت دے که څه کړے شے بیا به وائے وار به تېر وی — تل به هسے نه وی ستا د عمر[3] با کاران
...ه په خپل ځان بانده پیرزو د سړی بد وی — څوک شو له ازل نیکوکار څوک بدکاران
...چه یار یې نه وی په خپل کور لکه غریب وی — ناست په خپل وطن کښې مسافر[4] وی نېسکاران

هیڅ ملامت نه دے که فریاد عبدالقادر کا
لګیا ئے[5] دی په زړه د یار د زلفو تورماران

## ۱۰۰

...خ عاشق به تر بیا نه مومی امان — عشق پېغور دی سره دواړه توامان
...ه به ستا په نصیحت و یار ته شاکرم — له زړه لرِ کړه ناصح دا ګمان
...ه له بنګلیو له دیدن ماړه نه شو — هرچا وړے دے وګور ته دا ارمان
...ښایسته د مزګے مخ دے په خوبانو — که په ستوریو حسن زیات دے د آسمان
...ئے وے چه صبا راشه خله به درکړم — مددګار شے بخته! بیا مه شے پښېمان
...به وخکوے ملن ځما له لاسو — په قیامت ځما لاسونه ستا داماں
...ردی تېر راتلونی نه دی لا راغلی — عاقلانو نه دنیا شوه د ارمان
...سامان د سرانجام فکر ئے نه وی — نه سامان د بے سامانو دے سامان
...یار درد عبدالقادر د هغو دے — چه هرګز یې فکر نه وی د درمان

...چه فریاد کا .... چه ذکر وکا .... [2] نارو غتیا دی .... [3] د عمر باغ و دان [4] مسافر دی بے یاران
...آرام ئے دی — هراند ئے وی۔

Marfat.com

## ۱۰۱

نمر سپوږمۍ زمکه آسمان — ځائے په ځائے په ځان حیران
اُبه سر وَہی په کانړیو — شپه اَوّ ورځ کانږِ فغان
لړمون سوے د آتش دے — باد ہُم گرځی سرگردان
چه نښان ئے مونده نه شی
څوک به مومی بے نښان

## ۱۰۲

نه پوہیږم چه ئے گل دے یا لاله دے یا سمن — یا ځل شوی په یو ځائے گلِ لاله دی نسترن
دا ئے خُله ده که غُنچه ده که میم کښلے په سرخئ دے — دا ئے سترگے که نرگس دی که ہوسئ دی دختن
دا ئے زُلفے که سُنبل دی که ښامار په چندن زوړند — دا ہلال دے که لینده ده که اَبرو دسیمین تن
دا ئے شونډے دی که لعل که یاقوت دی که مرجان — سیب دے داکه ناشپاتئ ده دبخت ستورے که ذقن
دا وښنته دے که ئے ملا ده که ځما دخاطر فکر — دا ئے قد که صنوبر دے که چنار سروِ چمن
دا شراب دی په پیاله کښې که د ما دخاطر وینے — دا کباب په اور ورتیږی که دزړه مِ شی سوځتن
دا ثنا شی دکوہرو که د مشکو د عنبرو
که ثنا **عبدالقادر** کا دخپل یار نازک بدن

## ۱۰۳

ښایسته چه په خندا کاندِ دندان سپین — لویوی تر سپینے خُلے دُرو مَرجان سپین
تر سپین مخ پورِ ئے تور لکه لونگ شی — که هرڅو رابیل چنبیل دی دبوستان سپین

Marfat.com

د زُلفو په سیاهي جهان تیاره کا — په جبین لکه صبا کا بیا جهان سپین

جمال به ئې د یار سترګې بینا شي — که یعقوب[۱] غند کا کسي په هجران سپین

راحت ئې دو په ځ کښې ستا له مخ — که هر څو په مخ یوسف[۲] وو د کنعان سپین

سفیدي نه شي د زړه په سپینه پیره — په سپین والي د مزیو نه شي ځان نسپین

تور بوزا دے په کل ناست عبدالقادر

که ئې یپنے دے تور کل په زنخدان سپین

# و

## (۱۰۴)

عزت منه شه د دولت په بام ختو — هر زمان ئې ویره کړه له پرېوتو

دېر ئې هسک کړه بیا ئې وویشته په مز — هسکول د چرخ په نیت دي د ویشتو

له اول پر پیدا د محبت کړه — که آسمان ته نیت لرے د الوتو

چه ئې مینه د بنه مخ په زړه کښې نه وي — د هغو مخونه نه دي د کتو

ماشې ځان د ده له سپیو سره مل — یوه ورځ ئې راته ونه وے چه تو

چه بندے نه شوے د یار په جدائي کښې — خوبن یم اس د دوارو سترګو په رتو

تونګري په قناعت شي نه په زرو — سغبدي بویه د زړه نه د ولبنتو

"خان" خوږه کړه تر فارسي عبدالقادر

که پښتو وه ترخه ژبه د ببنتو

۱ په ځینو قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دا شان لیکلي دي۔

۲ دا شعر د بناغلي حبیبي د قندهار چاپ نسخه کښې نشته۔

Marfat.com

## ۱۰۵

دُنیادار په سپېو بولی یا په خرو
ته پرِ وے ہونبرہ مینہ کوے ترو

عاشقان د یار په مخ په سترګو مَست دي
مُستغنی دی د جهان له سپینو سرو

ځکه یار په خوب اُوده دے چه وینښ شی
په پیاله کښ ساقی مے لتویوه وُرو

عام عالم ورته بے بال وپر بنکاریږی
لامکان ته عاشق ځی د عشق په پُرو

توکّل ځکه په خدائے نه په طاعت دے
شیخ تا زده، ستا طاعت زده، ستا اَسْرو

په شامت د دے سرِیو باران پرېږده
شُکر دا چه اور نهٔ ووری له اورو

بے عملَ به د ښنه په چا ونهٔ شی
نه په وُرونړو، په پلارونو، نه په تُرو

چه د خدائے په یاد مشغول، سرے ښهٔ دے[۲]
وَغافلِ خلق حساب دے په خرومرو

نصیحت وایی ہمیش عبدالقادرَ
مردکان، کړ خوک منی، له اَدیرو

## ۱۰۶

ستا لبانو بازار سوړ کړه د نشکرو
هم د غابنو قیمت کم د مرغلرو

نه په زور[۳] په لاس کښیوزی نه په زرو
خدائے دِ نهٔ کا څوک مین په زورورو

مار خوړلی په فریاد پورِ خندا کا
دهٔ لا دَرد لیدلے نهٔ دے د ژورو

تولول، کښېښول د زرو بنځے کاندِ
وَرکول یازل ئے خوی خصلت د نرو

چه ژوندون ئے وابسته په سرو لبو دے
عاشقان دِ په معنیٰ د سمندرو

---

خپے قلمی اَو چاپی نسخو کښې دا الفاظ دا شان لیکلی دی۔ ۱ زامنو ۲ دا مقطع صرف په "ډ" کښې ده۔ په نورو نسخو کښې نیشته۔ ۳ د مارخوړی ۴ بَنبرو (ببرو) - جوړو۔

Marfat.com

ځ یې ګنج دے دواړه زلفے ئے ماروونه     سر بازان به ګنج اخلی له اژدرو

چه له یاره سره واصل تونګر هغه دے

خدایٔ شمار عبدالقادر کا له تونګرو

## ۱۰۷

مه دِ ویئم لباسی په سترګو نورو

زه په تا بانِد مین یم نه په نورو

بنځ حرمت ئے لکه حق دے په ځائے نه کړه     مپلمه شوے دے یوسفٔ په کور د کورو

په ښه خوئ به څه پروا کړم له بد خویو

قیمت کم نه شو د دُر په اُبو شورو

## ۱۰۸

هم له بدو سره شه کړه هم له ښو     د شو بدو له غمونو شه په خښو

خاکساری لرِ کول دی د خودئ     نه چه کبری خاکساری په خاورو مشو

په جهان چه زلزلے د حوادث شته     تر قصرونو جونګړئ ښے دی د وښو

د خیمو مېخونه وکاږه فرّا شَ!     فریادونه درته کا جرس د پښو

مرګ له تندے په مذهب ځما بهتر دے     نه ژوندون د دون همت په اُبو خښو

خرخشے د سر له سره ژوندون را کا     زه قربان شم یاره ستا تر خرخشو

کشمکه زه دِ د اوږدو زلفو یو تارو ے     چه هیڅ رِ یبنے سروے ستا په ښو

ښے رنګ تو یږے رِ مات دے په خاطر کښې     چه عاجز ئے طبیبان شول ل. ونکشو

دخپل زړه په تخته کښه عبدالقادرَ     په کاغذ د عشق ویل نه دی د کښو

Marfat.com

## ۱۰۹

مه شه خوبن د بادشاهئ په تخت ختلو — همیش ئې غم کوه د پریوتلو
هغه لیندے ورته ناست لیندۀ څکولی — چه هاتی ئې سرو تېرځی له ویشتلو
هر دینار پُردے به سکور[1] د تا په ځان شی — داچه اُس ئې خوبنی کړے په اَخستلو
چه پیے اُس کړے په مظلومو زړے زړے — غافل مه شه د دیو[2] ستړکو له وتلو
چه پیشه ئې همیشه دِل آزاری وی — د هغو مخونه نه دی د کتلو
څکه تل کړے په زردوزو جامو کبر — چه غافل ئې د کفن له اَغستلو
د اَجل د سورو، تافت ناګهانی دے — چه هیڅ کور ئې نه خلاصیږی له ننتلو
چه د باز وَزَرِ جوړ وُو بنکارد نه کړه — د کورنیړ نه وی قوت د الوتلو

هغه زړه عبدالقادرؒ چه مُرده وی
په کوکل دننه نه دے د ساتلو

## ۱۱۰

داچمن به تل زیبا نه وی په ګلو — نه به تل بانګ غوغا وی د بلبلو
نه به تل سروه سرسبزه وی په باغ کښ — نه به تل چنار زر وښی په منګلو
نه به تل آبشار دا هسے په فریاد وی — نه به تل د باد تګا وی د سُنبلو
نه به تل نارے سُورے وی د مستانو — نه به تل هسے په جوش وی خُم د مُلو

نه به تل عبدالقادر مُوشګافی کا
نه به تل جهان خوشبو وی په کاکلو

---

[1] د تا د ځان شی [2] د دوو ستړکو له وتلو۔

## ۱۱۱

شه ګوره ننداره د فاسقانو — دَم وهي د خدائے د خاصو عاشقانو
یل کردار ئے شاهدی لی په دروغو — کړ په خُله کاندِ ویل د صادِقانو
په کردار اَهلِ شمال ور ځنے عار کا — په ګفتار کښِ متبقت کا ترسابقانو
عصیان بیمار رمق لری په تن کښِ — اَلغیاث دده رنځُونو حاذِقانو
ګناه په خندا کا ژړا ئے نه وی — دا خصلت دے د همه منافقانو
په دیدن به دِ لا کله مشرف شی — اِشتیاق شو هر ګور ډیر د شایقانو

مرګ ئے سل ځله بهتر له حاضرانو
دے بنده **عبدالقادر** له آبِقانو

## ۱۱۲

تر قُربان شه سل بنادئ د بنادمنو — ربّه مه وره خپل غمونه له غمجنو
ر آشنا چه زړه رایاد کا هُما مرګ دے — زه فراق جګر پارهٔ کړم د مینو
بیدَرْدو ته دُعا کړم که دَرْدمن شی — خدایَ دَرْد را ښکاره مه کړه د دَردمنو
په وار وار به باغ خالی شی له ګلونو — نن بلبلو دا آواز کاوه په وُنو
دان واړه د بدانو صُحبت بد کړل — ډیر چمن دی چمن شوی له چمنو
یر ګردونه وی سواره ځنے ښکاره شی — د خوارئ نظر مه کړه په ګردمنو

وَ معنو ته فهم کړه **عبدالقادر**
چه نظر کړے د جهان په اُوږدو پلنو

---

لـ دا مقطع صرف په " ز " کښِ ده. په نورو کښِ نیشته.

Marfat.com

## ۱۱۳

چا مُوندے دے، نارے وَہی ہُو ہُو — څوک طالب ځنې پُښتنه کا کُوکُو
عرشیان ئې پُرسِش کا له فرشیانو — فرشیان ہم پسے گرځي په سُوسُو
د دُوئ خبرے مَهٔ کوه مطربَ! — په نغمه کښې یُو یُو وایه نه دُوئ
چه راغلے له عدمَ دے جُود ته — آواز یو تر بَله کا چه بهٔ ځُوځُو

د ځوانئ شاہین یا ئې شو رابه نهٔ شي
کهٔ فریاد **عبدالقادر** کاندِ قُوقُو

## ۱۱۴

بارے شکر چه له ہر څهٔ نن فراغ یُو — محتاج له یار ناست، په لاس ایاغ یُو
که مو عمر د چمن تر گلو کم دے — د لاله غُندِ سُرخرُو د زړه په داغ یُو
خزانه د قناعت راته حاصل ده — تر شاهانو لا په کبر په دِماغ یُو
تعلق لکه نسیم ورپورِ نه کړو — نندارے لره راغلی د دے باغ یُو
نن څوښ جونکړئ رڼا د یار په مخ ده — مُستغنی له روښنایئ د چراغ یُو

په ظاهر که مِ خلق گڼه وینی له خلق
په باطن **عبدالقادر** سَر په راغ یُو

Marfat.com

# ه

## ۱۱۵

یوه نظر چه وکړی ساقی ماته ... ښخه دم م صد ساله توبه شی ماته
فراق لمبو م ننه لړمون وسه ... آرزوئی م شی ښکوره ستا و ماته
اشق م مادرزاد خوئ او خصلت دے ... د خصلت م خدائے ورک مه کړه نژماته
وح په مثل د آدم قالب حوا دے ... فرزندان ئے شول څوک پلار ته څوک اماته
په عیسیٰ د تعلق له بار خلاص شه ... د تجرید په پرو ورغے مسما ته
عاقبت به مجاز وار حقیقت شی ... اشارت دے جو فروش گندم نما ته

په کبنږ بند عبدالقادر په دواړو پښو شه
خلاص به نه شی ستا د مینے له حماته

## ۱۱۶

ر وته نه کورم کورم زه وخپل نګارته ... کل ته نظر نه کړم نظر کړم ښخه رخسار ته
له ما مه ځه حی چه ځے ارواح له تن ... وبه مرم که نه مرم که یو دم شے له ما بیار ته
اغ وته م بولی نه م بولی د یار کوځی ته ... کوځی ته به ئے درومم نه به درومم گلزار ته
پر عالم م ولید وم نه لید ستا په خبر یو ... چین ماچین ته لارم خه چه چین ماچین تاتارته
نه چوی له غم زنهار مه وایه مه وایه ... راغے خبر راغے طبیب وخپل بیمار ته
ور به یاری نه کړم کړم آخته په غم یارانو ... ښخ ئے راپر نه شول غم ئے پرېښو وماخوارته
یشه چه رانیشی تلاخان عبدالقادر ته ... هر څو تلاخان که تن ته نه رائی په بیار ته

Marfat.com

## (۱۱۷)

هیڅ له کبر نظر نه کاندِ وَ خوار ته — بنایسته په معنیٰ زر دروهی زردار ته
خوش رُوئ له خوش خوئیٔ سوه زیب کا — وُوایه هیغ دلبرے دِل آزار ته
خط د خپله پرېشانئ پکښې لولم — چه نظر وُکړم د کښلیو وَعذار ته
په اُمید ئے د وصال لکه خلیلؑ څم — په خندا په خوشحالئ په هوس نار ته
ما په خوب کښې میاشت لیده په کړیوانکښ — مخبر وہے یار به دریښی کنار ته
چه په نشت د دُنیا خوش په شته دلګیر وی — د هغه فقیری مېنائی اِعتبار ته
دا څو ورځ غنیمت د ګل دیدن دے — ویے نه راځی بلبل وَ نوبهار ته
چه ئے تلم په خندا خندا دیدن ته — هُس ئے درومم په ژړا ژړا مزار ته

لک اَوْ کروړ که پسے خرڅ عبدالقادر کا
هم تېر عُمر به راند یشی په بیار ته

## (۱۱۸)

څ که واړوی دِلبر څما وَ لور ته — لور به ستا کړم د فانی دُنیا وکور ته
همیشه د جُدائئ په دریاب ډوب یم — د دیدن په طمع سر کړم کله پور ته
د زړه زور د صُورت توان م هسے کم شه — چه فریاد له کمزورئ نه کړم په زور ته
غم خواران به څما څه رنګ غم خواری کا — چه احوال د عشق وایه نه شی غم خور ته
قبرستان به همه واړه لاله زار شی — که د یار د مینے داغ یوسم وګور ته
تورے زُلفے ئے د مخ به تاؤ تاو پرې — وینسته تاؤ شی چه نږدے کاندِ وَ اور ته
حد د چادے چه ئے لاس په رخسار کېږدی — کله کټے خوک ورورے شی وسره اور ته

Marfat.com

چه دایم تر رنجو تورے بے رنجو دی     په حیرت یم ستا د تورو سترګو تور ته

چه منکر ته یار ستا یے عبدالقادرؔ
په معنیٰ د نمر صفت کوے وَ کور ته

## ۱۱۹

د مردانو ښخه شته چه دِ تا نشته     وایه مه چه ځا نشته د چا نشته

سترګه وَر به څه باور پرِ باندِ کاندِ     کهٔ راندهٔ نارے وهی چه رڼا نشته

د صبا په حال غُنچے د نوبهار زده     د خزان وَهلی وایی صبا نشته

د دُنیا زامن په خُوی د څپلے مور دی     بے وفا دی پکښِ بُوئی د وفا نشته

په منکر باندِ لښوه په ما یُوسفؑ دے     په دره کونَ ئے ځُنځَ د لقا نشته

ستا په بُوی چه ښکلی ړانده بینا شول     ستا له بُوی َ بے یعقوبؑ آشنا نشته

وایے خارو خس جارُو کړه، چه زهٔ در شم     خارو خس خو به ښم زهٔ یم بے ما نشته

هرسحر سترګے د ګل په اُبنیو پُور دی     په دا باغ کښِ بے ژړلو خندا نشته

هیڅ اَندُوه د ځاے ځایکی ورځنه نشته     درست جهان د ښو ځاے چه ځاے ئے نشته

که طلب د کیمیا کړے، کُنډِ بیا مو ے
په دا وخت عبدالقادرؔ رشتیا نشته

## ۱۲۰

چه ژوندون د دے جهان جاوران نشته     په هرحال کښِ چه ګُزران شی اَرمان نشته

نرم ئے ځکه د جهان په جهان کښښو     جهنمؔ دے قرار ے یوَ زمان نشته

---

ط دا شعر "ح" کښِ نشته.

Marfat.com

هم هغه له زیانه خلاص، تمامی سود شو … چه په زړه ئے غم د سود او زیان نشته

د هر خان چه نه ډوډئ وی نه ئے توره … بنه خواب ئے دربان وکا چه خان نشته

که حاسد هم په زوال د نعمت ګرزی … خه هم[۱] کیږی، تر هم وړه چندان نشته

په ژړا که تور د سترګو سپین کړم مینائ … د یارانو نخښې وینم یاران نشته

ځان هاله **عبدالقادر** چه جانان وی
په صورت باندِ ځان بار چه جانان نشته

## ۱۲۱

بیا هم نوی مینه ورغله و دِل ته … ګویا سرے ملیے هم پرېوتے ګوګل ته

چه دا ښے رنګ په سرو لمبو کښې وسی … په خپل زړه پورِ حیران یم ستا اوربل ته

سترګے سرے، لا سوند سره جامے ګلګونے … ګوره بیا د روحی د چا و قتلول ته

کم کم بخت سړی پښېمان کړے چه را نغلے … ما وئیل چه زه به درلبشم یورجل ته

چا چه یو ځله لیدلے هغه نځ وی … سترګے وخوره که به وګوری وبل ته

د راتلو زېرے د باد په چمن راوړه … سترګے وخته د ګلو ستا لیدل ته

د اوربو په ژړا لا ګلونه وا نشی … کله ګوری ښایسته د چا ژړل ته

لا خندا ئے درسته کړی نه وی خوشی … خه فائده ده د لاله و غوړېدل ته

چه ونځ و نه ئے ګورم نندارے هم … هرګز نه پرېږدی د سترګو وزمیل ته

مګر ګل[۲] به همېش په باغ کښې وسی … چه په خواره سترګه ګوری وبلبل ته

ړدے تار ئے د زلفینو وَ ما راکړه … چه ئے کښېږدم د کفن و اندرول[۳] ته

---

خه قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ دا شان لیکلی دی:- [۱] شوی کیږی۔ سوی کیږی۔
[۲] مګر ګل به همېش وی په دا باغ کښې۔ [۳] رغول ته۔

## واړه واړه دا غزل [1] عبدالقادر

دواړه غوږونه م دي بنولي ستا ويل ته

### ۱۲۲

خپل [2] مینه لېونی کړم و عالم ته — اُس به څه له چا ګیله کوم قلم ته
چه قلم د جدایۍ ځما واړه ښه — په ژړا م سترګې سرې کړې و شبنم ته
چه د نمر اتلس څه شي په کښته — مخلوقات به ګوري ستا فضل و کرم ته
زه ملنګ په دوهره پروت دوهره م خوښه — د دوهې د لوګي خوندې و ملنګ ته
هر اُمت چه د رسول پېروي نه کا — سر نګون به بیا ور درومي جهنم ته

زه عبدالقادر [3] بې اوره په اور سوزم
لږ د رب د یاره وروایه صنم ته

### ۱۲۳

په ژړا [4] په زارۍ وایم و عالم ته — که م و نه بخښي یو دم د اشنا غم ته
روغ رنځور کله مجلس په یوه ځای کا — ښاد ښادۍ ته ماتمي درومي ماتم ته
غوربدل ے شه سبب د پرېشانۍ — ګل خپل حال وایه سحر صبا شبنم ته
چه خپل دم د عاشقانو نامحرم وي — تر په څو به د زړه حال وایم محرم ته
نوم د نه اخلي د مینې بې وفا دے — چه دیار په تیغ زخمي درومي مرهم ته
چه په خپل اقرار وکاندې چه کرم یم — کرم کله قهر کاندې ښه کرم ته

[1] بیا بیا وایه دا غزل عبدالقادره [2] دا غزل صرف په "ح" کښې نشته په ورو خوښوي نشته
[3] ح :- نه قادر ے به آتش په اور سوزم. [4] دا غزل په "ح" کښې نشته.

Marfat.com

د نسیم په ګلزار مه ورځه نسیمه — چرِ نه وی، بوی یې راوړې ځما شم ته
سروِ قده راښکاره شوه څونړ څونړ زلفې — په حیرت یم دِ سمونو و دے خم ته

د دنیا یاران ښکاران **عبدالقادره**
په ورځ مله دی ځان نیوه نه شی تورتم ته

## ۱۲۴

که خبر م شه له خوبه خاطره ته — شپه اوږه ورځ به په نارو شے لکه زه
څو تاوده ښاندِ تېرشي چه پخېږي — د پخو په حال خبر نه دی اومه
که دِ سوے چرِ زړه د عشق په اوروی — ستا به هاله زړه په سوی ښاندِ سه
شاعران یې له لذّت خبر نه دی — چه نسبت یې کا له شونډو ګبینه
عام عالم له حقیقت خبر نه شه — د تقلید خندا کوی لکه کاڼه
د دنیا په تله راتله پروادار نه یم — غم ښادی م شی د یار په تله راتله
ښه دیدن دے که آواز د روح خوراک دے — ځکه هیڅوک ماړه نه شول په لیده
ښایسته د هیچا نه دی د خپل زړه دی — هغه خوارشی چه وګبنلیو ورکا زړه
خُله[۱] چینه وه د حیات، مخ یې آتش دے — چا وې دا چه یو ځای نه وی اور اوبه
ګوره بیا د کم کم بخت سری په خنده شه — سل شکنځل راته کوی چه غواړم خله

نل تِر خواست **عبدالقادر** کا دیاره
یار هرګز ورته ونه ویل چه سه

## ۱۲۵

خدای مه کړه د هیچا په کور کښې غوټه — زر چه غوټه شی یا کاڼړے شی یا لوټه

[۱] دا شعر په "ح" کښې نشته.

په رنګ دختکي يې په ... شو — چه مزه دِ ختکي نه لرِ پوټه
... اق را پياله له هغو ميو پوره — چه يې څښنو نے شي خراب له يوه ګوټه
... سودا کا بے د کښليو لربنه ځځ — عاقبت به د هغو سودا شي تروټه
... ل د واړو وار په وار راته معلوم شو — مه دِ ويم په خُله شيخ په زړه جوټه
... ت ماتِ زُلفے بيا راغله په مخنه — روغ خلق پهبر هماراا توبه لټوټه
تر هغو ځمیو زار عبدالقادر نشه
چه دُنيا يې کړه د ځان د وراندِ لوټه

## ۱۲۶

چه پيدا دے هر محنت په دا دُنيا څه — په جهان تر بيلتانه نشته بلاڅه
... غه دَم چه دوه مين ځنبله بيلېږي — که باور کړِ هيڅ به سخت نه وي تر داڅه
... زمان تنها له خلق راته ښيښه — به ئے ووايم لرم درته پخواڅه
... ه دا هسے نن خبرے په ناخوال کړے — چا بد[1] خواه درته ويلي دي له ماڅه
... هغ باور ئے په وعده بانِدِ وُمه کړه — بنايسته څه؟ په وعده بانِدِ وفاڅه!
... بيهوده د ګلو پانړے خورے نه دي — په رموز ورته ويلي دي صباڅه
... رقيب[3] خبرے مه کوه وما ته — څه غرض ځما په ده؟ وده په ماڅه
سر درله عبدالقادر تر تا ئے ځار کړه
خدائے دِ نه کا چه به دريغ لري له تاڅه

---

... قلمي او چاپي نسخو کښ دا الفاظ په دا شان ليکلي دي. [1] ګو ښه [2] بدخو
[3] دا شعر د بناغلي حبيبي په قندهار چاپ نسخه کښ نشته.

Marfat.com

## ۱۲۷

لافْ[۱] دِ عشق پہ خُلہ وہل لہ دردٙ شورځہ ۔۔۔ وٙ پتنګ نہ حوارہ ہیڅ نہ دی تراورځہ

بنایستہ بدرنګ پہ عشق کښِ برابرشی ۔۔۔ چہ د ذرہ مینہ پرِ وپرشی سپین وتورځہ

اَہلِ دِل وَتہ د عِلم نوُر پکار دے

د چراغ نہ روشنائی عرض د کور ځہ!

## ۱۲۸

څو د عشق پہ اَور دِ نہ دہ وِیلی وازدہ ۔۔۔ کہ دعوہ د عاشقیِ وُکړے تازہ دہ

نہ بہ څہ رنګ پہ دا ہوښرہ شتاب دروے ۔۔۔ چہ دا لار[۲] د څرہ رو اَوُ د یکتا زدہ دہ

نا امید بیے ہیڅوک نہ دروی لہ درہ ۔۔۔ پہ ہرځائے ئے د کرم دروازہ باز دہ

د طاؤس وَزر طاؤس لرہ بلا شی ۔۔۔ شاروُنیُ پہ قفس کړی خپل اَواز دہ

ہُنرمند د خپل ہُنر پہ لومہ بندشی ۔۔۔ دلبری د باز بلا پہ ځان دَ باز دہ

لوییے وُنے سیلئ پرے باسی لہ ویخ ۔۔۔ عاقبت سرټکو نی د سرافراز دہ

د غمازٙ[۳] وښا وښا واروہ مہ اَروہ! ۔۔۔ چہ وښائے دوست ګداز دشمن نواز دہ

سر ساتنہ پہ مذہب د عاشقانو

لہ اَشنا عبدالقادرؔ لاجواز دہ

---

۱ دا درے شعرونہ صرف د پښتو اکیډیمیٔ پہ قلمی نسخہ کښں وُموندے شول۔ پہ نورو کښِ نشتہ۔

۲ قلمی اَوُ چاپی نسخو کښِ دا الفاظ داسِان بیلی شوی دی:۔ ع۱ وک:۔ چہ دا لار د څرہ رو اَوُ د کرہ تازہ دہ۔ بم:۔ چہ دا لار د څرہ رو د کرہ تازہ دہ۔ ... ح:۔ چہ دا لارہ د څرو د یکہ تلازدہ۔

۳ (ذ) د غمازو وښا واروہ تہ مہ اَروہ۔

Marfat.com

## ۱۲۹

همره جور ظلم مه کوه زارى ده — د همه بدیو سر دِل ازارى ده
چه په بدو نېکى کاندِ مَرد ښخه دے — په نېکى چه نېکى کاندِ خرخارى ده
تا په سترګو خوب حمّا له سترګو یوړ — بیا وَیل کړے چه له څه دِ بېدارى ده
ساقى همره شراب را چه تمام مَست شم — تر نیمګړى مستئ ِبهه هُښیارى ده
یوُ زمان م به له ځانَ یار بیل نۀ کړه — و ے څۀ کړم لاس م نۀ رَسى خوارى ده
قرارے آرام وُکا چه په زړۀ روغ وى — په نصیب د خوږو زړو نا قرارى ده
بره شپه راسره مل وى په هجران کښې — ستا تر خیال پورِ حمّا شرمسارى ده
چه ئے نۀ مومى پرهیز کاندِ له کښنلیو — رامعلومه د زاهد پرهېزګارى ده
په ساتل د خوږو زړونو نۀ پوهېږى — د زړۀ خوړ د نادان کښنلى یارى ده
خدائے دِ روغ عبدالقادر ورځنۀ کا
چه ئے ستاله سترګو شوى بیمارى ده

## ۱۳۰

چه دَ ے هُورے د مَرد پرده پوشى ده — خاموشى ده، خاموشى ده، خاموشى ده
چه صبا به حقیقت ورته معلوم شى — چه نن شپه د تا له چا هم آغوشى ده
په کوشش چه نۀ زیا تېږى دچا بخره — سکه بهترَ وَ سړى ته کم کوشى ده
کله لب په لب د یار کله دجام بږدى — هسے رنګ د نېک بختانو مے نوشى ده
په قیامت به له قیامتَ خبر نۀ شى — چه ئے ستا له سترګو شوى مدهوشى ده
چه ئے یاد په هرساعت به هره ساه یم — له هغو نه و لے ستا فراموشى ده

## ترنا قصه هوشیاری عبدالقادر ته
## په سل زر مرتبې بهتر بې هوشي ده

### ١٣١

دا وینا م د بیمار خاطر شافي ده — یوه زړه لره یوه مینه کافي ده
په ازل کې ځما درد د نورو صاف کړه — له ساقي سره ځما سینه صافي ده
د هر ګل احسان پیې داغ په تتر ایښې — د خوانمرد تتر داغ داغ په تلافي ده
چه له نورو د انصاف طمع لري نه — په مذهب ځما هم دا بې انصافي ده
سخندان به کې په کمه خله بیان کا — ستا د خلې تشبیه راوړه موشکافي ده
ابلهان به کې باور په آشنائي کا — د هرچا چه په وعده کښې خلافي ده
د[1] زربفتو په اودو بڼه پوهېږی — چه پېښه کې همېشه کرباس بافي ده
هیڅ پېغور د عصیان مه کوه وما ته — تر ګناه م د دوست زیاته معافي ده
مرد مې مه ګڼه چه لافې بې کردې کا — مرد کرده بې لافو کا بڼځې لافي ده
د خیل ځان د پاره نیم درم اسراف دې — چه په بل خو نه شنډې بې اسرافي ده

خو هم داغ عبدالقادر ته بیا بیا وایه
یوه زړه وته یوه مینه کافي ده

### ١٣٢

کله خاني کله ملکي کله سلطاني ده — کله کې ګورې بېهوده سرګرداني ده
مرګ ژوندون بې کښلیو واړه مساوي دي — بې ناییسته وته پکار زندګاني ده

[1] په نورو نسخو کښې دي "د زلفینو په اودو" ......

Marfat.com

په نصیب ځما د زړه د یار د زلفو — له ازله بخره شوی پریشانی ده
له مستئ م شیشه پرېوته له لاسه — ساقی قهر راته مه کوه ځوانی ده
د هوشیار په غلطئ قهر عتاب شی — معذرت د ناپوهانو نادانی ده
یا به سوزی د چا خونه یا به خون کا — چه اغستی ئے جامه ارغوانی ده
د عشق بوئ به ئے د کور له خاورو درومی — د هرچا چه د خپل یار مینه جانی ده
خرابات لره به ځم له صومعے نه — چه په کښې د دواړو کونو امانی ده
تر غمی د قناعت لاندِ جهان د ے — که داکتی کړے په کته سلیمانی ده

سرے سرے اوښے دِ په مخ عبدالقادر
وخپل یار ته د یاقوتو مهمانی ده

## ۱۳۳

په لارے تللم په مخه راغله یوه دلبره پری رخساره
د نمر په شانِ لا ترِ روښانه، په کښلی مخ وه ښغه نګاره
په قامت سروه، په تلو تزروه، ابرو کمانه، غشی مژګانه
په سنږکو بازه، خونریزه ته سازه، په ولښتو لیله، په مخ نهاره
غاړه بلنده، خاطر پسنده، عنبرین موښه یاسمین بویه
په شونډو لعله، په زړه الماسه، په سپینو غاښو درّ شهواره
په زنی سیبه، بے له آسیبه، په ملا ترخیله، ولښتو نرئ
شیرین کلامه، نازک اندامه، ول ول ئے زلفے لاله عذاره
بے میو مسته، ګله نیست و بسته، ډکه له نازه، خالی له نیازه
سر تر قدمه ثابته روغه، له هر عیبه پاکه، وېزاره

Marfat.com

مخ ئې ځرګند وو، نظر پرې بند وو، د مخ شعلې ئې د مخ حجاب وې

په خيال خيال تلله نظرئې نه کړه هرګز وچانه له کبره عاره

له ما غايبه لکه برېښنا شوه، په مزګ لاړه که په سما شوه

هيڅ نه پوهېږم چه چرته دا شوه، راته ووايه، يه خبرداره

[1] اُس څه چاره کړم چه ئې بيا مومم، ځما د ياره روشن ضميره

چه چېرته درومم، چېرته ئې غواړم، هدايت وکړه د خدائے د پاره

هوش مې ئې يووړ غم ئې راپرې يښو، داغ ئې بيا نوې راباندې کښېښو

مقصود مې دا وو عبدالقادر اُس په کړځه سينه افګاره

## ۱۳۴

[2] زړه مې په مينه ځما داغلے دے نګاره

بېښتنه نه کړې چرې چه څه رنګ يې بيماره

د زلفو مينه د ستا، د ېېنو زنځير شوه ځما

تغافل مه کړه له ما، خبر مې اخله يياره

ګُل شګفته شه شنان شان، نه ساقي شته نه جانان

افسوس افسوس دے ارمان چه څه رنګ ګے بهاره

ځما زيبا دلبرے په مخ تابان تر نمرے

په کښلي قد عرعرے، په درست جهان او ختاره

ځما زيبا صنمه، روزګار مې شه له غمه

اُښې مې ځي له زړه مه، سينه مې شوه افګاره

اے ځما جان و دله، مه کړه جفا تر تله

کړه په ما کله کله مهر د خدائے د پاره

راکړه د مينے شراب، چه جان و دل کړم کباب

بل په نغمه د رباب، له سوخته وکړم ناره

چه ئې زخمي وي سينه، پرې به پوهېږي هغه

عبدالقادر چه په شپه له درده کا چيغاره

[1] دا شعر په "ح" کښې نشته.

[2] دا غزل په "ح" کښې نشته.

Marfat.com

## ۱۳۵

اے چہ د ښایست په باغ کښې گل لرې بېشماره
ہیڅ به دِ کم نه شی که یو گل ور کړې ماره

شو بنوے دِ مهره زلفه ښښماره ترِ جارو تلی
بویه سر بازان چه مهره اخلی له ښښماره

ستا ځما تر میان ځما ستا ویښا نه بویه
نه شی په یارئ کښې هماړا او تماره

سخت دے د نیمګړیو طبیبانو ناز تر مرګ
مرګ ته غاړه کښېږده خو دارو مه کړه بیماره

پاس په بام ولاړه دغمزے ناوک په ګوت کښې
زړه به دِ زخمی کا په دا لارے مه ځه یاره

## ۱۳۶

بیل[۱] له یاره نه یم بیل یې غم دے راسره
خدائے دے جدا نه کړه ښه محرم دے راسره

لار د محبت لوړه ژوره شپه تاریکه
ترس د پرېوتو په هر قدم دے راسره

تل مِ سایبان لکه اوریځ د آه لوګے دے
په نمر د جدایئ دا علم دے راسره

## ۱۳۷

نن په رازوائی رازدار له ما سره
بویه دا چه غیر نه وی را سره

په بُستان[۲] کښې غوټئ ځکه بېسے وا شوه
چه پرِ راغے د تا بوئ صبا سره

بادشاها نو سره غم د درست جهان دے
د یوے روټئ غم [illegible] ګډا سره

لږ اوره کاږه د نمر روښنائ کم
ښه دِ نه شی یو زمان له چا سره

---

۱ د ډیګرئ غزل دا دے شعرونه پنځه "لبن نشته"۔ ۲ په بستان کښې غنچې ځکه شګفته شوے۔ ۲ روزی

صرافان بہ یے ځما پہ مخ راوڵی  دا ځما عمل روپئ دی راسرہ
بیناییستہ کلہ لہ چا سرہ وفا کا
چہ بہ کا عبدالقادرؔ تا سرہ

(۱۳۸)

کہ ترخہ دی ہم شراب د قہر نغرہ
ظلم جور پہ چا مہ کرہ ځگروہ!
باز چہ وینے د ځگر خوری مرگ سے زروی
لہ دے وینو ځان ساتہ ځما ځگرہ
ہیڅ حاجت د بند زندان ورلرہ نشتہ
بند زندان دے د دانا د ځلے خبرہ
د دوران د حادثو غشی بہ نہ خوری
ہر حلیم چہ واغندی د حلم زغرہ
چہ د زرہ ترکر پہ بوزی ربز مربز شی
خنہائے د پرہے نہ باسی څوک لہ دے کرہ
کہ سہری پہ اصل یو دی فرق ئے ډیر دے
یو پہ یو دی یو پہ سلہ یو پہ زرہ
مرغلرے سل اخستے پہ دینار شی
ہم پہ سل دینار اخستے شی مرغلرہ[1]
کہ بادشاہ کہ امرا ځان بہ سیال کړے
چہ امید نہ کړے لہ چا عبدالقادرؔ

(۱۳۹)

بربہر راپیشہ ځما د سترگو نورہ
خدائے م مہ کرہ د زرہ مینہ لرتا نورہ
ځما ستا لہ مینے دہر عالم خبر شہ
خہ بہ ویرہ کرم لہ شرم لہ پیغورہ
عاشقان لہ تہمتونو نہ خلاصیږی
ہمیشہ بانګ غوغا وی لور د نورہ
مسپی کہ ہر څو عمځا ډیرہ کا مزری تہ
مزرے ہیڅ نہ کا پروا د دوی لہ شورہ

---

[1] ہم پہ سل دینار مومی مرغلرہ۔

نجن ویل دِ نہ کیږی وَ ماته
کله کله راته کړه خبره سپوره
په رقیب وَته ښکنځل کوے زه سوزم
جکی جکی بے له ما نه بل مه زوره
زور قوت د زورَورو د زړه زوم کړے
یوه خنه بده بلا یے د عشق زوره
مستغنی دِ د جهان له بادشاهی کړم
د همائے ترسیوری بهه ده ستا سیوه

څو دِ نورے سترگے نورے خاورے نه دی
تل پرِ غم عبدالقادر د یار کوره

## ۱۴۰

زړه مدام راته ویل کاندِ چه ژاړه
په ژړا ژړا بیل شوی مین عواړه
په طلب ے د دُنیا ودانی پربږده
لېونیو غندِ سرَشه په ویجاړه
مصطفے د بے ننگئ ورپسے ننگ کړه
د ناموس بیچاونړه تاؤ کړه وُیے نغاړه
یار څما د سترگو نور بر گرزېدمُ
په بېجران مِ ے د سترگو رنړا لاړه
مبنایست کړ د کشمیر که د بل ملک دی
تریوه بانړه قربان شه دیار واړه
د مکے زنځیرِ دِ نور نیسی په لاس کینی
ما نیولی دی د یار زلفینے دواړه
په خواری ئ مونده شی کام له سنگدلانو
په محنت سره سره زر خبری له کاره
که رضا دِ ده څما په سرلو یئ
په خندا خندا راځه په نکه غاړه

تل د یار په سترگو مست عبدالقادر دے
که نور مست وی له شراب یا له تاره

---

خفه قاسمي اؤ چاپي نسخو کښې دا الفاظ په داسې ليکلي دي. ۱ گرځه په اُوجاړه

۲ د ناموس پروا یے مه کړه ؤ یے نغاړه

Marfat.com

## ۱۴۱

چاچه بایلود دِ دلبرے په وربل زړه ... پرېشان ئے کړه په بخره تل دخپل زړه

کڅ یو خل د یار د زلفو په تار بند شی ... خلاص ئے مکړه، خدای پند م لره تل زړه

په جفا به دِ زړه بد نشی که ئے وکړم ... تر خپل زړه پورې ته قیاس وکړه د بل زړه

په[1] ښرلو بوراته دروهی له ګلو ... ستا له مخ به ولاړ نه شی په شړل زړه

چه صورت د ښنو یارانو پرې لیده شی ... په وجود کښې ځکه غوړه کړه کتل زړه

کڅ دولت دے کڅ حشمت پکار ئے نه وی ... په جهان کښې خو ئے کښېلی وپسندل لره

لکه باد د صبا نغښتی غنچې وا کا ... غوړېده شی د دلبرو په لیدل زړه

ورنه تېر عبدالقادر تر سرومال دے

کڅ خوښېږی د دلبرو په کتل زړه

## ۱۴۲

چه آخر ځنے ښلوه شی په ارمان زړه ... څوک به څه لره تړی په دا جهان زړه

د دے باغ له ګلو بوی د وفا نه ځی ... تر ناحقه پرې بایلی دا بلبلان زړه

چه په خیال د یار د زلفو پرېشان دے ... جمع مه شه تل م وسه پرېشان زړه

سخت بے رحم بے پروا لکه چه ستا دے ... په جهان کښې به بل نه وی په پښتانه زړه

دِ هر ځائے چه ئے دلبره هم هورے وی ... په کوکل کښې ستا کله بېل لا ان زړه

خدای څه دِ په نادان کښلی مین کړم ... چه بے جرم بد وی په هر زمان زړه

قرب او بعد، وصل هجر ورته یو شی ... چه بیا موندهٔ مکان په لامکان زړه

[1] په ښرلو مکسته دروهی له قنده - ستا له ښوندو به لاړ نه شی په ښړل زړه -

د دوزخ آتش م سل ځل قبول دے　　　خدائے م مه کړه د هجران په اوربریان زړه

هنګ شراب سرود کړه عبدالقادر
خو ته مه کړه آزرده د مسلمان زړه

## ١٤٣

نه وروره اُس خپل ځان لره خپل کار کړه　　　چه د زړه باندې به نه کېږې ښه یار کړه
موږ ماړه شو، ستا له ناز ستا له خیال　　　نه دے پس بل پیدا د ناز خریدار کړه
په باطن لکه اغزے په صورت ګل دے　　　دا سزا ځما چه مینه م په خار کړه
چه خبر دې په وار وار شوم له احوال　　　منفعله د لولئ د بازار کړه
په وعدو په سوګند هیڅ پروادار نه ئے[1]　　　په دروغ دروغ ویلو افتخار کړه
عاقبت به ئے پیالے د ندامت څښنی　　　آشنائی چه له نادان سړی هوشیار کړه
بے اختیار زړه د کبلیو په لور دروی　　　ما به مینه په تا کله اختیار کړه
که وفا غواړے یاری کړه له اصیل　　　زړه چه مینه په بدذات کوی ځان خوار کړه
که په طمع آشنائی کا یا له ویرے　　　د ښو له آشنایئ ځان وېزار کړه

که په ځ وی لکه ګل چه بے وفا وی
ښه یار عبدالقادر ترسی خوار کړه

## ١٤٤

چه ئے زړه ځما سورے د عشق په تیر کړه　　　تر ښه سوری م مخ د آشنا څیر کړه
ستا د مخ آفتاب پروخوت پر رڼا شوه　　　چه ئے ستا په تورو زلفو کښې شبګیر کړه

[1] هیڅ په زمنه په سوګند پروادار نه دے۔

له هوسَ په خندا خندا په ښا ولاړ — سخندانو چه ګُل ستا د مخ نظیر کړه
چه م زړه د یار په وصل کښ خوشحال وو — یَوُ په سلَ تر هغه هجران زهیر کړه
له د یې اوره سوزان اور د بیلتانه د ے — ځګه ځان بند و ے سولو وَته خیر کړه
په سپین مخ بانډ ئے خط د ے چه ښکاریږی[1] — که ئے شونډو ته مبږیو جوړ بهیر کړه
نامراد[2] چه مُراد پریږ‌ېږه په مُراد شته — بے خبر ئے بے خبریٔ په حال خبیر کړه
بے محنت[3] راحت نشته په دُنیا کښِ — خوشحالی نصیب د چا چه ئے دلګیر کړه

له هجرانَ به خه دار عبدالقادر کا
چه ئے خیال د یار د مخ په زړه تصویر کړه

## ۱۴۵

جګی جګی آواره څما تقصیر کړه — عنایت مهر په ما په روئ د پیر کړه
هر ستم څما قبول ، مشړل دِ نه وی — ما داخل د خپلو سپیو په زنځیر کړه
ګرد غُبار د ماڼے نِر کړه له دِلَ — لکه وو تر هغه زیات صفا ضمیر کړه
د غمزے په تیر دِ هر عالم پرهر کړه — ما[4] هُم یارَ سرفراز په یوه تیر کړه
دا کُم مهرَ کمُ اِنصاف ګُمه یاری ده — په ویلو د دُشمن مین زهیر کړه
د وصال عمر د برق عُنډِ زر تیر شی — یار چه اُس در ته حاضر د ے بنه ئے څیر کړه

یارُ ته و ے عبدالقادر چه زه دلګیریم
و یے ئے شُکر ! خدائے دِ لا تر دا دِلګیر کړه

---

[1]، [2] او [3] درے واړه شعرونه په "ح" کښ نشته۔ [4] په "ح" کښ دا مصرع دا ده :- سوبه هُم یارِ سرفراز په یوه تیر کړه۔ [5] په "ح" کښ دا مقطع په دا شان لیکلی ده :-

یار ویله عبدالقادر ته چه دلګیریم — و ے ئے شکر خدائے د لا تر دا دلګیر کړه

Marfat.com

## ۱۴۶

اے حُما خاطرَ ترک هوا هوس کړه — د عقبیٰ د تلو سامان په هر نفس کړه
د دُنیا له خوانَ هیڅوک ماړه نهٔ شول — په دا خوان دِ ډېر څهٔ وُخوړل نور بس کړه
مُقدّم د تل په دین د دنیا کار وو — اُس د دین کار ونهٔ وړاندِ دُنیا پس کړه
ملامتٔ[1] په ځان کوه په هیچا مهٔ کړه — تا په خپلَ وے سینه په ناکس کړه
د عسس ویره هغه کا چه پردی خوری — خپل خوروِ بهٔ کله ویره د عسس کړه
خَس ته هم په خواره سترګه نظر مهٔ کړه — ما په سترګو لیدهٔ سترګه ړندٔ خَس کړه
چه دوزخ دوزخ یادېږی دوزخ لَس دے — وَ دوزخ[2] ته خَلق روانه لَس کړه
چه ئے ماوَته پېښور کاوهٔ د مینے — هغو لا وربا ندِ مینه یَوُ به لَس کړه
قافله دِ عشق منزل ته پوشیدهٔ تله — برهنه و خاصو عامو ته جرس کړه
جوانمردی[3] ئے پښتېده له جوانمردَ — وبے ئے عفو په هنګام د دسترس کړه

کهٔ لائق عبدالقادر د صانونهٔ دے
څو قطرے ورعنایت د خُم بکس کړه

## ۱۴۷

عارضی کاروبه هیڅ دی تعلق ورپورِ مه کړه
چه جوړ دِرته حاصل شی همیشه طلب هغه کړه

---

۱ دا شعر په "ح" کښی زیات دے۔ ۲ په "ح" کښی دا مصرع دا سے ده :- وَ دوزخ وَته روان وکړے نس کړه

۳ په "ح" کښی دا شعر دا سے دے :- سه

چه غلیم ئے تبنتېده له جوانمردۍ۔ دے ئے عفو په هنګام د دسترس کړه

Marfat.com

جوهر څه دے دِ تا فقر، عرض څه، چه بے له دهٔ وی

دا وینا تمام سلوک دے، که دِ نه زده له مازده کړه
د خواهش له کوڅے ووزه، دا کوڅه ده پر کور تنګه

ترک د خواست وسیع صحرا دے هم په دا صحرا منښته کړه
حقیقت روشن آفتاب دے، په لیدهٔ ئے سترګے پرېښی

د مجاز رانجه کړه پورِ پرِ روشن دواړه لیمه کړه
چه د مخ د دلبر یاد شی، په ثنا صفت د ګل شه

د زلفینو له فراقه په سُنبل د زړه دمه کړه
شونډے غاښ ئے چه دریاد شی مذکور[1] کړه د لعلو دُرو

د خپل زړه وینو ته ګوره، خپل اُښے ور سره کړه
خپل صورت چنګ و رباب کړه پرِ تارونه اُښے څاڅه

حرفی صوت د خُط پرېږده، پرِ د سینے[2] زمزمه کړه
نو آموز عاشق بلبل دے شور ئے ہر مینه ئے ګړه

که مثال د کامل غواړے و پتنګ ته ننداره کړه
لکه کانړے د کے اوره، هیڅ اثر ئے لیدهٔ نه شی
هسے زنګ عبدالقادر پته ته د عشق طلبه کړه

## ١٤٨

چه همت د د تپوس دے ځان باز مه کړه — ځان په رسم د جانبازو، جانباز مه کړه
چه محتاج و ته محتاج وی د هر خسیس دے — بے، بے نیاز و بل هیچا ته نیاز مه کړه

---

١ په مثال د لعلو دُرو ٢ د سینے.

اسبابونه د ناز راوړه ناله ناز کړه	ستا چه هیڅ اصحاب د ناز نشته ناز مه کړه
امتیاز د دوست د دښمن و بله ګران دے	بے له خپل زړه هیچوک همراز مه کړه
یا تمام سعی کوه چه کار شروع کړے	یا هرګز چرې د چارے آغاز مه کړه
د خبرو په لذت که خبردار سے	بیهوده بهروت له شونډو اواز مه کړه
کړ د لوستے د "لا ترکنوا" آیت دے	نسکه هرګز د ظالمانو اعزاز مه کړه
تولاً او تبرا د ایمان ځانګ دی	چه د دا ځانګونه نشته پرواز مه کړه

په تندی به ستا جفا **عبدالقادر** وړې
چه ستړی ئے په مراد د غماز مه کړه

## ۱۴۹

سوړ دی بیا هجران دهر عالم په غم کړه	کور په کور دی په دے ملک نوے ماتم کړه
چه څو کال ئے قبول کړے په خوارئ وو	هم هغه عیش دی بدل په غم په دم کړه
له پیچونی دی د غم سوارۀ منکاره شول	د هوس لښکر د درست برهم درهم کړه
تور لوګے د آه له هر ځای خیژی	دنړا وروځ دی په عالم باندې تورتم کړه
لکه تاکره د امید غنچې سوړ توی	خزان کله په ګلونو دا ستم کړه
بلبلان ئے له فراق په نارو شول	له دے غم دی د سرو ګردن خم کړه
سن زرسل د جدائئ خوارلس د پاس	دا غزل م په بیاض باندې رقم کړه

تور به ځه **عبدالقادر** له چا خندا کا
تا سوړ کال د آشنائئ قدر کم کړه

Marfat.com

## ۱۵۰

چې په کښلیو مُبتلا شي لکه زهٔ     همیشه په واو بلا شي لکه زه
سرګشته، حیران پریښان، کوڼه پدرنګ     خوار خسته تر مجنون لا شي لکه زهٔ
د هر چا ناسازِ وړی په تورد مینے     خانمان به ئے تالا شي لکه زهٔ
نه به آه، نه به فریاد، نه به ژړا کا     کُل روزګار به ئے په غلا شي لکه زهٔ
محبت به ئے پرے نږدی و مانړے ته     بے رہبارہ به پُخلا شي لکه زهٔ

لا به شي تر دا بتر عبدالقادرَ!
چې اَخته په دا بلا شي لکه زهٔ

## ۱۵۱

خوښ له وَصل نه شوم د هجران له غمَ زهٔ     نه کرمَ په ګُل مِینه د خزان له غمَ زهٔ
خلَق راته وایي چې زحمت دِ لا دوا دے     لا بنه چې ئے خلاص شوم د درمان له غمَ زهٔ
سر دے په جهان کښې د همه واړه مبنادیو     نه دِ شم بے غمَ د جانان له غمَ زهٔ
زهٔ چې د جانان په کوڅې کښې کښېنا ستم مقیم شوم     کښېنا ستم بے غمَ د جهان له غمَ زهٔ
اُس به له دے پسَ د چل ځان په غمَ اَخته شم     دِ ہر په زړه زهیر شوم د جهان له غمَ زهٔ
غمَ دے له اَزَلَ په نصیب د عاشقانو     ځکه نه خلا صیږم یَوُ زمان له غمَ زهٔ

ما عبدالقادر چې دا غزل د فِراق وُوے
رشک به کړم په اُښنیو د باران له غمَ زهٔ

---

۱ دا شعر په "ح" کښې نشته
۲ دا مقطع په "ب م" اَوُ "اک" دواړو کښې نشته۔

## ۱۵۲

چه ئې رنګ په رنګ د ښکلیو د رخسار شه
په ګاونو ښکې ګلاب څکه آبدار شه

چه تشبیه ئې ستا له قد سره وشوه
سربلند په لورو ونو کښې چینار شه

که طالع د عاشقانو تور نه و بې
تور وربل ئې په مخ ورې تار په تار شه

په عاشق به ئې همېش جور و ستم کړه
ښه چه تېر د ښایسته د ښایست وار شه

چه له عمره ئې بر نور وکړه وخوری
هم ښه له خپل عمر برخوردار شه

هیڅ منت د بل ربابه په ما بار نه دے
عشق ځما اؤ د معشوق ترمنځ رېبار شه

اُس د ځان وغم ته ساز عبدالقادر کا
چه د درست جهان بدخوی وو، د ده یار شه

## ۱۵۳

یا مجنون شوم خوی م نور شو یا ستا عشق را باندِ زور شه
یا ستا عشق را باندِ زور شه، یا مجنون شوم خوی م نور شه

غم هاله ځما په کور شه، چه په تا باندِ مین شوم
چه په تا باندِ مین شوم، غم هاله ځما په کور شه

بیاد خیال په سمند سور شه، څو وکړی به پایمال کا
څو وکړی به پایمال کا، بیا د خیال په سمند سور شه

را ښکاره د زورو شور شه، اُس به څه له ما خلاصیږے
اُس به څه له ما خلاصیږے، را ښکاره د زورو شور شه

په معنی ژوندے په کور شه، چه لیدل د ښکلیو نه کا

Marfat.com

چه لیدل د بنکلیو نه کا په معنیٰ ژوندے په کور شه

له کلولو م زړه لوړ مشه پکښ بویٔ د وفا نشته
پکښ بویٔ د وفا نشته له کلولو م زړه تور شه

عندلیب وے په شور شه په وصال کښ نارے نه شی
په وصال کښ نارے نه شی عندلیب وے په شور شه

درست صورت م لکه اور شه زنهار مه بلوسه را باندِ
زنهار مه بلوسه را باندِ درست صورت م لکه اور شه

په دریاب کښ کله شور شه چه په اصل گوهر خوړوو
چه په اصل گوهر خوړ وو په دریاب کښ کله شور شه

خیال د یار د ورُوځو لور شو پر ربی م د زړه وُلی
پر ربی م د زړه وُلی خیال د یار د ورُوځو لور شه

چه وُربل ئے په مخ خور شه رنړا ورځ را باندِ شپه شوه
رنړا ورځ را باندِ شپه شوه چه وُربل ئے په مخ خور شه

د ښخو[۱] چه وے سپور شه ځه ئے مه کنړه چه هیڅ دی
ځه ئے مه کنړه چه هیڅ دی د ښخو چه وے سپور شه

چه نظر ئے په بل لور شه خوار شوے اُس عبدالقادر
خوار شوے اُس عبدالقادر چه نظر ئے په بل لور شه

(۱۵۴)

چه د بخرو وېش په ورځے د میثاق شه ـ د چا وصل په نصیب د چا فراق شه

[۱] دا شعر په تولو نسخو کښ په بیل بیل انداز لیکلے شوے دے په دے وجه معنے ئے گړے وړے شوے۔

Marfat.com

د اَشنا له لورىَ خط رابانديِ[1] راغے ـــ بيا مِ اور په زړه تازه د اِشتياق شه
خدایٰ نور د يار بېلتون رابنکاره نه کړے ـــ د زړکی قوت مِ لږ طاقت مِ طاق شه
هر محنت چه ئے په عشق کښِ وگنکولے ـــ هم هغه سبب د قُرب د عشاق شه
د ليدو لذت ئے څو دے نه پوهېږم ـــ چه په ياد مِ ئے دا سے خوږ مذاق شه
چه د نس په نخته دروي زړه آزار کا ـــ وَ دوزخ وَته تيار شي هغه عاق شه
د عقبیٰ د ناوی عقد څکه ګران دے ـــ چه ئے مهر هم د دے ناوی طلاق شه

جان و دِل عبدالقادر دَر له يار يُوړه
نور حساب به څنګه غواړے بے باق شه

## ۱۵۵

له همه واړه عالمَ صُلح کُل شه ـــ وَ ښو بدو خوشبوئ ورکوه ګُل شه
تعلق په تېرېدونی هَوس مه کړه ـــ په بهار کښِ په نارو لکه بُلبل شه
دُنيا جسرِ آخرت ده ياده شوی ـــ د سيلئ عُندِ زر تېر تر دغه پُل شه
د سبب توںګری عينِ نيستی ده ـــ توںګر په خزانو د توکّل شه
اضطراب به دِ خلاص نه کا له قضا نه ـــ مستقل ورته په صبر و تحمّل شه
ځان د عشق په اور لوګے لکه سپند کړه ـــ هُم په دا بهانه ځار تر ښه کاکل شه
په تاخير کښِ آفتونه پيدا کېږی ـــ معطّل مه کوه ساقی په داد دمُل شه[2]
ستړکے مه وُچوه لوَ زمان له نمَ ـــ تل په زړه ترو تازه لکه سُنبل شه

خوخپل نيت عبدالقادر يار ته سم کړه
بے پروا له بدګويئ د چُغل شه

---

[1] رالږه ـ [2] معطّل مه کړه ساقی په دا دَر مُل شه۔

Marfat.com

## ۱۵۶

محبت چې دِ د څه په زړه محکم شه
هم هغه په حقیقت کښې ستا صنم شه

په دا لارِ تله په سترګو په تندي شي
ځکه پاتو د ناقص ځنې قدم شه

چې هر دم یې پرېکوي د عمر ونه
په مثال لکه اره د سهي دم شه

کشکې ما مهر د یار لیدلے نه وے
په هجران کښې مې هر مهر راته غم شه

چې ژوندے پرې ګرځېدم د آشنا درد وو
اُس پو هېږم وُبه مرم چې درد مې کم شه

کږ و راست په خپل ځائے واړه زیبائي کا
د دلبر وُروځې کږې قامت یې سم شه

چې په هجر کښې یې وُنه مرے لا پایې
په تحقیق **عبدالقادره** تر یار ګرم شه

## ۱۵۷

په فراق چې مې روان د سترګو جوې شه
لږ مې پاتو وَ آشنا وَته آبروئے شه

سبنه چې باد وَته پابوس د ګل حاصل شه
په طلب یې کښېته پورته تګ و پوئے شه

په خبرو معنیٰ کله ادا کېږي
خبر ځکه په حیرت له ګفتګوئے شه

مرتبه د هر څه، څو چې یې معنیٰ وي
جسم ګل، عرض یې رنګ، معنیٰ یې بوئے شه

په تمثیل یې چې د یار د قامت راوړه
په همه وُلو کښې سر د سرو لوئے شه

د کریم له خوانه مرګه نصیب مومي
په ساقي ملامت نشته که جام توئے شه

چې[1] د عشق لاف وهې **عبدالقادره**
...... له زردئ آلوده روئے شه

[1] دا نیمګړی مقطع صرف په "ذ" کښې وُموندے شوه.

Marfat.com

## ۱۵۸

دریغ نور خونه لږ شوے له دله — په کښې غم د خپل آشناوے تل تر تله
شبنم وصل د ګل بیا مونده خاموش شو — تر سحره شوه چه شور کاندې بلبله
ښه چه ژبه دې قلم شوه په مجلس کښې — شمع تا چه د خپل سوز قصه وئیله
عاشق هیڅ نه وو خبر د عشق له سوزه — دا لمبه بر معشوقې ونګوله
د فانوس په پرده څراغ کله پټیږی — که ئے مخ په پلو پټ وو ما لیدله
که په زړه م د یار یاد و مېشته وکړه — د یار خیال نه یې پاس په سترګو مله
په ماتم د پروانه چه ځان ئے وسو — شمع اور په تندی بل کړه ژړیدله
که په مخ ئے خط ښکاره شه په داخه شو — په جوهر آئینه[۱] کله چا غندله
درست شپه دې په نارو عبدالقادر کړه
نه بے غمه په پالنګ باندې څمله

## ۱۵۹

چه له خپل آشنا نه لرې ګله — له نور چا نه به په څه لرې ګله
نه عارف د چا په ښو شکرګزار وی — نه په بدو د دشمنه لرې ګله
انګوری ترخه شراب ورله یوبه — مے خواران له کبینه لرې ګله
چه بے تا ئے غروم د بل وغ نه — په دا خوئ له ما بیمه لرې ګله
هیڅ اېستاد ئے پکښې ونه کړه تر په بوت — له ناوک ئے م زړه لرې ګله
چه چارو م ستا د در د خاورو نه کړه — ښه له بدو بد له ښه لرې ګله

---

۱ په ځ کښې دا شعر نشته۔

Marfat.com

ښه که سر ئے تر قربان **عبدالقادر** کړه
بیا ترو وے یار له ده لرې ګله

۱۶۰

ساقي ښه پياله راکړه رندانه
چه په څښل ئے لا يعقل شم ديوانه

سرزده له خلق تښتم و صحرا ته
د مجنون غندِ خپل ځائے کړم وِيرانه

د مقصود ميوه تاله ورځنے وخوری
چه په خاورو کښې ځان ښست کاندِ دانه

چه پکښې د ښايستو د مخ خيال دے
دے ځما خاطر د چين نګار خانه

له غيرت م زړکے پاره پاره شي
چه ئے ګوټے په وښتو وهي شانه

د بهار په وخت محتاج د مطرب نه يم
راته بس ده د بلبلو ترانه

هره شپه هنګامه ګرم کړم په کوټ کښې
ګنډِ راشي ښايسته په دا بهانه

سر به سل ځله تر زار **عبدالقادر** کا
که د سر په ښندل مومي جانانه

۱۶۱

ننداره لره راځئ چه پيښے څونه
په اختر به زلمي جونه کا سپلونه

تۀ به وايے مخ ئے ګل دے بېخبر دے
چه ئے ډمد په مخ ووهي خالونه

سره او زيړ نمري آغستي ګل رخانو[۱]
تۀ به وايے سرو وينول ګلونه

چه په سپل د بهار د ګلو ګرځي
ځامي[۲] ګل په پګړئ بدي په وريل جونه

ځنے دواړه زلفے ډکے کا له ګلو
څوک په غاړه کا د سرو ګلو هارونه

۱ دا شعر په "ح" کښې نشته۔ ۲ "ب م" او "اک" - "سره او زيړ کا په ګلو وريلونه"۔

Marfat.com

چه ګلونه ملولی سند دے بولی — شرمنده کا د بلبلو اوازونه
د[1] رست صحرا په خوشبویۍ سره خوشبوئ کا — په هغو مزکو چه کښیږدی قدمونه
په[2] خندا خندا تری د ستے د ګلو — استوی وخپل خپل یار ته پیشکشونه
چه له سبل راروانه شی وکورته — ګل ځن بلبلے نیسی آشنیونه
چه له هسے ننداره نه ځان وبا سے — شیخ ورک شه ستا بے وخت خلوتونه
چه دیدن د بنایستو په کښې نه وی — چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که آواز دے که دیدن د روح خوراک دے — نفسانی د باند نه کا غرضونه

تېر شو وار عبدالقادر راته نه شی
که ژړا کړے که فریاد کړے که آهونه

۶۲

رایشه چه رایشی بنادی ځما په خونه — مه دروه چه نه درومی ځما به زړه سیغونه
نه ګورے که وګورے احوال به م معلوم کړے — ځی چه ځے په مخ ځما د سرو اښو ورخونه
مه خانده چه نه خاندی په ما پور اغیار سره — مه کړه په ما مهرکړه که ډار کوے له خونه
نه ویم چه نه ویم دلبر جهان په سترګو — مه لیدے چه نه لیدے هرګز کښلی مخونه
کښېنوی چه کښېنې ګرد عهاد د ویر له دل
مڼی چه نه شی دا په بید لانو ستوا خونه

۶۳

مونږ ته څه ناحق عالم وایی پندونه — په خپل عقل هر سړے کا آنندونه

---

[1] په نکهت سره ئے درست دامان خوشبوئ شی۔ [2] په لاچی لونګ په ځانے د ستے د ګلو۔ ورستوی وخپل خپل یار ته په ملګو۔

د نور چا په مونږ خدا کار چه امتناع کا — کۀ د یار په مینه سر او مال شندونه
محبت لکه دریاب په زړۀ راوخوت — د دریاب په څنګبڼ ځوک تړی بندونه
د پیوند په پرېکولو فقیری شی — نه په دا چه ځبله کښېږدی پیوندونه
بے اختیار ورکاوه شی زړۀ وکښلیو — نه دا کار په مصلحت شی په سندونه
بهایم په خوراک شخوندکا د سرلیو — د خبرو په معنٰی بویه شخوندونه
چه زویله[1] شی ستا بیان عبدالقادر
په رنګ رنګ تر پیدا کیږی نورخوندونه

## ۱۶۴

ناز پروره چه په غاړه کا هارونه — په[2] سینه ئے د ګل وشی پرهارونه
نۀ به واښئے په ګلابو شبنم پربوت — چه له قهره ئے خوے شی رخسارونه
کۀ یو ځل چېر غلط شوم توبه وېرم — په ورځ سل غلطئ کړے نۀ ئے شمارونه
ما به تل د یار تلو کښبېښول په سترګو — کۀ م نۀ درلے بانړه لکه خارونه
په لیدل د بنا یسته غزل انشا کړم — عندلیب په ګلو کاندِ چیغارونه
د لبانو جوړئ هم ورځنه شته دے — که ئے دواړه لورِ زلفے دی مارونه
په بخت[3] حا باندِ ئے ګټے ابرزدئے نه شی — دغه دوه سترګے ئے لا کا ګپارونه[4]
راغے وار دنا د تلو عبدالقادر
په وار وار یارانو تېر کړه خپل وارونه

---

[1]

[2] په سینه ئے کا ګلونه پرهارونه — [3] دا شعر په "ح" کښ نشته

[4] ماتارونه۔

## ١٦٥

ډېر م وليدل په سترګو ګور باغونه — د فلک په ګرد شونو شول راغونه
څو سپوږمۍ ئې پليته په لاس نيولي — په وار وار ږدي په سينو باندې داغونه
ډک جامونه د حسرت د ندامت څښي — چه ئې تل لوښل د ميو اياغونه
د لحد تيارو په شمع د انصاف ځي — پکار نه دي په هاتيانو چراغونه
فراغت، ساقي، ونجه دې پياله راوړه — جهان نه پرېږدي تل چا ته فراغونه
ښخه باغ چه تل مأوی وو د طوطيانو — اوس ئې ګوره چه پر ګشت کاندي زاغونه

څښنه شراب د محبت **عبدالقادره**
خوله ستا د خاورو ساز نه دی جامونه

## ١٦٦

په خاطر م هومره نه دی المونه — چه ئې دښمن م وچا وَ ته نومونه
چه نور مينه کا په ښکليو زه ئې ګورم — درست لړون م له ځکساک شو ګرمونه[١]
محبت موافقت دے چه واقع شي — نه په سحر، په افسون دے، په دمونه
چه د غم د ښېلتانه حموږ نصيب کړه — مګر نه وُو په جهان ښکلي نور غمونه
لوی مياشت به ئې نعلونه، ستوري مېخ کړم — که نازک د يار سمند لري سمونه
که د درد د په بے قدرو قدر نشته — ستا دردونه به په سترګو موږ زغمونه
چه پامال د ننداره چيو زړونه نه شي — په ورو ورو ږده په دا لارے[٢] قدمونه
هومره اور د ښکلي بلبړي، ايرے نه شوے — بلا سخت ئې د عاشق تنه لرمونه

---

١ ګرمونه ٢ ح۔ په ښکاښي قدمونه۔

Marfat.com

چه طالع د سړی نه وی څه په کار که | څوک افزون لری لښکرے تر نامو

څښه شراب د محبت عبد القادر

څو لا ستا د خاورو ساز نه دی جامونه

۱۶۷

وینزه که اصیله وی که توره وی که سپینه | کینلی شی ترحورو چه پرورشی د زړه مینه

شهد که نابات وی که څه شته شیرینی نوره | مینه ده که کورے چه تر هر څه ده شیرینه

خیال دے د زلفو لکه مار وربانذ پروت دے | نه پر بېږدی و زړه ته بله مینه چه ورځینه

مسل زخم که وخوری ترڅه یو ځل خکے پرته وی | هسے رنګ وچه د صورت کا مینه وینه

خوب نه دے بد ل په بېدارئ خوبنی په غم شی | هرچه دے په زړه کښی د دلبرو مینه وینه

یار په هواد نه دے که د زړه مینه پیدا کړے | مینه هسے خیزده چه نېژدے لرکوینه

څه عبد القادر په خله مینه مینه وایے

څو د لا ویجاړه نه ده مینه، نه ده مینه

۱۶۸

که دِ نه ده د خپل مخ خښره چرکینه | آئینه ځما د زړه نه ده زنګینه

چه و نور وته نېژدے شی هغه نورشی | پښتنه راځنے کرځه تکه سپینه

چه دے زړه د محبت په لمبو وسو | د دوزخ له اور څه پروا لرینه

توره سپه به په عاشق باندِ سپوږمئ کا | که پلو له مخ واخلی مه جبینه

وار په وار مِ له زړه واره مینے لاړے | بے له کښلیو چه هرګز ځنے نه ځینه

۱ که دِ نه ده خپله دا چهره چرکینه

Marfat.com

بلبلو له آوازه ئې اثر دے — دا غُنچه چه گریبان پاره کوینه

غیرِ حق چینې همه واړه حجاب دی
مهٔ کړه نور عبدالقادر غیره مینه

## ١٦٩

په زړهٔ کښې ئې پرته وی د سرمینه — بیا به نهٔ مومی هرګز د دلبر مینه
په تلخئ د هجران نشته وُبه ئې نهٔ کړم — کهٔ خوږه ده لا تر شهدو شکر مینه
زر تر خاص و عامَ پورِ زر د وی — هر سړے چه کانړِ ډیره په زر مینه
ته بوئ د خپل آشنا د زلفو لیښ دے — کهٔ نور خلق کا په مشک و عنبر مینه
په لباس د ګدائئ لکه بادشاه دے — په هر چا بانړِ چه وُکا اَثر مینه
نورِ خاورے ئې مسند شی اورنګ پربږدی — شاه جهان د زمانے کا نفر مینه
دُنیا مین همېش په زړه رنځور وی — حُکم نهٔ کا په دُنیا قلندر مینه
پیغور ناوکی هیڅ اثر پرِ نهٔ کا — عاشقان لری په مخکښې سپر مینه

نور تمام له عیب ډک عبدالقادر دے
یوُ لری په خپل وجود کښې هنر مینه

## ١٧٠

لکه آفتاب وَ خپل مین ته خُلوه — زړونه د غمازو لکه موم پرِ ویلوه
ستا ترخه وَیل په ما خواږه لکی تر قندو — بے له ما مشتاق ئې په بل مهٔ خُلوه
وری وَ آسمان ته هیڅ نظر نهٔ کا وَ یبنونه — ډیر په کبر د رومی خدائے ئې مهٔ دَرغلوه

---

۱ نشته دے، مه سړه ویم۔ ۲ شی ۳ دل داده

Marfat.com

ډېرے کښلی جونه ما لیدلی دی په سترګو
روند شم که د تا غنډ په حسن يله وَ

زور د غاښنو مه کړه ځ ځ ئے صاف تر آئینه دے
زخم به پرِ وشی په ورو ورو ئے کښلوه

عمرِ م به کم شی که یو تار د زُلفو کم شی
فهم کړه اے ډے! شانه[1] ورو ورو چلوه

لاړے ترمیان بند شوے هیڅ اِدراک د ورتلو نشته
اُس د یار په لور قاصدته دا ښیو زغلوه

ګل دِ د مقصود د باغ کہ زړه دے چه غوړېږی
تل سحرسحر شبنم د اُښنیو ستلوه

زړه ئے چرِ نه وی رقیبان له تا نه لور کا
یوَ زمان له ځانَ خپل دِلبر مه بیلوه

دا غزل[2] خُواب د خان دښخه غزل کېږی
"خدائے له خپل یار نه هیڅ یار مه بیلوه

پربېږده چه پتنګ غنډ پره سوځی خاخلاص کا
چراغ[3] د ځ ښکار عبدالقادر ته بلوه

## ۱۷۱

چه راوړے ئے له اَصل دے له ځایه
بوئ به څه رنګ ځی له مشکو[4] وایه

د شیشے قُلقل سرود دے د مستانو
مُستغنی له دف او چنګ دی له نایه

نور عالَم وته صفت کوه د حُورو
مُلا ما وته بے یاره نور مه ستایه

خو هم تا ته ښکاره ښه دی پرده پوش
دا ځما عیبونه نورو ته مه ښمایه

چرے نه عزیز ذلیل ذلیل عزیز کا
په نااهلو سیوره مه کوه هُمایه

په اِفطار کښې ئے د زر روژو ثواب دے
یار چه نیسی درته ے روژه پرِ کشایه

مرګ ئے سل ځله بهتر دے تر ژوندون
په هجران کښې عاشق مه پایوے خدایه[5]

چه د یار په لیدو موړ عبدالقادر شی
له ئے بیایے له دُنیا هاله ئے بیایه

---

[1] زمنژ پرورو ورو چلوه. [2] دا غزلِ م خُواب دخان دښخه غزل کړے [3] خال دځ ډیوه عبدالقادر ته بلوه [4] "ح" په بیلتون کښې د مین مه بیوه خدایه۔

(۱۷۲)

نن په خوا راغله مه روُیه، سمنبره سنبل مویه
سمنبره سنبل مویه، نن په خوا راغله مهرویه
وے ئے مه مِ څه له کوُیه، چه ذلیل بیقدر نه شے
چه ذلیل بیقدر نه شے، وے ئے مه مِ څه له کوُیه
که د ما دے عاشق بویه، بے له ما به بل نه گوری
بے له ما به بل نه گوری، که د ما دے عاشق بویه
د عشق چار ده هرگور لویه، سربازان دی چه ئے اخلی
سربازان[1] دی چه ئے اخلی، د عشق چار ده هرگور لویه
صفت شی د گل له بویه، د سری له بنه خصلت
د سری له بنه خصلت، صفت شی د گل له بویه
دریغ دریغ بد خویه، تریو څه رنگ بد غلیم ئے
تریو څه رنگ بد غلیم ئے، دریغ دریغ بد خویه
د توبے له شست و شویه، مکدر خاطر صفا کړه
مکدر خاطر صفا کړه، د توبے له شست و شویه
صحر بوغ وخوت له جویه، لاهو بیارته به رانه شو
لاهو بیارته به رانه شو، سحر بوغ وخوت له جویه
څه حاصل له گفتگویه، عمل کړه عبدالقادره
عمل کړه عبدالقادره، څه حاصل له گفتگویه

---

[1] سربازان به ئے اخلی۔

Marfat.com

# ی

## ۱۷۳

نه په باغ نه په بوستان په ګلزار ګرځي
خراب زړه مې هوری دے چه مې یار ګرځي

دواړه سترګے دے شاهین دی قهرولی
سود د ناز په اس د زړونو په ښکار ګرځي

په مقدم ئے د صحرا خارونه ګل شی
چه په سیل ځما یار د بهار ګرځي

چه پرون د رقیب وار وو نن ځما دے
د اسمان د ژرند ے دوره په وار ګرځي

که رنځور شے خود به وړشی طبیب کور ته
طبیبان په طلب تل د بیمار ګرځي

د ښړو په ناوکو ئے زړه خوږ بیږی
عاشق ځکه آهو من ناقرار ګرځي

د هوسئ غنډ خپل خوب په میږتون کړو
د اجل ښکاری په نیت د ګزار ګرځي

Marfat.com

ما دولت د گدایانو له دَر بیاموند ... که نور خلق د بادشاه په دربار گرځي

په وصال به آسوده **عبدالقادر** کړے
که همیش به یې په هجر کښې خوار گرځي

## ۱۷۴

په فراق کښې د گلونو چه گلزار ځي ... د بلبل تر خُله یه تل نارے چیغار ځي
د وداع په وخت گرم شیم که فریاد کړم ... دوځ له تنه آسان نه دروهي دشوار ځي
په فراق د یار د سرو شونډو ئے رنگو ... سرے سرے اُبنے هم له سترگو په رخسار ځي
په دوو سترگو م تیاره شوه نه پوهیږم ... چه هم دو نه د سترگو وشته که انکار ځي
حال له ډیره غوبوه هیڅ وَیلے نه شم ... خو هم هسے چه که خوا له یاره یار ځي
په ورو ورو یې جدا یې مرگ نژدے کړم ... اکه ساه چه له صورت په وار وار ځي
د عشق اور د سوختگانو په زړه لگی ... په سوخته تر نور څه زر شرر دنار ځي
پوخ اُستاد بویه چه زلفے دیار نیسی ... د ناقص یاړو دم کله په لنور مار ځي
چه سَرکوز په تواضع دروهي په لارے ... نه به وایے سرو ژن په رفتار ځي
هیڅ په بیار نه نظر شي کا پسه دروهي ... دا د عُمر آشنا شه بې بهانه دار ځي

ستا د آه لوخړے دی **عبدالقادر**
لړے نه دی چه په غره د کړه مار ځي

## ۱۷۵

د خبیث په سینه صحت خبث په خوځي ... د ماهي بد بوئ کله په اُبو ځي

عه د نادان یاړو دم کله په مار خوار ځي. عه عه دادواړه شعرونه په "ح" کښې نشته

له اَصلي بدَ به لاړه بدي نه شي | که د ښو په ښه ديدن په ورځو شپو ځي
لا کيسيه لا بازئ ښکاريږي بدته | د کامل د نصيحت اَثر په ښو ځي
د مزرئيو په لوے ښکار باندِ نظروي | شلانړو ګډوکو لره ترږے يا پيشو ځي
هر چه شوي په ازل ښغه به کيږي | عبث ځمو په عَبث اَندېښنو ځي
خته نظر به کا دِلبر په اُفتادَ ګو | چه دا ښے بد دماغ په کرشمو ځي

په ټمو به ستاينه نور عبدالقادر ځي
که يارانو لره نور عالم په پښنو ځي

## ۱۷۶

چو زلفِ عنبرين را پيچ و خم کردي کرم کردي | دِلم را از سرِ نو بندِ غم کردي کرم کردي
چو بکشودي نقاب از رُخ نمودي عارضِ زيبا | شبِ اندوهِ ما را صبحدم کردي کرم کردي
بحمد الله چو تنلم را بديگر کس نه فرمودي | سرم را چوں بدستِ خود قلم کردي کرم کردي
بروئے عاشقانِ زار حسرت در فزوں بادا | جفاها گفتي و جور و ستم کردي کرم کردي

سراسر محنت و غم بود در مُلکِ وجودِ ما
چو بازم ساکن ملکِ عدم کردي کرم کردي

## ۱۷۷

چه دا ښے اَشنايان پکښِ هر دم بودي | په غفلت په مزکه وے ځوک قدم بودي
په جنِل لاسه لرم ماران اَستوي ګورته | چه په مزکه کښِ دينار بودي يا درم بودي
بيت الله په حقيقت د مومن زړه دے | چه بے خدائ مينه کا پکښِ صنم بودي

---

۱۔ "بم" ؛ "اک" :- تر و به زمکه زړه ور و وے خوک قدم بودي ۲۔ "بم" :- دينار و يا درم بودي۔

Marfat.com

چه ذلت ئې په عزّت د ده اختيار کړ — د سائل منت په ځان اهلِ کرم بولي
بنے خبرے دُرګوهرَ خاموشي مهر — دانا تل ځکه په خُله د غه خاتم بولي
هر چه دلته مستقيم په شريعت شي — په صراط بانِدِ به هغُوی تہ قدم سم بولي
چه داغونه په زړه بولي بنايسته ډېردي
نشته يوُ عبدالقادر چه مرهم بولي

## ۱۷۸

پښتانه کوته انديښ دي — سود غليم ته زيان د خويش دي
نوشدارو په کښې ناياب دي — واړه زهرَ واړه نيش دي
حريصان، طامعَ سترګ وړي — په يوه خوی نمک د ريش دي
ملکان ئے آدم کُش دي — کافرکيش دي چه درويش دي
پير مرشد ئے جهالت دے
نه په دين دي نه په کيش دي

## ۱۷۹

که په لعل اَوُ دُرو نور دولت مندانٌ دی — لعل و دُر، خُما د يار، شُونډے دَندان دی
د همت سرکوزے نه کا وَ بادشاه ته — په جامه د ګدا ايُ سربلندان دی
د ساقی د پيالے قدر زاهد څهٌ زده[۲] — چه په کوُټ ئے سرو مال شندُ رِندان دی
چهٌ په حال د فراقِ جنو نه نرمېږی[۳] — سغه زړونه زړونه کله دی سندان دی

ﻋﺎ "ب م" "ذ" :ـ نوُ ئے شه، بدان ئے بېش دی. ﻋﺎ "ب م" :ـ نه زده ـ
ﻋﺎ "ذ" فراق منو نه ګهېږی ـ ﻋﺎ "ب م" :ـ چه په آه ـ

وایې خولې ځما په زړه دا غونه ترحساب ترشماره تېرچندان چندان دي

که ساقي د پیالے دور بیا کردان کا په مجلس کښې یو څو پاتے هوشمندان دي

چه د طمع له چاشني عبدالقادره

نه بنده شوے بخه ستا خداوندان دي

## ۱۸۰

چه له مخه ئے آفتاب ماهتاب رخشان دي په جهان کښې خوک ځما د یار په شان دي

جمعیت ئے د خاطر په لیدو ستا شي په دا طمع ورته جمع څه پرېشان دي

چه ئے خوک په کوشه تېر شي لېوني شي شیخ مه ځه په دا لار پري وشان دي

نه یوازې د داره زلفې زړه راکاږي د کاکل وېښته ئے لا خاطرکشان دي

د راحت بنیښې به ټشې عاقبت کا بخه خوک چه د محنت جرعه کشان دي

چه په تش کاته ئے مس د وجود زر شي درویشان دي، درویشان دي، درویشان دي

له آفت به د لے هورے خلاص نه شي چه بدګوئے آزاررسان بد اندیشان دي

خودپرست د یار له وصل بېګانه دي له خوئ بېګانه د دوه خویشان دي

ترمشکرو نه دي کم عبدالقادره

تر لباتو که خواږه وېلي خان دي

## ۱۸۱

د اجل دا تله سړي ته بغتةً دي ناګهان بېلېدل د روح او تن دي

---

۱ الف: رو بنان ۲ ج او ب م: جرعه چشان ۳ الف ج م او پ ذ کښې دا مصرعه اولی د مقطع په شعر کښې په دې شان ده: خودپرست عبدالقادر بېګانه دي ۴ صرف په م کښې دا مقطع په دې شان ده خو د قافیه بد ده. غالبا په نورو نسخو کښې په غلطۍ دا شعر په دې غزل کښې شامل کړې شوې دے.

Marfat.com

گُنډ وی چه سره بیا په یوه ځای یې شو — په ښځو زموږ سلام چه په وطن دی
په صبا به ئے باد گوره چرته یوسی — دا گلونه چه نن ورځ په شگفتن دی
دا خندا ژړا م خوئ د لېونی دے — چه هوښیار دی همېشه په گریستن دی
هر گدا چه آزاده وی تر قربان شه — بادشاهان[1] د روم د هند که د ختن دی
ماتول د بُت آسان دی مردان کم دی؟ — چه مشغول د خپل وجود په شکستن دی
نن نسیم عبدالقادر ته سحر ووے
بوئ[2] ئے واخله دا گلونه په رفتن دی

## ۱۸۲

تور زلفے د نگارے بے څه نه دی — په سپین مخ ئے تار په تارے بے څه نه دی
په لیدل ئے روغ ناروغ شی بیمار روغ شی — دواړه سترگے ئے بیمارے بے څه نه دی
د هر هوښیار به لېونی کاندی په هېږم — کرشمے د پری وارے بے څه نه دی
د هجران په اور ئے نند زړه ورتېږی — د عاشق سترگے خونبارے بے څه نه دی
درست شپه څما د آه لوگے وردرومی — د فلک سترگے بېدارے بے څه نه دی
په جهان کښے هیڅ ترخه نشته بے کټه — د دُنیا گرانے دشوارے بے څه نه دی
څو به مینه پټوے عبدالقادرَ
ستا دا تل نارے چیغارے بے څه نه دی

---

[1] "اک" که بادشاه د شام و روم یا دختن وی
[2] "اک" "ب م" . بوئ اخله .

Marfat.com

(۱۸۳)

بیا ئے بنیت د جنجال وُېشو چه نور کښېنلی راته شماری

یار چه تل ہسے جفا کا[1] ما به مرګ وَته وُسپاری

بل که هرڅو سبنا یسته دی خدائے دِ نه کا چه ئے ګورم

تر یوه بانړه د ښېنکلی دا جهان سته واری واری

ستا چه ہیڅوک آشنا نشته فراغت کړځه ہوس کړه

په ہر ځائے چه آشنائی کا جدائی محصل ګماری

د دُنیا په باغ کښې ځائے د ہمیشه استوږے نشته

عاقبت به له ګوے باغ طوطیان وُځی په چیغاری

د بلبلو د طوطیانو په ګلونو سیل کیږی

په ګندګئ اَوُ په مُردار تل کارګان کرځی مُرداری

ہر چه سبنه ئے له ازل نه فطرت کښې یښی نه وی

چه به بد کارونه نه کا نور به څه کاندِ بدکاری

ہر سرے په موافق د خپل ہمت نظر لرینه

په ورو چارو ہیڅ کله نظر نه کاند لوئے چاری

که غمزے د دلبرانو بترے نورے د خرخ کړی

ہم[2] ورځی په تبرو تورو ئے بے پروا بے اِختیاری

زړه د ہیچا البته عبدالقادرؔ ازار مه کړه

چه په دین او په دُنیا به آخر خوار شی دِل آزاری

---

[1] "ذ" یار چه ہسے جفا کاندِ [2] "ذ" ہم ئے وروځے دی را کښېنلی د بنړو غشے ګزاری۔

Marfat.com

## (١٨٤)

که ګلاب لکه باران ورباندې ووری — د ګلابو بوی به لاړ نه شي له اوری
صباحت يې د يوسف همېش منظور وو — خلک سپين شو د يعقوب د سترګو توری
هر يو ګل په خواست تر وړه ځان يې خوشبو کړه — چه صبا خوشبوی راوړه ستا له لوری
منه کړه خدای چه د وفا خوی يو نه لور کړم — که هر څو م يار جفا کا تل م زوری
که زاهد دی که عابد که شيخ ملا دی — همکی د خپل مقصود په لوری شوری
پاس د دار په سر منصور د روښان نه دی — چه عاشق شي بيا به سر د عشق شوری
پس شا دي سوګند ونه خوری و سر ته — هم هغه چه څاڅي د سر په لوری
قراضه د زرو څه لره په ځي برد دی — په وجود د عمر نما يې نه کا ندې ستوری

تر ژوندون مرګ دی ښه عبدالقادره
چه يې يار رقيب ته خاندای دی ګوری

## (٨٥)

که د عشق په لور م کانړی په سر ووری — زه به دايم واړه دُر او ګوهر ووری
په چړګ بانګ محل يې داد د بوسې وکړه — مرغې بستکال تل په عطر ووری
په تاثير يې د قدم خاوره خوشبوی دی — که په کوی باندې يې مشک و عنبر ووری
سرې سرې اوښې م له سترګو وينې نه دی — دا ځما د زړه له اوره شرر ووری
د رحمت سزاوار نه چه ګنهګار يم — باران بويه چه په تږي شجر ووری
د ظالم د سر د تاج لعلونه نه دی — په تندی يې له دوزخ انګر ووری

ما ب م د داند راته برشهيد کړه -

د حاسد جفا زغم عبدالقادره
تل د غم کانړی په سر د غمر وړی

## ۱۸۶

کۀ هر څو ښایسته ډېر وو د وګړی          موږ نۀ غوره کړے، نور، نورو غوره کړی
نۀ هم هسے دِل آزار جفا کار شوے          چه تل ستا له لاسَ ناست یُو په ژړه سترې
آزاری که چېرِ کړے بېزاری مۀ کړه          اُس یُو موږ اوُ نۀ په خلقو کښې نومړی
چه په ښۀ جور دا هو ښۀ ډېر مانړے کړے          مګر ښۀ دی، موږ ستا جوروته وړی
همېشه د حال په ژبه له ما زار کړے          ستا له حالَ مِ هېڅ نۀ دی چاته سپړی
څوک چه نن ګانده وفا له یارَ غواړی          ډېر اَبله دی چه د شګو پړی غړی

آشنایی د دین کوه عبدالقادره
د دُنیا آشنایان واړه دی نیمګړی

## ۱۸۷

په وار وار سے په هر چا دَکړے بازۍ          د جهان په وِدکړو هېڅوک مۀ نازۍ
چه آخر به سے له تا سے غلیمان وړی          په خپل لاس سے په دوستانو وُبازۍ
د اِخلاص اُمید هېچا ته پاتو نۀ سته          اَشنایی ده اُس همه مهمتازۍ
بېهوده ګله مندی کا له آسمانَ          جهان ډوب کړه د غمازو غمازۍ
سر فرازے سرنګون دروهی په کښته          رابنکاره شو ے د دُنیا سر فرازۍ
په معنی کښی مرګ سے نشته تل ژوندون دے          د هغو چه پاتو ش ښک اوازۍ
کوره څۀ رنګ ناز بردار د خاص و عام شول          چه ئے تل کول کبرون طنازۍ

Marfat.com

له اوله بلبل باز وے اُس باز باز شو ے
عمر ؤلاړ عبدالقادر په بازئ

## ۱۸۸

ستا سترګو وژلي به تر درنګ اُس بنخېږي — راشه زړه پرېږده کړه که په داد زړه یخېږي
رقص له خامئ کانډ دانه د دېک میان کېنې — پاتو له صوفي شي رقص حاله چه دے یخېږي
ستا تر سر ځارېږي ستا په سر ځا سو کند دے — بل مطلب ئے نشته چرخ چه هسے رنګ څرخېږي
خوب ئے بانډ نه شولت په لت په بله اوړي — ګل د نهالئ ئے په نازک بدن څرخېږي
وے به له مزکه نه شي ګل عبدالقادر
تل چه تر ګلونو ښنایسته یکښې بنخېږي

## ۱۸۹

که هر څو ئے د دنیا دولت ډېرېږي — څه په کار چه بقا نه لري تېرېږي
بادشاهي د اورنګزېب و آزاده ته — چه تل نه وي په خسرئ نه پېرېږي
چه یو دم م له خاطره جدا نه وو — دم په دم م اُس هغه یاران هېرېږي
عجب وار د ناپوهئ د ځوانئ وو — په پېرئ م اُس دا دواړه ارمانېږي
تلا عمر هرګز نه راځي په بیا رته — که د اُبنکو په ځائے تل وینے بهېږي
هر عاشق چه ډېره کانډ له پېغوره — تر هغه د ډېر غمونه چاپېرېږي

ا "ک" ګل ئے د نهالئ پا نازک تن بانډ څرخېږي ۔ ۲ لېت په لېت ۔ ۳ "ذ" په ګېرئ نه ارزېږي ۔
۴ "ح" ۔ کودکئ ۔ ۵ "ح" په سهو ګرځئ اُس دواړه ارمانېږي
۶ "ذ" ۔ دا شعر صرف په "ذ" کښې وو چه تر نقل کړے شو ۔

Marfat.com

د باڼو ناوک یې ښیې په ځان لګ دی — چې یې زخم په دارو هم نه رغیږي
وَ نااهلو[1] ته وفا د یار جفا شي — چې په لبو تغیر له یاره نه سپیږي
بوالهوس[2] دِ وَ وصال ته طمع نه کا — چې په عشق کښې به په سر و مال ویریږي
که ښخه وار وو که دا **عبدالقادر** — ننداره کوه چې څه رنګ تیریږي

سر لوڼی[3] د عاشق ده **عبدالقادر**
چې د یار په غم کښې شپه او ورځ زیریږي

## ۱۹۰

داځه اورد یې ښو ښیږم چې په زړه ځما بلیږي — دا سیلاب له کمه راغي چې تر سترګو مې چلیږي
نن ځما د زړه په ښهر کښې ناري دی نه پوهیږم — چې مې روح له تن د روُمی که آشنا له ما بیلیږي
څه پښتنه کړې له ما نه چې د زړه احوال دِ څه دي — په مثال لکه ماهي دي چې په تبلو کښې تلیږي
د ښه څه صفت یې ښیا لکه یې حق دي[4] ادا نه کړه — واصفان یې همه وا ره، د ښک غُند تلیږي
څک ښیې رنګ بې قدر صبا در په در جاروځي — چې په کوي د دلبر راشي تر ګزر کاند تیریږي
فریاد و نه کړه بلبله د ښې ژاړه خو په تاشي — د اهار سیلۍ راغلی د ګل پاڼې به تلیږي
دا آسمان چې په تندی دِ پاس ګرځي لکه ژړنده — د دانو په ځای سرونه شپه او ورځ پکښې دلیږي
نه پوازې زه او ته د جدایۍ په تیغ زخمي یو — په هر لور **عبدالقادر** پرهار ژلی دی ځلیږي

دغم شپه دِ په صبا بدله شوه **عبدالقادر**
چې جبین یې لکه نمر تر تور وربل درته ځلیږي

---

ع۱، ع۲، ع۳ "ذ" دا شعرونه صرف په "ذ" کښې وُو چې بزته نقل کړې شول۔
ع۴ "ب م" :۔ ادا نه کا۔ "اک" :۔ لکه حق دې، کړې نه دې۔

Marfat.com

## ۱۹۱

چه سحر د یار له لوري شمال راشي ... دا بیمار خاطر مې څه خو په حال راشي
کس خو وار د وصل تېر شو هجر راغی ... یا نصیب، چه بیا نوبت د وصال راشي
زړه مې ډوب شي پسې بېږدې سې هرګز نه شم ... چه ربار د یار له لوري ملال راشي
نور مشغولونه به دې ووځي له خاطره ... که په زړه کښې دې د کښېنلیو اشغال راشي
د دیدن د وربلو تېرېږيو طاقت کم شو ... لا به کله رومبې ورځ د شوال راشي
د خپل یار له وصالت امېدوار شم ... چه صورت د یوسف مې په فال راشي

په هجران کښې خوار و زار **عبدالقادر** شو
بیا به کله په شبوه[۱] په خیال راشي

## ۱۹۲

چه په زړه باندې وا د عرفان باب شي ... دا جهان به سې تر فهمه یو سراب شي
د وحدت دریاب به وینې کښته پورته ... خپل وجود به د رښکاره لکه حباب شي
د خودۍ باد چه سې وباسي له سره ... د حباب نامه سې لاړه شي دریاب شي
څو وجود د ذرې شته همېره ذره ده ... خو چه محو خپل وجود کاندې آفتاب شي
د هستۍ نوم هاله ورباندې سبا یې ... آمیخته چه له محیط سره سیلاب شي
د عنصر د چار دیوالې چه راووځي ... آرو بده لیده سې وار ده بې حجاب شي
وهر لوري ته چه مخ کا مونځ سې کېږي ... چه قبله سې د یار مخ ورو محراب شي
په څنبل د سترګو ځي تر مشرق غرب ... تر نظر د عارفانو تله شتاب شي

---

۱ اک په شبوه او به خیال راشي۔

چپل بۀ هاله دیار شے عبدالقادرَ
کۀ په تا باندِ سُے مهرِیا عتاب شی

## (۱۹۳)

چه ترغوږ م د جرس نارے فریاد شی — ستا د عشق په بیابان وُړک راته پیدا شی
یؤ په سلَ بۀ ئے غم د زړۀ نصیب شی — هر نادان چه د فلک په ورکړه ښاد شی
ټو شیرینے دی دا کښلی لا شیرینے — وے څوک دی چه په عشق لکه فرهاد شی
چه په راغنه مراوی گل د باغ تازه کا — په تاثیر به د صبا کله هر باد شی
نور چه بوس و کنار کاندِ عبث ئے نۀ وی — زۀ چه تش کا نۀ کوم څما امداد شی
هرسرے چه کمینی کا لویی موی — عالم په دا خادم مخدوم شاگرد استاد شی
چه پرِ نۀ نکی وَیل د نیک خواهانو — عاقبت د علیمانو په مُراد شی
په همه د مریدانو پیر شفیق وی — تربیت ئے موافق په اِستعداد شی
چه اَساس ئے د ژوندون دے په باد یښے — پرِ بۀ څۀ د عاقلانو اِعتماد شی

د منصور[1] غُندِ په دار عبدالقادر شه
کۀ بے عشقَ بل گناه ورباندِ زباد شه

## (۱۹۴)

د[2] هغو چه ستا په کوئ باندِ گُزر شی — قرارے بۀ لکه باد څنے بدر شی
همیشه بۀ یک تنها له خلقَ کښېني — د مجنون غُندِ په لورے په ژور شی

---

[1] "ب م"۔ "ح" :۔ د منصور غندِ سنگسار عبدالقادر کا۔

[2] دا غزل په "ح" کښ نشته۔ د "اک" اوَ د "ب م" نه اخستے شوے دے۔

هم هغه به د طلب افسر په سر کا[1] ‏ ‏ چه ئے سر په ژوندون خاورے ستاد درشی
چه د عشق په توری سرلے تن پرے کا ‏ ‏ سرمدی ژوندون هغه ته میسر شی
چه یوځله ځان پیشکش کا وسره اور ته ‏ ‏ خوشبوئ ناله روانه د اګر شی
چه ئے بار د تعلق له غاړے پرېوزی ‏ ‏ په خزان کښے لکه سرو تازه تر شی
سرخرویی به ئے د وصل هغه مومی ‏ ‏ چه په هجر کښے ئے رنګ لکه اصفر شی
په تجرید کښے به ئے مومے مجرد مشه ‏ ‏ تعلق خو هم دا خیال چه د دلبر شی
چه آرام په ځان حرام کا په طلب کښے ‏ ‏ هم هغه به تر مطلوب پورے ور شی
هر چه مشا کا د دنیا د بهار ګل ته ‏ ‏ د شبنم په دود ئے ځائے سترګه نمر شی

په محشر به سر بلند عبد القادر کا
که د یار د قدم خاورے یے په سر شی

## ۱۹۵

که فلک لکه آسیا دانه ئے سر شی ‏ ‏ عارف نه دے چه ئے زړه په کښے لړبر شی
که آسمان د ممسک سترګے مزکه نس شی ‏ ‏ وابسته ئے مخلوقات د بحر و بر شی
په زر کاله ئے ژوندون دے ګمان مه کړه ‏ ‏ چه په کښے د توکل ختینه مدنظر شی
خاورے زر چه ورته یوشی[2] له غه پس ‏ ‏ په کانه ئے کا نړی بوټی واړه زر شی
که اصلی فقیر ئے سیوره په سر وکا ‏ ‏ هست و نیست یه ورته واړه برابر شی
چه خپل ځان د تلی خاورے د ګدا کا ‏ ‏ د پله خاورے ئے په قدر تر عنبر شی
چه خپل ځان تر څراغ[3] ځار کا بیا وسوځی ‏ ‏ کم منځے[4] به د پتنګ تر ځائے ور شی
د زاہد مشرب جدا د رند جدا دے ‏ ‏ له ماہی به کله کار د سمندر شی

[1] ب م :- چه آرام په ځان حرام کا په طلب کښے۔ [2] هیچ۔ [3] شمع [4] ملخ

لاله لاف د ښېنه کړه عبدالقادره
چې ترخه د يار په تا شهد و شکر شي

## ١٩٦

حقيقت د عشق په خُله وَيلې نه شي
دغه اور سبې دِلَ نور سيطه نه شي

هسې درُوند ورے ئې بار په ما ضعيف کړ
چه آسمان ورته خپل ځان نيولے نه شي

درسته شپه نارے وَهم د يار له درده
همسايه مې په شپه خوب کولے نه شي

د زړه مست له د زلفو زنځير بويه
په اُسپين زنځير دا مست تړلے نه شي

په دا باغ کښې د هر کلو نه شګفته شو
په کښې يَو د يار په رنګ ليدلے نه شي

ما د يار د مخ په باغ کښې دے ليدلے
چا وے دا چه تور نرګس مونډے نه شي

په هر دَم عبدالقادر هسې پيالے څښي
چه يَوَ کوټ ئے کاينات زغملے نه شي

## ١٩٧

که شکنځل دِ په بے دردو ترخه لګي
ماته کړه! په ما تر شهد و خواږه لګي

مشتاقان د تيغ په آب سره سېراب کړه
تر ژوندون ئے بنے په تېږې اُبه لګي

بستر کے پټے زړه بېدار لکه غنچه شه
د دولت نسيم د وِيښو په زړه لګي

سنګدلان ئې له ناوک بے بهره دي
په مشتاقُ تر ګلونو پلسته لګي

چه ئې داغ ځما د زړه د داغ په شان دے
په لاله مې خدّ خو خدّ خو لېمه لګي

د بنږو اغزې مې لر په ژړا کړه
چه د يار په قدمونو تېره لګي

يَو ساعت عبدالقادر ځنے خلاص دے
هر زمان د عشق لښکرے په ده لګي

## ۱۹۸

خدائے مِ مهٔ کړه یَوْ زمان څخه خالی — ستا اَندوه مِ دے سبب د خوشحالی

نهٔ له خیالَ خالی هیڅ ښایسته نه دی — وے تا غُنډِ بهٔ نهٔ وی بل خیالی

چه بے ځایَ آواز کا په اَنجمن کښې — د رباب غُنډِ به موی ګوشمالی

د سړی لکه همت هسے ئے فکر — د عالی سړی فکرونه وی عالی

سل جنجالَ سل فتنے راسره دے کا — بیا په ما بانډِ لوم کښېږدی جنجالی

خان و مان ترجانان یارَ صدقه شه — نه یَوْ دے[1]، نه سل زرلکه ، کرو رپالی

چه خپل یار د خادمانو سره شمار کړ

څوک بهٔ کا عبدالقادر سره سیالی

## ۱۹۹

ساقی ے بویه چه وی پر تکالی — خواه پیاله وی مرصّع خواه سفالی

علامت د یار د ډېرے مینے درد دے — روغ دِ نهٔ کا له دردمن سره سیالی

مقدم په ډکېدل خالی کېدل دی — ډک[2] هغه شی چه له زړه کا ځان خالی

چه[3] یَوْ ځل په هل وَهل کا مزکه سازه — د امید تخم هاله کړی مالی

آشنایی کول اَسان دی پت ئے ګران دے — یَوْ یَوْ مرد د آشنایئ پت پالی

عاقبت بهٔ تهٔ هم راپیښے دے خاۓ ته — که په مزکه یم پروت ته په نهالی

---

۱ "ح" :- نه یَوْ دے ، نه سل زرلک چه دی مالی۔

۲ "ح" :- ډک هغه شی چه خپل ځان کانډِ خالی - "ب م" :- ډک هغه شی چه بے زړه کانډِ خالی.

۳ "ک" :- چه یو ځل ئے په بېل کا مزکه سازه - د اُمید تخم ناله کړی نالی ، "ب م" :- چه یو ځلے په دهل کا زمکه ساز..... نال

## شپه اَوْ ورځ عبدالقادر په جدائي کينې
## دواړه سترګے کړے اَوره پَشکالی

### ۲۰۰

ماچه لَب د شکرلبُ دې حُبېيلى
لا مِ اُس له خوږو لب حُبله نښلى

ستا دَ سترګو په خيال ہسے رنګَ مَستِ شِم
لکه چا وى صد سالَ باده لوښلى

کۀ له سترګو راروان شى سيند د اُښو
وران بۀ نۀ شى ہرچې ستا په جبين کښلى

د عاشق د صورت خاورے' د يار مينه
په اَزل سے دواړه دى سره آختلى

له توبرى سره مِ ځان ځکه چه وکښبس شى
ځکه ما د يار توبرى نه دى وګښلى

شکايت د ښايسته وُ د خوئ مۀ کړه
تمُ وفا د بل'' جفا ښه ده د کښلى

کۀ بدرنګ مخ پټوى بارے يو روخ دے
ښايسته د ہرګز نۀ وى مخ پوښلى

يُوَ دلدار چه دلدارى کا بيا مِ نه مونده
په غوښتۀ م دى ملکونه پسے مُتلى

چه مين شوے دڼد زغمَ عبدالقادرَ
په غمونو عاشقان دى ہميش ښُتلى

### ۲۰۱

د قيامت په ورځ بۀ سپک پاسى سپک تللى
په صبا بۀ دروند پاسى چه دروند ځملى

تنها ہځوکه ګورستان لره لاړ نۀ دى
حيَل عمل غاړه غړئ درسره زغلى

چه مِ سترګے باندِ وا د بصيرت شوے
د عالم ودان م وُليدل نتلى

نه دانا بۀ سے باور په ودانئ کا
چه په طمع د سېلاب د اُبو مُلئ

د دُنيا کاروند ضد د آخرت دى
د دُنيا قبول په دين کښې دى رټلى

Marfat.com

نه صحت مومی نه مری ښه تاوېږی — چه په زړه وی د حسد منګور چیچلی
چه نظر م ئې په شونډو بانډ وکړه — وې ئې وشړه له ورځه ښخه بللی
د قیامت له جوکه دار عبد القادر
نه کا چاچه خپل ښنه بد دے تللی

(۲۰۲)

له[1] جهانه ښه رنګ دی یاران تللی — ته به وایې چه هرګز نه وو راغلی
نشانه ئې په جهان کښې موند ے[2] نه شی — ښه ورک شول د هجران سورو نتلی
د بربښنا غنډ ښکاره شول بیا فنا شول — په خپرخپر م ورته هیڅ نه وو کتلی
نه م سترګے په لیدو سره مړے کړے — نه م وو په ډک خُله سره خندلی
نه م زړونه ځبله تش کړل په خبرو — نه م پټ رازونه وو سره ښنیبلی
ناګهانه هجران مخ ورته ښکاره کړ — له مُوږ بیل شول په ارمان سینه داغلی
له احوالے ے خبر نه یم چه څه شول — څوک په بیا رته ځئی نه دی جاروتلی
که خاکونو ته ے ورشم نارے وکړم — په حواب ئے راته هیڅ نه دی ویلی
یا له موږه مرور شول جواب نه کا — یا ئے چا په خوله مهرونه دی وهلی
که ئے وغواړم خبر له خبردارو — دوی پرِ هم لکه موږ نه دی پوهېدلی
که قبرونه ورانوم په کښې ئے غواړم — ما په خاورو په کښې هیڅ نه دی موندلی
نه پوهېږم چه له ګمه لوریه راغله — بیا ئے دی و کم مکان لره بیولی
اے یوه خدایه زر وران د دنیا سرائے کړه — چه آشنا عالم ترځی نا آشنا ملی
چه هردم جرس د کوچ ورته ترغیږی — فراغت عبد القادر څه رنګ تملی

---

[1] "ب م":- ښه شان ده له جهانه یاران تللی - [2] "اک" پاتو نه شوے۔

## ۲۰۳

په طلب ئې چه د تندِ وُچ شی کومی		غم دِ نه کا د حیات اُبهٔ به مومی
د طلب مصلے د پیرو پسے سنگ کړے		گوره څوک به د دلبرو شونډے چومی
چه تلخی ئې د هجران کړه په ځان تېر		هم هغه به ئې د وصل پیاله شومی
څښه څښوه شراب ساقی بیابهٔ ارمان کړے		عندلیب نارے وهی چه بهار درومی
معشوقے وژلی مړه نهٔ دی ژوندی دی		په دا تیشه نامه څهٔ شوُ که مړه نومی

جُدا شوے چه له یار عبدالقادر دے
په هیڅ رنګ ئې اُبهٔ نه درومی ترکومی

## ۲۰۴

کهٔ خبر شے په لذت د ویرانی		اور به پورِ کړے په خپلے ودانی
ستا په تله م غم اندوه نصیب د زړه شو		دریغ دریغ رابه نهٔ شے نادانی
جمعیت م د خاطر په لیدهٔ ستا شی		بے تا خلاص نه یم یوُ دم له پریشانی
ناکامی ور څخه ښه ده په څو. رنګ		چه م وُلیدے د دهر کامرانی
غوهر تیره کا آئینه غبار ئې صافه		د څ آب زیاتوی ګرد د دهقانی
عاقبت به دُنیادار له دُنیا درومی		تنش لاسونه زړونه ډک له پښیمانی
په هزار دشواری کښېنوزی په لاس کښې		راشه ګوره څهٔ رنګ ځی په آسانی
چه په عقل غوبانه شپانهٔ تر بنډ دی		په دا دور هم هغه کاندِ خانی

دانا ځان ناپوه ګڼړی عبدالقادر
تهٔ چه ځان نه دانا وائې نادانی

Marfat.com

(۲۰۵)

ستا چهره لره خدائے تل ارغوانی — که د غم چهره م ده زعفرانی
سر په لاس ور پسے دروم نه قبلیږی — نصیب مه شه د چا دا سرگردانی
مے نوشی تمام شپه کاندِ له لورو — په صبا به ئے په ما وی سرگردانی
خو خو کوانے م اسانے په زمان کا — زه به چهرِ پر بږدم عشق په آسانی
اشارت ئے د دُنیا نالاکول دی — چه صوفی په رقص کا دست افشانی
چه لاړ نه شے په غفلت بیابه ارمان کړے — هر نفس کړه د خپل نفس نگهبانی
چه په مخ ئے کاروانونه دخط راغله — اُس به وشی د شکرو ارزانی
له دُعائے اُس هم نه یم فارغ شوے — که د کمبلیو په خدمت لاړه ځوانی

ورنه عرض سلام د خوار عبدالقادر کړه
چه په کوئ باد گزر کړے د فلانی

(۲۰۶)

چه پیدا وی له یوے قطرے منی — ورنه نه بنایی چه کا کبر و منی
چه خلقت ئے د صورت له خاورو شوے — په هر حال دِ خاکساری کا که منی
له خزان به نه گل د صحرا خلاص شی — نه به پاتے شی گلونه چمنی
په نازک بدن ئے خنه د ململ څرخی — څما یار نه جامے بویه سمنی
تنگ خُله ئے مینا یسته حلقه د گُتی — دواړه لبه ئے نگینے دی یمنی
ته چه بسے زعفرانی جامے اغند ے — زر به کړے د یار چهره کورکمنی
ستا جهاد ته ئے هم ستا نفس پیدا کړه — که ئے کړے عبدالقادر دُشمنی

ملګ ۱ کمنے :- کار

Marfat.com

## ۲۰۷

گوره بیا څما تر څنګ لا کله کښېني — چه په ناسته مې ئے غم له دِله کښېني

چه خندا کا په فریادِ د فراق جنو — کشکګ دے په اور کښې تل تر تله کښېني

یو یو بوټے د ګل بویه په چمن کښې — چه په ښاخ بهٔ ئے شېدا بلبله کښېني

همه واړه ستا د مخ ثنا صفت کا — په هر ځائے چه کښېنی یو له بله کښېني

له ادب درته نهٔ وایم چه مهٔ ځه — ښایسته په خپل ځئ په خپله کښېني

هوډیالے دے چه ئے کښېښوم و لاړ شی — چه د ملاستی[۱] ورته وایم پاسی کښېني

له وصاله دِ محروم عبدالقادر شه

که بے تا ئے په زړه مینه بله کښېني

## ۲۰۸

نور عالم خپل خوب کا رنځوران اخته په نول وی

مزکر نوده که ده ، چه اور وربانډ بل وی

نر ناحقه سترګے د رنجو په بار ورنے کا

کله د هوسیو سترګے نورے په کجل وی

بل مراد مِ نشته په دُنیا کښې بے له دانه

خاورے د غه مُلک شوے چه محبوب پر ېښے پل وی

ع[۱] "ح" چه په وخت د ناستی وایم څه کښېني

"الف" چه وایم په وخت د ملاستو څه کښېني۔

هرچه اول سَوی دی آخر به ښخه کښېږی
خوک به ئے اول کا چه پَس سَوی په اول وی
کله به لا دروحے له ما اے د سحر خوبَ
خوب بے غمَ نهٔ کا چه په مخکښې ئے منزل وی
فکرلېونی د صبانهٔ کا ځکه خوښې وی
غم د هر سړی په اندازه د طول امل وی
هرچه محبت لری د یار د تورو زلفو
تل به ئے په زړه کښې فکر لتونه مطول وی
ما په زړه ویشتلیه ! فریادونه کړه په زورَ
ستا سوی نارے په ما شیرینه ترعسل وی
څهٔ وایے و ماته ' ما نه لاړه خطرناکَ
ښځ پروا م نشته کهٔ دِ خیال راسره مل وی
تل که آه فریاد **عبدالقادر** کاندِ کرم نهٔ دے
بیل له فراغتَ همیشَ له یارَ بیل وی

## (۲۰۹)

لوئے لوئے غرونه دِ په واورو تل ودان وی
چه رودونه ئے په مزکه را پرېشانٌ وی
په ښخو مزکیوخوځه وورہ بارانَ !
ښے اُبهٔ کاندِ ترخ بوُیَ پے روانٌ وی
په چمن کښې ئے بد بوئی کل شگفته شه
زاغان ورشی ' بلبلان تِرکرېزان وی
په ښخه چمن وَرځه د سحر بادَ !
چه نسیم ئے په هرځائے عنبرافشانٌ وی
چه په راغلد ئے د باغ گلونه واشی
همیشه د ښخه باد په ملک وزان وی

۱ ،، ح ،، هرچا - ،، ب م ،، - هر مُلک .

چه پتنګ مشرب پیدا کړي په معاش کښې — د هر چا چراغ چه بل شي په دامشان وي[۱]

مبارک هغه بنده چه آخر بین وي — کُل محنت راحت وَ دَهٔ وَته یکسان وي

په رموز دِ د هر څهٔ وُویل په لږ کښې

پرِ به پوه عبد القادرؒ سخندان وي

## ۲۱۰

بیا م شي زاړهٔ غمونه په زړهٔ نوي — چه د یار په بورجل رالیشم یارانهٔ وي

حال کهٔ وایم وَ عالمَ ته منصور بږم — کهٔ ئې پټ ساتمَ په زړهٔ کښ زړهٔ م چوي

د عالمَ له ویرې آه وُکښلے نهٔ شمَ — په کوګل کښې م دننه وُشول لوی

په صحت ئې ناوضا په درد بے صبرَ — د ګ‌ے هسې رنګ زحمت علاج به څهٔ وي

فرهاد غر په عشق کښې کند، زهٔ صورت کنم — وَ منصف ته به څما زیاتے تر دهٔ وي

دهٔ کهٔ یار ته وَله جوړه د شودو کړه — تل روان د وینو رود څما تر زړهٔ وي

چرِ نهٔ وي، رنګ ئې هېر کړم په هجران کښې — په وصال کښې به م خَیر یار ته کاته وي

ستا د سترګو خیال پرِ و وري ځکه ژاړم — نرګس تل تروتازه وي چه اُبه وي

په پرېښول به د جهان له غمَ خلاص شې — خلاصېدل د غاښ له دردَ په وُکښلو وي

وُبه وینے د یار مخ عبد القادرؒ

که دِ تل ود پسې دواړه لیمهٔ سرهٔ وي

## ۲۱۱

د ژوندون به ئې څهٔ حال حلاوت نهٔ وي — هر سړے چه په دُنیا بے یارَ ژوي

۱ "ح" پرافشان وي.

Marfat.com

ځما دِ خدائے په دُنیا نه لري بے یاره — له دُنیا تر یار په خوا دِ ځما تله وي

چه یوُ غم را باندِ تېرشي وایم خلاص شوم — نور غمونه را پیدا شي نوي نوي

یوُ مجنون شوے اوُ نوے د عشق نه وو — مینے ډېر کړل تر مجنون شوي او نوي

څه حاجت چه ئے پېښتنه کړے له حالَ — خود ښکاره دي د هجران د لمبو سوي

چه په کښِ نه مهر مینه نه اِخلاص وي — تر ودانَ لا وران ښه دي هغه ژوي

محرم نشته چه خپل حال ورته بیان کړم — نا محرم ته وایه نه شي زړه مِ چوي

مسل فتنے چه بېداري کا بېدار ېږي — بخت ئے ویښ شي چه په غېږ کښے ئے اوده وي

په نور څه عبدالقادر نه رغېږي

په هجران کښِ د یار یاد دارُو د زړه دي

۲۱۲

بوئے ئے نه ځي له خبرو د بهي — چه تشبیه د یار د زنې کا بهي

لاس مِ ورو نیسه په لاس کښِ لاس دِ ماتشه — چه پرِ وُنه شي زخمونه د بهي

دَ دُنیا خربښت آماس دے و دانا نه — و نا پوه وَ ته ښکارېږي فربهي

مشتاقان کله تمیز د نیک اوَ بد کا — کله صاف نشته ساقي را ځے تهي

په اُمید د خپل مخدوم د ستّاري — واقع کېږي له خادِمَ کوتهي

اِمتیاز ئے د سپین تخ له خاورو نه شي — چه ئے نه پرېښو لږ گرد په یک تهي

کله ئے ډوب کا په دریاب کښِ تش به ووځي — چه ئے نیکے لهٔ اَزلَ شه تهي

هغه بار چه آسمان نه شي اخستلے — په کم زور به ئے عبدالقادر سهي

۲۱۳

Marfat.com

کۀ بنسېرے کاکه شکنځے هر چه وایی
هیڅ مۀ وایه ښایسته دے بانډ ښایی

دبهار په وخت هم دا وایه مطرب
چه په کښلیو مینه نه ښنایی نۀ پایی

خلقۀ ئے انتظار دی ولیدو ته
گوره ځۀ به دِ دلبر کُم یوه ته نمایی

هر مرغۀ دِ د چمن په خپلۀ ژبه
ستا ثنا کا ستا صفت کاندِ تا ستایی

په دُنیا به مینه ځۀ عبدالقادر کا
چه آخر ئے خواه ناخواه ورځنه بیایی

# ے

## ۲۱۴

وایم وایم چه چا نه وے بیا به وایے
مل عمل د ښو کوه عمل به بیا یے

چه په دبر مشهود دولت د دُنیا تول کړے
واړه سعی د ضائع ده چه نۀ پایے

د نعمت کتل آسان سائل ئے گران دی
فهم وکړه چه کتلی نه کړے بایے

ځان غبار کړه د سعه د صبا لارے
چه گُزر په کوڅه کا د دِلرُبایے

دواړه پښے ځما په خوږو سترگو کښیږده
چه د خوږو سترگو پښے دی ستا پایے

ستا په مینه باور ځۀ عبدالقادر کا
چه هیڅوک درنه پوهیږی چه دچایے

## ۲۱۵

چه ببرون کا له خاطرۀ عنبریاتے
هم بعضۀ به ئے په ځ کا ستړکے لواتے

چه ئے نه په نوروخوری نۀ ئے په ځان خوری
عاقبت شی د بعضو خونے میراتے

رب مرگ د خاکسارانو عُند راکړه
چه وارث نه م سپهر ایرے شی پاتے

تایپانو بیا نو بے کړے چه دلبرے
لورے زُلفے په سپین مخ کړے ماتے

د برخیز رجوع وَ اصل وته کښېږی
ځکه دروغی وَ بدذات وَنه بدذاتے

سنے نۀ شی په درگاه د دِلبرانو
کۀ ورځی عبدالقادر په ننواتے

Marfat.com

## ۲۱۶

کهٔ د درست جهان بادشاهٔي په هوا ځې — عاقبت به له جهانه بې نوا ځې
کهٔ حشمت دې د سکندر تر حشم ډېر شي — خالي لاس به ځنې بيا د روې يوا ځې
چه په تا بانديْ مين ورته دې شاګرد — له غليم سره دا ښه خوا په خوا ځې
د غفلت پُنبه راوباسه له غوږو — چه کنړو غندې کوڼر نه دومره بشنوا ځې
ستا په دا خندا خندا شي د هوشيارو — چه آخر به ډېر ژړا په ډېر ژړا ځې
کهٔ خاطر د تعلق له بار خلاص کړې — د رحلت په وخت به ناله بې پروا ځې
په عزت په حرمت را غلې و دُنيا ته — په بد خوی تر شرمنده خجل رسوا ځې

څو قاصد لا د طلب را غلې نهٔ دې
بهتر دې **عبدالقادر** چه په خوا ځې

## ۲۱۷

په وَيل د کُم بې رحمَ ځيګرو ُ ځې — چه دا ښه ډېر پس را پيښې بيا زر ځې
د عاشق د سترګو غر نهٔ حجاب ېږي[۱] — ولې ښه شان څ نغښتې په منزل ځې
د لوېئ په مقام به ناله کېښني — کهٔ د ورکړو د مړانې په وزر ځې
د هوسيو سترګې تورې، د باز سترګې وي — خُونړېزي تر تورو سترګو کالا زر ځې
در په هېږم چه به زر مصطلګ کړې — چه دوېمَ وَته ډېر ډېره قلندر ځې

تصديع مهٔ کړه کُښتن کاه وَته په سر ځې
کهٔ په وړو د بېدل **عبدالقادر** ځې

---

[۱] حجاب کېږي۔

## ۲۱۸

نن په درست جهان کښې غوره یار څادے — په دیدن ئې سرشندنه کار څما دے
د خزان ویره ئې نشته تل تازه وی — کښېنه ځئې همېشه بهار څما دے
په وار وار لوړو پیالے د میو نوش کړے — ساقی اُس ئې وَما راکړه وار څما دے
وُئې مه شلوے څما له غاړے خدایَ — د خپل یار د زلفو تار زنار څما دے
د هر چا په گردن پروت د جینے بار دے — تر هغه وارو چه دروند دے بار څما دے
چه یَوُ دَم رِم له خاطِرَ نه بیلیږی — لا له تانه د تا غمَ غمخوار څما دے
درستَ شپه ئې عشق بازی کوم له درد — په دا څه شوُ چه جُدا نگار څما دے
که دسته د گلو راکا هم به خار شی — په اَزَل چه نصیب شوے خار څما دے
بنایسته لکه گلونه د پسرلی دی — پرِ همېش لکه بلبل چېغار څما دے

که کرم راباندِ کا **عبد القادر** یم
که حساب راسره کا زیار څما دے

## ۲۱۹

چه حجاب تر منځ څما څما د رَب دے — اول زهٔ دویم عالمَ دریم سبب دے
تر شیطان چه لا غلیم څوږ د دین دے — اول نفس دویم شیطان دریم غضب دے
چه سړے پرِ دوست دشمن وَته عزیز شی — اول حلم دویم جُود دریم اَدَب دے
دا دَرے دَردَغل[1] به واخلے له دَرد منو — اول غوږ دویم لیمه دریم سرویب دے
چه دا درے خیزونه پرېږدی مراد موهی — اول نامَ دویم آرامَ دریم طرب دے

---

[1] د آشنا

ودانی د کاینات ده په درے خیز — اول صبر، دویم غم، دریم عتب دے

چه مطلوب ته رسوی عبدالقادر
اول صدق، دویم شکیب، دریم طلب دے

٢٢٠

نن م بیا تر بلو شتالانو زیات دماغ دے — چه ساقی راته ولاړ په لاس ایاغ دے
چه ئے داغ د غلامئ را باندِ کښېښو — افتخار م په دوه کونه په دا داغ دے
رڼائي ئے نه په نمر نه په سپوږمئ شی — د عاشق د غم د خونے غم چراغ دے
د امید گلونه زر پژمرده کیږی — چه دایم تروتازه دے دیاس باغ دے
د تشویش په تله ئے لا تشویش زیاتیږی — فراغت م د خاطر په نه فراغ دے
ښه په ښه باندِ مین وی بد په بدو — طلبګار د بازو باز دزاغو زاغ دے

چه دَ خلے وعدے کوے عبدالقادر ته
دا ویل دِ په رشتیا دی که دلاغ دے

٢٢١

د یوه په غولی وِیر، د بل سرود دے — چرته غم چرته ښادی، ددنیا دود دے
په نورخه ئے صحت نه کیږی له دردَ — په هجران کښې د یار یاد د خاطر سود دے
په ډیر والی ئے لا غم په سری ډیر شی — بیهوده دِ په دنیا پسے مسنود دے
رنګین شعر م نه ګنړه خبرے — دا روان ځما د زړه دوینو رود دے

چیر نه چه خالی لاس ورځے ووزے
خرید کړه عبدالقادر بازار تود دے

Marfat.com

## ۲۲۲

نه پوهېږم چه په څه دِ زړه آزار دے — چه دا هسے خپل پردے له مانه زار دے
چه د زړه جفائے وړم وربانډِ سپک شم — ګنړه کړ سرے له مانه وفادار دے
وے ئے نن به آزمایش کوم د نورو — سبَه حاضر خواب م کړه بندهٔ تیار دے
له پتنګ محبت د شمع د بر دے — چه اول ئے په زړه بل د مینے نار دے
په رشتیا وَیل دلګیر په دروغ خوښ وی — همیشه د منافق سړی دا کار دے
عاقل څکه مقام نه کا ترِ تېرېږی — دنیا پُل د آخرت دارالقرار دے
ننداره م د جهان د چمن وُکړه — په هر دم په چا خزان په چا بهار دے

هیڅ پروانه کړم له چا عبدالقادره
په ښکاره نارے وهم فلانا م یار دے

## ۲۲۳

چه په واړه کښلیو بر دے — هم هغه ځما دِلبر دے
بر خوردار به څنے د بر شی — سر تر پایٔ واړه بر دے
مخ ئے نمر شونډے ئے لعل — قد ئے سرو صنوبر دے
چه قانع په خُشک و تر شی — هغه شاه د بحر و بر دے

چه په بدو بانډِ ښه کا
هغه وُګنړه چه بر دے

---

۱ دا غزل صرف په "ح" کښ درج دے په نورو نسخو کښ نشته

Marfat.com

## ۲۲۴

اشتیاق د لیدو ډېر دے | د بیان نه حدَ تېر دے
داګمان کړه له زړه لرِ | چه مِ یار له دِلَ هېر دے
زړه مِ غوخ کا صورت روغ دے | د هجران عجب شمشېر دے
که ژوندون نه هر څه خوږ دے | بے اشنا زهر ګنډه ېر دے
هوس نه پرېږدی چه ورشی | د غم کوټ نه زړه چاپېر دے
کشمیر هم په مهجورانو | رنتمبور اَوَ ګوالیر دے
د زړه سوے دے چه بے یارَ | په کرګ یا په بُنېر دے
ستر کے[۱] سرے عبدالقادر کا
د هجران په غم کښِ کېر دے

## ۲۲۵

د رحمت دریاب هغه وَته په جوش دے | که دایم ژړا ژګېروے کا په خروش دے
"لا تخف" اوَ "لا تحزن" د هغه بخره | چه له ډېرَ غمَ نېش وربانډِ نوش دے
له پښتوے ویره شی له مزری نه شی | چه بے خدایَ ویره کا به معنیٰ موش دے
د دنیا په سرائے کښِ[۲] و آخرت نه | کاروانونه ملی لېږدی پوشا پوش دے
چه به پروت وو لب په لب له شکرلبٌ | نن په څو له لوړو خاورو هم آغوش دے
په[۳] بها ئے دواړه کونَ ورکول شی | که پیاله ئے څوک اَخلی مے فروش دے

---

۱ "اک":- وَ ژړَوته ۲ د مقطع دا شعر صرف په "ذ" کښِ وموندے شو.
۳ آخری څلور شعرونه بسره د مقطع په "ح" کښِ نشته.

بیا به نه مومی زنځیر د یار د زلفو
چه په سر کښې ئے لا پاتو عقل هوش[1] دے

د سکوت[2] هنر له ګل واخله بلبلَ
چه په سل ژبے آواز نهٔ کا خاموش دے

اُس ښکاره عبدالقادرؔ مے نوشی کړه
چه صاحب دِ ګُنه بخش وخطاپوش دے

## ۲۲۶

څه دِ لګه ګرد دے تر نسبت ئے ګرمثال دے
څوک به هسے وایی چه ګرستا دخ مثال دے

هائے، د خدائے د پاره یوُ دَم مهٔ درومه له ما نه
یوُ زمان بیلتون د په ماخوار بیلتون د کال دے

سخت وی په سړی بانِد نبڑدے بیلتون تر لرِ
یار چه لیدهٔ نهٔ شی تر دکن بتر د بوال دے

خلاص دِ له یوه جنجالَ نهٔ وُم بل را واخلے
هره زمان دِ ما سره په سل رنګ جنجال دے

وایی چه وبال دے چه نظر کا وَ ښهٔ مخَ ته
ما په دواړو سترګو قبول کړے دا وبال دے

حُسن یوُ اثر دے چه په مخکښِ د چاوُشی
نه چه کړهٔ وړهٔ ښهٔ لری ښغه صاحب جمال دے

دَم کهٔ مِ همدم دے هیڅ پکار ځما را نغے
لږ چه د لا سه مِ دِ خاطر کا، دیار خیال دے

څهٔ برکت ناک دے د عشق غم، ورنه حیران یم
څو خلق پرِ مست شه، دے لا هسے مالامال دے

هرچه سوختګان دی په خاطِر به ئے ګکبږی
اور مِ د سینے چه سرو هلے تر مقال دے

زړهٔ لری لو نګر عبدالقادرؔ تر بادشاهانو
څهٔ شوکه په کور کښِ دُنیا نهٔ لری کنګال دے

## ۲۲۷

د ښغو چه اور بل شوے په کوګل دے
د زړهٔ سود ئے د آهونو په وُکښل دے

---

۱: "اک" ۔ "ب م" ۔ ادب  ۲: "ذ" رنګ۔

Marfat.com

دبر مین ئے سره بیل کړه نه صبرېږی — بیلتون پسے رنګ لا خیر په بیلول دے
زړه م لا د جدایئ په اور ورتېږی — که په زړه کښې م د یار محبت تل دے
څوک څما تر یارَ ښه دی په خلقت کښې — که جفا راسره کاندِ بخت م خپل دے
ترو په څو به ئے خلاصے له څینه کېږی — په ازل چه اور نصیب څما د دل دے
له یوه څراغ نه دروهی بل څراغ ته — پروانه وته وصال څکه حاصل دے

څه باور ئے په یاریٔ عبدالقادرؔ
چه چاپیر تر هرهر ګل لکه بلبل دے

(٢٢٨)

د همه ښادیو سر د یار الم دے — چه فریاد ور څخه کاندِ ښخه ګرم دے
خو دِ زړه هو ښره ستم کوه دلبرؔ — په تندی م قبول کړے ستا ستم دے
شکسته په شکسته باندِ عزیز وی — څکه زړه م ستا و زلفو وته خم دے
مګر ستا د مخ نمر وخېژی رڼا شی — ګنړه درست جهان په ما باند تورتم دے
د[ع١] ښادئ امید دِ لرِ کړه له دِلَ — چه په تا باندِ مین شه تل ئے غم دے
آئینه چه ستا د مخ ګوری سکندر شی — چه په لاس کښې جام د میو لری جم دے
عاقبت به مخ تورن لکه قلم شی — هر سړے چه دوزبان لکه قلم دے
ترایدا ئے لا پخوا سزا د کړو ده — په معنیٰ کښې ظالم مار دے یا لړم دے

منت بار د یار د خیال عبدالقادرؔ
چه بهشت درسره مل په غرّه په سم دے

---

ع١ دا شعر په "اک" کښې نشته۔

Marfat.com

## ۲۲۹

محبت[1] په نور په سپين راغلے نه دے — په اصيل اؤ په کمين راغلے نه دے
صد ساله مؤمن کافر، کافر مؤمن کا — په مذهب په کيش په دين راغلے نه دے
عشق عطا ده ازلي، چه په چا وُشي — په ارشاد اؤ په تلقين راغلے نه دے
بيهوده په عشق کښې خواست کوي د صبر — د دے خواست هرگز آمين راغلے نه دے
په[2] واتله ئے بنايسته د مزکے مخ شه — په دا شان ښوک په زمين راغلے نه دے
په دُکان د عطار هو نبره خلق بند دے — ښو په زلفو عنبرين راغلے نه دے

نه تنها عبدالقادر له تازه خوږين وکړي
ښوک له تا نه په زړو خوږين راغلے نه دے؛

## ۲۳۰

د خاطرم له اندوه ځکه اندوه دے — په سيلئ جُنبش د کاه شي، نه د کوه دے
خالي لاس، د ننه زړه ئے دک له مينے — بے پيوند آزاده عجب گروه دے
د فقير له غم ځکه، چه غمژن وُسي — په خاطر د دُنيا دارو غم اندوه دے
چه خبر ئے شي له مکر ځکه تبښتي — د دُنيا ياري، ياري مه کنړه دروه دے
مال[3] و مُلک حشمت ئے هيڅ پکار وا نغله — هر بادشاه له دُنيا لاړ په آه و اوه دے
مراد بخش مراد وُنه موند، نامراد لاړ — سينه داغ ځکه جُدا دارا شکوه دے
خُرمي د شاهجهان، جهان پرے نه ښوه — اورنگزيب به ځکه خوبني کاندِکه پوه دے

---

[1] دا غزل صرف په "ح" اؤ "اک" کښې شته - په "ب م" اؤ "ذ" کښې نشته۔

[2] دا شعر په "اک" کښې نشته۔ [3] دا آخري درے شعرونه په "ح" کښې نشته۔

(۲۳۱)

نه لیوانے د لاله په سینه کے دے
په دا باغ کښې چې بے کے دے ښخه کے دے؟

چې په تخت د قناعت د پاس کښېناست
کمینه بنده د ده کاؤس اؤ کے دے

هرچې ؤخورے ښخه ستاشي لوربه پربوځي
دا دُنیا د مهمانئ نښا ئکے دے

په صورت ئے پرهار نه، زړه م سُوړے کا
د هجران په لاس کښې ښه ناوکے دے

چې به خوئ د ور کښې پیداشي زرئے ورکړه
بوره ئے ؤخېږي له مرکے څو تنکے دے

په ورکړه ئے مه ښه خوبښ بیابه ئے آخلي
دا جهان تر ېلک لا په خوئ سپکے دے

گُندِ ستا په فضل خلاصی عبدالقادر شي
په طاقت کښې څو هر گوره تښکے دے

(۲۳۲)

بیهوده د چا په چا بانډِ ہائے ہائے دے
په خپل ځان که ژړا کا د ژړا ځائے دے

گزشته عمر همه په لهو تیر شُه
آینده که په دا شان ئی تما وائے دے

که د جاه، که د عزت که خوئے و رُونړه
زړه پر مه تړه عاقل تښنمائے دے

محبت د مولا کړه مولا باقی دے
په فانی چې محبت کانډ بځ رائے دے

نن سحر صبا بلبل ته نصیحت کړه
ښخه گل ورپسے غواړه چې دېرپائے دے

د هوا په اُس سوره په فهم درومه
په دالار چې ہاتیان ښنلی ښه لائے دے

لاف د خدائے د بندگئ محکوم د اورو
د هرچا چې حکم ؤرے ښخه دِ خدائے دے

که ئے شپږ اقلیم وی چې اُوم غواړی
ؤ ښخه ته بادشاه مه وایه گدائے دے

د همائے د سیوری څه پرواه لرینه
چې قانع په خپل قسمت شه خود همائے دے

Marfat.com

د هغه شهسوار پېې وُره عبدالقادرُ
چې د اَس ئې د فلک د پاسَ پائې دے

## ۲۲۳

*که په ژبه دِ نوُم نۀ اَخلم هېچرے | په تنش نوُم به دِ هُم سودکوم دِلبرے
اے له سترګو بېرته' هرزمان زړۀ ته حاضرے | نه له تا زړۀ نړیم' نه ته ځما نه لرے
*د زاهد د سترګو آب همه په ځائے دے | څوئے سترګے باندِ نۀ دی برابرے
قرارے آرام ئې ورک شي تل تر تلَ | چه په زړۀ ئې ستا د غم شتئ شي سَرے
شُونډے ستا لکه نابات هسے خوږے دی | تلخ ویل ځنې نه ښائي لب شکرے
که مِ سیخ په سترګو ښخ کا خدائے دِ نۀ کا | چه به سترګے کړم له تا نه لرے بَرے
د ښو سیوره دخار په زړۀ خبرخبری | له حیا چه کوُز کوُز ګورے نازپَرورے
د خطا د مُلک نافے وارۀ خجل شي | باد چه ستا زُلفے خورے کا مُعنبرے
*که دِ چېرِ د آشنا په کوُی ګُزر شي | د صبا بادَ ځما سلام پرِ ورے
*زۀ به ځه ځنے صانړه کړم، یَوُ زړۀ نۀ یم | په غمزو ئې خلقے کړے ډَبرے

خُشتک وتر عبدالقادر د دُنیا پرېښول
ورته بس دی وُچے شونډے، سترګے ترے

## ۲۳۴

زۀ که په رنګ بدیم کښلیه عاروے له ماکړے | چارے د قسمت دی زۀ ئې زشت ته ئې زیبا کړے
یَوُ ځلهَ بیا راشه په ګلونو ګُزر وُکړه | اے د صبا بادَ چه بیا نخښتی غنچے واکړے

ما دا شعر صرف په "ر" کښې دے۔ ما * دا څلور شعرونه په "ح" کښې نشته

Marfat.com

گل دِ په هجران کښې صد پاره خپله سینه کړه      سرے دِ له فراق لاله سترګے په ژړا کړے
وے له شېدا بلبلے څخه جار با سے ګل!      ته په دا خوبئ هم دده ناروا رسوا کړے
لا خوشبوئ ورکا عُود چه واچوے وَاور ته      زه به وفا زیاتَ کړم که ته زیاتَ جفا کړے
ته د حسن نمرے دا نور کښېنلی لکه ستوری      کُل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړے
تل به باس وایے درو څخه عبدالقادر ته
کشکے بل تر دده نه مخلص یار چېرِ پیدا کړے

## ۲۳۵

لا مانږے دِ زړے نه وی نوی بیا کړے      خدائے خه غم لره له ما سره اشنا کړے
یَو زمان راسره نه ئے بے جفا نه      په هر دَم راسره سل رنګ جفا کړے
نه دِ ویره شی له آه نه شرمیږے      په هر څه چه زه څښېږم هغه زا کړے
له اَغیارَ سره ناستے په مجلس کښې      چه ما وَوینے روان شے راته شا کړے
وایم مه خاندہ بل چا سره زه سوزم      ته څما له ګسته لا زیاته خندا کړے
هُم مِ خوږ په تېره تېغ د تغافل کړے      بیا وَیل کړے له نا خوال چه خوږ چا کړے
په ترخه ویل مِ کله نه کے ښه کړه      که په ښو خوږو خبرو عار له ما کړے
چه په ژمنه د راتلو درو څخه ئے      دا د نه راتلو وعده وے رښتیا کړے
بے تا نه وینم په سترګو لا به کله      په دیدن څما ړندے سترګے بینا کړے
یَو څل راشه څما خوار کړه مېلمه شه      چه په راغله مِ د غم خُونه رنړا کړے
چه د چینے لاف کړے عبدالقادرَ
لوبیه دا چه ترکه خپله مُدّعا کړے

Marfat.com

## ۲۳۶

بیا دِ زُلفے پہ فلبلو سرہ تر کړے — گُم نیک بخت وی چہ بہ غبرئے معطّر کړے
لہ نظرہ مِ پہ حال کړہ ذرہ تمثال یم — پہ دا شکوچہ ئے تہ دُحُسن نمر کړے
بادَ گرد ئے د کوشے رالرہ راوړہ — چہ محلت مِ پہ عنبرو معنبر کړے
شکر خدائے لرہ چہ سرئے کړے دکبنلیو — بیا لہ لپسِ ئے حما د زړکی سر کړے
بوئے بہ ستا د محبت خفہ رواں شی — کہ پارہ مِ د نافے پہ دود ځیگر کړے
پہ نازکو شونډو بار د پالو مہ پړدہ — خدائے چہ شونډے تا سرے پانوئی کړے
صنوبر غنډِ پرِ زړونہ اَوبزاند شول — پہ سینہ قد ئے پہ مثال د صنوبر کړے

سر بالہ لرے سود من عبدالقادر تہ
کہ پہ تور د محبت ئے چرتہ وَرکړے

## ۲۳۷

پہ[1] ورځ لاف وہے د سولوځاپتنگ کړے — پہ مابنام چہ چراغ بل شی ځاپہ ځنگ کړے
پہ راحت کبنِ تل حما پہ غبرکبنی پروت وہے — پہ نکبت کبنِ اُس حما لہ یارئ ننگ کړے
د یارئ اَول قدم موافقت د ے — د ملنگ یار ځان بویہ چہ ملنگ کړے
د نظر صیقل سبنّہ ځ وتہ کتل دی — لہ نظر مِ بہ کلہ لرِ زنگ کړے
اَشنا ستا لہ بے رحمئ مِ زړہ خوی — زہ حاضر، لہ بیکانو سرہ جنگ کړے
خفتکان بہ د قالین پہ رقص کړ شی — کہ تر غوږو ئے د پایلو نرے شرنگ کړے
ستا پہ لاس د غمزے تورہ، زہ تسلیم یم — بیا پہ کُمر گناہ حما لہ وژلو ننگ کړے

[1] دا غزل پہ "ح" کبنی نشتہ۔

Marfat.com

ما په تا پسې په خپلو وینو رنګ کا — نور به یار پسې جامې په خاورو رنګ کړې

هاله لاف د عشق کوه عبدالقادره
کۀ په یار پسې جوړ کور د دنیا رنګ کړې

## ۲۳۸

نه چه د واړه سترګې تورې په کجل کړې — سپین چشمې د کشمیر واړه خجل کړې

د چوړې[1] آواز دِ لا عقل رُبا دے — څۀ حاجت چه په داریال کښې جلا جل کړې

خاورے شوی ګلرخان مِ زړه رایاد کا — ننداره د نوبهار په ګلو جل کړې

ګلَ! کښتکه په دا باغ راغلے نه وے — څما زړه به د فراق په لمبو جل کړې

لکه خوک د لاله زار په سپل دروی — وُسره اور ته به درحم کۀ ئې بوجل کړې

د هوا لړے دِ پرپوتے په سترګو — چه په هسې سمه لار کښې ئے اُرجل کړې

هر ورځ عبدالقادره نصیحت کا
کۀ ته غوږ په وعظ کړوینو د اجل کړې

## ۲۳۹

ربّ[2] ستا قدرت کمال دے کۀ کرم کړے — وران کاروُنه مِ به ساز په یوه دَم کړے

څه یم زه، څۀ مِ مقصود، څۀ څما کار دے — په زمان پوُره کاروُنه د عالم کړے

لکه غر په سرے بردی لکه خس اَخلی — سپک درانه کاروُنه واړه سره سم کړے

د همه چارو اسباب درته موجود دی — ستا ګدا ئے بادشا ګدائے دا تو ئے حشم کړے

په قدرت هسے نوُر یو سے له آفتاب — ستوری وُبرپښی عرصه جهان تور تم کړے

---

[1] چوړۍ، چوړے - [2] دا غزل په "ح" کښ هم نۀ دے شو.

د پر بناد من په عشرت درسته شپه کا روڼو　　په صباځ د عشرت په ځاځ ماتم کړے

شپه له ورځ را پیدا کړے ورځ له شپې نه

وَ مُرده ته ورکړے دَم ژوند ے بے دَم کړے

۲۴۰

لا به کله باران وُکړے، چه به سوی بوټی شنه کړے

ستا وَ رحم وَته ګوری، په کریابو رحم وُکړے

په درګاه درته پراته دی، هم له تا نه په غوښته دی

ستا وَ داد ته په کا نه دی، په خپل دادځ زړونه ښه کړے

نامراد که په مُراد وی، که بناد من وی که نا بناد وی

واړه تا ته په فریاد دی، د همه و زړه ته کړے

مُسلمان که کافران دی، عاصیان که مطیعان دی

رزق خوړونی ستا د خوان دی، رزق له هیچا دریغ نه کړے

پیدا کړے آتش له خسَ، ورځ پیدا د شپې له لمسَ

بنکاره شهد له مګسَ، په قدرت وِ یینه شوده کړے

چه په چا نه شی په تا شی، چه په تا کبری په چا شی؟

په حیرت ورته دانا شی، رب هسے رنګ کړه کړے

زه عبدالقادر بدکار یم، معصیت کړم ګنهګار یم

بیا له تا نه اُمیدوار یم، په خپل فضل مِ زړه ښه کړے

۲۴۱

Marfat.com

چه یو ځل ئې د غمزې په تېغ زخمي کړے | له احوال ئې بیا وې بې غمي کړے
ستا په راغلو م د خوږ خاطر صحت شي | په خالي راتلنه بیسے بې رحمي کړے
یوه ورځ به دِ ذرّه نور کاندِ له مانه | چه غماز سره دا همبره محرمي کړے
ځما ذرّه لکه سنګي وو د یاقوتو | د ازل نقاش ته لیک په داغمي کړے
شیخ! درغلم سرے شوندے سترګے تورے | راته څو د پارسایئ محکمي کړے

په هر دم دِ منت بار یم د یار غمه
چه له دم سره م بیسے همدمي کړے

۲۴۲

محبت په کمبلیو کا تمام وګړے | چا دا اوردے بنکاره کړے څوک نغړے
ثمره ئې خواه مجاز خواه حقیقت دے | په انسان کښې ئې کړے د عشق زړے
ځما داغ عارض نه دے چه به ورک شي | د لاله غوندِ م داغ ځا تې راوړے
ګل ګرېوان په نغمه خېرے د بلبل کړه | نسیم نه دے ګرېبان د غنچې سپړے
را به ووزي عاقبت د غم له چاه | چه نیولے ئې په لاس د مینې پړے
نه دے مرد چه واخلي ورکا مرد هغه دے | چه کتي په خپلو غړیو پوخ کا غړے
چه څوک نه کاندِ آزار نه له چا اخلي | تر کسرئ تر حاتم ځان هغه تېر کړے
که سفله څښتن د جاه شي په دا څه شو؟ | په معنی بربوکئ پورته کړه خسړے

زه خټک د یار په غم تازه شم
غوره خیل رحمان که شو ور څه سترے

۲۴۳

ما د مینے خوی له ځای دے راوړے
تهمت اُس را بانډ وایی عام وګړے

په ښخه نَفَس که وُخیژی راضی یم
چه م بے د یار د یادو سره نغړے

مُرده دِل ذِ له سینے نه ژړه بیرون کا
یَوُ ساعت په کور کښې نه پرېږدی څوکړے

منه چه رازم د خپل یار وَته ښکاره شو
نه اَغیار نه چه هر چا وَته ئے سپړے

ستا د رحم تر سیلاب پورِ څه دی
دا ځما ګناه مثال لکه خسړے

په مانړے ئے ښخه هم راځنه یُووړ
چه راپاتو وو د صبر خړے پړے

جمعیت چه له دنیا په دنیا غواړی
ښخه غړی په معنیٰ د شګو پړے

په حرص به ئے نه کم نه به ئے زیات کا
خپل قسمت ئے دے هرچا لره ورکړے

په خاکونو به ئے دا ګلِ صد برګ شی
چا چه ژړه پاره پاره وکړ نه وړے

که درست عمر د یار غم عبدالقادر کا
خدائے دِ نه کا چه به شی ورځنے سترے

## ۲۴۴

دا ځه خویَ دے مبایستوُ عادت ستا
چه هیښ وی له عاشق شدت ستا

سرومال ستندل زینت د عاشقانو
عنایت، مهر، نمنځنه زینت ستا

نتیجه ئے نور ځه هیځ نه وی بے سوزَ
په معنیٰ کښې لکه اور ځ قربت ستا

چه پتنګ غندِ ځان وسوزی اِیرے شی
هم ښغو نه میسر شی وُصلت ستا

د حرفونو لوښے تنګ معنیٰ وی ډیرے
په بیان نه ادا کیږی صفت ستا

ګل ځه، خار و خس به هم واړه خوشبوئی
که نسیم په چمن[۱] واوری نکهت ستا

چه شاعرئے له ځه څیز سره تشبیه کا
همېره نه وی نزاکت لطافت ستا

[۱] ح: په سحر

چه ولاړ وی شپه او ورځ په خدمت ستا سے ترحم ئے په احوال څهٔ خو بایده دی

کله توان عبدالقادر لري د شعر
ویوی م همبره د پر محبت ستا سے

## (۲۴۵)

که مبتکاره شی درویشانو عزت ستا سے
کد ایان بهٔ شی شاهان په دولت ستا سے

د دُنیا نوبت، نوبت په نوبت درومی
همیشه وی بے زوال نوبت ستا سے

څهٔ شُونن کهٔ م څوک نهٔ پرېږدی وَدَر ته
خبردار[1] دی چه پر په قدرو قیمت ستا سے

صبا ورځ چه اجتماع د خلایق وی
په هرچا بهٔ شی ظاهر منزلت ستا سے

هم هغه بهٔ د نجات په لور روان کا
چه پرِ شی مهربانی عنایت ستا سے

غم اندوه شه په نصیب د دُنیا دارو
فراغت د زړه خوښی په قسمت ستا سے

ستا سے همبره د پر حُرمت په جټل صاحب دے
چه بهٔ نور شی په عزت په حرمت ستا سے

په نصیب بهٔ د هغو شی چه نیک بخت وی
د دوو کونو سعادت د خدمت ستا سے

د راحت اُمید کوئ اهلِ محنتو!
خدائے بهٔ نهٔ کاندِ ضائع مشقت ستا سے

مددګار د ګنهکار عبدالقادر شئ
ګندِ بیاموی خلاصے په همت ستا سے

## (۲۴۶)

لکه زهٔ په یار مفتون یم، بل بهٔ نهٔ وی مفتون ہسے
لکه زهٔ پسے محزون یم، بل بهٔ نهٔ وی محزون ہسے

---

[1] "اک" - "ب م" - خبردار نهٔ دی په قدرو قیمت ستا سے -

Marfat.com

پرون غېږه په غېږه له یارؔ نن تر منځ لرِ مُلکونه

دا انصاف د زمانے دے چه نن ہسے پرون ہسے

په قیامت بهٔ ہم په ہوش د محبت لیونے نهٔ شی

چه بهٔ روغ شم بے دیدن ځانهٔ دے جنون ہسے

خط په مخ د دلبر راغے شور د زړهٔ په بنهر کړه شو

چه د حُسن بادشاه لیږدی د دے خط دے مضمون ہسے

آئینه د چپل زنګون وَ ماته جام جهان نما شوه

ځکه سر لرم تل ښکته د فکرت په زنګون ہسے

په کا نهٔ د سترګو زړهٔ وهے په خبرو ځنے صبر

د جهان په مخ بهٔ نهٔ وی سحر ہسے اُفسون ہسے

د دُنیا په دشمنئ کښې عیسیٰؑ وُخوت و اَسمان ته

په دوستئ کښې ئے لاځی تحتُ الثّرٰی ته قارُون ہسے

د ژوندون فایده داده چه دیدن کوی د ښکلیو

چه ئے دا فایده نهٔ وی مرګ بهتر تر ژوندُون ہسے

دا غزل په پښتو ژبه چه بیان **عبد القادر** کړه

دروغژن یم که بے خانؔ وایی بل یوؔ پښتون ہسے

## ۲۴۷

څهٔ په سیل د باغ لاړنهٔ ئے چه راشے — چه مِ وُوینه له وُرایه په خندا شے

زهٔ له شوقَ اِستقبال ته دروان شم — تهٔ له ما غاړه غړئ خوا په خوا شے

رنګارنګ د باغ ګلونه میوے راوړے — ماجرا د تلو راتلو وایے ګویا شے

Marfat.com

کهٔ په زړهٔ باندې مې غم و اندوه پروت وي — په نفس ئې تار په تار کړے غم رُبا شې

زهٔ دې دړسته شپه څېرڅېر وَمخ ته ګورم — ته ناظر و خپلو پښو ته له حیا شې

چه خوب ورشي سر ځما په زنګون کښېږدې — د غُنچې غنډې اُودهٔ په غېږ ځما شې

زهٔ دې مخ ته نظر کړم په ورېت ورېت ژاړم — چه آخر به یوه ورځ له ما جُدا شې

ځما اُوښکې په رُخسار دې تا پرېوځي — وینې له خوب لکه ګل په شبنم بیا شې

په رویمال مې اُوښکې وُچې کړے داد راکړے — زهٔ فریاد کړم ته ځما په دلاسا شې

تېنګوے ژړا ځما د زړهٔ د پاره — چه غزلې زور در باندې وُکا په ژړا شې

زهٔ ترتا مړے مرګ غواړم ته تر ما نه — زهٔ وَ تا ته، ته وَما ته په دُعا شې

هسے ملک لره ځما مینه لاړے — چه به کله لا په خوب کښې راښما شې

وی به کله دا ساعت **عبدالقادرَ**
چه له یارَ مشرف په وصال بیا شې

## ۲۴۸

هم هغهٔ مې دے دا داغ په ځیګر ښینے — چه ئې خال دے په سپین مخ د دلبر ښینے

په قامت د موزن قیام په څو کړم — بنا یسته مې په وړانهٔ باندې سَر ښینے

د لوئی په تخت به هغه قدم کښېږدي — چه له سره ئې د کبر اَفسر ښینے

هغه یار په صورت حور په خوئ فرښته دے — مصلحت ته ئې پرې نُوم د بَشر ښینه

د بهشتئ بستر به اور ورځ ګندېږي — چه پهلو ئې د بهشتئ په بستر ښینے

غم هوس ئې د هجران د وصال قبول کړل
پرې ئې نُوم دے د جنت، د سقر ښینے

## ۲۴۹

خزانه دِ ده د کور د ننه پش یے[1] — ځکه مار غنډ تا و پروے خره وش یے
همنشین د نفع نه مومی بے زیانَ — په بد فعل بد خصلت د کا دیش یے

په تش کش لکه هوسیٔ راځنے ترپلے
له یاریٔ م دِ توبه شه چه د کش یے

## ۲۵۰

مرغلره[2] ولیدٔه شوه په پېزوان کښے — که غوټیٔ وه د شبنم په ارغوان کښے
د خطا د ملک کبلی ئے دواړه سترګے — چه تل څرکا په سُنبل اوّ په ریحان کښے
ستا د ورو ځیو تشبیه نه مومم په دور — لږ و د بڼرِم دے موندلے په اسمان کښے
څه نسبت د یار د غابنو په ګوهرو — دا په نس کښے د صدف غابن په دهان کښے
چه له شونډو ئے نسبت کړه سخندانُ — شرمنده شه لعل نُنوت په کان کښے
د لذت بیان ئے څوک کولے نه شی — د جنت د خوږ و خوند ستا په لبان کښے
ستا رُخسار وته حیران د خدائے وګرځه ته — چه و ښنته ساقی له اور په امان کښے
تماشے م د جهان د کُښلیو وکړے — نشته تا غُندِ یؤ ګُل په ګلستان کښے
په دا شُکر چه اوږدے زُلفے ئے دړکړے — پرِ وُکاږه ډوب په چاهِ زنخدان کښے
حاضران د حیرت ګُته په خُله لال دی — غایبان دِ تمثیل راوړی په بیان کښے
سترګے عنوږ عبدالقادرُ دواړه بند کړه — دا ښغه به دواړه وُوینے په ځان کښے

---

ع[1] دا دے غزل صرف د غه درے شعره دی چه په ټولو نسخو کښے وموندے شول۔

ع[2] دا غزل صرف په "اک" کښے وموندے شو۔ په "ذ" "ب م" او په "ح" ذدے واړه کښے نشته۔

## ۲۵۱

په حُسن نهٔ دی دا کښلی ملوُکے ‏ ترو ئے ولے ښوُرے حورے شوے مملوُکے
عاشق تر زړهٔ ئے وُویستهٔ منګلے ‏ دواړه سترګے ئے شاهین بازهٔ ئے نوُکے
فراق په ښزو زړهٔ سوُرے سوُرے شه ‏ چه ښکاره ئے کړهٔ ولښتو تر زنی سوُکے
هجران له دردهٔ هیڅ سرے خلاص نهٔ دے ‏ څوک په ورو ورو آشنا ژاړی څوک په کوُکے
به کله د چمن په لوری راپیښے ‏ چه دِ پښت تر قامت شی سروِ ښوُکے
ئے وُنه میانه څوبز دلبر ‏ و نور خلقو وَته پرښنی لنړے بوُکے
اقبت به خپلهٔ بزیره کړی ککرہ ‏ چه په لوُری د آسمان غورزوی توُکے
په جفا ئے صبر کړه عبدالقادرؒ
په جهان کښِ کښلی نښته نیک سلوُکے

## ۲۵۲

هرګز په درست جهان کښِ نورے سترګے ‏ لکه ستا لیدلی نهٔ دی نورے سترګے
بیهوده په غزاله وُ ښپیے ګرزے ‏ څما یار لره راځه که ګورے سترګے
فایده ئے د سبنهٔ څخ لیدلی نهٔ وی ‏ د ښعو سریو بینے دی کورے سترګے
دِ مشوم شی له پیرهٔ نهٔ له مِیرهٔ ‏ ستا په دود به دچا نهٔ وی سپوږے سترګے
ثوابت ئے تر نظرهٔ ستیاره شی ‏ چه ئے سروی ګرزیدے تورے سترګے
جهان مِ پرلیدهٔ په سترګو لا پرشه ‏ نور مِ خدائے کړه له عالم پورے سترګے
دے سترګو به ئے څبر عبدالقادرؒ ‏ نه کړے نور په خپل مخ کړه پورے سترګے

ﻟ دا شعر په 'ح' او 'ذ' کښِ نشته، په 'ک' او 'ب م' کښِ نشته.

Marfat.com

## (۲۵۳)

صدقه شم ساقی ستا تر پیالے — چه د خلاص کرم د جهان له کشالے
چه ډېر ډېر د جدایئ د غمه ژاړم — په رخسارو کښې م ساړے شوے نالے
په یاری کښې به هاله صادق بالله شے — چه تر مرګه د یاری پت وپالے
یار هغه چه په محنت کښې یاری وکا — ډېر یاران دی په ساعت د نوالے
محبت د عاشقانو عظیم کوټ دے — پروا نه کا د پېغور له آتالے
ساحران ئې د چشمانو دین ایمان وړی — سحر کړ که زړونه وړی د بنګالے
په ښکاره نارے وهه عبدالقادره
په خاطر کښې به څو غم د عشق کالے

## (۲۵۴)

نن سحر صبا نارے وکړے بلبلے — د بهار زېرے کاوه یوے په بلے
دے وے زېرے م دربانډ خزان تېر شه — بهار راغے پانړے وښیولے وُلے
وارد غم د محنت تېر شه خوشحالی کړه — د غنچنو غنډ خندہ ننوتلے
اُس را دروم چه په ګلو باندې ګشت کړو — لوړ په لوړ د ګل غوټئ دی غوړېدلے
وے ئې تا د بهار غم لیدلے نه دے — هم بهار په ما لمبے وُلګولے
د خزان د بهار ورځ راته یو شوے — چه م دواړه تېرېدونی وُکتړے
له دے پسه به پسرلے په ځان حرام کړم — د خزان خوبنئ م زیاتے وُلیدلے

---

۱ دا الفاظ په "ح" کښ دی او دا بے بنکاری چه لکه مبنا علی حبیبی د ځان نه لیکلی وی - ځکه چه دلته په توتو بنسټو کښ دا الفاظ کېږ و د لیکلی شوی دی ' منا بیے او موزونے معنے نه ورکوی - لکه په "ب م" کښ دی لر متاځے". په "ک" کښ دی " د ہستنا نے" او په " ذ " کښ دی :- " د ہست نالے ".

خوشحالی به لکه زهر دربنکاره شی　　کهٔ د غم پیالے دِ یو ځلی وُ ښبلے

نصیحت **عبدالقادر** ځنے واخله

دا وینا بدیلو تا وته وینه

## ۲۵۵

ے په حُسن تر همه کښلیو اُوَے　　بیا دِ وا خِستے نا سایے په لاس و لے

په وار وار د ډیرو زلفو دور تیرشو　　ستا په څخ به تل پریوتے نهٔ وی وَل ولے

دا سبق چه تل له یار سره جفا کړے　　راته وُوایه له کُم مُلا لوستے!

د عشق سر دِ سلامت وی کښلی ډیرد ګی　　چه سر وِی، په جهان بوے نهٔ دی خو لے

درپو هیږم په خبرو م تیر باسے　　چه ویلے شی دا هیسے معطو لے

لا د عشق اُوښه لرے **عبدالقادر**

چه د یار د جفا زار کوے یا نخو لے

## ۲۵۶

خود کرده بهٔ مانزه کا له نورو و لے　　دهٔ په خپلَ په خپل ځان کړے لمبے بلے

ه مقصود تهٔ رسیدهٔ په عنایت شی　　و لے نهٔ بویه سستی له سعی ځلے

وُ زه نهٔ یم چه فریاد کرم ستا له لاسَ　　ستا له جورَ د عالم سینے دی جلے

عاشق کمال سوختن دی ډیر ښهٔ وُشو　　چه پتنګ د عشق به اور کښے جلے بلے

ه وصال ئے یا نصیب څوک مشرف شی　　د وګړی پیے وُختلے تلے

شیخَ لور حما توبه یاری بهٔ نهٔ کرم　　په دُعا کهٔ اَشنا بیا موسم دا ځلے

موند و وسواس ئے مه کوه طالبَ　　کهٔ دِ پیبے د طلب نهٔ دی دواړه مشلے

Marfat.com

په دوه کونه به سُرخروئ عبدالقادر شي
که ئے وینے شي د یار له لاسه تلے

## ٢٥٧

حال م تا ونه معلوم دے ته م وینے
چه ژوندون م دے د خپل مین په مینے

عشق م ځائے په رګ او پے کښے ځما ونیو
ترِ به ووزی ناله چه ووزی وینے

دا زخموب ځما د زړه له داغه دروسی
که م سرے اُښے له سترګو ځی که سپینے

چه دغمه زړه ئے خوږ شی زړه م خوږ شی
چه خبر به شی ځما له سپینے خوږینے

چه صفت د کوثر کاندِ رنځوران دی
ستا له خلے لاړے ترِ هر څه دی شیرینے

ملوکان ئے هیچ له قدره خبر نه شول
ترِ علمل دی عباری جامے صینے

په کوږ کوږ کاته ئے شیخه غلط نه شه
سل فتنے لری لا سترګے سُرمګینے

د نګاه په تیغ د ځغ عبدالقادر کړه
پرِ مرهم د شونډو کښیږده زړه سنګینے

## ٢٥٨

داچه نور بنایسته ماته یاد وے
در پو هیږم بیا ستم بنیاد وے

بے له دے چه مدعی یم ستا د مینے
نور به ګم ګناه و ماته زیاد وے

چیرِ نه وی چه ما هم ورسره خلاص کړے
چا وے نن چه خپل بندیان ازاد وے

انتظار ئے د مبادی اندوه دو تا کا
لا به کله اندوهګین دل ښاد وے

چه آخر ئے بیا هم ته په مزکه توئے کړے
باد ګل د چمن څه ګشاد وے

په خالی فریاد به هیڅوک فرهاد نه شی
ترِ ځان تیر شه که خپل ځان فرهاد وے

ستا دا خوئ، فلک! اُس ته دے ځائ دے — چه ابله د زمانے په مراد وے

چه خبر په حقیقت د علم نه یئے — په لږ علم ځکه ځان اُستاد وے

لږ حجاب عبدالقادر ته دغه واخله
که بنیاد ئے د هستئ برباد وے

## ۲۵۹

نه چه زلفے په رخسارو شورو ے — د ر په هیرم جهان شور ما شوروے

چه دِ واخستے د خیال جاے ګلکونے — خپل مین په سرو لمبو نسکوروے

زرګے! سر ځا د یار په قدم کښیږده — که خوبئ له رفتارَ پوروے

هغه ځ چه د وصال په غوږو غوږوی — د هجران په تاؤ ئے ولے سپوروے

که د عشق په تورم ووڅے راضی یم — ځما عشق د سر په ویره نوروے

سپین غاښونه په خندا رالره راښه — که به ځ د رقیبانو توروے

بس دے، یو د آشنا غم عبدالقادر
نور غمونه باندِ څه تهندوروے

## ۲۶۰

دریغ بیا په ګلو ګشت وکړے صبا شوے — چه په باغ کښے رنګارنګ ګلونه واشوے

د شبنم پیالے ئے نوش لبالب کړے — له مستئ د هر ګل قمیص قبا شوے

تور بورا تر هر هر ګل قربانید ے — د بلبلو په هر لور باندِ غوغا شوے

ځ ا ځ له یار کښښنا ستے یو ځله — د بیلتون غمونه واړه پسے ستا شوے

که په کانړی د بیلتون میږ شم څه شو — د حنا په دود خو وصل ستا د پا شوے

Marfat.com

ما به ځان لکه پتنګ تر صدقه[1] کړه    که چراغ يې د جمال را ته نما شوے
يار له مانه لا وما وَته نژدے دے    که تر ميان حجاب پاره پاره دِ ما شوے
"زه" او "ته" په محبت کښې نه ځائيږي    زه او ته له منځه ووتے يکتا شوے

خودي پريږده نور را ځه عبد القادر
که دِ زړه دے، چه زه ستا شوے نه ځما شوے

## ۲۶۱

چه دا هسے رنګ په نغته د خپل نس شوے    ځکه بند د غافلۍ په قفس شوے
شهبازان په دغه دام کښې پوتے نه شي    نه د غنړی په جال بند لکه مکس شوے
چه هوا دِ غورزوي هوړے ته دروُمے    بے وقار په خو سپک تر خاورو خس شوے
که په اور د محبت وخپسر وسوے    لغه پس به ژوندے لکه ققنس شوے
چه دِ وپسبتي څوک هاله څه ووايه    بے هنګام ويانده څه لکه جرس شوے
که پيښتي عواړے ځان کم کنړه تر بله    هم به هاله پيښتي بيا موے کړپس شوے

چه اسره دِ وُو لسان هاله دِ غم وو
هوس کړه عبد القادر چه بيکس شوے

## ۲۶۲

چه وهلے م[2] هرګز را خبر نه شوے    ستا له غمه درست شپه ژړا چغارے
راشه ګوره ننداره کړه څه رنګ لګ دے    ستا د غم غشے دِ ما په زړه نګارے

---

[1] "اک" ورپانديِ وُسو.

[2] دا غزل صرف په "ذ" کښې دے - په نورو نسخو کښې ونه موندے شو.

چه وُکاږے ئے هرګز سهیږے نهٔ شم — د غمزے توُره په میان کښې کړه خونخوارے

تا چه راکړه، زهٔ پرِ بے حساب مَست شوم — سپینٔ خله په دواړو شونډو شکربارے

په منځ منځ بهٔ ئے و هم پرے بهٔ ئے بزدم — زهٔ بهٔ ستا په غلیم وُکړم هسے چارے

چه ئے وازه کړے هرګوره ښایسته شی — په خندا کښې سپینٔ خله پری رخسارے

کلک ئے وُنیسه په لاس کښې چه خلاص نهٔ شی
دِ ما زړهٔ کهٔ دلداری کوے دلدارے

## ۲۶۳

پښے برمنډے، سر برمنډ ګریوان پاره وے — په طلب ئے په مُلکونو اَواره وے

پَستنه شوے د دُنیا له کارو بارَ — ناګنړے ناشمارے هیڅ کاره وے

له دے عقلَ هیڅ فایدهٔ حاصلَ نهٔ شوه — لا یحقل د لیونیو په شماره وے

د اَشنا د غم په سیند کښې مِ شنا کړے — د جهان له هَوَسونو کناره وے

د عالم په نیک و بد عرضی نهٔ وے — بے خُوابَ بے جهتَ بے چاره وے

په هر ځائے چه ګسیلی وے عبدالقادرَ
په حیرت ئے دجمال په ننداره وے

## ۲۶۴

تا یاری له مانه پرېکړه، کهٔ پښېمان یے — بیا رادرومه هغه زړهٔ هغه مِ ځان یے

بهشتَ ځما د باغ زرغون طوطا وے — اُس خبر نهٔ یم طوطا دکوم بوستان یے

کهٔ طامع په سرېر پاس کښېني ګدا ئے دے — کهٔ اَرزو وَته دِ مشاکره نور سلطان یے

غم اَلم بهٔ درته نهٔ رسی اے یارَ — کهٔ د خپلے ژبے هر کله پاسبان یے

Marfat.com

## ۲۶۵

یار را ځنې لاړ ستۀ اُس به کړم گُفتګوے ... ګُلاب د ګلاب لاړ شۀ بوئ اخِستے شی له بوے

نور وَته نظر کړم چه را یاد د اَشنا ځ شی ... لوی میا شت ته ګورم چه را یاد دے شی اَبروے

پاس کښېښېږده قدم په سرځاد چا مبېل ګلَ ... سپین نازک په مثل ته ځاد یار په روے

یا راغلے د یار دکوځے یا راغلے له خُلۀ ... اے د صبا بادَ! ته چه دا رنګ خوشبوے

شنَده ۲ وُنه مۀ شے چه فایده ترِ موندہ نۀ شی ... وُنه ستۀ بارداره دخپل یار په مخ توے

غم اندوه په بخره د مخوچه عاشقان دی ... خوش ګرزه زاهدَ چه له عشقۀ ے بېخبوے

نۀ ستائ وَسپو ته د انسان خبرے بزدګے ... ته چه له رقیب سره مدام په ګفتګوے

واوره بله نشته داوبنا وایه خرکنده ... یا به ے خلۀ کښېښل کړم یا به وینے کړم برتوے

زړکے دِ خپل کړے تر یا نۀ پورِ ګل واره ... ته چه په اَنګنړ کښې په خرام په تک وپوے

ستاد ژویل نۀ ده ځاځله **عبدالقادر**

وے ے دا هسے د حرص په حله ژوے

## ۲۶۶

اے چه په قد سروکړیه ښۀ ځ ګلزاره یے ... ته په دا ښایست دګُم نیک بخت نګاره یے

سرِه نمرئ اغستی، وَنول زُلفے سترګے تور ... خیر دِ وی! بیادچا په تاخت تیاره یے

ښځوک دِ د ځ د ښایست نشته په جهاکښې ... هئ توبه له تا چه ته د ډېرو یاره یے

تل دِ دوا په شونړے په نوشل د وینو سرے دی ... زړه په چا نۀ سوزے ته یوځۀ خونخواره یے

---

۱ب م - اک: - څۀ رنګ م ښه یشے په باغ د چېبل ګلَ.

نوټ: - شعر نمبر ۲، ۳ اَو ۴ په ج کښې نشته - د اک اَو د ب م نۀ اخستی شوی دی.

حُسن دے کۀ خیال دے کۀ دماغ کۀ مکبروُنه ــ تۀ په دا خویُونو په عالم اوښاده یې
نۀ مِ په بل کښلی نظر کړے نۀ په ګل دے ــ بیا په ګُم ګناه دا هسے شان اَزاره یې
څۀ رنګ بۀ باور ستا په یارئ عبدالقادر کا
یو ساعت مِ یارئ بیا په بل وېزاره یې

## ۲۶۷

ګاه په خانقاه کښې ګۀ مقیم په میخانه یې ــ هیڅ درنه پوهېږم چه عاقل کۀ دیوانه یې
کله له هندو له مسلمان سره خپلوی کړې ــ کله له همه واړه عالمَ بېګانه یې
تۀ که لېونے د آهو چشمو ځینے نکړے ــ وے شپه اَوُ ورځ لکه غرڅه په ویرانه یې
وایی راته وایه چه د جان کۀ د جانان یې ــ ځار شم ستا تر سترګو هم مِ جان هم جانانه یې
شونډې دِ یاقُوت دی مرغلرې سپین غابښونه ــ سرتر پایَ درست د بادشاهانو خزانه یې
څوک دِ له لیدو څوک له خبرو مرادموی ــ څوک دِ له وصالَ د همه خلقو ستانه یې
باغ دِ څۀ په کار دے خود دِ مخ لکه ګلزار دے ــ یار لره راغلے د ګالونو په بانه یې
لږ بۀ ستا له ځینے په رموز درته وُوایم ــ ځَین په اَروېدو کۀ د مجنون په اَفسانه یې
مے دِ دخپل یار د شونډو څښلی دی پوهېږم
ځکه په ویل عبدالقادرَ مستانه یې

## ۲۶۸

تۀ څۀ هسے بے نظیرَ دِلبر نۀ یې ــ چه ښکاره په درست جهان لکه نمرنۀ یې
په هر کلی په محلت خبرے ستا شی ــ هسے نۀ چه په عالم کښې سمرنۀ یې
په پیاله چه شونډے کښېږدے نو عسل شی ــ بیا بۀ وایی چه په شونډو شکرنۀ یې

Marfat.com

د سپوږمۍ بنا یست په ستورو نه زیاتیږي | حاجتمند د لعلو دُرو گوهر نه یے
اَسمانونه مِ د آه په لوگي تور کړل | نه لا هیڅ څما له سوز خبر نه یے
که دِ زړه دے چه تونکر شے طمع پرېږده | څو دِ طمع چیانه شته تونکر نه یے
پهوره کچکول شرې خو دېر متاع دے | څو دِ ستن په کند کښ شته قلندر نه یے
په جهان دِ ځکه بُوئ د خوبئ نه ځي | چه بېدار لکه غنچه په سحر نه یے

مبنه غزل درته بیان **عبدالقادر** کړه
له معنو ئے لذت واخله که کرنه یے

## ۲۶۹

چه دا هسے هوښیاری کړے مجنون نه یے | لا په ځ د بنا یستو مفتون نه یے
بیا به نه موے وصال د اَلِف قدُ | چه په مینه کښ لا خم لکه نُون نه یے
ستا په سترگو مِ سوگند دے خپله یار | چه یوُ دم مِ له خاطر بېرون نه یے
د رقیب وَیل اثر درباندِ وُکړه | مهربان نن په شان د پرُون نه یے
عاشق شوے پیچا نه یے معلومیږي | چه په غم د عاشقانو محزون نه یے
په جذبه د عشق مِ وُځکوے ځان نه | ما موندے په تعوید په افسون نه یے

څو سختي د زړه لرے **عبدالقادر**
نمبره[1] تا وُ د عشق زغے څنے ستون نه یے

[1] "ب م": چه په بنګلیو لیپے ځے څنے ستون نه یے۔

# رُباعیات

Marfat.com

# ا

## ۱

په دهر هوس ئې سره آشنا کا
په درد او دوک ئې جبله جدا کا
چه دا احوال دے په دا دنیا کښې
څوک به څه مینه د زړه په چا کا

## ۲

زړه مې له رشک هرګوره درد کا
چه کبروے چارے فلک کج ګرد کا
جوانمردان ناست دی آهونه سرد کا
ذوق او هوس د دنیا نامرد کا

## ۳

ذکر ښه دے چه ذاکر فرد کا
دننه زړه ئې ذکر په ورد کا
که مے د ذکر باندې غالب شی
دواړه جهان ورباندې سرد کا

## ۴

چه په نابود دنیا اعتبار کا
د پښېمانۍ ژړا بار بار کا
چه لږ غبار ئې په خاطر نه پسندے
ښه به خاورے په تا انبار کا

## ۵

سړے هرګوره طمع درازه کا
چه ورته نه رسی، ښے آغازه کا
په خلوت کال کم زیات چینی شی
پلادے خمیر کا، نمسے ئې سازه کا

## ۶

ساقی راپاسه ګل غوړېدنه کا
لغړه ونه به بهار زرګنره کا
که روکه نه وی چه شراب راوړے
صوفی به خپله خرقه ګانړه کا

Marfat.com

(۷)

نن ګانده چرخ عجب څانګونه کا ــــ چرګان ککرے چرګے بانګونه کا
له مستۍ وازدے تروړی کید به نه خوری ــــ لوږے په غار کښې مزری پړانګونه کا

(۸)

چه هوشیار ناست وی نادان خبرے کا ــــ سپے دے تمبری څوک دے ګرے کا
چه څوک ئے نه پوهیږی خاموش دِ وُسی ــــ که هر څو تو ئے تر خُلے شکرے کا

(۹)

ناراسته بنځه غم اُربشے کا ــــ لا تر پیغاړی اُربشے تشے کا
پیشو تر پیۍ څتی دا ورته کوری ــــ همېره پرِ نه شی چه پیشو پشے کا

(۱۰)

له زمکه خپل ګیډه پاره کا ــــ حال د نغرلیو ورته ښکاره کا
خوب و خوراک به له خلق ولاړ شی ــــ تمام جهان به یوه ناره کا

## ب

(۱۱)

دیر شو نمونه دیر شو آشوب ــــ زړګے په غم کښې ستړګے بے خوب
که دا حَلِ وُشی په عشق کښې سوب ــــ هیۍ توبه توبه له مین توب

## ت

(۱۲)

په ورځ توبه کرم په شپه ئے مات ــــ لا اِ شی مینه په بدو زیات
سکه نور باید ه دی چه توبه کار شم ــــ له دے توبے نه څه زیان و مات

(۱۳)

مۀ کړه ہیچا ته ګله له بخت مراد نۀ مومی ہیڅوک بے وخت
شُکر وُکاږه په ہر احوال کښې بلا ئے لا ده تر بلا سخت

د

(۱۴)

اے د بے زړادو د لاسرے زاد د نامرادو د زړونو مراد
محتاج رم مۀ کړه د بل وَ در ته راکړه وَ ما ته له خپل داد

(۱۵)

ستا په دوران کښې اے بے بُنیاد نا مراد بهتر دے تر بامراد
په خندا ورکړے، په ژړا رانیسے[۲] څوړ توبه ده له ہیسے داد

(۱۶)

اے چه په غم ورے خوبی له ورد خالی یَو دَم نۀ یم د تا له درد
نۀ بے آسیب بهی سبب وُسے که تر نارنج رم چهره ده زرد

(۱۷)

څوک چه بے خدائ غیر محبوب کاندِ باطل اِختیار کا واره ناخوب کاندِ
غیر به پرپرږدی که د زړه فهم وُکا په ضعف الطالب والمطلوب کاندِ

(۱۸)

لکه عامل مشول ترخاورو لاندِ عمل ہم وُرک مشو په زمکه باندِ
اُس په خبرو پړول وُړول دی دا بیت بازئ دی، عالم ئے کاندِ

---

۲ "ځ" :- واخلے - "بم" واہیرے۔

Marfat.com

(۱۹)

چه به ترِ نه وُو کلونه لاندِ — خوب به ئے نه شو په پالنګ باندِ
اُس په لحد کښې پراته په خاورو دی — پرِ زرغونه شول کنډېری سپاندِ

(۲۰)

زار شم قربان شم د پلار تر پندَ — راته ئے وُوے ګُما فرزندَ
لذت د ورکړے تر سائل ډېر دے — خو ئے خبر نه دے ممسک له خوندَ

(۲۱)

راشه که ګورے سری بے پندَ — بندی په لاسو په پښو بے بندَ
په رنړو سترګو ړانده دی نه وینی — ښتنوا غوږونه کانړه له پندَ

ر

(۲۲)

بیلتون دِ سخت دے په ما تر نارَ — پکښې وُرتېږم د خدائے د پارَ
یَوُ دم له ما نه مه جُدا کېږه — له تا قربان شم مینَ یارَ

(۲۳)

چه بے تا پایم بیل شوِیَ یارَ — ژوندون ہرګور دے په ما دشوارَ
ډېر ښه په غم کښې د اَشنا مړه وُو — که د چا مرګ وے بے خپلَ وارَ

(۲۴)

څه زده بے نیازو دِ تا په قدر — سپی لا عنیا کا چه میاشت شی بدر
که کښلی واړه لکه ګلونه شی — ته د ګلاب یے، لوُر ګل د بدر

(۲۵)

په چا چه مهر کړے په چا چه قهر   زهر[1] نا زهر کړے ، نا زهر زهر
بحروبر دواړه د تا په حکم دی   په بت[2] ئے لار کړے په بطے نهر

ز

(۲۶)

په زړه مزري ، په سترګو باز   له ناز ډک ، خالی له نیاز
تر تالا کبنلی ، فلک بدرنګ کړه   زنهار یخپلے خوبی مه ناز

(۲۷)

که هرڅو خوږ یے د کبنلیو ناز   ترېخ شی چه تېر[1] نشی زیات تر انداز
که په لذت کښی شکرے یئے دی   یه ډېر خوراک کا بلا درساز

ش

(۲۸)

درد دِ مه ویښ ساقی صهوش   په شونډو مئے په مخ آتش
له خاص خم خاص مے رانوش کړه   زړګے مِ خلاص کړه له غل وغش

ښ

(۲۹)

ښکاریږی تاته دُنیا په سخ کښی   خوځو ښناوے لرے په مخ کښی
په کانړی وُکا اثر تاثیر   خبره ایڅ نه کا په ساده سخ کښی

ع

(۳۰)

ع[1] ب م :- زهر یا زهر کړے زهر یا زهر   ع[2] ب م په بسبط لار کړے ، په قبطی شهر

ځوانمرد ښځه دے چه لکه شمع    د ځان په سولو مجلس کا جمع
وبل د پاره کۀ په خندا وی    په مخ ئے دروی باران د دمع

ک

(۳۱)

ارمان ارمان دے کجرو فلکَ!    عینِ په زړۀ ده د هر چا لکَ
ستا له گردشَ خونه دِ ورانه شه    د جدایئَ تبره کسزلکَ

گ

(۳۲)

مین را یاد شو د تا له رنګَ    کۀ یو درنګ کښینې ځما تر څنګَ
کۀ آشنا نۀ ئے دِ آشنا ښاںلرے    ځار شم قربان شم تر تا ملنګَ

ل

(۳۳)

هر چه له ځانَ سره مِ ښۀ لیدل    ځوئے که ورونړه، واړه مِ وُلیدل
ښۀ په هیچا نۀ شئَ نفسا نفسی ده    ما حپل بے خدایَ هیڅوک وُنۀ لیدل

(۳۴)

سپین مِ د بویرے په تورو زورشول    زړونه د کښلیو راځنے تورشول
چه په ځوانئ کښِ ځما پرِ فخر شۀ    ښځه کارونه مِ اُس پېغور شول

م

(۳۵)

خوارۀ . حیرانَ بنی آدمَ    صورت دِ روغ دے تمام له غمَ
ژوندے غمجن یے، مُرده غمجن یے    راغلے مۀ وے کاش له عدمَ

Marfat.com

(۳۶)

فریاد فریاد دے له ښځه دمَ
چه را ښکاره شی اَجل له همَ
ما به یوازے روان کا گور لره
په ډیر ارمان اَوُ په ډیر اَلمَ

(۳۷)

زهٔ په خپل مُلک خو یَوُ خپل زړهٔ لرَمَ
هم ښځه مات دے چه روغ ئے نهٔ لرَمَ
کهٔ دِ ډکار وی درته پیشکش دے
دریغ ئے خدائے مهٔ کړه چه له تا زهٔ لرَم

(۳۸)

څکه له دردَ ځبله ستورم
باران د وینو له سترګو وورم
وار م د کښلیو د لیدو تېر شهٔ
په خال وخط ئے په چشمو ګورم

(۳۹)

خلقَ ګُرم نه یم که وینے وورم
نشپه ورځ له دردَ و بلا شورم
محروم د کښلیو له ننداره شوم
چه چشمے کښېږدم خال وخط ګورم

(۴۰)

خندا[۱] له تا نه تل په ژړا غواړم
ورکړه دِ خوئ دے، زهٔ ئے په دا غواړم
له مِصرو واخله د سر حرفونه
تهٔ ئے کړه جمع ښځه له تا غواړم

(۴۱)

ترڅو به یارَ له تا نه صبر کړم
یا م به یار شے یا به ځائے قبر کړم
عشق م په مثل د خونی ببر دے
زړهٔ، تا په ځله کښې د خونی ببر کړم

(۴۲)

زور کړم ځونو د آشنا زور کړم
له کُل هوس ئے د دُنیا سوړ[۲] کړم
څوڅو تاوُونه را باندِ تېر شوُ
لږَ م ئے ووچ کړهٔ هجران نچوړ کړم

ع۱ دا رباعی سوال دے۔ اَوُ جواب ئے وګوره په رباعی ۱۲ په ردیف "ے" کښې۔ ع۲ "ب م" :- موړ۔

Marfat.com

۴۳

که مینه کول کړم عالم نه پېژنم      بیا نو عالم اَشنا ښه پېژنم
دا اَشنا نه دے د اَشنا رنګ لري      که اَشنا راشي اَشنا زه پېژنم

۴۴

که نور هیڅ نه دي چه مَرېږي ستا نُوم      بس دے وَ ما ته چرته له نادروم
ته به ځما غُنډ مریوُنه دېر موسے      کله به تا غُنډ صاحب زه بیا مومم

۴۵

الله مې رب دے، زه ئے مربوب یم      بنده د ده یم، که خوب ناخوب یم
غرق به اُبوکښې کله اُبه وینې      نعمت ئے نه وینم په نعمت ډوب یم

۴۶

زه هسے نه وایم چه نېکو کار یم      شیخ یم، عالم یم، یا پرهیزګار یم
ته په ویلو ځما ځان پاک کړه      زه که ناپاک یم ګنده مُردار یم

۴۷

د یار له غمُ په زړه اَفګار یم      له غمُ ځکه وایم دردمن یم خوار یم
په زړه دردمن یم هرګور بیمار یم      اَفګار یم، خوار یم، بیمار یم زار یم!

۴۸

که هرڅو خوښ یم دردمن په زړه یم      قوّت مې ابر دے د خواب نه یم
چه یار مې وُپښتي" وایه څه حال لرے؟      خواب ئے ورکړم وایم چه "ښه یم"!

۴۹

د یار له غمُ، خالي یوُ دم نه یم      هیڅ ساعت نه دے چه په ماتم نه یم
په زړه مې زخم په زخم کېږي      که آه فریاد کړم ګله کړم نه یم

Marfat.com

۵۰

بد یم، دا نه وایم چه زه ښاغلے یم — په مرییی والی د تا د اغلے یم
مرګ مې قبول دے شول دِ نه وی — تشے بنده یم، درته راغلے یم

# ن

۵۱

د میرو میرَ د خانُ خانَ — د جهانیانو جان و جهانَ
دا رنګ لوئ به الله روزی کړے — که وے نېک نیتَ اوُ نېک زبانَ

# و

۵۲

فخر لوئ کا خلق، په بدو — په بد خصلت شول، بتر تر ددو
رد شول رسمونه کا، شرع ئے پربښوه — رب ما مهٔ کړے په شمار دِ ردو

۵۳

حسد په زړه کښ د بے حسدو — اور دے، تر بویه حذر بخردو
چه له مقبولو سره د ښینے کا — ښغه سرے دے په شمار د ردو

۵۴

ژبه عادت کړه په ښو خبرو — خبرے ښے دی، ښے تر شکرو
د خوند مثال ئے شکرے وایم — قدر ئے ډېر دے تر مرغلرو

۵۵

مٔد دِ وینم په ستړګو لوړو — په خله خما ئے په زړهٔ د لوړو
غونډه دِ په نورو یارانو وخوړل — زهٔ دِ غلط کړم په کیسو سپورو

۵۶

Marfat.com

ځه زده په قدر د لعلو کورو — زه دِ قربان شم تر سترګو تورو
که کښلی جمع د درست جهان شي — ته دِ ځما یې، نورے د نورو

۵۷

له خپلَ بخت وچا ته زار کړو — د چرخ ناسازے وچا ته شمار کړو
دک دے د کښلیو د کابل ښهر — همېره ځه نشته چه یَو تر یار کړو

۵۸

ځوانی چه ولاړه بیا نه ځوانیږو — وېجاړ شو لویه چه ودانیږو
په مخ اَستواځیَ د طلب راغلَه — تاسے خدائے ښه ساته موږ روانیږو

۵۹

په اورادونو د ځلور قُلو — غواړم له خدایَ فرحت د ګلو
صحت د ځان د یارانو واړه — کښلی دلبره، ښیښه د مُلو

۶۰

لاړم و باغ ته په نیت د ګلو — د پرېکونو، آواز بلبلو
د ګلو دَ ښتے مِ له لاسَ پرېوتے — هسے رنګ مست شوم لکه په مُلو

۶۱

نسیم چه راوړه د باغ د ګلو — بویَ د دلبرو د ښنو کاکلو
له ښغه بُویَ هم ګُل بُویَ دارشه — هم بانِد وُکره مینه بلبلو

۶۲

مه کړه وُکره سامان د تللو — پخوا تر ښغه چه د بَللو
استواځے راشی چه اُس رادرومه — وخت د حساب دے وخت د تللو

---

۱ ب م "اُس چار ښه بویه چه ودانېږو ۲ ج "اَوَ" اک" :. کړی د ښتے م-

۶۳

بندی په تار یم د دوو زلفېنو — مست یم په جام یم د دوو عېنېنو
د طهور مې به بانډې نرخه لګی — نوش یې چه مې کړل د شفتېنو

۶۴

که عقل پوهه که تېغ که دبګ وو — په پښتانه کښې د خوشحال بېګ وو
زړه یې همت وته په شمار د سلو وو — زړه یې سخا ته د صحرا رېګ وو

۶۵

چه تنګی لسبته دې وخت د نمانځه وو — هر حرکت دې خدا په رضا وو
چه سبا نه شو شوخ شو تېر تر بنځه غواړې — جنت هم واړه ضائع بې ځایه وو

۶۶

عمر هم تېر شو واړه په لهو — بدی په قصد کړم نیکی په سهو
تف په دا عقل لکه ځما دې — جنون بهتر دې تر هسې صحو

ه

۶۷

اې بخه شاه چه دې وزیر نشته — ستا له درګاه دچا ګزیر نشته
ستا له کماله فضله امید لرم — که په تقصیر کېښ ځما تقصیر نشته

۶۸

دا چه ښکاره بری که دا هم دا ده — دا په ظاهر په باطن کښې دا ده
دې هورې یې خلاصی نصیب نه شی — چه خوار شی خلاص شی دې له داده

---

عه "اکبه اوُ ب م" :- خلاصی نصیب شی.

Marfat.com

— ۶۹ —

بیځ نهٔ پوهېږم دا ځهٔ بلا ده ‌‌‌‌‌‌‌    چه لگیا شوی په زړهٔ ځما ده
ارمون مِ سوزی قرار مِ نهٔ شی ‌‌‌‌‌‌‌    اور دے کهٔ مینه د دِلرُبا ده

— ۷۰ —

ځوانی عاقل ته لکه دُنیا ده ‌‌‌‌‌‌‌    پیری په مِثل لکه عقبا ده
چه څهٔ عمل ئے په دُنیا کړے وی ‌‌‌‌‌‌‌    د هر عمل ئے په پیریٔ جزا ده

— ۷۱ —

نادان به وائی مینه آسانَ ده ‌‌‌‌‌‌‌    چه مِینه کاندِ مَینه ئے ورانَ ده
په نام و ننگ کښِ د سر سُندّ نهٔ شی ‌‌‌‌‌‌‌    له نام و ننگ وَ ته گرانَ ده

— ۷۲ —

نن په دا مُلک کښی عجیبَ جِن ده ‌‌‌‌‌‌‌    په رنگ د حُورو په خویٔ جن ده
په سوال کښی هو کے بے له نه نهٔ کا ‌‌‌‌‌‌‌    بیځ نه خبرېږی د چا له ځِنده

— ۷۳ —

په زړهٔ مِ ستا نه اندیښنه ډیرَ ده ‌‌‌‌‌‌‌    واړه خوښی مِ له دِلَ هېرَ ده
هرچا ته تېره ده دُنیا بود نه لری ‌‌‌‌‌‌‌    اُس پرِ سبٔه پوه شوم چه تحقیق تېرَ ده

— ۷۴ —

لَب مِ په خوب کښی د دلبر وُلیدّه ‌‌‌‌‌‌‌    ډیر مِ نز لعل و تر یاقُوت سرّه وُلیدّه
چه وِیښ له خوبَ شوم سترگو مِ وُمینه ‌‌‌‌‌‌‌    پُور مِ له وینو دواړه لیمهٔ وُلیدّه

— ۷۵ —

یارم په خوب کښی د هر رنځور وُلیدّه ‌‌‌‌‌‌‌    مخ مِ په اُښنیو د فراق سُور وُلیدّه
چه خواب نامه مِ د دے تعبیر وُکته ‌‌‌‌‌‌‌    د دهٔ صحبت مِ د زړهٔ سرُور وُلیدّه

دا رباعی صرف په "ج" کښی په ځکه شان ده۔ د هر رباعی وُگوری په ردیف "ی" کښی ښښه — چه په دا سے شان لیکل شوی ده۔

Marfat.com

۷۶

د دُنیا ناوی کهٔ هرڅو ښکلی ده — په اُوه رنګ زیور پسوللی ده

نور دِ ئے اَخلی بهره له وصلَ — موږ په اوجاړه مَینه بیولی ده

۷۷

شیخَ په ما باندِ د رب د پاره — نظر د مهر څهٔ خو کُماره

عاجز یم توان د تلونو نه لرم — لور مِ تلونو وَته مهٔ سپاره

۷۸

شاباش شاباش محبوبَ تالره — راغلے په خپلَ د عاشق خوا لره

د عاشقانو تلنځنه ښَنه کوے — خدائے دِ تر ډیره په دا دُنیا لره

۷۹

واروه دا پند د هوښیارو وروره — تل ئے د زړه په غوږونو ژغوره

د هرکار وخت ښته خبره ځائے لری — وارخطا مهٔ کړه وَ وار ته کوره

۸۰

ربَ له غیرو چارو مِ وُژغوره . — باران د فضل راباندِ وُوره

زهٔ کهٔ بدکار یم لایق د ناز یم — تهٔ ځان ته کوره وَ ماته مه کوره

۸۱

اے په هیڅ خوښَ، په هیڅ دلګیره — دا وینا واروه له ما په ځیره

هیڅ خبر نهٔ یے چه څهٔ یے څهٔ به شے — و ے غافل یے د ځان له وِیره؟

۸۲

هرڅوک چه یَوُکا، زړهٔ ځنه خپلهواره — دویم په نیت شی ثابت له واره

کله کهٔ ورځے په دین دُنیا کښِ — تاوان ئے واړه ځما په غاړه

Marfat.com

۸۳

که د هر څهٔ د رکا ورباندې مهٔ وياړه     له خدایَ نور څهٔ بے خدایَ مهٔ غواړه
ژړا د قُرب ژړا د بُعد ده     وَ خدائے ته ژاړه، له خدایَ مهٔ ژاړه

۸۴

دا پند[1] له مانه په زړهٔ کښې ياد کړه     څو چه دِ وَس رَسی مُروت داد کړه
زړونه د هرچا په احسان ښاد کړه     آزاد بنده کړه، بنده آزاد کړه

۸۵

ربه! په کارِ مِ د نيکوکارو کړه     په رُویَ مِ عفوه د پرهيزګارو کړه
عمل د نيکو راځنے وُنهٔ شهٔ     ځوانی مِ تيره په خوشيو چارو کړه

۸۶

ربَ د لُطف نظر و ماته کړه     بے تا مِ مينه له هر څهٔ ماته کړه
چه صورتونه ځنے پيدا شی     نظر د مهر په څاڅکی ماته کړه

۸۷

پيرمِ، چه حل ئے واړه اِشکال وُسه     په دواړه کونَ خُرّم خوشحال وُسه
دا نصيحت ئے راته هميش وايهٔ     چه خوش له خدایَ په هر احوال وُسه

۸۸

له کښېيه[2] وُچاوده وخت د صبا شهٔ     په هر مسجد کښې آذان ادا شهٔ
راشهٔ[3] چه کښېنو دِ کرم اُس به بيليږُو     په ځان حموږ صبا بلا شهٔ

---

[1] دا صرف په "ح" کښې ده۔

[2] "اک" :- شپه شوه چاوُده ...... – "ب م" :- څيرے شوے ښه ......

[3] "اک" راشهٔ ځنهٔ راکړه ...... "ب م" مينه راشه چه سره ژاړو۔

٨٩

راشه راشه ښایسته راشه ګُما د غم د جونګړے رنړا شه
په ښځے لارے چه ته را دروے د ښځے لارے بلا په ما شه

٩٠

چه باوجود د پیری مُرید شه صدیقؓ ته نورو ځکه مزید شه
عمرے تیر کړه په عبادت کښې په لږ کبر اِبلیس مَرید شه

٩١

بل م په زړه کښې د مینے اور شه ځکه فریاد کړم روزګار م شور شه
د یار د سترګو سیاهی پرے پرېوته د صبر صاد م په سترګو کور شه

٩٢

غم پر هر کوره د هجران زور شه دننه زړه م راښخ خور شه
راغلم ناګاه په آشنا کلیو کلی ښخه دی عالم ئے نور شه

٩٣

د غم لښکر م تر زړه چاپیر شه خلاصے ئے نه شی اُس پکښې کیر شه
سرائے د غمونو دے ځه شو که یوځل د خوشحالئ کاروان پرے تیر شه

٩٤

د جدایئ مدت د ډیر شه زیات تر حساب تر شمار تیر شه
هیر شی له دِل چه ولاړ له سترګو شی نوم م دِ یاد دے رنګ م دِ هیر شه

٩٥

که بنه خوراک وو خوراک هم ډیر وُشه که بنه پوشاک وو پوشاک هم ډیر وُشه
رب اُس راکړے د دین خوشئ که ډیر ژواک بنه وو ژواک هم ډیر وُشه

Marfat.com

— ٩٦ —

مه شه[١] چه جاه ئې په افزوني شه     سفله فرعون یا قاروني شه
د مردکانو په غوښو مست وي     ور ځنې ځان ساتې کیدر خوني شه

— ٩٧ —

په لاړے تللم په مخه را غله     په مخ تر ګل بنایسته آغله
داغ ئې بیا لوے را باندې کښېښو     ځما خاطر! پیدا یې داغ له

— ٩٨ —

هیڅ نه پوهېږم چه لا به کله     بندیان آزاد کړے ښتن خپله
حاجت د ځلے د عرضونو نشته     ته خود خبر یې ځما له دِله

— ٩٩ —

فریاد فریاد دے له هغه دمه     چه رابنکاره شی اجل له همه
ما به یوازے روان کا ګور له     په ډېر ارمان او په ډېر المه

— ١٠٠ —

نه ما خښه کړی دی نه به خښه کړمه     چه راکوے ئې هغه کومه
نوم د ژوندون م نوم د علم دے     مریم عالم مریم مریمه

— ١٠١ —

په مجالس کښې بېرون له همه     دا آواز وخوت د خم له غمه
چه زه هم ستا غنډ مخمور ځلے وم     ځما له حال نه شے بے غمه

— ١٠٢ —

لکه ارواح حق له چا له ځانه     چه جدا کېږی آشنا له مانه
هسې ساعت دے بلکه تر دانه     په ما لا سخت دے تر له تا نه

---

[١] دا د باطی صرف په "ح" ګښه دے۔

۱۰۳

چه زړه رایاد کا تېر ساعتونه — اُبنکے مې توے شی په رُخسارونه
وار د دلبرو د دیدن تېر شو — اُس مې نصیب شه ساړه آهونه

۱۰۴

دریغ دریغ واړګون ګردونه — د ښځے له مرد کړے دوستی له دُونه
په نا اهلانو باندِ عنبر لوټے — لوټے په اَهلو پاندِ ګردونه

۱۰۵

واه واه سړیه! د تا کارونه — په خپل حکمت کړے څه کو پارونه
په دام له سینده ماهی وُکاږے — په دَم له سُورے اَژدر مارونه

۱۰۶

موږ ړانده یُو څمُوږ فعلونه — همسا ځکُوُنی دی ور پیسے ځونه
که فعل سنه لرے اندوه هیچ مه کوه
که لار کوهی لری یا کږنکونه

۱۰۷

په وخت د ګلو اَوُ د ګلونه — ځائے ئے کاوه شی د زړه دننه
چه بهار تېر شی خزان پرِ راشی — بیے رنګ سوه شی لکه ځوک غنه

۱۰۸

چه دا نا سازے د چرخ زغمونه — لرمون مې درست شه سره کږمونه
یُو ئے جدا کړو له خپلے مُلکے — بل ئے راپېش کړل د عشق غمونه

۱۰۹

مینه خو رنګ مزه لرینه — خود به پو هېږی چه ئے کوینه
کله تر وارو ترخو ترخه شی — کله تر وارو خوږو شیرینه

Marfat.com

— ۱۱۰ —

چه رِم بهٔ طمع د دُنیا چاتهٔ شوه ‌ ‌ ‌ ‌ له همه وارو په وار وار ماته شوه
اَشرے د خپلو پردیو پاته شوے ‌ ‌ ‌ ‌ اُس رِم یواځے اَسره وَ تاتهٔ شوه

— ۱۱۱ —

چه حاضر نهٔ وی ورځنه بنهٔ وایه ‌ ‌ ‌ ‌ کهٔ هر څو بد وی ورته لمه وایه
کهٔ لږ ډیر عیب په یار کښې وُوینې ‌ ‌ ‌ ‌ چه مخامخ شی ورته ئے وُوایه

— ۱۱۲ —

ثنا د کل شی، له کښلی بُویه ‌ ‌ ‌ ‌ صفت د مرد شی له نیکه خُویه
اَیل بهٔ نهٔ کا ستاینه ہیچرِ ! ‌ ‌ ‌ ‌ د کل له رنګ د مرد له اُویه

# ی

— ۱۱۳ —

یار رِم کهٔ هر څو راته ناساز وایی ‌ ‌ ‌ ‌ پرِ خوشحالیږم چه ئے له[1] ناز وایی
چه راته وُکا ښبیرے شکنځلے ‌ ‌ ‌ ‌ وایم کهٔ تل ئے راته باز باز وایی

— ۱۱۴ —

عام و هر چاته ښُبنتن د ساه وایی ‌ ‌ ‌ ‌ په تخت چه کښینی ورته بادشاه وایی
ژوندے هغه دے، بادشاه هغه دے ‌ ‌ ‌ ‌ چه تل[2] په ژبه اَلله اَلله وایی

— ۱۱۵ —

اُروے[3] بلبل د بهار څهٔ وایی ! ‌ ‌ ‌ ‌ چه همیش نه پائی مینه پرِنه بنائی
نن خو د کلو ښایست کمال دے ‌ ‌ ‌ ‌ دریغ تر کماندم پورِ کهٔ وُپائی

---

[1] "اک":- اَز روئے ناز واش۔ "ب م":- از راهِ ناز وایش — " [2] " "ح":- په ژبه کښې۔

[3] "اک" پلیله د سحر "ب م" بلبلهٔ دا بهار....

Marfat.com

۱۱۶

چه ښه وي خلق ورته ښه نه وايي — ښه دي چه بد وي ورته ښه ووايي
نظر په خدائے کړه خلق مه ګوره — که ورته بد وايي که ورته ښه وايي

۱۱۷

څه شو که ښیښې دي د دواړو پیئ — د غوا د غوا دي د ښپې د ښپې
پاک ځاڅکي بویه له پاک ځایَ — چه واخلي حمل ځینې ښیښې

۱۱۸

د غم لښکر م په زړه هر دم راځي — یو تلے نه وي بل پرې پسې راځي
په خوب کښې کله ښه ساعت ولیدشي — اندېښنې زور شوے مخ م کم راځي

۱۱۹

باران وریږي، څڅوبې ځاڅي — نسیم راوالوت سنبل پرې ناڅي
اسباب د عیش واړه موجود دي — ساقي نه ګورو که دے راپاڅي

۱۲۰

دا سنبل نه دي وېښته مشکبار دي — دا لاله نه دي ښکلي رخسار دي
دا نرګس نه دي سترګې د ښکلیو دي — چه خاورے شوي په خپل خپل وار دي

۱۲۱

په زړه م هومره نمونه ډېر دي — چه م وختونه د خوشئ ډېر دي
دردمن روغ نه له دردمنه وایه — وایه و ماته را باندې تېر دي

۱۲۲

چه فرمایلي د خدائے رسول دي — واړه په سترګو ځما قبول دي
په بل څه آیه، څون څه کار دے — چه بانده کار لري ظلوم جهول دي

Marfat.com

۱۲۳

دشمنان دی که ئے دوستان دی — واړه آفت د سرې د ځان دی

شنې دوستئ له هیڅ نه کا — په دین دُنیا کښې سخه کامران دی

۱۲۴

یار غونه څه موره نه دی — چه ئے ووایم خو هم پټ ښه دی

احق به نور کرم اخته په ذره کښې — هم به ئے زه ساتم د نور وڅه دی

۱۲۵

چه پکښې یښې ښه صورتونه دی — ځکه په مزکه ښکاره ګلونه دی

قدم پر ورو ورو په احتیاط بږده — دا نورے خاورے کښلې مخونه دی

۱۲۶

ګو دوه وښام د رته ساتلی دی — چه پیر ومانه ترخلے یستلی دی

مینه بے خدای په هیڅ مه کوه — بے خدای هیڅ واړه باطلے دی

۱۲۷

رچه د هجر مزری داړلی دی — که ساه پکښې وی په مړه شمارلی دی

لارے د تلو د راتلو بندے شوے — غایب له سترګو په خدائے سپارلی دی

۱۲۸

را دوه خبرے څما په ځائے دی — پر به پوهیږی چه روشن رائے دی

مقبول د خلق و مردود دحق ګنړه — مردود د خلق و مقبول دخدائے دی

۱۲۹

چه هنرمند دے هغه حاسد لری — اغزی ګلونه رقیب شاهد لری

له به ښه یشی د بومو زاغو — باز چه مسکن د شاه په ساعد لری

۱ واړه آفت د سرېه په ځان دے۔

Marfat.com

۱۳۰

بحر خاموش دے سیلاب غرغړ لري	سیلاب تش لاسے سیند دامن پر لري
د سیلاب کېږه له کاڼیو ډکه ده	بحر په ګېډه کښې قیمتي دُر لري

۱۳۱

بادشاه چه عدل انصاف تمیز لري	خدائے به ئے دلے هموارے عزیز لري
چه دا خویونه ورځنه نه وي	آخر به خوار شي که نور هر څیز لري

۱۳۲

هر څوک چه عقل دانائي هوش لري	راز به په زړه کښې همېش سرپوش لري
تنها به هم نه کا د راز خبرے	که هیڅوک نه وي دیوال هم ګوش لري

۱۳۳

څنے هوس کا مینه په باغ لري	څوک مے پرست حاجت د ایاغ لري
دا دواړه ګروهٔ بوالهوسان دي	عاشقان مینه د زړه په داغ لري

۱۳۴

چه شجاعت کا دُنیا په کف لري	نوم به د ښکلو په هر طرف لري
هر چه حاصل کا دا دواړه خُوئ	هغه میراث د شاه نجف لري

۱۳۵

مردان په سوال کښې د سائل نعم لري	چه لن لمّا ولا و مالم لري
لکه په لن کښې الف محذوف شته	هسے به ورک شي که ډېر نعم لري

۱۳۶

د ګل له غمه بلبله فغان لري	ګل له خزانه خاطر پرېشان لري
دا ګناه ستا دے د صبا باده	نه ئے ګلونه نه ئے خزان لري

Marfat.com

۱۳۷

تقدیر د ریاب دے موږه خسړی — په حال هیچ نه یو چا خبر کړی
چه دا دریاب هم به چرته بیائی — هم ئے له کمه لوری راوړی

۱۳۸

یارم که هرڅو و سرته لوری — قهر و ستم کا همیش م زوری.
لا تر دا زیات م واړه قبول دی — خو یو دِ لورو وَته نه گوری

۱۳۹

سحر سحر چه نوبت غږیږی — دا رنگ آواز کا که څوک پوهیږی
چه زه د بل وم، بیا به د بل شم — په ما ناحق څوک هوسیږی

۱۴۰

لږ ده له نیکو نیکی چه څوک کیږی — نیکی که بدو، بدی له بنو کیږی
د امید تخم پرِ بانده مه کره — له بدے مزکے به گل په څو کیږی

۱۴۱

گوره نن گانده روزگار په څو کیږی — نیکی له بدو، بدی له بنو کیږی
هرچه بد خوئ بد فعل، کم ذات وی — د خلقو مینه هم په هغو کیږی

۱۴۲

څو له پرهار زوے بسهیږی — پرِ ئے صحت شی رنځور ښه کیږی
همدرد م نشته چه ورسره وژاړم — له ډیره غریوه م حلق خوږیږی

۱۴۳

غنچه که گرځی که کښیني پاڅی — آه و فریاد کا اُبنه ئے څاڅی
دۀ تر منگاد یږی لکه ویرونه — که لور وکړے هوس کا، ناڅی

ئه ۱ کی لذاب وی۔

Marfat.com

۱۴۴

چې ئې د سترګو شرم رقیب شي     خلاص له اغیارُ ماله حبیب شي
د ګل لمن به ګکړه نه کا     ګل ته که هر څو اغزي قریب شي

۱۴۵

اول ئې مینه په مخ د یار شي     بیا ئې په طمع د ښه ګفتار شي
فکر ئې بیا د بوس و کنار شي     په عشق کښې کله صبر و قرار شي

۱۴۶

چې نور وګړي له تا وېزار شي     خپلوي د خپلُ ماله پکار شي
کنه د ورځ د راحت ترخپلُ     بېګانه لا تر سړي زار زار شي

۱۴۷

له غم امان وُشه چې په چا زور شي     رو ښان جهان ئې په سترګو تور شي
پې ورځ غم په یارانو وُوېشم     په شپه یوازې په ما تندور شي

۱۴۸

مخ چې د حُسن له غوړو سپور شي.     عاشق کرم نه د ےکه ذرّه ئې تور شي
ګل چې تازه وي ګماڼ ئې په سر کېږي     خزان وهلے لایق د اور شي

۱۴۹

غم دِ که هر څو په خاطر ډېر شي     نه وي چې ذرّه دِ پکښې تېر بېر شي
لکه چې وار د ښادي ولاړ ستهٔ     هسے به وار د غمونو تېر شي

۱۵۰

د عشق په کار کښې چې څوک صادق شي     د یار د مهر ماله لایق شي
دوئ د دواړو ترمنځ وُوزي     عاشق معشوق شي معشوق عاشق شي

۱۵۱

خوږ ئے په فقر معنوی حلق شی ځکه اطلس ئے بدل په دلق شی
نظر د عامو پرِ باندِ بند وی بنده د ځینې بادشاه د خلق شی

۱۵۲

زړه م تر هوسره ټولو پایمال شی گمان م نه شی چه بیا خوشحال شی
و نا محرم ته احوال وایه نه شی محرم ته نه وایم چهرِ ملال شی

۱۵۳

که ورکړه خبر دے چه هر شی گل شی که هر څوکم وی چه یاد شی گل شی
چه باغوان تخم په خاورو پټ کا پیدا ترِ هاله بنایست گل شی

۱۵۴

که دېږه سعی کوشش کړے خه شی په وخت چه نه کړے بے وخت خه شی
که هر څو مټ په بېړۍ ملاح کا په تانک چه کښېنوزی پورِ هاله شی

۱۵۵

خندا هوس شی له جاهلئ حزن اندوه شی له عاقلئ
که لږ بیدار شی خوند به ورانه کا جهان ودان دے په غافلئ

۱۵۶

چه نوم ئے وشی د محرمئ خوب به په څو کا د بے غمئ
په یوه تکی محرم مجرم شی ویره دِ کاندِ د مجرمئ

۱۵۷

چه کښېنته پورته قطار قطار درومی نارے فریاد کا په اضطرار درومی
زانرې بیل شوی یاران راياد کا په مخ م اوښکے لکه رود بار درومی

حا ب م پېر به ملال شی۔

Marfat.com

—— ۱۵۸ ——

چه ښکته پورته ځوږ نفس دروي　　هرڅه ئې هېر دي په ياد د نفس دروي
حاصل د دين د چار هېڅ نشته　　حيف صد حيف اوقات عبث دروي

—— ۱۵۹ ——

که په دولت کښې په شان د جم دروي　　لا زم تر جم افزون حشم دروي
هېڅ به ښکارېږي و دانايانو ته　　چه له سرېځه په تله دلاړم دروي

—— ۱۶۰ ——

جوړ به تر کم زيبا صورت وي　　آخر به خاورو سره لټ پټ وي
که نن مات نه شه صباځې گوره　　د خاورين لوښي ښکاره مدت وي

—— ۱۶۱ ——

په دهر عالم کښې که زړه م چوي　　هم م به اوښې د سترگو نه وي
زه به تا ژاړم په هسې ځائې کښې　　چه يو د غم وي دويم م زړه وي

—— ۱۶۲ ——

روژې شوې تېرې صبا به عيد وي　　هوس[1] به کاندي هر چه سعيد وي
سعيد ښه دے چه يار ترڅنگ لري　　شقي ښه دے چه تر بعيد وي

—— ۱۶۳ ——

زړه ئې که هرڅو په کور انبار وي　　چه ورکړه نه کا په خره زربار وي
چه پکښې نه وي اوبه د رحم　　ورېځه نه وي يو تش غبار وي

---

ع۱ "ح" هوس به کاندي چه څوک سعيد وي۔
"ب م" ښه به عيد کا چه به سعيد وي۔

Marfat.com

۱۶۴

چه ظاهر غوړ وي په باطن سپوروي — په ژبه خوږ وي په زړه کښ شوروي

ورسره مه کښېنه تا به تباه کا — سپين زر که سپين وي اثر ئې توروي

۱۶۵

که اشتها د سړي د سړوي — خوراک ئې بويه چه کم يم سړوي

چه ډېر خوري کله هغه تر ډېر خوري — هر څوک چه لږ خوري خوراک ئې ډېروي

۱۶۶

که په حکمت کښ تر هر چا پاس وي — اصل نجيب چه خالي لاس وي

پروت به په خاورو لکه الماس وي — سپک په نظر د عوام النّاس وي

۱۶۷

که ښه ښه ښځې ښه ښه پوشاک وي — که ښه ئې اسونه که لور املاک وي

چندان نقصان ئې سړي ته نه رسي — ځان ته او دين ته بد ډېر خوراک وي

۱۶۸

که سپين او سره ئې په کور کښ تل وي — چه نه ئې علم نه ئې عمل وي

بنياد ئې نشته، آخر به خوار شي — بخت به تر کمه ورسره مل وي

۱۶۹

هر چه امير د لښکر بېدل وي — يا بې خبرې د داد مشکل وي

تل به رټلي شړلي گرځي — په هر محفل کښ به منفعل وي

۱۷۰

په خوشحالئ کښ هوښيار غمجن وسي — چه صبا کېږي بويه چه ننن وسي

درد ئې دمه وينم که درد ئې نه وي — چه د دردمنو په درد دردمن وسي

Marfat.com

۱۷۱

داګمان مه کړه چه ستا دی تل به وی    د بل دی ستا شی ستا دی د بل به وی
د ذرو کالو سری مرګ پرے نشول    ته که ډیر پاییے نهایت سل به وی

۱۷۲

چه مخ په یار پسے د چا بد رنګ نه وی    مخ ئے ونه وینم چه هیڅ ئے رنګ نه وی
بالبنت په ډیرو ژړلو لوند کړم    چه وینښ له خوب شم یارم ترڅنګ نه وی

۱۷۳

چه محبت کا له چا چه تل نه وی    تر هغه هیڅوک کم عقل بل نه وی
ځما خه کار دے له خوشحالیو    خوښی هغه کا چه څوک ئے خپل نه وی

۱۷۴

چه دروغجن دی له حق لرِ وی    هغو ته زهر رشتیا خبرے وی
مُشک نجاست وی وَ ناکسانو ته    خاورے خورو ته خاورے شکرے وی

۱۷۵

دوڅی په کورکښِ وُچ ملوک به ژوئ    خوسے ئے له لوړے کویلی کوئ
دیشتیا متل دے هوښیار ویلے    دنیا خوږه ده تر ځان ترځوئ

ے

ته چه له ما نه کنار کړے    ۱۷۶ ځان نا آشنا کړے بیګانه وارکړے
نه ښایست یم مشتاق رِم ډیر دی    ته به بے یار همیشه خوارکړے

۱۷۷

له د دُنیا دے که د عقبیٰ دے    وَ ما راکړے نعمت مولا دے
شماره ئے ځکه کوے نه شم    چه لا یَعدُّ وَ لَا یحصیٰ دے

Marfat.com

۱۷۸

یارم په مثل لکه آفتاب دے ... هم بے حجاب هم په حجاب دے
د مخ شعلے ئے د مخ پرده ده ... نور د آفتاب د آفتاب نقاب دے

۱۷۹

که د عجم دے که د عرب دے ... هم بے ادب دے چه رد درب دے
سیل م وکړه د کتابونو ! ... مقبول هغه دے چه په ادب دے

۱۸۰

کار کوه کار، بیکار هم کار دے ... تاوان په ځان باندِ خالی گفتار دے
عقل څه بل دے، خبرے نور څه دی ... کوتره گنګه ، طوطا طرار دے

۱۸۱

دانا په مثل د شهسوار دے ... پروت که په مزکه وی هم قدروار دے
ناپوه سرے په مثال غبار دے ... لاړ که آسمان ته شی هغه هورے هم خوار دے

۱۸۲

نن چه په حسن د کښلیو سر دے ... هم هغه کښلے ځما دلبر دے
ځکه ئے تر مخ ښایسته تر دے ... خدائے ئے راپرېنږده عجب بشر دے

۱۸۳

تر هر څه بد د لجی خطر دے ... لجی به نه کا چه دانشور دے
الف چه سم شی لجی ئے هم نشته ... ځکه تر نورو حرفونو بر دے

۱۸۴

هر ک م دننه لړمون په اور دے ... زړه سمندر دے پکښې ئے کور دے
چه ستا د نورو زلفو په رنګ دے ... له بخت خوښ یم چه بخت م تور دے

Marfat.com

۱۸۵

چه عاقبت به له دُنیا لېږدے ۔۔۔ وے دا هونبره طولانی بلېږدے
چه وُخورے وُخورے، چه ورکا یوسے ۔۔۔ نور به ئے یوسے چه زر دلے بوږدے

۱۸۶

ښکر په مثل لکه ښه آس دے ۔۔۔ سردار ئے سوړ دے چه سور پرې پاس دے
که هر څو جلد وی چُست وچالاک وی ۔۔۔ چه سور ئے نشتی د آس څه لاس دے

۱۸۷

چه کُل همت ئے خوراک لباس دے ۔۔۔ په تحقیق هغه اَرذل النّاس دے
شرف په خوئ دے په دیانت دے ۔۔۔ که څوک شریف دے یا څوک کناس دے

۱۸۸

اَدَب په تله کښې، اَدَب په ناست کښې دے ۔۔۔ هم په ولاړ کښې اَدَب په نماست کښې دے
اَدَب په هیڅ کښې له سړی نه دروی ۔۔۔ نور څه لا پرېږده اَدب په زغاست کښې دے

۱۸۹

د عاشقانو د خُلے یو بول دے ۔۔۔ چه خال و خط د ښایسته پسول دے
خدائے دِ دلگیر مه کړه نه چه دلگیر نه شے ۔۔۔ د غم وهښته دِ د میاشتِ شپول دے

۱۹۰

چه پیدا شوے ظلوم جهول دے ۔۔۔ هوس ئے سود دے اَندوه ئے مول[۱] دے
چه عاقلان دی پرې به پوهېږی ۔۔۔ نا معقول نه دے دا قال معقول دے

۱۹۱

که یاس له حقه تحقیق حرام دے ۔۔۔ یاس له مخلوقه د حق اِنعام دے
اَصیل بنده کا خلاص شوے بند کا ۔۔۔ طمع له خلقه د خلقو دام دے

---

ملا ح برنول .

—— ۱۹۲ ——

زاہدٔ ! وے راپورِ خاندے مخلوق پہ خپلَ کلہ څہ کاندِ
چہ ئے رابیلِ اَوْ چنبیلِ پیدا کړہ ہغہ پیدا کړہ گندہ بری سپاندِ

—— ۱۹۳ ——

صُورت مِ ہر څوکۂ ډیر زبُون دے کۂ مِ د مزکے د لاندِ یُون دے
زۂ بۂ پہ لور د اَشنا روان شم یُون کۂ مِ ہر څو پہ شواخُون دے

—— ۱۹۴ ——

چہ ډیر مِ کوے باندِ گناہ دے ہر ہر مقامؔ مِ پہ گناہ گواہ دے
تور مِ د بڼیرے وَ زړۂ تہ پرېوانۂ بڼیرہ مِ سپینَ زړۂ مِ سیاہ دے

—— ۱۹۵ ——

کۂ ہغہ یار مِ ظاہر پہ بیارتہ دے خیال ئے راغلے څما کنار تہ دے
ځائے بۂ دِ پاسَ پہ خپل تندی کوم کلہ چہ رنگ دِ څما و یار تہ دے

—— ۱۹۶ ——

چہ خوش لہ گلَ دِ لگیرلہ خارَ دے عشق لہ دو بینَ بے اعتبار دے
نہ شکایت کرم لہ چا، نہَ شُکر دَرْد مِ لہ یارَ درمان لہ یار دے

—— ۱۹۷ ——

سپین چہ بد خوئ وی ترِ ښکلوی تور ښۂ دے چہ ستا پہ راځے ځ، پرډے تر وروړ ښۂ دے
ښۂ ہم ہغہ دے چہ ستا پہ ځانښۂ وی تر سرو گلونو پہ زمی اور ښۂ دے

—— ۱۹۸ ——

پہ دردِ مِ نور څوک بیمار دردمن نۂ دے بے ما پہ غم کښں څما غمجن نۂ دے
کۂ پلارَ کۂ څوے دے کہ ورور کۂ یار دے تر ما نۂ ہیڅوک یہ ما مینَ نۂ دے

ط ا اک " د ہر ہر مقدم مِ .......

Marfat.com

١٩٩

که لب د لال کړم لال خو شیرین نه دې — که غابښ د دُر کړم ډېر سپین نه دې
که خط د نمر کړم د نمر کړه وړه نښته — که دِ سُنبل کړم، زلفِ مشکین نه دې

٢٠٠

چه یارم لاړ شو په لوېږه لاړ ږے — راباندِ راغلے ورځے دشوار ږے
لړمون مِ سوزي، روغ عالم — څه کړم چه نه کړم نارے چغار ږے

٢٠١

د کړلو نه دي دا دوه خبرے — دواړه هر کور دي له عقل لرے
په نامرد خوي چه نغارے وهے — بل په بد رنګے ناوي بندرے

٢٠٢

که زر دوستان لرے، یو غلیم شوم لرے — زړه ئے له غم عاقل مغموم لرے
که نور ځان روغ وي یو غابښ رنځور شي — په فراغت کښې به اندام کم لرے

٢٠٣

څوک که تر نمر هر څو رخشان لرے — شونډے سره لعل د بدخشان لرے
ستا له یارئ ځوبږ توبه شه — چه خوئ خصلت د څاروي په شان لرے

٢٠٤

که هر څو خوي او خصلت یو شان لرے — همېش فتنے کا عاشق پرېشان لرے
راشه چه دواړه سترګے دِ کښېنل کړم — ځما د یار څه خو نښان لرے

٢٠٥

رب ورکړے مِ له غېرو سوږ لرے — هر دم مِ خپله بندګي ته جوړ لرے
زړه مِ څه، لاس مِ دواړه خالي دي — د قناعت په خزانو ئے موړ لرے

Marfat.com

۲۰۶

غافلَ ! وُخورے دا سترګے تورے    زهٔ تا ته ګورم تهٔ بل ته ګورے
ځما د مینے لاڼے ہاله وَہَه    کهٔ زړهٔ له غېږو مینو وُړغورے

۲۰۷

بیګا نژدے شو د غرولو سیورے    په سم راپرېوتے له سپینے تورے
ډېر ډېر ویرېږم یارَ نژدے مشه    چه ځیر دِ ګورم ہم م ځیر ګورے

۲۰۸

اےَ چه له مانه تل په ژړا غوارے    خود بهٔ ئے بیا موے کهٔ تل داشانژاړے
له مصرعو واخله د سر حروفونَ    سخه جواب دے چه بانِدهٔ ویارے

۲۰۹

چه په دا لارے صبا بیګا کړے    تلنه، آہونه، فریاد ژړا کړے
کلی محلت بهٔ واړه خبر شی    ما بهٔ خراب، ځان بهٔ رسوا کړے

۲۱۰

تهٔ چه دا ہسے له ما کنار کړے    کښېنے ہرچا ته، له ما نه زار کړے
یا دروغجن وے منزل دِ لنډ وو    لا دِ نیت بل شوَ بل یَوُ بهٔ یار کړے

۲۱۱

بهار خزان کړے، خزان بهار کړے    مالدار نیست کار کړے، نیست کار مالدار کړ
د چا دارُو کړے، د چا تبر وار کړے    ځهٔ ځهٔ کارو نه پروردګار کړے

۲۱۲

آبشارَ وے دا ہسے ژاړے !    له چا فریاد کړے څوک پسے غوارے
کهٔ تل فریاد کړے له کاڼری سرو سے    بیا بهٔ راڼهٔ شی اُبهٔ چه ولاړے

ما دا رباعي جواب دے د رباعي منګ په ردیف م کبد .

Marfat.com

۲۱۳

ځما شوے وُچے د غم لاړے
هم م په زړه کښې ځړیکے ولاړے
زه دِ په هسے اَحوال کښې پریښنوم
تا راته سشا کره ، راځئے ولاړے

۲۱۴

هغه چه ستا دے چه ئے ساتل نه کړے
ویره م کیږی چه ئے د بل نه کړے
که دا دِ خوئ دے ، دا دِ خصلت دے
خپل به پردی کړے پردی به خپل نه کړے

۲۱۵

اے چه په فکر د هیچا نه وی کړے
زاړه به کله د خوارو نوی کړے
باران د رحم وربانڍِ ؤ ووره
چه پیاله مزکے زرغونه سوی کړے

۲۱۶

راشه که کورے د عقل وږے
وُچ ئے له تندے د ننه سږے
که په دریاب شو اُبه ئے نه ښَبنے
ورځئے راغے ، هم هسے تږے

۲۱۷

مَست یم دُعاکړم که ته هم مَست شے
راسره کښېنے ، باده پرست شے
پیاله د میو په لاس کښې واخلے
د نام و ننګ د بنیښے په شکست شے

۲۱۸

د باده فروشو په پُوکی ده شے
کښېنے د ځان په ستاینه کړه شے
خود به دِ هر څوک ثنا صفت کا
که د هما غُنډِ قانع په هډ شے

۲۱۹

خبر د تللو د کُم اُشنا راغے
چه قاصد هسے دِلګیرَ بیا راغے
په وار وار واړه یاران روان شول
اُس به زه درومم چه وار ځما راغے

Marfat.com

۲۲۰

نن مې په زړه کښې د کښلیو خیال راغې ... په خُله وایه نه شي یو هسې حال راغې
مګر یار راشي چه مې ترې خلاص کا ... ګنړه پوهېږم چه لوئې جنجال راغې

۲۲۱

وخت د سحر شو، پرېوند تلې ... له کښته لوري، را وُختلې
د یار د راغلو وعده شوه تېره ... په ډېر کتل مې سترګې وتلې

۲۲۲

عشق مې خاطر دې ځکه پسند دې ... چه عشق کښې سوروم، بې عشق پېلې
په عشق بادشاه وم، پروا د چا نه کړم ... بې عشق ګر ځم لکه نتلې

۲۲۳

وخت د خزان وه، وم لید دې ... یو څو بلبلې، چه ژړېد دې
خوارې خسته وې، وې مې سزا ئې ... چه بې ګلونو وُ پائېد دې

۲۲۴

څو شکر خوارې خاورې خوړې شولې ... ډېرې ئې ځنړې د خیال خوړې شولې
چه تل سورلي ئې په عراقیانو وه ... اُس تورې خاورې پرې پاس سورې شولې

۲۲۵

اې چه عیبونه د بل اکثر وِینې ... خپل ځان تر لورو خلقو بهتر وینې
سر د همه وي عیبونو دا دې ... چه د بل عیب د ځان هنر وینې

۲۲۶

ډېر څه مې وکړه وېره مې آشنا شو بې ... لکه زه ستا یم، نه هم ځما شو بې
یا نه بد خوي ئې یا مې بخت بد دې ... لا تر غلیم بې بېغه خوا شو بې

علـ تا بم هـ هسې حال راغې۔

۲۲۷

له اَبنیو ډکے سترګے نظر کوے
د خپلو تللو واته خبر کوے
چه د جوګیانو جاے دِ وا غُستے
پو هیږم تږِ مُلک ته سفر کوے

۲۲۸

په زړه مزرئ په سترګو بازے
سترګے مګلے خونریز ته وازے
سازے ناسازے چارے په ما کوه
په ما دِ واړه ناسازِ سازے

۲۲۹

په زړه مزرئ په سترګو بازے
سر تر قدمه له خوبئ سازے
هر څه دِ ښه دی عیب دِ دادے
چه له نیازمنه هرګور بے نیازے

۲۳۰

په ونه سروه یه مخ ګلزاره یے
په دواړو زلفو عنبر نثاره یے
خوبی د حسن زیاته تر حد لرے
عیب دِ دادے د ډیرو یاره یے

۲۳۱

از بس چه تل مِ جارې په خُلّه یے
یاد مِ دلبره هسے په زړه یے
چه څوک له وُرایه راته ښکاره شی
خوشحال خوشحال شم وایم چه ته یے

۲۳۲

اے چه ویل کړے ماته ښه نه یے
ښه چه زه بد یم ښه چه ته ښه یے
زه ښه هغه کړم لکه چه زه یم
ته هم هغه کړه لکه چه ته یے

۲۳۳

ښایست دِ لاړ شو په خوئ ښه نه یے
یا خو غوټکے یے یا پړانګ لیوه یے
اُس له ما لِرِ په ښُک ګرځه
نه هغه زه یم نه هغه ته یے

Marfat.com

# قصاید

Marfat.com

Marfat.com

# قصیدهٔ (حمدیه)

په تن د هر وېښته ژبې هزار کا — بیا د ژبې ئې هزار هزار گفتار کا
سیند ونه د جهان واړه سیاهي شي — قلمونه د جهان واړه اشجار کا
ېښتې، سرې، پېرېان وبله قول شي — په بیان په کښېنو هزار ځلې تکرار کا
خپل خدائې د نعمتونو په حساب شي — گمان مه کړه چه ئې یو نعمت په شمار کا
د نور چا څه زور قوت چه اولوالعزم — په خپل عجز کښې له دے باب اقرار کا
نعم خدائې چه بر کمال دے په قدرت کښې — چه په خوا په خاطر نوې هسے چار کا
اُبو باندې یوه کربنه محال ده — چه ئې وُکا ځان که هرخو اُستکار کا
یمان که واړه جمع د عالم شي — په هوا به یو ورق کله قرار کا
ه اساس د درست عالم په اُبو کښېښې — د نور چا کله قدرت چه هسے کار کا
ئې بے ستنو اسمان دے دروے — حیرانېږي چه نظر وته هُشیار کا
ان اسان د ده قدرت وته یکسان دي — نه خلقت د چا اسان د چا دشوار کا
رته یو خلقت د ماشي، د اسمان دے — کاه او کوه په یوه آن کښې پدیدار کا
د اوُ خاورے او راُبه که هر خو ضد دي — په یوه مکان کښې جمع هر چهار کا
ه په خپله اور غالب وو په لرگیو — تر وئې وے په لرگیو کښې حصار کا
خلور دي که پېغمبر که شېر اوه دي — همگي په حکم کار د کردگار کا
کات د هیچ اشیا نه شي بے حکم — سکنات کله په خپل اختیار کا

اک: سکنات کله په خپل حکم اختیار کا۔

Marfat.com

جهان ډک کاندِ په ورځ د نمر له نُورَ　　بیا په شپه نابُود د دهٔ واړه اَنوار کا
ښایسته کاندِ آسمان په شپه په ستورِیو　　په ورځ مزکه ښایسته په لالهزار کا
د خزان په وخت زینت له مزکے یَوُسی　　ښایسته ئے بیا په وخت د نوبهار کا
د اُبو تفاوت هیځ وَبله نهٔ وی　　تِر پیدا رنګارنګ کُل اَلوان اَثمار کا
نه د ګلو رنګ و بویَ په یوهٔ شان وی　　نه لذّت د سیبُ وُنه د اَنار کا
له یوهٔ باغٔ میوے له یوے مزکے　　تفاوت ئے د لذت ترمنځ بسیار کا
په همه کانړو تابش د نمر یکساں وی　　څنے کانړیٔ څنے لالٔ یاقوت آبدار کا
له یوه څاڅکی پیدا کا مرغَلرے　　له یوه څاڅکیَ پیدا دُرِ شهوار کا
له یوه اَصلَ نطفه پیدا انسان شی　　څنےِ څنے مسلمان ٔ څنے کفار کا
څوک بدرنګ چه له لیدو ئے نفرت موی　　څنے څنے ښایسته ښکلی نګار کا
څوک توَنګر د قناعت په خزانو کا　　څوک د طمع د حرص په خوارئ خوار کا
څوک توفیق د طاعت بیا موی له دهٔ نه　　شپه اَوُ ورځ ئے خپل طاعت وته بیدار کا
چه توفیق د عبادت ور څنے واخلی　　مخ ئے تل په میخوارئ لا په قمار کا
له اَزَله چه طالع د چا ترځنے وی　　له حلالٔ ورته لا خواږهٔ مُردار کا
خزانے ئے لایعد اَوُ لا یحصیٰ دی　　ورے ورکړه وهرچا په خپل مِقدار کا
نیک و بد له دهٔ هرچا وَته رسیږی　　خوار هغه شهٔ چه په دا باندِ اِنکار کا
په طلب ئے څوک په دَوُ څوک په تلوارځیً　　څوک په سرٔ څوک په سینه پسے رفتار کا
د میږی د پښنو اَواز اَروی بے غوږو　　چه په توره شپه په تورکانړی ګزار کا
نژدے لرِ ئے لیدو ته برابر دی　　د نظر حجاب ئے غرٔ نه ئے دیوار کا
د نفس ښبنتن همه واړه هُو هُو کا　　نه یوازے ذاکران د دهٔ اَذکار کا
تسبیحات ئے نه یوازے فرښتے وایی　　تقدیسات همه اَشیا د خپل داداِر کا

Marfat.com

د دُنیا عمارتونه چه لیدل شي　　د دوران په زلزلو به ئې مسمار کا
همیشه به ئې چیچي پرې به ړاندو وي　　په بخیل به د بخیل خزانه مار کا
چه د ظلم اور ئې بل کړه په عالم کښې　　ظالمان به ځان سوخته په دغه نار کا
په خپل ځان باندې ستم کا نه پوهیږي　　چه ستم په زبردستانو ستمګار کا
مکافات به یو په مثل څه واخلي　　چه بې شرعې لږ د چا خاطر آزار کا
عاقبت به وړې تړې څه دروي　　که هر څو لئیم په کور کښې زر انبار کا
چه بې ځایه ظلم کا په مظلومانو　　ځان ظالم په طوق د لعن ګرفتار کا
حسنات به څه واړه خصمان یوسي　　پرې انبار به د خصمانو بدکردار کا
دا دنیا لکه مزرع د آخرت ده　　پکښې کر څه د ګلو څوک د خار کا
د اخستو ورځ ئې ورځ د قیامت ده　　هم هغه به وربې چه کښت و کار کا
د جهان ورکول ګل په عاریت دي　　تعلق به دانا څه په مستعار کا
چه ئې پس له ده نور تار په تار وګډوړي　　مرد هغه چه بخیل لاسې تار په تار کا
چه پرې تله ترپلي لا د سواره سخت دي　　بلائي په پلي و ے شهسوار کا
چه په خدائې باندې غني، غني هغه دے　　د سبب په غنا څه څوک اعتبار کا
لایزال دے سلطنت د ګدایانو　　د زوال ویره ئې نشته نه ئې دار کا
دا د فقر لوئي څه ده نه پوهیږم　　چه بهتر د موجودات پرې افتخار کا
ستا په درکښې ګدا پروت په تور و خاورو　　که د درست جهان بادشاهي څنې عار کا
چه ئې ذره په معدوم تینګ دي تر موجوده　　ما د خدائې ترېښې رنګ څوانانو ځار کا
ورکول په طمع ورکړه د رشوت ده　　نا پوهان په ورته وائي چه ایثار کا

که ګنج غواړې رنځ ګوره عبدالقادر
مزدوري به ئې هم وموي چه کار کا

Marfat.com

# قصیدہ (بہاریہ)

## ۲

شگفته په باغ وراغ شول د بهار گل — هم په بام هم په کوټه هم په دېوار گل

نه یوازې گل د گلو بوټې ونېو — بادام گل شفتالو گل ونیو انار گل

هر اشیاء د مزکې گل پروړ دکار کړه — جمادات گل نباتات گل گل اشجار گل

کانړي بوټي خاروخس په گلو پټ شول — د همه وارو عیبونو شه ستار گل

څو د سترگو نظر لگي واړه گل دي — وراندې گل دي وروستو گل یمین یسار گل

هیڅ یو ځای خالي له گلو پاتو نه شه — په بازار گل په صحرا گل په کوهسار گل

که اسمان په شپه په ستوریو ښایسته وي — لا تر مزکه ښایسته کړه په بهار گل

عندلیب نارې وهي چه سېل ئې کاڼړي — بهار د رومي رېژېدون کا په واروار گل

لا تر کور کور دید پروت په کوړ کښې بنه دې — چه به نه کوري سبو کال د گلزار گل

د بهار په سېل جونه زلمي کښېږدي — په اوربل گل په پټکي گل په دستار گل

د دلبر صورت تمام لکه گل روغ دے — پښې ئې گل لاسونه گل چهره رخسار گل

مے گلگون ساغر گلگون ښیښه گلگون — ساقي گل حریفان واړه گل نگار گل

د بهار په سېل وخوزه له کوره — د راتلو د هر کور دېر کا انتظار گل

چه گلونه بوېوے احتیاط بویه — چه په شونډو دې ونه کاندې پرهار گل

چه د گلو هار په غاړه نازنین کا — په سینه باندې ئې څرخي لکه خار گل

خاص و عام ئې بهو من په ننداره شول — منتونه په هر چا باندې کړه بار گل

Marfat.com

چه د یار له وصله بناد وي ګل په ګوري ... د مهجور به هرګز هیڅ نه وي په کار ګل
چه بې یاره د بهار په سیل دروم ... په خاطر باندې م لګي لکه نار ګل
په هزار رنګه ګلونه شګفته شول ... ولید نه شو یو په شان ځما د یار ګل
چه دا ښه ئې په ډکه خوله خندا کړه ... مګر نه وو له خزانه خبردار ګل
په هوس په خوشحالۍ ئې آموخته دے ... ګل پرور! مه کړه زر د زره خوار ګل
بلبل هیڅ نه وو خبر د عشق له تاوه ... په فریاد کړ په ناروکړ په چغار ګل
چه د سرائې په مزګه وا د ښپې لي ګل شي ... شرمنده کا د کشمیر د بل دیار ګل
دا رنګ ګل چه په سبز کال د غواص واشول ... د چا یاد نه شي په خوا ښه بسیار ګل
چه نشان د خپل آشنا ور ځنې مومي ... ځکه یاد عبدالقادر کړه په تکرار ګل

په بیاض کښې م د شعر لون لون
شګفته دي تر دا ښه هزار هزار ګل

Marfat.com

# قصیدہ (موعظت)

## ۳

چه دے نه شوې په شرع مستقیم     د صراط په لار د ویم ښورې ږیم
که په اور د ریاضت مخ‌سر وسوزې     لاله زار به درته اور شي د جحیم
د گناه تورې د سترگو په اوبو ځئ     له ژړا دِ قرارې نه کا اَثیم
چه هیڅ زبرمه د عقبې د سفرنه کړې     د دُنیا په سرائے کښې ځان گڼړې مُقیم
عاقبت به د ارمان ورغوے ژوې     د هغوچه شیطان یارشو انس ندیم
د غلیم په ویل وے کړے کارُونه     گله نه نه یې د خپل ځان سره غلیم
د دانا صحبت، صحت د رنځور زړه دے     د ناپوه صحت عذاب گڼړه اَلیم
چه راضي په خپل قسمت نه یې، حرص کړے     شکر پیدا کړه، بے قدیم، بل قسیم
شکر سترگے ئے د گور خاورے مړے کا     مور به نه شي حرصناک په زر و سیم
غابښ مات شوي په خوړل د کانړو بنه دي     نه یوه نمړۍ خوړلی د لئیم
د الله اِلف عصا ده، پر تکیه کا     په ملا خم مه شه مخلوق ته لکه جیم
که په خُلّه کلمه لول نمونځ روژه کا     دروغجن دے، منافق سره سهیم
د دُنیا کارونه وهم، خواب اَو خیال دي     تعلّق به پورِ ځه کاندِ فهیم
چه بے حق نور باطل و ته ښکاریږي     هم هغه سړے دانا بویه حکیم
چه موجود ئے موجودات کړه له عدمَ     ځه مشکل که ژوند وي عظام رمیم
خوشحال کړي ئے هر څوک په خپل خپل کار دي     په هرچا باندِ ئے لطف دے عمیم

Marfat.com

ناامید ئے له درګاه هیڅوک نه ځي — تفاوت د نیک او بد نه کا کریم
چه به چا ورسره بد کړه ده به ښه کړه — مصطفیٰ نه وړکړه خدائے خُلقِ عظیم
چه په خوئ د خدائے په خوئ وو صفت شوے — ځکه ښه رنګ زغمونے وو حلیم
د نمرود لمبه ئے ځکه باندِ باغ کړے — چه خلیل شو و قضا وته تسلیم
په صفت د کمینی آدم صفت شو — په صفت د تکبر شیطان رجیم
د ارشاد صابون اثر ورباندِ نه کا — سیه دِل دے ازلی سیه ګلیم
په آزارے آسمانونه په لرزه شی — هر ظالم چه په ژړا کاندِ یتیم
چه دایم د مظلومانو وینے شومی — ظالمان به پیالے وُڅښی د حمیم
چه په حال د مسکینانو ترحم کا — په هغو باندِ به رحم کا رحیم

چه والاړ نه شے په غفلت عبدالقادر
که پوهیږے غنیمت دے دال و میم

Marfat.com

# قصیدهٔ (ہجویه)

حاکمان اَوُ اُمرایان د دے زمین    چه لیدل شی په دوران د محی الدین

ہیڅ حاجت د عیان نشته وبیان ته    خود ئے حال دے وہرچا وته مُبین

ہمکی واړه مذموم په خوی خصلت دی    پکښِ یَوُ نشته بادشاه ته د تحسین

نۀ بۀ ہم یَوُ څو خبرے له دویُ وایم    چه نن عقل څما زړه ته کړه تلقین

له علماوٌ فضلاوٌ ئے نفرت دے    په مجلس کښ ئے ارذال کښېني مکین

وبله وار نۀ ورکوی په پُوچ ویلو    غوږ کانړه کا چه مذکور کېږی د دین

د راجپوت د رافضی په استقبال ځیٔ    عالمانو وته ہسک نه کا سرین

د مسجد په لوری ښَل شی نۀ وردرومی    تل ئے اَس په پُوچو چارو ښے زین

کله کله چه سر وُوہی په مزکه    سل منته بږدی په ربّ العالمین

خو د خلقو آزار ډېر کا د دۀ څېلوی    په نیک خواه د عالم تل وائیٔ نفرین

ده رشتیا خبرهِ زہر' ځنے مرینه    خوش آمد دروغ تر شهدو پرِشیرین

ہم ہغه چه خوشامد کا مصاحب وی    لا ترِ وی په بد ویلو ځنے خوږین

په صبدان ئے شغالان په بربتو مېږی    د قالین مزری' مزری وی د قالین

تل ئے ہجو د سَخی د مړنی وی    د مُمسک د بےدِلانو کا تحسین

ہمیشه د ځان صفت د بل عند نه    خود پسند وی' خودنمائے وی خویشتن بین

د محنت په ساعت ځیٔ تحت الثریٰ ته    د راحت په وخت قدم بږدی په پروین

Marfat.com

که دولت ئې لکه بحر بې پایان شي    بیا سایل وته چین راوړي په جبین
چه فقیر ئې په در ورشي ورکړه پرېږده    په خواږه وېل ئې نه کا ږړه شیرین
یو درم ئې په ځائې نه دروي له کوره    تل بې ځایه ورکول دده آئین
خرڅ ئې واړه په لباس او په زېور وي    لکه ښځې آرائش کاندې تزئین
دیوې روپۍ په ځائې چه لس اخلي    هم هغه په رعایا کاندې امین
دهقان په خوارول ئې سترګې سرې شي    په پټي چه زراعت ووینې ښین
پېشکاران ئې په ابرو اشارت وکا    چه څوک ووینې اغوستي نمری سپین
ځان او مال ئې له کفارو په امان دي    دېو بدبختو تاخت تاراج کړه مؤمنین
دمجرم جرم لا نه وي ثابت شوې    براتیان ئې کا په کور باندې تعین
رعیت د دوئ دشمن وي دوئ د دېو    دوئ وده ته دې ودوئ نه کا کمین
هر ظالم چه تعدي په رعیت کا    په قیامت به ئې مقام کاندې سجین

که باور دې په دا نه شي ورشه ګوره
په قرآن کښې "بئس مثوی الظالمین"

Marfat.com

## قصیده

## مرثیه د خپل پلار خوشحال خان ختک

همېشه مې ستا له غمه مشغولا ده — ستا له پسه راته پاتې بنادي داده
خپل پردي را ځنې واړه کناره شول — چې تل مله ده راسره اندېښنه ستاده
په بهانه د آه خپل دم را ځنې دړومي — له همدمو بېهوده ګله ځماده
اوبنکې هم د وچېدو له وېرې ولاړې — له توده تېښته مې ګرمه سينه لاده
نا آشنا همېشه خوبن ګرځي هوس کا — په جهان کښې د غم بخره د آشناده
د غم تخم آشنائي ده که ئې کورې — ستېره وهر چاته دا وېناده
د هجران غشي په هره سينه لګ دي — چې وهر لوري نه غوښ باسم ژګرواده
څوک چې وائي تر بلا بلا وي سخته — کله سخته تر هجران بله بلاده
جدائي په نابودي سرې راضي کا — له ژوندون په مرګ مېنه د جداده
دا چې وائي بد ژوندون تر مرګ بتر دي — اوس پرې وپوهېدم دا وېنا رښتياده
مرثيه به دې په هسې مضمون وايم — چې هېڅوک پرې نه پوهېږي چې د چاده
د تا دردمې په بې دردو پېرځو نه شي — ستا د درد د درست جهان خوشي بهاده
د فراق په اور دې وسوم نوم مې وېچ شو — اوس مې تل په وچو سترګو ستا ژړا ده
چې هر څېز دې ياد وم په زړه ورتېږ مې — لا چې وېرم ژړوي د تا خنداده
زه چې ستا په تلنه بې غسره نېږ نه شوم — که خوارېږم پس له تا دا مې سزاده
په ارمان د ملاقات له موبږه لاړې — څوبږ ستا د ليدو ژمنه په عقباده

خپل پردی در بانډ هیڅوک حاضر نهٔ شوهٔ     نه د پاتے مال او مُلک نه دِ دُنیا ده

چه پیسه دِ پاتے نهٔ شوه و کفن ته     هم دا نخښه ستا د جود او د سخا ده

له نااهلو کهٔ دِ خپل وُو کهٔ پردی وُو     ځنے تا لیدلی خو رنګ جفا ده

خپل شامت بهٔ ئے د ے هورے خراب کا     چه بدی کا د هغو بدی جزا ده

په وطن کښِ مسافر غُندِ وفات شوے     خپل خانه در ځنے واړه پیسے شا ده

خپلِ دِ نه وُو چه د حال ورته بیان کړے     له فانی دنیا دِ وړی ډکه خوا ده

د دُنیا خلقو خو واړو درته شا کړه     ستا تکیه په خپل څښتن په خپل پیشوا ده

بے له صبرہ له تسلیمہ چاره نشته     موږ وروړی په قضا د حق رضا ده

په حُرمت د پاک رسولؐ چه په قرآن کښِ     خدائے په خو رنګه دده کړی ثنا ده

د دوزخ له عذابونو په امان شے     بهشتی شے شپه او ورځ هم دا دعا ده

تر دے به هورے خوش وے فال دِ ښهٔ دے     خدائے چه یینی د خوشحال نامه پتا ده

نه یوائے هجران لوټ عبدالقادر کړه
په هر مُلک په هر دیار کښِ دا غوغا ده

Marfat.com

# قصیده (موعظت)

۶

د بقا بهبود یې هیڅ نشته فاني ده — په دُنیا چه مینه کاندِ ناداني ده
د دُنیا د خلقو کار راته ښکاره شو — د سیلاب په مخ یې کړی وداني ده
دا چه ته یې وداني ګڼې ناداڼ — د عاقل تر فهم عین ویراني ده
تارِکان به یې د لې هورې خوشحال وي — تر حاصل د راغبانو پښیماني ده
جمعیت د ذرّه په بخره د یک بین شه — د دوه بین په بخره شوی پرېشاني ده
د محنت په لارې ځه که مُراد غواړې — ستا د مراد تر منځ پرده تن آساني ده
ښند و هم په خوله ویل کا چه خدای یو دې — وقضا ته ځان سپارل مسلماني ده
نفساني کارونه کُفر و ښکاره بوی — چه یې بخره له ازله روحاني ده
په پرېښول به د مراد مُراد حاصل کړې — کام د کام د پاسه کښېږده کامراني ده
چه په لهو په لعب یې ضائع نه کړې — دا څو ورځې غنیمت ژوندګاني ده
نوراني یې په طاعت په عبادت کړه — که شپه د بیدارانو ظلماني ده
چه ماذون له حق نه وي شیخي کاندِ — باور وکړه شیخي نه ده شیطاني ده
چه صرف یې د پیرانو په خدمت کړه — هم هغو بهره موندلې له ځواني ده
خود پرستِ د عاشقۍ نه هوس نه کا — مرتبه د عشق اول جانفشاني ده
تحریر په موافق د معرفت دے — خو یې شناخت هم هره یې زیاتې حیراني ده
په یوه دانه اووه سوه دانې اخلي — په دا شان د نېکو کارو دهقاني ده

پاسنی د زړه په اس قدم پاس د نفس کړه — پاس په تخت کښېنه شاهي ده خاقانی ده
د مزري غوندې سرکوز نه ځې په لارې — په هر لور د لکه سپي نګراني ده
پوهېږده به هر يو شي له رعيته — هر سړي نه ئې ورکړې سلطاني ده
حکومت نا ستې په پُل د جهنم دے — سهل کله د عالم حُکمراني ده
رعيت لکه رمه له لېوه ژغوری — بادشاهي په حقيقت کښې شپاني ده
په ستم ئې تمامي عالم خراب کړه — څه عجب د اورنګزيب جهانباني ده
که رُستم غوندې ځوان لاندې کړه داڅه شي — د زير دستو جفا وړه پهلواني ده
عاليشان به په نخوت په کبر نه شې — کميني کړه کميني عاليشاني ده
په دا قول متفق دي هوښيار واړه — چه بلا تر هر څه سخته لساني ده
که خبر په حقيقت يې د خبرو — خاموشي کړه خاموشي سخنداني ده
خپله ژبه ئې په ځان باندې بلا شوه — چه بلبله په قفس کښې زنداني ده

ځان تر هر چا کم کنړه عبدالقادره
که پوهېږې هم په دا کښې کلاني ده

Marfat.com

# قصیده

## مرثیه د خپل پلار خوشحال خان

یاره ستا د هجران غم راته دریاب شه — تر نظرم د دنیا هوس سراب شه

ستا په تللو د خوشئ بساط ونغښت — مهیا راته د غم واړه اسباب شه

که پښوا م ډېر دردونه وو لیدلی — لا م ستا په جدایئ زړه کباب شه

په معنی کښې ختک تیغ وو، ته ئې آب وې — غوڅول به ئې اُس په څه کا چه بې آب شه

خدائے له موږه لا په تا باندې مین وه — چه رحلت دې له دنیا په داشتاب شه

د څ آب ئې هرګور ډېر وو بې حساب — مستسقی به ئې په تش لیدو سیراب شه

نه رېږی ئې لکه ګل په واجبین وه — نه به ترېو په وخت د داد لکه سحاب شه

دوست دشمن ئې له جمال بهره ور وو — د هرچا د زړه ارمان دده شباب شه

دُر ګوهر به ئې له لعلو رېږیدون کړه — چه ګویا به په کلام با صواب شه

سپک ویل ئې هرګز نه وتل له خُلے نه — چه به چا ونه په قهر وپه عتاب شه

د ارمان دې دالو ډک لکه انار و لاړ — د ژوندون له باغ کله مزه یاب شه

له اندوه به رڼا ورځ لکه تیاره شوه — چه غروب دې ده د کینلی مخ آفتاب شه

چه ئې خوب په پالنګ نه کیده بې ګلو — په بستر د خاوروخه رنګ ئې خواب شه

په هغو رخسارو پرهوتلے خاورے — شماتت ئې چه په ګلو د ګلاب شه

چه داهسے رنګ ځوانان پکښې پراته دی — په آسمان باندې ډېر فخر د تراب شه

د رستم د اسفندیار د ځواب ځوان وو — د قضا حکم پرې راغے لاځواب شه

Marfat.com

عطارد ئے پہ آسمان مرثیہ وایی — د زہرہ لہ لاس مات چنگ و رباب شہ
پہ بہانہ د باران چہ دہ وفات کړ — فلک ہم د نوحہ کړو پہ حساب شہ
غواصی کوم د اوښیو پہ دریاب کښې — نہ ئے مومم معظم دُرِّ نایاب شہ
پہ ژړا پہ واویلا لہ موږہ بیل شو — ہجران ہیڅ دل سوځي نہ وکړہ قصاب شہ
کہ د خپلو پہ دعا جنت مومندہ شي — شکہ بے شکہ وا پہ دہ د جنت باب شہ
درویشت کالہ د دہ عمر زر اتہ نوي — د ہجرت حساب پہ حکم د کتاب شہ

چہ د بنہرودانے ووځنے ووت
سرلئے نہ ځہ عبدالقادر دروے خراب شہ

Marfat.com

# قصیده
## (تاریخی ۔ جنګی)

دا کاروونه چه نن کا نده عیانی دی
هیڅ په خوا په خاطر نه وو آسمانی دی

چه په وهم فهم نه، هغه بنکارېږی
هوشیار ځکه همیشه په حیرانی دی

ګڼې هسې کار بنکاره شی چه ګرځن شی
کاه کاروونه چه سبب د شادمانی دی

ساقی راوړه پیاله چه راته یو شی
غم مینا دی ثبات هیڅ نه لری آنی دی

نن نسیم د پښېنور له لوری راغی
څو وینا ئے راته کړی زبانی دی

چه نن شپه مهمندو وویلے توره
چه ویلی نه افغان نه تورانی دی

لیندو غړ په غنچیو وکړ ګشاد کانړی
په سر تور توره وهی جمال خانی دی

چه لښکرے د مظلومو اعانت کا
خدائے ئے مل شه دا لښکرے رحمانی دی

لاله زار ئے شګفته په سره آهار کړه
هرچه دا بهار نه ګوری زندانی دی

د باړے اوبه ئے سرے لکه شراب کړے
د سرېند کانړی همه ارغوانی دی

یکانه ځلیمو غړ وَ بله وکړه
چه ویه فلانی وهه هندوستانی دی

توره شپه، په تورو، ورځ لکه صبا شوه
ځلیدل ئے لکه برقِ نیسانی دی

همیشه پښتنون مهمندو دے دروند کړے
که سبب ئے د خفت میرا فغانی دی

چه په طمع د دنیا کاندِ جنګونه
ننګ ئے ورک شه که رستم دستانی دی

یوسفزی چه زر وویني ننګ پرېږدی
حریصان دی طامعان نفسانی دی

په خدا هر پښتنون د ننګ خبرے کاندِ
ننګ هغه کا چه نانی نه دی جانی دی

Marfat.com

...ر نانی شه صدقه نرجانی ځوانځ، پښتنون ډېر دی امّا څهٔ په کارنانی دی
...ا متل دے تېغ په اَصل غو ځول کا د مهمندو تُورے اُس نهٔ دی کانی دی
...فریدی، شنواری جنګ په غروئو کاندِ غوریه خېل په مېدان جنګ کا مېدانی دی
...څ ئے نهٔ دے دکتو رنځ د پرِ سازشی چه نفاق کا، همېشه په پښېمانی دی
...فرېفته ئے په وېل مهٔ شه نفاق دی ېغه څوک چه د لښکر په ویرانی دی
د مغل له دے لښکرو پروا مهٔ کړه اِتفاق ئے سره نشته ځان ځانی دی
په قسم ئے مبادا چه باور وُکړے سوګندُ و نه ئے داموند شیطانی دی
له بادشاه شاهزادګا نو چه وسواسِ وی اَخته شوی د وی په جنګِ سُلطانی دی
د سرونو نردبان سازکړه باندِ خېژه مرتبے نه ختل نه په آسمانی دی

نه له چا ئے طمع شی نه له چا ویره
څو خبرے رشتیا کړی کرلانړی دی

## ۹
# قصیده
## (موعظت)

په زړګی باندې م غم انبار انبار شي
په راتلو دې همه واړه تار په تار شي

همېشه راځخه ناست وُسه په ښنګ کښې
ستا په ناسته م زړه آرام نیسي قرار شي

ښایسته د چین ماچین کړ د بل مُلک وي
هسکي د ستا تر ښکلي مخ زار شي

ستاله حاله به و تا وته څه وایم
پټ احوال به مُو په مُو ورته آشکار شي

دا رښتیا ویل ترخه په سړي لګي
څېر نه وي چه خاطر دې پرِ آزار شي

په ترخو کښې نفع زیاته تر خوږو ده
باندې ګډه رغېدنه د بیمار شي

چه ویل د نېکخواه نصیحت پرِ عمل کا
هم هغه به په خپل عُمر برخوردار شي

د زړه غوږ باسه و ما ته چه وُ وایم
څو خبرې چه ګوهرې ترِ نثار شي

د صورت خوبي همه په عاریت ده
څه خوبي به د دانا په مستعار شي

ستا پخوا ښایسته هم وُو وارې تېر شو
په خپل حُسن به ستا څه رنګ اعتبار شي

د ښایست خو دې یَو څو ورځې باقي دي
پژمرده به دې د مخ تازه بهار شي

صباحت به د بدل په قباحت کا
چه د تور وېښته ښکاره په سپین عذار شي

د غه مخ چه دې تر ګُل ښایسته روغ دې
د وېښتو په ټوکېدل به لکه خار شي

دا چه اُس وو پسې ګرځي دلې دلې
هسکي به له تا بیارته په وار وار شي

دغه ناز به دې بدل واړه په نیاز شي
څوک به نه وي چه د ناز دِ خریدار شي

هم هغه چه اُس بلا د تا اخلي
تر بلا به ورته بد د تا دیدار شي

Marfat.com

ستا و بېښتۀ بۀ لکه خاور باندِ ځرځی     چه په تا مین له تا بوس و کنار شی
د پېرو په ځائے بۀ ناستې یې په مجلس کښې     اُس د ناستۀ که په غېږ کښې د خپل یار شی
دا چه اُس دِ په لیدلو نۀ مړېږی     هم هغه چه تا ته ګوری بۀ ئے عار شی
که کهے چه تېر ساعت ورته ذرۀ یاد کا     ستا بۀ سرے اُښکے روانے په رُخسار شی
کۀ د خوئی خصلت د ښو وی خوښ به وے     کۀ خصلت دِ د بدیٔ وی ستا بۀ زار شی
د سیرت خوبی پېدا کړه چه باقی ده     په دُنیا په آخرت بۀ دِ پکار شی
مت په علم په اَدب په ښۀ خُلقت کړه     چه دے سُورے دِ جوړ پرِ کار و بار شی
خود بۀ عِلم خوی اَدب در ته بیان کا     څو خویونه بۀ ځما و تا ته شمار شی
نیک اَندیش، نیکو ګفتار، نکو کردار شه     چه مُمِد دِ په هر کار پروردګار شی
کمینی کړه چه هرچا ونه عـزیز وے     کبر مۀ کوه آخر کبرجن خوار شی
همېشه خُله پټه وُسه په مجلس کښې     په ضرور د ستا د خلے ویل اظهار شی
کۀ دِ سر درومی دروغ مۀ کړه رشتیا کړه     دروغژن سړے بے قدره بے وقار شی
له هیچا نه غیبت مۀ کوه چه اور دے     کُل طاعت به دِ سوخته په دغه نار شی
سخن چین مۀ شه نمّام چه په قیامت بۀ     دا دوه ګروهه په دوزخ کښې ګرفتار شی
چه وعدۀ وُکړے له چا نوره ئے مۀ کړه     فرق په دا د مسلمان اَوُ د کفّار شی
قناعت په خپل قسمت کړه حریص مۀ شه     د اَزل وېش بۀ نه کم نه بۀ بسیار شی
سخاوت کړه کۀ په لږ وی کۀ په ډېر وی     په دا خویٔ سړے هرچا و ته رُوېدار شی
شجاعت په موافق دَ شریعت کړه     بے د شرعِ بۀ له تا کۀ څوک آزار شی
بے قضا دِ نشته مرګ، په غلیم مت کړه     که په لاس دِ همه واره ذوالفقار شی
فخر مۀ کړه په دُنیا د هندُو هم وی     د مؤمن په ښو خویونو اِفتخار شی
له هغه مجلسَ تښته په ګروهونو     چه ویل په کښې د شر یا د اَشرار شی

Marfat.com

ناست ولاړو له هغه ځلمیانو ستا وی
چه په تا کښې ئے بنکاره د ښو آثار شی

چه ئے مینه په شریروی دے شریر شی
هرچه مینه په اغیارو کا اغیار شی

چرې نه وی چه زنا وته زړه ښسک کړے
ځوانی مرګ به په دُنیا کښې زنا کار شی

د دوزخ د عذابونو به لا سخت وی
په قیامت چه بوئ روان د دهٔ مردار شی

بنګ شراب مهٔ خوره چه ورځ د قیامت شی
خمرخور د بُت پرستو په قطار شی

یؤ ذره خلاف د شرع قدم مهٔ ږده
د کتاب په موافق د ستا رفتار شی

که په دا ویل عامل شے ځما جانه
ستا مکان به د جنت تحت الانهار شی

ستا په شعر آفرین عبدالقادرؒ !
په پښتو خو به هم ښے رنګ ګفتار شی

Marfat.com

## ۱۰
# قصیده
## (نعتیه)

کهٔ دِ نشته په یقین کښِ دَرغلی — دکوڅے د سپی ئے تل څټه تلی
په مزریو ئے شرف دے د سګانو — چه انکار کا د غائیٔ د ے دغلی
کهٔ ئے سپے په شور دریاب کا ژبه تَره — هغه دم بهٔ ئے وُبهٔ شی عسلی
د کمال ویره ئے هیڅ د زوال نشته — لا یزال ئے دے کمال لَم یزَلی
تمامی عالم دِرُود وربانِدِ وایی — څُنے څنے په خُفیه څُنے جلی
موجودات واړه لښکر دے بادشاه دے — نمر، سپوږمَیَ، ستورے واړه مشعلی
اَنبیاءٔ ئے د لښکر جماعت دار دی — سپاه نه پرېږدی چه کا بد عملی
نقیبان دی نُقباءٔ چه اِهتمام کا — دا رِدنا دوی خدمت سزا دلی
هم په دا اُمید اِدریسؑ دِ زاړکری کا — که ئے ساز د براق حَل کا بخملی
د صالحؑ ناقه تل سر وهی له کانړی — چه ئے نهٔ شوم په لښکر کښِ پرتلی
د خلیلؑ غُندِ بهٔ خلاص شے له نیرانَ — کهٔ د دهٔ په عشق کښِ نهٔ یی مشتعلی
عرش ئے تخت چه بانِدِ ناست دے عدالت کا — چه اَودس پرِ کا کُرسی ئے صندلی
جبرائیلؑ ئے جلو دار زین پوش په غاړه — په رفتار نهٔ کا یُو دَم مُعَطّلی
میکائیل مکیال په لاس خدمت ئے داد ے — چه غلے ئے و لښکر وَته تلی
اسرائیلؑ ئے نے نواز حُکم ته کوری — بے د ے کارَ په بل نهٔ د ے مشغلی
عزرائیلؑ ئے د ے شحنه، دوزخ ئے حبس — د دین غلهٔ ئے بے عِزّتَ وروَلی

Marfat.com

و صدّیقؓ نه شه په وخت د رحلت وُوے — نائب یې حَما په حُکم اَزَلی
چه اِنکار کا څوک د تا له خلافتَ — د هغو په دین کښې پرېوزی اَزجلی
چه راځه کا د صدّیقؓ د قدم خاورے — هاله کشف عطا شی د هر ولی
حق ویل د توکّل په قوّت کېږی — د عُمرؓ غُندِ بل څوک توکّلی؟
چه حیا د عثمانؓ پر بوځی په خلق — په ایمان به دَرست جهان شی مُمتلی
حد د چا دے چه علیؓ سره سیالی کا — ورنه خدائے وے "لَافَتیٰ اِلاَّ عَلی"
څلور واړه څلور رُکنَ د اِسلام دی — د اِسلام کو ته بے دوی وه خَللی
محبّت د هر اَصحاب پزړه کښې ځائے کړه — چه حاصِل دِ شی د خدائے پېژندګلی
د اَصحابو محبّت قلب سلیم کا — نه هغه کا چه ئے زړه وی عِللی
که په چا د محبّت په چادِ نه وی — رافِضی شوے، خارجی، معتزِلی
په حُرمت د کربلا د شهیدانو — هم رِم لرے کړه له زړه طولِ اَملی

یا الله عبدالقادر ورځنے خلاص کړے
په حصار کښې د هوا دے قبلی

## ۱۱
# قصیده
## (موعظت)

مَرد ښخه چه په بخشش لکه دریاب وی — په ښېنه بد باندِ مُشفق لکه آفتاب وی

لکه مزکه ښسے پست په تواضع وی — د ہمه واړه عالم مرجع مآب وی

په ثبات کښېږ ترغره لا ثابت قدم وی — په صفا اَوُ په نرمئ کښې لکه آب وی

تل ئے وُچوے دمیا نشتے غنډِ ویل وی — دوست دُشمن ئے له دیدارَ کامیاب وی

قناعت لکه ہُما په اُستخوان کا — نه ظالم نه حرصناک لکه عُقاب[۱] وی

چه د ظُلم لجے بلے په عالم شی — پرِ بریان د دهٔ خاطر لکه کباب وی

په نعمت کښې شکر کا په محنت صبر — زړهٔ ئے تینګ په مسبّب نه په اَسباب وی

په قضا دحق راضی خورم خورسند وی — ورنه یَوُ جنت دوزخ ثواب عِقاب وی

یَوُ زمان ئے زړهٔ خالی نهٔ وی له یادو — کهٔ په ناسته کهٔ په تللو کهٔ په خواب وی

اَوامِر لکه سنت ادا کو ینه — پټ خرکند له نواحی په اِجتناب وی

کهٔ اَشیاء ورنه ښکاره کما هیَ شی — مُناجات ئے "زِدنی علمًا" یا وهّاب وی

عام عالم ته ناست ښکاره بری په رفتار کښې — د وصال تر شپے لا تلهٔ دهٔ شتاب وی

له تاثیرَ ئے بَد ښهٔ لکه مِس زَرشی — په لمبو د عشق سوخته لکه سیماب وی

خوچه کرزی د دُنیا په خرابات کښې — په باطن کښې آبادان ظاهر خراب وی

د ډک سیند غُنډِ آواز نهٔ کا ښهېږی — نه پُرشوره پُرغوغا لکه سیلاب وی

---

۱؎ اک د- عُقاب.

Marfat.com

د دانا د سوال ځواب په اَدب ورکا    وَ اَحمق ته ئې په پټه خُله ځواب وي
د سبو بُوئ ئې په همه دیار پریشان وي    درست وجود ئې په معنیٰ د مُشکناب وي
په ظاهر جامه له خلقَ سره خلق    په باطن کښې تابعین وي یا اُصحاب وي

هغه مرد ولی ګڼړه عبد القادرَ
چه عمل ئې په سنت اَوَ په کتاب وي

Marfat.com

# متفرقات

Marfat.com

Marfat.com

# مربّع

## (دَ خپل پلار خوشحال خان خټک په ستاینه اَو دُعا کښې)

خدائے ئے تل لکه خپل نوم لره خوشحال　　خوشحالی ئے په نصیب کړه لا یزال
خردمند، نیکو سیرت، نیکو مقال　　خود پو پوهه ئے پخپله پښتون ئے نه وو سیال
ورکول ئے بے منت د حاتم وو　　ورنه یَو سفال وسنګ، دینار درم وو
وائی په ځان د هغه چاچه په دهٔ کرم وو　　ورځ اؤ شپه به ئے کاوه بانډ اِرغال
شرم و ننګ لکه د دهٔ وو، دچا نه وو　　شجاعت لکه رُستم هسے دهٔ وو
شور د ننګی ئے په سرکښنې پروت په زړه وو　　شان د دهٔ دے دربنکاره ددهٔ تر قال
حال د هر سری بنکاره دے تر مقال　　حل د هر مشکل کاوهٔ شی له اموال
حد دچا چه ئے ځواب کاوهٔ له قال　　حقیقت په مجاز نقل دے محال
خار د سترګو د دشمن پر خپل بهار وو　　خاموشی حلم ئے ډیر درلود بردبار وو
خپل پردی له ده همه شکرګزار وو　　خټک درست ددهٔ په دور وو نهال
اندېښنه ئے وه هر کوره ډیره لویه　　اجنبی به ئے کم نه کاڼهٔ تر زویه
افغان دهٔ غند چه وُزېږی بل بویه　　آزاده وو، هیڅ ئے نه وُه مال منال
نوم ئے لاړ وو تر دکن، تر قندهار　　نهٔ وو بل هسے نامی له زمیندار
نیم دِرم ئے هم کور نهٔ ساته له عار　　نوربیخ نهٔ وُو د دهٔ بے نُورے بے ډال
خپل خپلوان ور ځنے واړه وُو خوشنود　　خوش خورم وُو همګی د دهٔ له جُود
خاص و عام وُو تل سُودمن ددهٔ له سُود　　خوش کلام وو، خوش معاش وو، خوش خصال
تواضع ئے د هرچا کړه بے مقدار　　تر اندازه کم زیات نهٔ وو د دهٔ کار
تل به دهٔ کړه کبرجن په کبر خوار　　تکبر په کبرجنو دے ملال

Marfat.com

کلام ډېر د دهٔ شیرین وو تر نباتَ　　کمَ دِ دهٔ تر خُلې ترخه وتل وُچا ته
کارَ ئې دا وو ترجیاتَ ترمَماتَ　　کرم وُکړه په دهٔ بانډ ذوالجلال
اور دننه د عاشق په زړهٔ بلېږی　　اوَ رنګین شعر یې ځئے بنکارېږی
اَرمان داد ځه چه خوږ لبز په دا پوهېږی　　اُس نورځهٔ وایم د ښه حال اَحوال
لام اَوَ ښې ځې د دلبرو دی ښتایلی　　لعل اوَ دُر ئې د وینا په ثار ښېیل
لبزَ و ډېره، ما د دهٔ د حال ویلی　　لکه خوږ چه د یار مخ کا نمر مثال

# مخمّس[۱]

رڼړا ورځ په ما بے تا ده توره تمه	راته یو شو د غمونو غرونه، سمه
اُوښے[له] ویښے توییوم د زړه له غمه	یؤ زمان مِ خلاصے نۀ وی له اَلمه
زۀ دِ تل ویښم د خوبۀ زړونو مرہمه

فراق ډیر را بانډِ زور شو نۀ سهیږم	ستیه اؤ ورځ لکه باران ہسے وریږم
تود لوګے مِ له خُلے ځی په زړۀ وړتیږم	په راتلو دِ لکه ګُل شګفته کیږم
بیا بیا را لیږنشه آشنا صبا قدمه

چه خوراک ئے ہمیشه خونِ جګر وی	تل فریاد تل په ژړا په نارو سرو وی
تر مجنون اؤ تر فرہاد ئے حال بتر وی	د مہجور تر زندګی لا مرګ بہتر وی
کۀ سینه ئے ستی کیږی نۀ ده کرمه

کۀ ہر څو د خوبنی ډکے پیالے شوی	عاقبت بۀ ئے له غمۀ ؤیج شی کومی
له دُنیا بۀ ہوشیار څۀ رنګ خوبنی موی	چه د سترګو په څنبل له سری دروی
دِل بستګی پرِ پورِ مۀ کوه آدمه

د دنیا د مینے سخت زبون بنیاد دے	په دُنیا مین بنده ځے نۀ آزاد دے
د دنیا دولت په مثل لکه باد دے	په دُنیا چه ئے زړۀ ښاد ہغه ناښاد دے
کله څۀ کا کله څۀ کانډ له بمه

ستا مین بۀ ہمیش خوار خسته بۀ ژړوی	تل په غم تل په آشوب کښی وی څوړوی
خوار خسته حیران پریشان بۀ لکه زۀ وی	تر ہغه بۀ بل ناپوه په جہان نۀ وی
چه بۀ تا ته لری د وفا طمعه

---

[۱] ب م :- بے تا اُښے توییوم د زړۀ له غمه -

خو عاشق د یار په مینه کښې خوار یږي          خپل پردي ورځنې عار کا ویزار یږي
لا ئې عشق و معشوقې ته اظهار یږي          په خپل یار چه ستم نه کړي آزار یږي
چېرې نه وي لاس کوتاه کړے له ستمه

که هر څو په جهان ډېرې دي نګارے          آهو چشمې، مو کمرے، پریوارے
مه جبینې، تن سیمینې، ګل رخسارے          مخ نسرینې، سرو قدے، خوش رفتارے
د ښایست وینا په تا باندې شوه تمه

شرمنده دې تر ښه مخ ګلزار وینم          چه بې ستا له مخ ګل د بهار وینم
د هر ګل پاڼې په زړه لکه خار وینم          د زلفینو تر حلقو دې عذار وینم
که سمن دے ستا په زلفو کښې صنمه

راته څه وایې چه ویره د ځان مه کړه          د خپل یار په محبت کښې نقصان مه کړه
هیڅ و ماته له دے باب بیان مه کړه          که م سر ځي که م مال ځي ګمان مه کړه
چه به مینه شي ځما له یاره کمه

که له عشقه شو سنګسار عبدالقادر          و منصور غوندې په دار عبدالقادر
په نار و سوځه په نار عبدالقادر          مه کړه بې عشقه بل کار عبدالقادر
د عشق چار په لاس کښې ونیسه محکم

Marfat.com

# مخمس

دا ځما خاطر زبون دے — دے له عقل ډېر بېرون دے
په دُنيا پسے مجنون دے — څه امید په دا ژوندون دے
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

خبر شه د نوحؑ له حاله — چې ئے عمر وو زر کاله
نهٔ شو خلاص د مرګ له جاله — په ارمان لاړ له عیاله
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

کهٔ څوک سیل د ګلزار کا — ننداره د نوبهار کا
کهٔ پرِ غوږ کا زړهٔ بېدار کا — عندلیب پسے چغار کا
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

په سپرلی ګلونه وا شی — په څو رنګ ئے تماشا شی
چې خزان ورباندِ را شی — تورِ خاورے د بېدیا شی
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

[1] کهٔ په حسن لکه قمر شی — تر یُوسفؑ ښایسته تر شی
خو چې قبر له ور شی — تورِ خاورے ئے په سر شی
نن دیدن ګانده بېلتون دے

اے چې خان او ملک نومی — په دماغ په کبر درومی
تل به دا خوشی نه مومی — بند به شی د مرګ په لومی
نن دیدن ګانده بېلتون دے

[1] دا بند په "ح" کښې نشته۔

که د مرګ خواری په زړه کړے    کور به وران د دُنیا تهٔ کړے
خوشحالی به نوره نهٔ کړے    تل به دا ذکر په خُله کړے
نن دیدن ګانده ببلتون دے

چه جُدا یاران په زړه کړم    په ژړلو لیمهٔ سرهٔ کړم
خوبهٔ ژوندون په دُنیا زهٔ کړم    آشنائی به نوره نهٔ کړم
نن دیدن ګانده ببلتون دے

کهٔ هر څو نازک بدن شی    لکه ګل هسے په تن شی
چه لحد د دهٔ وطن شی    د چنجیو په خوردن شی
نن دیدن ګانده ببلتون دے

کهٔ څوک جوړ لوے عمارت کا    تر کسری سے لا زینت کا
په مثال ئے د جنت کا    د مرګ سیند به ئے لت پت کا
نن دیدن ګانده ببلتون دے

په دنیا کښې کهٔ قارون شی    لا تر دهٔ نه هم افزون شی
چه و قبر ته ئے پون شی    خالی لاس به تر ببرون شی
نن دیدن ګانده ببلتون دے

کهٔ تهٔ لوے کړے زګارے    بنایسته پری رخسارے
پس له تا به شی دوی خوارے    بیا به شی د نورو یارے
نن دیدن ګانده ببلتون دے

کهٔ سل زر دِ فرزندان شی    لا به دوی په مرګ طوفان شی
ستا خاطر به پرِ بریان شی    لا به پاتو یتیمان شی
نن دیدن ګانده ببلتون دے

اے ځما ناپوهٔ زړه! نصیحت له مرو اخله
څو دُنیا ئے پټولوله لاړل دا ئے پرهیښوده
نن دیدن ګانده بیلتون دے
کهٔ ئے وړاندې هاتیان ځي پسے دے په تخت روان ځي
لور په لور ئے سپاهیان ځي څو به ګوښے له جهان ځي
نن دیدن ګانده بیلتون دے
کهٔ بادشاه د دست جهان شي سلطنت ئے د سلیمان شي
چه په حکم ئے دیوان شي ترې جدا به په ارمان شي
نن دیدن ګانده بیلتون دے
کهٔ هر څوئے دولت ډیر شي د حساب تر شماره تیر شي
چه د مرګ استواځے ویر شي پرې به زهر یا ګندهیر شي
نن دیدن ګانده بیلتون دے
هر چه نغته د خپل نس کا د دنیا هوا هوس کا
بیهوده چارې عبس کا فریاد هسے رنګ جرس کا
نن دیدن ګانده بیلتون دے
چه به خواه ناخواه ترځینه نه دې کا په دُنیا مینه
ځان دې تلو نه وګنړینه د قیامت په غم دې شینه
نن دیدن ګانده بیلتون دے
شپه اوو ورځ دې عبادت کا ترک دې واړه معصیت کا
ځان دې جوړ په شریعت کا تل دې زړه ته نصیحت کا
نن دیدن ګانده بیلتون دے

Marfat.com

اے خوب وُریه زړه بېدار شه — دچل ځان په غم گرفتار شه
له گناهٔ توبه گار شه — تل په ذکر د غفّار شه

نن دیدن گانده بېلتون دے

ځبله مهٔ تار په تار پرېږدۍ — یاران یوُ تر بل ځار پرېږدۍ
هیچرِ مهٔ وبېزار پرېږدۍ — وبېزار څهٔ مهٔ آزار پرېږدۍ

نن دیدن گانده بېلتون دے

چه وُوایئے چا ته یارَه! — نور دنیا کړه ترده ځارَه
سر شنده دِ یار د پاره — زړه ساتل غنیمت شمارَه

نن دیدن گانده بېلتون دے

ستڑکے وُخورے دواړه نوُرِ — چه باقی په فانی پلورِ
په دنیا پسے تل شورے — دے دنیا وته نهٔ گورے

نن دیدن گانده بېلتون دے

اے چه ناست یے په تخت بانډِ — په شاځے په قهقهه خانډِ
ځائے دِ دے تر خاورو لانډِ — مرگ تل دا د نېووه کانډِ

نن دیدن گانده بېلتون دے

چه جُدا له ما محرم شو — یوُ په سلَ رم اَلَم شو
ځما زړه جونگړے دَ غم شو — چه قایل په دا قلم شو

نن دیدن گانده بېلتون دے

اے ځما دلبرَ! راشه — ماتړے مهٔ کوه پخلا شه
وُموسېږه په خندا شه — خوا په خوا راسره بیا شه

نن دیدن گانده بېلتون دے

Marfat.com

څی م اُښے لهر لهر     وران م شو د خاطر ښهر
ناست په غاړه ؤم د نهر     دا آوازے کړه په جهر

نن دیدن ګانده بېلتون دے

څوک چه غوږ په دا بیان کا     څهٔ امید به په جهان کا
کوږ به دے د دُنیا وران کا     دا ویل به هر زمان کا

نن دیدن ګانده بېلتون دے

کهٔ په حُسن لکه نمر شی     تر یُوسف ښایسته تر شی
څو چه قبر له ور شی     تورِ خاورے ئے په سر شی

نن دیدن ګانده بېلتون دے

زهٔ **عبدالقادر** نه ښایم     چه خپل شعر چاته نمایم
خو مین په دا وینایم     هر زمان ئے ځکه وایم

نن دیدن ګانده بېلتون دے

Marfat.com

# ترکیب بند

سخ د هغه زړهٔ چه کا اشغال د محمدؐ　　بخت د هغه څه چه لری قال د محمدؐ

بې له یوه خدایه چه کمال دے دِ دهٔ علم　　نور چا ته ښکاره نهٔ دے کمال د محمدؐ

خوت موسیٰؑ په طور فاخلع نعلیک حکم پرې شه　　عرش هم مفتخر شه په نعال د محمدؐ

سر به ئے د فخر تر اوهٔ آسمانهٔ تیر شی　　هر چه له اخلاصهٔ شی پایمال د محمدؐ

خدائے چه څهٔ د خدائے دی، هغکی واړه دِ دهٔ وُو　　څهٔ شُو په ظاهر که نهٔ وو مال د محمدؐ

نور نبیان به واړه د ذرے په دود څرګند شی　　وُبرهبنی چه نمر غُندِ جمال د محمدؐ

خال چه په مخ کښېږدی یوُ په سلَ حسن زیات شی　　څګه خال د حورو شو بلال د محمدؐ

په ورځ د قیامت چه خلایق واړه حاضر وی　　هاله به ښکاره شی جاه جلال د محمدؐ

وایی چه که حُب دِ د خدائے پرېوزی په زړهٔ کښې　　حُب په محمدؐ کوه په آل د محمدؐ

خدائے د دهٔ له روُیه تمامی خلق پیدا کړهٔ
دهٔ هم بې له خدایَ هغکی واړه ترښا کړهٔ

خدائے دے صفت کړے په قرآن د ابوبکرؓ　　فرض ده ثنا په انس و جان د ابوبکرؓ

بې له دے چه ځانؔ او مال ئے ځار تر محمدؐ کړی　　نهٔ وو په خاطر کښې بل ارمان د ابوبکرؓ

بوی به ئے له څلے د وریښو غوښنو همیشه تلهٔ　　تل د عشق په اور وو زړهٔ بریان د ابوبکرؓ

اُستاد د انبیاوُ شو عالم د دهٔ له مخَ　　ادب ئے در همیش په دل و جان د ابوبکرؓ

ځکه انبیاوُ آرزویَ د دهٔ اُمت کړه　　چه خیر ئے کړهٔ په لوحِ محفوظ شانؔ د ابوبکرؓ

تل ئے په دوستانو باندِ رحم د رحیم وی　　یاد ئے دی په لعن دشمنان د ابوبکرؓ

نور عالم مشتاق دے د جنت، جنت د هغو　　هر چه دی له صدقه مشتاقان د ابوبکرؓ

Marfat.com

فقر ئې موندے وَو د پاک نبیؐ له فقرَ     ځکه بادشاهان شول گدایان د ابوبکرؓ
خلاصه ئې په رُوئ د محمدؐ له مانه مهٔ کړه     لاس رام لګوے په دامان د ابوبکرؓ

هیڅ حاجت ئې نهٔ غوښتهٔ دهٔ په خدائے راوړ تصدیق
ځکه سر د فتر د اولیاوٌ شو صِدّیق ٭

پس چه له صدّیقؓ په صفت د درّه دار شه     هاله مسلمان سړے سُنیانو سره شمار شه
حُب ئې په سړیو په پېړیو باندِ فرض دے     هرڅوک چه ئې حُب نهٔ لری د بې هوره خوار شه
دین د اسلام بیا موندهٔ قوّت د دهٔ له دینَ     دا رنګه قوّت بهٔ په قوّت د کرد کار شه
سخت په کافرانو وو تر زړهٔ د کافرانو     نازل په باب ئې ځکه اَشِدّآءُ عَلَی الْکُفّار شه
هسے رنګ آیت پرِ جبرئیل له خدایَ راوړ     هرچه به په وخت د مشورت د دهٔ ګفتار شه
کله چه بهٔ دے د خدائے د پاره په غضب شو     شیطان بهٔ په کروهونو له هغهٔ فرار شه
صدق د صادق که له صدیقؓ څخه ښکاره کړ     عدل د عادل دِ دهٔ په عدل کښې اِظهار شه
عدل چه دِ دهٔ لکه آفتاب په جهان وخوت     پټ په سوراخونو کښې ظالم شو پرک وار شه

پاک نبیؐ ویل چه پس له ما که پیغمبر وی
روح ده چه هغه هم د خطابؓ زویه عمرؓ وی

فرض لکه په خلق باندِ تفضیل ئې د شیخین     هسے رنګ واجب دے محبت د حسنین
دوه ځله چه نُور د نبوّت باندِ تابان شهٔ     ځکه مخاطب شو په خطاب د ذی النّورین
بحر د سخا وو غر د حِلم کان د شرم     پینه ئې قدم وو د همت په فرقدین
تخمیره ئې د طینت وو د جنت په شهد وشوے     تریخ ئې چا تر نهٔ وتل هرګز له شفتین
خیر بهٔ ئې له شرمَ و حیا ته کتے نه شو     تل بهٔ ئې په خپل کنار نظر وو دِ عینین
عمر ئې تمام په خوشنودئ له خالق تېر کړه     کړه بهٔ ئې په هر ساعت طاعت د ثقلین
خدائے چه "رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ" ورته وُوهے     ځکه ئې په خوئ د رحمت بیا موند زیب وزین

Marfat.com

لاړ که له دُنیا نه په سرو وینو رنګوے ګرځي په ګلزار کښې د جنت په شین شین

جمع د ضدین که پر هرچا وی محال
دین او دُنیا جمع کړه وده له ذوالجلال

رفض نه دے خلق محبت د مرتضیٰؓ خدائے دِ وما راکړه په حرمت د مرتضیٰؓ
لا به تر ده مینه په بوبکرؓ په عمرؓ کا وی ئے چه په زړه کښې محبت د مرتضیٰؓ
هرچه ئے په زړه کښې بغض پروت وی د شیخینو تل وی په هغو باندې لعنت د مرتضیٰؓ
نشته هسے رنګ بل یو ځوان لکه علی وو دا رنګ خدائے کړے دے صفت د مرتضیٰؓ
خدائے چه پر خطاب اسد الله له لطف کښېښو تم په دا خطاب شو شجاعت د مرتضیٰؓ
ځان ئے د هجرت په شپه ایثار تر محمدؐ کړو خدائے ستاینه فرښتو ته فتوت د مرتضیٰؓ
کوټ ئے د خیبر په تنها ځان کړ د رې ورے زیات دے تر بیان زور قوت د مرتضیٰؓ
نبیؐ د علم ښهر دے، دے ور د هغه ښهر ګوره چرته لاړ شو فضیلت د مرتضیٰؓ
و بخښه چېل خدائے عبدالقادر له د بر فضل په روئ د مرتضیٰ په ذریت د مرتضیٰؓ

ستوری د هُدیٰ دی د رسولؐ واړه اصحاب
راضی دے خدائے له دیو نه رحمت ئے په احباب

Marfat.com

# ترجیع بند

دریغه دریغه د دُنیا خونه تالاکړے — په ژوندونی ځان بتر تر خاورو لاکړے
د غرځه غنډِ له خلقه تښتېږ ــــے — ځان له واړو آشنا یا نونا آشنا کړے
چه په مرګ سره له ځانه جُدا کېږی — هغه واړه لا تر مرګ پخوا جُدا کړے
یَو ساعت مه وے فارغ د ځان له غمه — په هوس ئې د همه خلقو خندا کړے
لېونے شوے چه چا نه پرېښوے ورته — ودانی د جهان واړه پسے سښا کړے

مخ په بېدی بېدیا وُ نیوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پېټ خوړے

چه آخر دِ له فانی جهانه تله شته — څه پکار که دِ په کور کښې سپین او سره شته
که په تخت د پاسه کښېنے بادشاهی کړے — عاقبت دِ بیا له تخته پرېوانه شته
که لښکر دِ تر حساب تر شماره تېرشی — ګمان مه کړه چه دِ بے عمله مله شته
جمادات د جدایئ له غمه ژاړی — ستا لا هیڅ کله نرمی د خاطره نشته
ورځ په ورځ شیرین یاران درځنے درومی — وُچوے دِلَ ! چه لا ستا خواب او خواړه شته

مخ په بېدی بېدیا وُ نیوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پېټ خوړے

که هر څو وی ښایسته په رنګ رنګینه — لاله روُیه، سُنبل مویه، تن سیمینه
تر بنه مخ پورِ د نور د سپوږمئ هیڅ شی — په سپوږمئ چه پلو واخلی وُ درینه

لطافت ئے زیات دگل تر لطافت دے          په عالم ئے د خوبئ خبرے شته
کپښلے ځ په ئے د گود خاورے بد رنګ کا          نازک تن بهٔ ئے د گور چینجي وخورینه
چه دا هسے احوال دے په دا دنیا کښې          پخپل حُسن بهٔ څوک څهٔ د ماغ کوینه

ځ په بېدي بېديا وُنيوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پت خوړے

کشکے زهٔ په دا جهان راغلے نهٔ وے          چه په داغ د بېلتانهٔ داغلے نهٔ وے
یا رم مرګ د هلکوالي په ساعت وے          چه رم خپل پردي څوک پېژندلے نهٔ وے
یا زو و لے روند په سترګو وے له ځایه          چه رم ځ د هیخ آشنا لیدلے نهٔ وے
یا خیر په بنه بد مه وے لېونے وے          چه د روغو په شماره شمېرلے نهٔ وے
یا هوشیار شوے تل د ځان فکر کوے          په فکرونو د جهان نیولے نهٔ وے

ځ په بېدي بېديا وُنيوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پت خوړے

په خاطرم د بېلتون لمبے بلېږي          ځکه اوښے م د سترګو را تلېږي
دا آسمان چه لکه ژرندهٔ هسے ګرځي          د دانو په ځائے یاران پکښې دلېږي
د دُنیا په سرائے کښې ځائے د مقام نشته          کاروانونه په هر دم ځنے چلېږي
غافلان بهٔ په دُنیا کښې خوشحالي کا          عاقلان بهٔ همېشه کښېني نولېږي
هرګز نور کاروونه مهٔ کوه په دُنیا کښې          چه دا هسے رنګ شیرین یاران بېلېږي

ځ په بېدي بېديا وُنيوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پت خوړے

په ارمان بهٔ یک تنها وُوزے له کوره          خپل پردي بهٔ درسره دروحي تر کوره
په لحد کښې بهٔ دې واچوي یوائے          غوړزوي بهٔ در ته خاورے لوړ د لوړه

Marfat.com

تا بۀ پرېږدې د وئ بۀ وُجاړوزې بيا رته — په هجران بۀ ئې نا رے و ېهے په زوره
ګېر تا ګېر بۀ په هيبت درلره راشي — چه ئې دواړه سترګے ړکے وی له اوره
نور څۀ مۀ کړه په ژوندون عبدالقادرَ — چه دا حال د ے اے د زړه په سترګو ګوره

مخ په بېدی بېديا وُنيو ے ژړ ے
د صحرا د وُنو پا نړے پټ خوړ ے

چه له درَ د خښتن ورتلے بل درته — لکه سپے په کا نړو لوټو ئے مشر ے
د جهان د خوږو هيڅ غرضی مۀ و ے — ګُل ترخۀ م د خوږو غُنډ نغر ے
د حرص د سپی غابن ما ت په قناعت شوے — په زنځير م بيا د صبر وُ ستړ ے
عاقبت بۀ په اَرمان ور ځئ دروهی — کۀ مدنګ وی په سپېرو اِيرو لړ ے
په ما نوم د بادشاهئ مۀ وے پورِ — خوشامد م مۀ کړے چا تل ئې ربړ ے
هرکاره به بهادرشاه چرِ خبر کا — حال عبدالقادرَ مۀ وايه سپړ ے

مخ په بېدی بېديا وُنيو ے ژړ ے
د صحرا د وُنو پا نړے پټ خوړ ے

Marfat.com

# قطعه

زۀ چه پسے په خپل ځان بانډِ مینَ یم — د جانان د ے په جانان بانډِ مینَ یم
د خزان میوه بهار د بهار دے دے — تر بهار په خزان بانډِ مینَ یم

## د شیخ سعدی لاهوریؒ خلیفه حضرت بنوریؒ د وفات تاریخ

شیخ سعدی قدوهٔ اہلِ یقین — چوں منوّر گشت اُزو زیرِ زمین
اَز خرد جستم حساب رحلتش — در جوابم گُفت "شیخ مؤمنین"
(۱۱۰۶ھ)

## تاریخ د وبادِ کال

په هر کاله کښِ د مرګ ماتم دے — وبا نیولے اکثر عالم دے
ښه ښه یاران ئے ځبله جدا کړل — تاریخ ئے راغے چه "کالِ د غم" دے
(۱۰۹۵ھ)

د مجنون په محنه سپے په کوڅه راغے — چه په رنځ د پمن والی مبتلا وو
ښخه دم ئے تر پښو پر بوت ځ ئے کښل کړ — چه په چم کښ ئے لیدلے د لیلا وو

که د رحم نظر وکړے ربّ ماته — د ذرهٔ مینه رم بۀ کړے له غیرو ماته
ربَ ته ځما ښخښتن زۀ بنده ستا یم — تا بۀ غوارم، تا بۀ بولم تا بۀ ستایم
تهٔ قادر یے، ښۀ صورت راکړه و ماته — توان د ښو خبرو غوارم راکړه ماته

په نسیم د محبت لکه ګل وا یم — په تجنیس په نصیحت پند ونه وایم
رساله بۀ درته وایم په څو وره — و معنو ته ئے میره شه قدم وره

تمت

Marfat.com

# فرہنگ

Marfat.com

# مخففات

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ج | = | جمع | ع | = | عربی |
| حمص | = | حاصل مصدر | ف | = | فارسی |
| س | = | سنسکرت | ه | = | هندی |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ا | |
| آبق :- | تښتېدلے مریے |
| اَبْشِرُوا یا مَعاشِرَ التُّجَّار :- | خبر شئ یه سوداګرو ! |
| اَبْصِرُوا اَبْصِرُوا یا اُولوا الاَبْصَار | وګورئ وګورئ یه سترګورو ! |
| اَبلے :- | لاحقه . ګان نه نه شی ویلے - پښے سره راځی لکه پښے اَبلے - پښے برېنګے یعنی بے پېزار . |
| اِتَّقُوا مِن مَجالِسِ الاَشرار :- | وُویرېږئ د شریانو د مجلس نه . |
| اُتاله :- | حمله |
| اَثمار :- | (جمع د ثمر - میوه) میوے . |
| اَثیم :- | ګناهګار - مجرم - عاصی . |
| اَجلاف :- | (جمع د جلف = رذیل) رذاله . کم ذات - کمینه . |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| اَخ :- | د اَفسوس، تعجّب یا د خوشحالئ په وخت بے اختیاره وځی نه داکلمه وځی |
| اَخیار :- | (جمع د خیر = نیک - ښه) نیکان . ښه خلق . |
| اَرجل :- | اکثر برجل سره ویلے شی - اَوول چه په تلو کښې د چا پښے ونښلی . |
| اَوجلی :- | نښته - غوټه - کنایةً فساد - رخنه . |
| اَرذل النّاس :- | په خلقو کښې د ټولو نه زیات رذیل . |
| اِرغال :- | یرغال - یرغل - حمله . |
| آز :- | حرص - لالچ - طمع - وُږ سترګتوب . |
| آزرده :- | خفه - زهیر - دلګیر - غمجن . |
| اَستواځے :- | استاځے - استولے شوے - رېبار - قاصد پېغام یا سوال جواب وړونکے راوړونکے . |
| آستینونه :- | (ف) (جمع د آستین - لستونړے) لستونړی |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| اَسَدُ اللّٰه :- | ع - مزرے د اللّٰه - د حضرت علی کرم اللّٰه وجههٔ لقب. |
| آسیب :- | صدمه - تکلیف - دشمنی - آفت - د پیریانو سورے یا خلل - خرابے. |
| اِشتغال :- | شغل - مشغولا. |
| اَشِدُّ عَلَی الکُفّار :- | سختی اَوُ شدت کونکی په کافرانو |
| اَشغال :- | (ع - جمع د شُغل = مشغولا) مشغولا کانے - کارکسب - روزګار. |
| اِشکال :- | مشکل - ګرانے - سختی |
| آشوب :- | شور شر - فساد. |
| اِعتکاف :- | د عبادت د پاره د جماعت په کوټ کښ کښېناستل اَوُ دُنیاوی کارونو پرېښودل. |
| اِعتمِید :- | اِعتماد - باور - اِعتبار |
| آغله :- | ښایسته - ښېځے - ښکُلے - مرغوب |
| اِفتح یا مفتّح الابواب :- | پرانیزه یَه د دروازو یا د دَرُونو پرانستونکیه ! دُعا ده - د اللّٰه پاک نه خواست دے چه ته د فضل اَوُکرم دروازه پرانیزه - یعنی کرام اسآ کړه اَوُ فتح اَوُ کامیابی راته راکړه. |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| اَفزُونی :- | زیاتے - زیاتیدنه. |
| اَفګاران :- | (جمع د اَفګار = زخمی) زخمیان. ژوبل - پرهار ژلی. |
| اَګر :- | یوُ خوشبوداره لرګے چه د خوشبوئی خورلو د پاره په اور سوزے اَوُ لوګے شی. |
| اَلصَّبوح :- | په عربئ کښ اَلِف لام په ځنو ځایونو کښ چه یوُ اِسم سره وُلګوی نو مطلب ئے د تاکید یا په معنٰی ځیز د زور ورکولو وی. صبوح یا صبوحی معنٰی شراب نه وایی چه د سحر څښلے شی. په دے مصرع کښ شاعر خپلو دوستانو ته معنٰی شراب یادوی. |
| اَلوَے :- | اَلوے - سَوے - وریت. سَوے پَنُوے (ج :- اَلوی) |
| اَلیم :- | دَرد او اَلم رَسوُنکے |
| اَما :- | مور - اَمی |
| آماس :- | پرسوب |
| اِمتناع :- | منع کول - بندول. |
| اَمته :- | طمع - اَرزو - طلب - غوښته. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| اَمته دار :- | پر طمع - طلب دار - غرضی |
| آنند :- | آرام - عیش . |
| آنی :- | (آن = وخت) وقتی - وخت سره منسوب - چه مستقل نه وی وخت د وخته وی . |
| اَناعاصی وربّنا غفّار: | زه گنهگار یم - او رب څمونږه بخښونکے دے |
| اَنیوه :- | گڼره - گڼره گونړه - راپنډ . |
| اَندرول :- | دا لفظ تحقیق نه کړے شو دلته د گڼرلو معنے ورکوی . |
| اوښار :- | څرګند ، مشهور |
| اورنګ :- | تخت (د بادشاهئ) |
| اَہرَمَن | د بدئ طاقت - د بدئ دیوتا . شیطان . |
| اَہلِ سعیر :- | (ع - سعیر = اور - دوزخ) دوزخی . |
| آہومن :- | (ښکاری لکه چه دا اِصطلاح عبدالقادر خان وضع کړی وی) د آہو په شان . د ہوسئ په شان منډے وهونکے ، او ناقلاره . |
| اِستاد کول :- | ودریدل - قیام کول - اِیساریدل . |

## ب

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| بادپیمل :- | باد پیمانه کول - باد پیزی - خوشی او عبث خبرے یا کارونه کول . |
| بال :- | بال = وزر - سانګونه |
| بال کول :- | سر د پاے د وزرونو سورے کول . |
| باٸے کا :- | بایلی - (بایلل) |
| ببر :- | اِص :- شیرببر - ببر مزرے |
| بدر :- | (۱) د څوارلسے شپے سپوږمئ - پوره او کامله سپوږمئ (۲) چنار |
| بدنهاد :- | بد طبیعت ، بد طینت - بد اصل . |
| بداٸی :- | لوئی - کبر - فخر . |
| بدری :- | (۱) د بدر توک یعنے حصه چه پر تو غابش پکښې اچوی . (۲) رشوت |
| بر :- | (۱) پاس - باندے - اوچت (۲) میوه (۳) غېږ |
| برایه :- | (ع : وراء = نږ) ورایه - ولږ نه . |
| برجنه ، برزنه :- | میوه داره |
| برد :- | ساړه - یخنی - ږلے . |
| برند :- | ننغ - څرګند - بوک - سابقه یا لاحقه ده |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| | اکثر سترګه، سترګو، سترګے سره یوځائے استعمالیږي. لکه برنډ سترګے = شوخ چشم - بے حیا. |
| برېر :- | (ک : بړه بړه) صفتِ فعل دے. ځان ته نه استعمالیږي. راتلو سره ویلے شي. لکه :- برېر راشه! یعنی زر، چاخ یا په اړتو قدمونو یا لویو ګامو راشه! |
| برېوګئ :- | د بادو یا د هوا په تېزئ چورلېدل. یا چکر خوړل. دېبریانو ډولئ. ګرد باد ے. دا په اوړي کښې ډېرے پورته کېږي. |
| بغتةً :- | ناګاه. ناګهان. ناسا په. |
| بکس :- | بوټے. ډېرلږ. ذره. |
| بلادت :- | کُند ذهن کېدل. دا سے کېدل چه ما غزه یا دماغ ئے تېز نه وي. په خبره زر نه پوهېدل. |
| بلوسل / بلوسېدل :- | چېړل. تعرض کول. غرض ساتل. تکلیف رسولو په نیت ځان رسول. |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| بلبېږدل :- | تاؤول. نغښتل. چاپېره کول. اورنږي کښې ترل. |
| بلیٰ ونعم کول:- | په عربئ کښې د ایجاب کلمے دي. بلیٰ او د نعم یو معنٰی دي. یعنی او. هو. هاں. بلے. جی. |
| بمبره، بنبره :- | مچئ (زیړه. سره. توره مچئ) |
| بنده زاده :- | د مرېي بچے. د غلام زوے. |
| بوتراب :- | د خاورے پلار. د حضرت علیؓ کنیت. یوه ورځ حضرت علیؓ په مزکه پروت وو. آرام ئے کولو. نو چه حضور علیه السلامؑ ولیدو نو په دے نوم سره ئے ورته آواز وکړو، او بېدار ئے کړو، چه یا بوتراب! د هغے ورځے نه دا د حضرت علیؓ کنیت شو. |
| بورجل :- | (۱) کور. مکان. د استوږنے ځائے. (۲) سنګر. مورچه. کمین ګاه. |
| بوس وکنار :- | چچي کول او په غاړه کښې اخستل |
| بول :- | (ک) : قول. وینا. خبره. |
| بوم :- | ګونګے (مارغه) چغد. اِص : سپېره. نحس. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| بَهِیمه :- | خاروے، چارپایه، حیوان، ڈنگر۔ |
| بِئسَ مَثوَی الظّالِمِین :- | خراب، بد یا ناکاره کور یا ځائے د ظالمانو (دپاره)۔ |
| بے زادَ :- | بے توښے۔ هغه مسافر چه ورسره د لارے توښه یا خرڅ نۂ وی۔ (زاد = توښه یا خرڅ خوراک) |
| بِیم :- | ویره۔ خطره۔ وحشت۔ ډار۔ |

## پ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| پخساک، پسخاک :- | نوُل۔ کړاک۔ غم۔ فکر۔ پریشانی |
| پدیدار :- | ښکاره۔ څرګند۔ ظاهر۔ نمایان۔ |
| پَرتَل :- | د سفر سامان۔ مال اسباب۔ د کُوچ سازوسامان چه د فوځ یا د قافلے نه اول یا وړاندِ استولے شی۔ |
| پَرتَلی :- | بارګیر۔ سامان اَوُ اَسباب یا کوره وړونکے خاروے۔ |
| پربوُونه، پېروِنه :- | "تلے" سره یَوُځائے ویلے شی لکه پربوُونه یا پېروِنه تلے۔ په آسمان کښِ د څو ستورو د یَوُځائے کېدو نه څۂ څیز شکل غُند جوړ شوے دے لو په هغوئے هغه شان نوم ایښے دے۔ لکه تَلّه (میزان)۔ لړم (عقرب) د غسے پروین هم یوه جُومکه غُندِ ښکاری چه ورته اُوۂ خویند ئے هم وائی۔ پېروِنه اَوُ تلے سره نېږدو نېږدې دی۔ |
| پُسلَّلے :- | پُسولّلے چه پسول ئے اَچولی دی (پسول = کالے پټرے۔ ګېنړه، زلوبے) |
| پلورل :- | خرڅول۔ په بیعه ورکول۔ |
| پورَوُل :- | پورکول۔ پور یعنی قرض اخیستل۔ |
| پوشاپوش :- | د "ګرشئ۔ پخ شئ" ۔ د مخے نه یَوُخوا شئ"۔ شورماشور۔ پوش = د پېش شو مخفّف دے څۂ وخت چه قافله یا ډیرکاری په یَوُ ځ د یَوُځائے نه روانېږی نو خلقو ته د مخے نه ګرِ کېدو اَوُ پخ کېدو دپاره اَوازکوی چه پوش، پوش! |
| پکښو :- | په آرام۔ په قرارَ۔ |
| پهُوت :- | (اُردو) یَوُ ذات خلکے چه ډیرپیکه وی اَوُ چه پوخ شی نو وُچوی۔ |
| پهوڑه، پهوره :- | (اُردو : پهاوڑا) پړوه، بېل۔ |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| | خو دلته تر مراد هغه تخته ده چه جوګیان یا ریاضت کونکی فقیران پریوه ځنګله کښېږدی او بیا پرخپل سر کېږدی، هغه وخت چه هغوی ټوله شپه په ناستی تېروی. |
| پېچوے :- | په دره کښې یا بېسے د غوه سرته چه تاؤ راتاؤ لاره وی. |

پېړل، پېړودل، په بیعه اخیستل.

## ت

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| تاب :- | تاؤ - وَل. |
| تاړی :- | (۵) لګه د کوبرے په شان یوه د ونګه وُنه چه تاړ ورته وایی. مېوے ته ئے هم تاړ وایی، چه دا مېوه پخه شی نو تر نه لګه ډېره پیو تیلکه اؤ خوږے اُبه راوُځی ـــــ دغه اُبو ته تاړی وایی. خلق ئے ډېر په شوق څښی. خوچه کېښنوے شی نو یو څو کېښتو پس د دے اُبو رنګ بدل شی اؤ بیا ئے چه څوک څښی نو ورته لکه د معمولی شراب نشه ورکوی. |
| تازه :- | (۱) تراؤ تازه - ملښته - ښښېړازه. (۲) لښته - ښته تانده :- نرۍ ښته لښته چه ګزارئے ډېر بد وی. |
| تُبْ عَلَیَّ فَاِنَّکَ التَّوَّاب | په ما نظر وُکړه - په تحقیق سره ته ډېر لوئے نظر کونکے یئے په رحمت سره. |
| تجرید :- | یوازے وا ے. بیلېدل. د هرڅه نه جُدا. د ټولو مادی څیزونو نه بے تعلق کېدل اؤ بیل کېدل. |
| تجنیس :- | هم جنس کېدل - یو شان کېدل. د علم بدیع د یوُ صنعت نوم دے چه په کښې په یوه فقره، مصرعه یا یوُ شعر کښې دوه دا سے لفظونه راوړی چه د واړه یو بل سره ډېر مشابهت لری. یا یو شان وی اؤ معنیٰ ئے بد لے وی. |
| تخمیر :- | خمیره کېدل |
| تربے سین :- | کنایة ټول قرآن شریف - د بسم الله د "ب" نه واخله د "والنّاس" تر "س" پورې. |
| ترحم :- | (۱) رحم، ترس، مهربانی (۲) رحم وُکړه ! |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| تَرسا :- | گبر۔ د اور پرستش کونکے۔ نصرانی، کافر، مشرک |
| تُرو / تُروسکه :- | نو۔ گگډ۔ د ټ د پاره۔ تر / تربغه۔ په د ے وجه۔ |
| تُروټه :- | نقصانی۔ تاوان۔ چټی شوے۔ |
| تُروړئ :- | ټومبړه |
| تَزئین :- | زیب زینت ورکول۔ ښکلا۔ سنبالښت۔ جوړول، آرایش زیبائش |
| تَصدیع :- | تکلیف۔ سردردے۔ |
| تَفرّج :- | سیل، تفریح، زړه خوشحالول۔ |
| تَفضِیل :- | لوئے والے۔ فضیلت۔ شرف۔ |
| تلېدل :- | (۱) توئېدل (۲) په تېلو یا غوړو کښې پخېدل۔ سورکېدل۔ ترسکېدل |
| تَوامان :- | (ج: د توام = برغد۔ یوماشوم چه د بل ماشوم سره یوځائے پیدا شی) جوړه یا برغد ماشومان چه یوځائے پیدا شوی وی۔ |
| تَوَلّا و تَبرّا | مینه اَوُ نفرت۔ (تولّا:- مینه محبت یا دوستی ساتل) اَوُ (تبرا:- کنځل، بد وېنا، لعن طعن، وبزاری، نفرت) |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| تیره دِل :- | تورزړے، ظالم، ناترس۔ جاهل |

## ټ

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ټانګ :- | وخت۔ موقع۔ ځائے۔ لاره۔ |
| ټپکے :- | د ټپ اسم تصغیر۔ ټپ۔ کمزورے۔ ناتوانه |
| ټنډ ور :- | اَنبار، دلئ، ډېرے |
| ټنډ ورول :- | اَنبارول |

## ث

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ثَقلین :- | (۱) دواړه جهانَ (۲) بنیادم اَوُ پېریان |
| ثوابِت :- | (ع۔ جمع: د ثابِت = قایم) د سیار ضد۔ هغه ستوری چه په ځائے ولاړ دی اَوُ گرځی نه۔ |

## ج

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| جاوید :- | همیشه۔ تل۔ دایم |
| جَحیم :- | د دوزخ اور، دوزخ |
| جَسَر :- | پُل |
| جکی جکی :- | د منت اَوُ زاری د اظهار د پاره کلمه |
| جلاجل :- | (ع۔ جمع د جُلجُل = د کونګرو یا ډمبل آواز) په ډمبلو اَوُ داریاو کښې چه کونګروګان لګېدلی وی د هغو آوازونه۔ |

Marfat.com

الفاظ — معنے

جَلی :- صفا، رونړ، بنکاره، څرګند، غتې
غتې (تکی)، پہ زورہ زورہ (ذِکریالوښتہ)

جَمل :- اُوبښ۔

جِند :- (ﻫ۔ مخفف : دِجندړی = ځان)
ځان، تن، وجود، ژوند۔

جوکه :- (۱) (ﻫ۔ جونک) ژوری۔ جَوّرہ۔
(۲) (ﻫ جھوک) تول۔وزن۔

## ځ

ځغسنا :- ځغا بنت۔ ځغل۔ منډہ۔

ځَل، ځله، ځلے :- سابقہ دہ۔ ځُولہ یا ځُولے سرہ
یُوځائے ویلے شی۔ ځلہ ځُولہ یا ځلے
ځُولے۔ تېزی۔ سعی اَوُ کوشش۔
طلب۔ شوق۔ مینہ

ځور :- (ع۔ جَور = ظلم) ظُلم، سِتم۔جبر
زور زیاتے۔ جَفا۔

## چ

چَر :- (مخفف د چار = کار) چار، کار۔
خبرہ۔ معاملہ۔

چرکینہ :- گندہ۔

چُوړا :- (ﻫ۔ چُوړا = بوئے بنګړے)

الفاظ — معنے

دلته مراد ترینه د پښو بنګړی یعنی
پایلے دی، چہ آواز کوی۔

چُومی :- (اُردو، چُومنا = چُچی کول) چُچی کول
بوسه اخیلی۔

## څ

څره :- (ﻫ۔ چَھڑا = یوازے، مجرّد) بالکل
خالص، مجرّد۔ تش لاس۔ یوازے

څرہے بَرہے :- باقی پاتے۔ کُوچری پُوچری۔ د ډېر
څیز د لګېدو یا خرڅ کېدو نہ پس
چہ پہ آخر کښں څہ لږ غُند پاتے شی
اَوُ ہغہ وی خراب۔

څکړل، څکېړل :- (ﻫ۔ جکړنا = کلک تړل۔ ټینګول)
تړل۔ راګېرول۔ پہ دام، لُومہ یا
کمند کښں بندول۔

څلورقُل :- څلور آخری سورتونہ چہ دَ "قُل"
نہ شروع کېږی :- قُل یا ایہا الکافرون۔
قُل ہو اللہ احد۔ قُل اَعُوذُ برب الفلق۔
اَوُ قُل اَعُوذُ بِرَبّ النّاس۔

## ح

حاقاف :- ح۔ق = یعنی حق

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| حُب :- | مینه، محبت |
| حَبس :- | قید ۔ بند ۔ بندی خانه ۔ جیل۔ د هوا بندېز ۔ د مرئ یادِ ساه خفه کېدل۔ |
| حَذر :- | (ع ۔ حَذَرَ = ځیرداو وسېدل) وېره ۔ ډار ۔ خطره ۔ احتیاط |
| حَرِیر :- | (ع ۔ حَرَّ = ګرمېدل) ورېښم ۔ ورېښمینه کپړا ۔ |
| حَظ :- | (ع ۔ حَظَّ = خوش قسمت کېدل) خوند ۔ مزه ۔ عیش ۔ بخت ۔ اقبال ۔ |
| حَلاوت :- | (ع ۔ حَلوَ = خوږ کېدل) خوند ۔ مزه لذت ۔ خوږ والے ۔ شیرینی ۔ راحت آرام ۔ آنند ۔ |
| حُماة :- | (ع ۔ جمع د حامی = حمایت کونکے) طرف داران ۔ پره داران ۔ ملګری |
| حَمِیم :- | (ع ۔ حَمَّ = تودکېدل) تود ۔ ګرم ۔ |
| خاطرګستان :- | زړه راکښونکے یا راکښونکی ۔ |
| خائف :- | خوف ۔ وېره ۔ خطر ۔ ډار ۔ |
| خپسَر | دا د پښه اؤ سر نه مرکب دے یعنی د سر نه تر پښو پورې ۔ ټول وجود ۔ سراپا ۔ |

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| خت :- | قمیص ۔ پېرېنئ ۔ |
| خرخاری :- | کله کله دوه خرونه، یو بل ته مخامخ نیزدو ودرېږی اؤ دواړه په غاښونو یو بل ته خت په یو انداز ګروی ۔ دلته مُراد دا دے چه د یو کار بدل په هُم هغه شان اؤ انداز خلاصول څه بنه خبره یا نیکی نه ده ۔ لکه اَلِف وُلګی اؤ د بَ ماشوم ته یو قمیصکے جوړ کړی اؤ څه موده پس د بَ، هُم هغه یو قمیصکے د اَلِف ماشوم ته جوړ کړی، نو دا څه بنه بدل نه دے ۔ |
| خفی :- | پټ ۔ رو ۔ پنهانَ ۔ |
| خِیر :- | تیار ۔ آماده ۔ سخت ۔ شرمنده ۔ |

## د

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| داد کول :- | ورکوه ۔ بخښنه کول ۔ وربخښل ۔ |
| داریال :- | تمبل ۔ دف ۔ |
| داند :- | (س ۔ دانت = ساتلے مشوے غویے ۔ یا سخوندر، غڅکے ۔ پنجابئ ۔ داند = غویے) (۱) غویے (۲) څاروے ۔ |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| دَر :- | (اسم صفت) داړونکے - خیرونکے. |
| دَربیشت :- | دَربیش - یَوُ قِسم شہرینی دہ، چہ د وریژو د اُړو نہ ئے جوړوی. |
| دُرد :- | (د خُم یا د بل لوښی) پہ وبخ یا تل کښې پاتے (شراب) چہ ہغہ ټینگ اَوُ خیرن وی. |
| دُرد آشام :- | دُرد څښونکے. |
| دُرہ دار :- | کِنایةً، حضرت عمرؓ. ہغہ بہ دُرہ ساتلہ اَوُ پہ ځنے موقعو کښې بہ ئے شرعی سزا پہ خپل لاس پہ دُرہ ورکولہ. |
| دَرہم :- | کلہ ودہ - لاندِ باندِ. |
| دروہ :- | (س) دوکہ - فریب - چَل وَل - دغا. دروغ - ټگی - درغلی. |
| دشنہ، دُشنہ :- | (۱) دشمن (۲) دشمنی • |
| د عرفان باب :- | (عرفان = پیژندگلی، معرفت، باب = دَر - دروازہ - وَر) ہغہ لار یا وَر چہ پہ ہغے د اللہ تعالےٰ معرفت حاصل شی. |
| دَلق :- | گُدړئ - کَنډ. |
| دَمع :- | اُښکے. |
| دنانیر :- | جمع د دینار - د یوے زرے سِکے نوم دے. |
| دُوک :- | (ہ - دُکھ) دَرد - تکلیف. |
| دُوند :- | (ہ - دُھند) خړہ - غُبار - تیارہ. دسترگو د مرض نوم، چہ پہ کښې ئے صفا نہ ښکاری |

## ذ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ذُرِّیّت :- | اَولاد - زامن لوڼړہ - نمسا نمسی کړوسی. |
| ذَکا - ذکیٰ | د ذہن، دماغ، یا د عقل فکر تیزی. |
| ذَلَّ مَنْ طَمَعَ، عَزَّ مَنْ قَنَعَ :- | ذِلّت ئے وموندو چہ طمع یا حرص ئے وکړو. عزّت ئے وموندو چا چہ قناعت وکړو. |
| ذَم :- | بد ویل - ہجوہ - مذمت. |
| ذَہَب :- | سرہ زَر - د اَلکی زیر |
| ذِئب :- | شرمخ. |
| ذی النُّورین :- | د دوؤ نُورو خاوند - د حضرت عثمان غنی رضہ لقب، ځکہ چہ د حضورؐ دوہ لوڼړہ ہیبیا نے رضہ پرلہ پسے د دۂ پہ عقد |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| | راغلی وے۔ |

## ر

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| راغلہ | جمع: د راتلل - راتلنہ - راتلو۔ |
| رُحَمَاءُ بَیْنَہُم:- | رحم کونکی پخپلو کښ په یو بل باندې۔ |
| رُستګاری:- | نجات موندل۔ ځان خلاصول۔ |
| رِفض:- | (ع- رَفَضَ = پرېښول) د رافضیانو عقیدهٔ یا مذهب- بد عت- اختلاف۔ ځکه چه د شیعه کانو دے قولی اؤ د حضرت زید بن علی بن حسین رضه په لاس بیعت وکړو، اؤ بیا چه حضرت زید رضه دوئ د تبرا نه منع کړل نو دوئ د هغهٔ بیعت مات کړو اؤ هغه ئې پرېښو۔ |
| رَمیم:- | زاړهٔ، وراسته (بوسی) |
| رنتهبور:- | (د بهارت، راجستهان) دے پور ریاست په سوائی مادهوپور نظامت کښې د غره دپاسه یوه زړه قلعه، چه د اورنګزیب بادشاه په حکم، خوشحال خان ختک پکښې یؤ څو کاله بندی ساتلے شوے وو۔ |
| رُوغ:- | قرین- موزون- مناسب- ټیک۔ |

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| | درست- په ځائے- کېدے شی چه۔ |
| کُشایل:- | (ف- کشودن) پرانېستل۔ روژه کشایل:- روژه ماتول یا افطار کول۔ |
| روکه:- | (ه- روک) نغدہ - ثابته - کوره (روپئ) |
| ریش:- | زخم - پرهار۔ |
| ریشخند:- | خندا- په چا خندل- ټوقے ټچکولے۔ |

## ړ

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| ړنګ:- | شاړ- وران- برباد- اوجاړ۔ |

## ز

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| زاد:- | توښه- د لارے د خرچ خوراک سامان۔ |
| زار:- | وېزار- ګلدمن- مُتنفّر۔ |
| زباد:- | ثابت۔ |
| زِدنی عِلماً:- | زیات م کړه علم۔ |
| زرځ سترګے:- | د شنو اؤ د سرو سترګو ترمینځ یؤ قسم شربتی غُنډ رنګ سترګے۔ |
| زِشتی:- | خرابے- ناکارواله- بدی۔ |
| زَنځ:- | ژنی- ژنه۔ |
| زبیوب:- | نوئ- ژوبل- د زخم اُبهٔ۔ |
| زیار:- | افسوس- ارمان |
| زیب وزین:- | زیب اؤ زینت۔ |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|

## ژ

ژواک :- ژوند -

ژوے :- ژوندے - زندہ سر -

ژمنه :- لوظ - قول - وعدہ - عهد -

## س

ساعد :- مروند - څنګل -

سامعان :- اوریدونکی -

سببے یا مسبّب الاسباب :- سبب جوړ کړے یه سبب جوړونکیه !

سپور :- سور

سپهر :- اسمان

سترګئ :- چشمه - چشمے - عینک -

ستئ :- هغه ګنډ پند وه چه مړخاوند سره ژوندئ چیل ځان په اور کښې سیزی -

سجّین :- دوزخ - اوم دوزخ -

سحاب :- ورېځ -

سخ :- بخت - خوشحالي -

سردفتر :- افسر - حاکم -

سرزده :- سروہلے - سروہلے بروہلے

سرنوشت :- د تندی لیک - قسمت - دکتاب نوم -

سفله :- رذیل - کمینه - سپک - ناکاره -

سقر :- دوزخ - جهنّم -

سکه، تروسکه :- دنو - بیا - ځکه - (وګورئ ترو) -

سمخ :- لفظ "سوړ" سره په طور د لاحقے لګی - لکه سوړسمخ - یعنی یخ یخ - سوړ - یخ -

سمن :- چامبیل - د چامبیلو ګل -

سمنبر :- د چامبیلو د ګل په شان وجود لرونکی - نازک - لطیف - معشوقه

سمند :- بادامی رنګ آس - آس -

سمین :- غټ - غټ پټ - څرب -

سوبه :- مراد - مطلوب - د زړه غوښتنه -

سیاره :- سورے - سوبره - مرض چه پکښې وجود وُبج شی -

سیال :- سارے - یوُ برابر - همسر - اصیل -

سیلی :- ګړه - بنګوړے -

سانګونه کول :- ګرځیدل - ګردش کول - خرخ خوړل -

## ش

شاهِ نجف :- حضرت علی کرم الله وجهه - ځکه چه په نجف کښې د دوی روضه ده -

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| شبان :- | شپون۔ گډبه۔ |
| شب‌چراغ :- | اور اورکے۔ دیچ ہمرۂ وړوکے اُلوتونکے چینجے، چه په تیارهٔ کبنې ئےلګئ لګه د ډیوے روښانه وی، پرقیږی. |
| شرالانام :- | ضد د خیرالانام۔ په خلقوکبنې د ټولونه زیات شری۔ خراب، ناکاره اَوُ بَد۔ |
| شَفَتَل :- | (شَفَت = شُونډه) دواړه شونډے۔ |
| شکستن :- | (ف) ماتول۔ ماتېدل۔ |
| شکیب :- | صبر۔ تحمل۔ |
| شناکول :- | تاریځ۔ لامبو۔ |
| شنده :- | د نه کولو کار۔ کانډ۔ فساد۔ تموقے۔ مصیبت۔ |
| شنوا :- | اوریدونکے |
| شوپرک‌وار :- | دشاپیرک پشان۔ |
| شُوملُ :- | خُبنل |
| شُومی :- | خُبنی |
| شپب :- | بوُډا توبه۔ زوړ واله۔ |
| شتی / شوتی / شیتی | (۱) توکلے یا توکے (۲) غنُشے۔ |
| شپنجبن :- | دوه شپنجان۔ مراد ترِنه یوُ حضرت اَبُوبکر صِدّیق رضؓ اَوُ بل حضرت عثمان غنیؓ دے۔ ځکه چه د دواړو عُمر د حضرت عُمر فاروق رضؓ اَوُ دحضرت علیؓ نه زیات وو۔ |
| شپد :- | دوکه۔ دغا۔ فریب۔ مکر۔ "مکر" سره په یوُ ځائے ویلے شی۔ |
| شَپن شپَن :- | په خوند خوند۔ په ناز په نخرو۔ په مزه مزه۔ |
| صبُاحت :- | سپین رنګ۔ ښایست۔ |
| صرصرد فنا :- | د مرګ تیز اَوُ تُند باد یعنی مرګ۔ دګنړو خلقو مرګ۔ وَبا۔ |
| صمصام :- | (۱) زړه ور۔ توُرزن۔ (۲) توُره۔ تیره توُره۔ توُره چه کږیږی نه۔ |
| صنعان :- | (شَیخ) :- یوُ مشهور بزُرګ، چه په مریدانو کبنې ئے شیخ عطار هم شامل وو۔ وائی چه یوُ ځلی ګمراه شوے وو۔ اَوُ د یوُ نصرانی په لوُر مین شو۔ په دے سلسله کبنې ئے څو کاله د هغوئ سوُران څرول۔ بیا په سمه لاره راواوُریدو۔ |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| **ط** | |
| طالع تورکیدل :- | د نصیب د ستوری رڼا تلل - یعنی بد بختی راتلل - |
| طربناکے اُبه :- | زړه خوشحالونکی اُبه - یعنی شراب - |
| طولِ اَمل :- | اُوږدې اُمیدونه - کنایة د دنیا حرص - |
| **ع** | |
| عاریت :- | لږ ے نیتے د پاره یوُ شے اَخیستل - قرض - پور - وام - |
| عالِم رَبّانی :- | د اَللّٰه تعالیٰ د معرفت علم لروکے - |
| عَرعَر :- | د سروِ په شان یوُ خوشبوئی دار بوُ ټے - |
| عَسَس :- | کوتوال - لوئے تانړیدار - |
| عَسَلی | عسل = گبین - عسلی = دگبینه - چه دگبین نه جوړ وی - یا چه گبین په کبنې گډ وی - |
| عِصیان :- | گناه - |
| عِظام :- | (ع) جمع د عُظم = هډوکے) هډوکی - |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| عَلَف :- | گیاه - واښه - |
| عِلّلی :- | د عِلتونو اَوْ شک شبهے نه ډک - |
| عُمّال :- | (ع - جمع د عامل) حاکمان - تحصیلداران - |
| عَمیم :- | عام - ډیر - پرېواند - پُوره |
| عِنَب :- | اَنگوُر - گوُر - |
| عینَین :- | دوه سترگے - |
| **غ** | |
| غاوَ :- | شور - شور - شار - |
| غباری جامے :- | د دُوړو خاورو جامے - یعنی په وجود دُمره دُوړے پرتے وی چه وجود پرِ لکه د جامو پټ وی - |
| غَضَنفَر :- | مزرے |
| غِل و غِش :- | خیرے - کوټ - گروون - ځچن دالے - |
| غمِ رُبا :- | غم وړُونکے - |
| **ف** | |
| فَاخْلَع نَعْلَیک :- | کوز ہے کا دواړه پنړے دِ - |
| فَتُوّت :- | (ع = فَتیٰ = ځوان) ځلمیتوب - مړنتوب - ځوانمردی - |
| فَر :- | رونق - شان شوکت - |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| فَرْد :- | بے مثال۔ لاثانی۔ |
| فَرقَدبن :- | (جمع د فرقد = دیُو ستوری نُوم) په آسمان کښې قطب شمالی ته نیژدې دا دواړه ستوری د ماښام څرګندیږی اَوُ تر سحرَ ہم ہلته نیژدو ګردش کوی۔ |

## ق

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| قَالَ یا لَیۡتَ رب کُنۡتُ تُراب :- | ووېے۔ آے کاش (یا ارمان دے) ربه چه زهٔ خاورے وے!۔ |
| قَبلی :- | د اول نه۔ |
| قُراضے :- | (جمع د قُراضه = په قینچئ پرېکړی نرئ نرئ اَوُ وړے وړے ذرے) په مقراض یعنی په قینچئ کمهارئ نرئ نرئ پرېکړی اَوُ بیائے ناویانو ته په تندی پورِ کوی۔ په اُردو کښې ورته اَفشاں وایی۔ |
| قَسیم :- | وېشونکے۔ وېش کونکے۔ تقسیمونکے |
| قطعیت :- | پرېکون۔ |
| قِفا :- | شا۔ |
| قُل اَعُوذ برَبّ لیل و نہار :- | وُوایه، زه پناه غوارم په رب د شپے اَوُ د ورځے سره |
| قُوت :- | خوراکه۔ روزی۔ |

## ک

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| کاحتی | (قحط) قاحتی۔ قاتی۔ کاټ۔ خُشک سالی۔ کال |
| کانی :- | کنایهٔ د شروع نه۔ |
| کاه :- | وابښه۔ |
| کُپاروند :- | کُفروند۔ یعنی زبردست کاروند۔ |
| کج رفتار / کج گرد :- | کوږ تلونکے۔ شاعران آسمان د پاره وایی چه گنی ہغه په رفتار کښې راست نهٔ دے، کوږ دے، ځکه چه د بدنصیبئ اَوُ د خرابئ ټولے خبرے آسمان سره تړی۔ |
| کَر :- | کوُنړ۔ |
| کروړی :- | کروړپتی۔ ډېر زیات مالدار۔ |
| کړمون :- | دردونه، کړاکونه، غمونه |
| کَمین :- | مورچه۔ سنګر۔ |
| کَنّاس :- | (۱) چُوړے، مہتر (۲) جلّاد |
| کَنِشت :- | آتشکدہ۔ دیہودیانو د عبادت ځائے۔ |
| کُن فَکان :- | (وُشه نو وُشول) یعنی د اقول کائنات |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |

کوټ :- قلعه.

کوېلے کوېل :- پټکړے. خصوصاً وړیږے چه وسوزی اَوُد دېګ یا د دېګچی و ېځ پورِ وُنښلی نو دے ته کوېلے وایی. "کوېل" معنے معلومے نهٔ شوے. غالباً دلته د کوېلی د ګرولو یا د کوېلی د خوړلو معنے ورکوی.

کے :- (۱) ع. داغ. (۲) ف. څوک. (۳) ف. د ایران د پخوانی کیانی بادشاهانو لقب. لوئ. شاهنشاه.

کېښ :- طریقه. مذهب. دود.

## ګ

ګانډه :- صبا. راتلونکی ورځ.

ګرت :- د دوو ګټو په ویځ کښې مینځنۍ حصه.

ګرد باد :- (ف) بربوکئ. د پېریانو ډولۍ.

ګریستن :- ف. ژړل. ژړا

ګړنګ :- لویه کنده. لوئ کمر. د سیند غاړه، چه اُبهٔ ئے ډېرے غرقے وی.

ګړی :- (ه. ګهڑی = منټ یا منګوټه) منټ.

ګِل و لاے :- لوندے خاورے اَوُ خټے. لهه.

ګلیم :- ګدړئ. کنډ. شړئ.

ګنډ :- کنډ. ګدړئ. ګلیم.

ګوګل :- سینه. ټټر. زړمون.

ګول :- (۱) حیران. پریشان. اریان دریان. (۲) زار. قربان. صدقه.

ګهنړه :- (ه. ګهنا = کاڼے) زیور. کاڼے کاڼے پترے. ګېنړه. ګانړه.

## ل

لَا :- (ع) نه. (نفی)

لَمّا :- (ع) چه. هر کله چه.

لَن :- (ع) هرګز نه. هیچرِ نه.

لَا تَخَفْ :- (ع) مهٔ ویرېږه. خوف مهٔ کوه.

لَا تَقُلْ :- (ع) مهٔ وایه.

لا جواز :- (ع) چه جایز نهٔ وی.

لَافَتیٰ اِلَّا عَلِیؓ :- نشته څوک ځوان یا مېړهٔ بے دَ علیؓ نه.

لاله عُذار :- ف. د ګلِ لاله پشان سرهٔ اننګی لرونکی معشوقه.

لَا یَعُدُّ وَ لَا یُحصٰی :- چه شمار اَوُحساب ئے نهٔ شی کېدے.

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| لایَعقل :- | بے عقل - بے شعور - |
| لَبیب :- | (ع - لُب = عقل) عقلمند - دانا - هوښیار - (ج : لبیبان) |
| لَمتَل :- | کوچ کول - تلل - کډه کول - |
| لِقا :- | ملاقات - لیدل کتل - |
| لَقَا :- | څېره - مخ - بشره - |
| لَل :- | ویل - (کول) لکه شاهدی لی - شاهدی کوی - ګواهی کوی یا وایی - |
| للپدل :- | په ګنګئ یا چارئ ژبه خبرې ویل - چه صفا نه شی ویلے - |
| لوائے :- | پراخیستی - واړے - وېزارے - فراخ - |
| لوړل :- | قسم خوړل - زاریدلو - |
| لولو :- | مرغلرے - |
| لولئ :- | (ف - لوله - ګجئ، ګېئ، لکه پدوکئ) چپره بیتابیستۍ، نازک - ګمڅرئ - |
| لهٔ نایه :- | لهٔ ځایه - د شپېلۍ شه - |
| لَئیم :- | بخیل - شوم - کمینه - |
| لېږدل :- | کوچ کول - تلل - |
| لیس فی الدار غیرنا دیّار :- | نیشته په کور کښې |

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| | بے څوک نه نور اسنوون - |
| لَیل :- | (ع) شپه - |

## م

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| مآب :- | د ستنیدو یا د واپس کیدو ځائے - د ادب لفظ - |
| مانړه :- | مانه - محله - شکوه - |
| ماویٰ :- | ځائے - ځائیګے - |
| مأوطین :- | اُبه اَوُ خاورے - |
| مُبِون :- | څرګند - ښکاره - |
| مُتپ :- | متهه - لاس - زور - قوت - |
| مُجیب :- | قبلو نکے - منو نکے - |
| مُحصّل :- | محصول اوُ حاصلات وصولو نکے - تحصیلدار - حاکم - |
| محکمے کول :- | محاکمے کول - فیصله کول - حکومته لګول - شرعی فیصله کول - |
| مُخه :- | مقابل - مقابله کو نکے - |
| مراجعت :- | واپس کیدل - پښتنه کیدل - |
| مَرَبُوب :- | چه د چا پالنه اوُ پرورش کیږی - |
| مُرَصّع :- | ګلدار چه کُندن پکښې شوے وی - آراسته - |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| مَرغچے :- | نقلی مرغلرے - مَشکُنڑے . |
| مُستجاب :- | قبول کړے شوے. |
| مشود / مبنود :- | (۱) مبنند. مالشی. (۲) سعی. کوشش. |
| مصاف :- | د صف تړلو ځائے. د جنګ میدان. جنګ. |
| مطول :- | اُوږد کړے شوے. اُوږد. |
| مُعبّر :- | د خوب تعبیروُونکے. |
| مُعتزلی :- | د معتزله منونکے. معتزله. د مسلمانانو یوه فرقه چه په عقائدو کښې د حنفیانو نه څه اختلاف لری. |
| مُعنبر :- | د عنبرو - چه عنبر پکښې ګډ وی. د عنبرو خوشبوئی لرونکے. |
| مَفطور :- | چه په فطرت ، جبلّت خاوره یا خمیر کښې څه څه وی. یعنی فطرت کړے شوے. |
| مَقال :- | خبره. خبرے اترے. چه څه وُویلے شی. |
| مُقدَم :- | قدم د کیښو ځائے. راغلہ. راتلنه. |
| مُقِر :- | اِقرار کوونکے. |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| مِکیال :- | پیچ - پیمانه. |
| مُمتلی :- | ډک. پُور. |
| منال :- | مال دولت. |
| مُنغّض :- | خفه - مراوے - بے طبیعه. |
| مُنفعل :- | اَثر قبلونکے. کُچ پیکه. شرمنده. |
| منی :- | کبر. غرور. |
| مہال :- | آف : محل. وخت. موقع. ځائے. |
| مہزر :- | څادر. پړونے. |
| مہور :- | (۵. مُور) طاؤس. |

## ن

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ناځی :- | کوپړی. |
| ناسره :- | ناکره. کوټه. |
| ناوک :- | غشے. |
| نائی :- | نَے یعنی شپیلئ غږوُنکے. |
| نِتلے :- | نیولے. |
| نځول :- | نُول. زړه خوړل. |
| نَدَم :- | ندامت. شرمندګی. پښیمانی. |
| ندیم :- | دوست. ملګرے. |
| نځال :- | پنڑے. بېزار. |
| نَعَم :- | (۱) اَوُ. ہو. ہاں. (۲) څاروے. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| نِعَم :- | جمع د نعمت - نعمتونه |
| نُغْتَه ، نغوته :- | اِشاره - لمسون - لمسه - |
| نقیبان :- | چوبداران - دربارته د بادشاه راتلو خبر ورکونکی مُلازمان - |
| نَکال :- | عذاب - دُوک - درد - تکلیف - |
| نُمَری :- | جامے - |
| نَمخَنه :- | حص - قدر کول - پالَل - |
| نورالابصار :- | د سترگو نُور یا رنړا - زړه ته ډیر نیزدو - خوږے - |
| نُوم د عَلَم :- | هغه نُوم چه سړے پرِ مشهور وی - |
| نُون پیوند نه وو له کاف :- | "ن" د کاف سره لا نه وو یو ځائے شوے - ک + ن یعنی لا "کُن" = وُشه ، نه وو ویلی شوی - الله تعالےٰ لا د دے کائنات د پیدا کید و حُکم نه وو ورکړے - |
| نوید :- | زیرے - خوشخبری - |
| نهار :- | (غ) ورځ |
| نیران :- | اور - دوزخ |

**و**

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| واری واری :- | (ﻻ) زار زار - صدقه صدقه - قربان قربان - |
| واڅکون :- | اُوړته - اړو ے - |
| والا :- | لوئے - اُوچت - بزُرگ - |
| وُچُولے :- | تندے - |
| وُرَت وُرَت ، رَت رَت :- | د ژړا یو قسم صفت دے چه پکښ زیات والے څرګندیږی - لکه په وُرَت وُرَت یا په وُرتو وُرتو ژاړی - یعنی په غټو اُښکو اَو په یو ځ ژاړی - |
| ورځ د میثاق :- | د وعدے یا د لوظ قول ورځ - هغه ورځ یا وخت چه الله تعالےٰ په عالمِ اَرواح کښ (دُنیاته د راستولو نه اَول) د بنیادم نه وعده اَخیستی ده - |
| وَرد :- | گلاب - د گلاب گُل - |
| ورزان ، وزان :- | په چلیدو ، خوزیدو ، الوتو - |
| وزله :- | وسیله - ذریعه - چاره |
| وَقِنا رَبّنَا عَذَابَ النّار :- | اَو وُساته مونږ یَه رَب ځمونږ د اور د عذاب نه - |
| وګړے :- | خلق - بنیادم - |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| وَلجہ / وُلجہ / اولجہ | د لُوٹ مال۔ په میدان جنګ کښې چه د دُشمن نه څه پاتے شی. مالِ غنیمت۔ |
| ویاند :- | وَیُونکے۔ غږېدونکے. |
| وِیل | کنایةً رُونړ۔ روښنانَ۔ بختور۔ بریالتوب۔ شان۔ بخت۔ |

## ه

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| ہجرِ محبوب رأس کل عذاب :- | د محبوب بېلتون د ټولو عذابونو سر دے۔ |
| ہرآئین :- | ہر شان - ہر دستور |
| ہرکور، ہرکوره | اَلبته۔ خواه مخواه۔ بالکل۔ ضرور۔ |
| ہراند :- | لګیا۔ آرام۔ بانډِ۔ د پاسَ۔ ور پورِ |
| ہَل :- | ایوی۔ یوی۔ |
| ہَم بالینه :- | په یَوَ بالښت ورسره سر کښېښونکی یا څلا مستونکی. |
| ہواد، ہېواد | مُلک۔ وطن۔ |
| ہوډ پالے :- | د ہوډ خاوند (ہوډ = ضِد۔ خود داری۔ د مقابلے حِس۔ تفاخر۔ وقار۔) چه شوک ہوډ لری۔ یعنی په ہغه کښې دا پاس بیان کړی شوی صفتونه وی. |
| ہیداد :- | اِہداد۔ زورَند۔ |

## ی

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| یَسار :- | کینړ۔ کَس اړخ۔ کینړ لاس۔ |
| یَمین :- | ښئے اړخ۔ ښئے لاس۔ |
| یُون :- | (س: یانَ = تلل۔ حرکت۔ کوچ) مزل (کول)۔ تلل۔ رفتار (کول) |

Marfat.com


| | | |
|---|---|---|
| ادبي تنقید | میاں سید رسول رسا | ۳/۵۰ |
| نوے ترنګ | " " | ۳/- |
| ترنګ نمونه | " " | ۲/۵۰ |
| شمعې | " " | ۳/۵۰ |
| [illegible]ني | " " | ۴/- |
| مزدور | " " | ۴/- |
| خودکشي | " " | ۴/- |
| قرآن پیغام (نوے ایډیشن) | " " | ۳/۵۰ |
| [illegible]ید یا ګلونه ( " " ) | " " | ۸/- |
| باغ او باغ | " " | ۱۲/- |
| ارمغان خوشحال مع مقدمه | " " | ۲۵/- |
| سید جمال الدین افغاني | فضل حق شیدا | ۴/- |
| انسویلي | " " | ۸/- |
| زیور (حرف زیبا) | ایس اے رحمان کاکاخیل | ۴/- |
| [illegible]کرے | " " | ۲/۵۰ |
| ادب او ادیب | " " | ۴/- |
| کشفات القرآن (اوله حصه پنځلس پارے) | حافظ محمد ادریس | ۲۰/- |
| اسلامي قصے | " " | ۲/- |
| تعلیمي قصے | " " | ۱/۵۰ |
| دیرشے قصے | " " | ۱/- |
| نرہے قصے | " " | ۱/- |

| | | |
|---|---|---|
| کیږدے | حافظ محمد ادریس | /۵۰ |
| مقبولیت احادیث | " " | -/۵۰ |
| تعلیم الدین (پښتو ترجمه) | " " | ۴/- |
| د اسلام قانون وراثت | " " | ۱/- |
| ذرہ قطرے | عبدالله جان اسیر | ۳/- |
| قائد اعظم | احسان الله خان دانش | ۸/- |
| در او مرجان (دیوان عبدالحمید) ترتیب او حاشیه | ډاکټر سید انوار الحق | ۲/۵۰ |
| دیوان کاظم خان شیدا مع ترجمه | " " | ۲۵/- |
| تبي ګودر (نوے ایډیشن) | میاں تکریم الحق صاحب | ۴/- |
| صرف و نحو پښتو | عظیم شاه خیال | ۴/- |
| ګجرے | قلندر مومند | ۴/- |
| بانوړ | صاحبزاده محمد ادریس | ۴/- |
| زیرے | سیده بشری بیګم | ۳/- |
| لښتے | محمد اعظم اعظم | ۵/- |
| د غلبیل ذره فریاد | اعظم خان اعظم | ۳/- |
| د زړه پیغام | فیض محمد فیض | ۲/۵۰ |
| نوی وږمی | قاضي رحیم الله | ۳/- |
| پښتو اشعار کتھ (نوے ایډیشن) | " " | ۲/۵۰ |
| سنوري | رضا همداني | ۴/- |
| سرود ګمشده | محمد یونس سیټھي | ۵/- |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| …کے بیبانے | عزیز مظاهری | ۲/- |
| ترجمہ ضرب کلیم | شیر محمد مینوش | ۳/- |
| فکریون (اول حصہ) | مولینا عبد القادر صاحب | ۴/- |
| " (دویم حصہ) | " | زیر طبع |
| …نیم جام | …ل رحیم ساقی | ۳/- |
| …مقاله پښتو ترجمه | محمد عباس | ۵/- |
| …نگلے پاکستان | پروفیسر عبدالرؤف نوشهروی | ۳/۵۰ |
| دعلم … | " " " | ۱۰/- |
| …نکے مینه | مسافر | ۳/- |
| پښتانه (دتاریخ په رنړاکښې) | | |
| | میاں بهادر شاه ظفر | ۳۰/- |
| اتالیق پښتو | عبد الحلیم اثر | ۱/۵۰ |
| حیدر | اشرف مفتون | ۲/۵۰ |
| سهریکے | " " | ۱/- |

| | | |
|---|---|---|
| پښتنې | سمندر بدرشوی | ۳/۵۰ |
| قافیه | " " | ۲/۵۰ |
| دادب مناره | " " | ۲/۵۰ |
| دالم سوکه | " " | ۱/- |
| شکوه اؤ جواب شکوه | | |
| ترجمه حمزه شنواری | | -/۵۰ |
| دازه پاکل دوم؟ اجل ختمک | | ۵/- |
| ژوند او حق | " | ۳/- |
| مکارم الاخلاق | ترجمه قایم الدین خادم | ۴/- |
| نیک عمل | محمد عباس | ۵/- |
| ترجمه احیاء العلوم | " | ۶/- |
| خرخ | عائشه ملک | ۲/۵۰ |
| کاواکے | اشرف مفتون | ۱/۲۵ |
| امام اعظم | اسرار طورودی | ۱/۵۰ |
| رهنمای پښتو | میاں بهادر شاه ظفر | ۴/- |



Marfat.com